# د وېښتابه اذان

# عــلامه

# (افغان«رح»)

## د افغان ليکوالو له انده

راټولونه او ترتيب: محمد حسين (مياخېل)

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحيم

# د ويښتابه اذان؛ علامه (افغان«رح»)
# د افغان ليکوالو له انده

راټولونه، کتنه او ترتيب: **محمد حسين "مياخېل"**

خپرندوی: **په مصر کې د افغانستان سفارت**

لومړی چاپ: **۱۳۹۴ لمريز**

دويم چاپ: **۱۳۹۶ لمريز**

چاپشمېر: **يو زر (۱۰۰۰) ټوکه**

ډيزاين: **سپين سهار**

**د چاپ حقوق له مؤلف سره خوندي دي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډالۍ

**د بشریت واقعي خیرخواه (رښتیني مسلمان) ته، چې د الهي دین په رڼا کې د انسان د دواړو جهانونو د جوړولو له پاره کار کوي.**

**م. ح. میاخېل**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لړليک

هم (( حسين )) او هم (( مياخېله))! ........8........................
پر ستر (افغان^رح^) د ورور (مياخېل) هڅه! ...10........................
سريزه ........................................12........................
د وينښتابه آذان؛ علامه (افغان) ^(رح)^ ..........16......................
علامه جمال الدين او علامه اقبال او د دوی پان اسلاميزم 20................
لنډيز: ........................................20........................
پان اسلامېزم: ...............................25........................
د پان اسلاميزم د اصطلاح پېل: .............29.................
د جمال الدين پان اسلاميزم او د سلطان عبدالحميد ثاني پان اسلاميزم: .33
سيد جمال الدين؛ استعمار کښ انقلابي! ...35........................
اقبال او پان اسلاميزم: ......................36.......................
افغان جمال الدين، علامه اقبال او پان اسلاميزم: 38........................
((جمال)) د ((اقبال)) په فکر او شعر کې ....46........................
سيد؛ د وړو وړو جمال الدينو جوړونکی: .....46........................
سيد؛ د اقبال د مهال ستر مجدد، ستر ختيځوال او ستر مسلمان: 47........
((جمال)) د((اقبال)) په شعر کې: ...........48.....................
د اقبال يو تخيلي سفر او له سيد جمال الدين افغاني سره کتنه! 49..........
پايله: ........................................54........................
سيد جمال الدين افغاني: ستر شخصيت او سپک تورونه 56................
لنډيز ........................................58........................
مقدمه ........................................58........................
د افغاني لنډ ژوندليک ........................61........................
افغاني د ځان په اړه څه وايي؟ ................68.............
د افغاني صراحت او صداقت .................72...........

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر شیعه مذهب د افغاني ردونه ..............73..............
د نظریې پټولو په اړه د افغاني رایه ..................75..........
د افغاني شاګردان څه وایي؟ ..............76................
محمد عبده د افغاني د وطن او ځای په هکله لیکي: ...................77.
د میرزا لطف الله کتاب ..................82......................
د ایرانیت دعوه او رد یې ................85....................
د الحاد تور ...................94................................
مراجع ...................98....................................
((نیچریه)) ...................99................................
زبان نیچریه: ...................104.............................
چاپ نیچریه و ترجمه های آن : ...............111............
سید جمال الدین افغاني او د ختیځ او لوېدیځ مخامختیا ..............120.
د سید شخصیت ...................122...........................
ناسم پوهاوي ...................126.............................
ښه ټولنه کومه یوه ده؟ ..............131.....................
د متن شننه ...................139.............................
تر سید وروسته د هغه د فکري بهیر دوام ...................142..
لومړی د لوېدیځ په اړه: ..............145....................
دوهم د ختیځ په اړه: ................147......................
وړاندیز: ...................153.................................
یاددښت: ...................156................................
د سید جمال الدین افغاني لنډه پیژندنه ...................158.....
د سیدجمال الدین افغان په ژبو برلاسي: ...................169...
موسیو بلنت لیکي: ..................175........................
۱- هغه اثار ،چې سید پکې ایرانی ګڼل شوی دی ...................177.
ایرانیان ولې زموږ تاریخي ویاړونه خپل ګڼي؟ ...................179.
رسنۍ د څه له پاره ..................180........................

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ستر سید یو قول ..........183..........
د سید څخه پاتې اثار ..........184..........
۲- حجاز ته سفر ..........185..........
۳- بیت المقدس ته سفر ..........186..........
سید جماالدین افغان په مصرکې ..........189..........
مړینه ..........191..........
ویرنه ..........192..........
علامه افغاني د یوه سیاسي مفکر په توګه ..........194..
اسلامي یووالی یا پان اسلامېزم ..........196..........
افغاني او په مصر کې نویتوب (ماډرنېزم) ..........198...
د استعمار پر ضد مبارزه ..........199..........
د سید د افکارو اهمیت ..........200..........
ضمیمه ..........200..........
مبادی ثلاثۀ سید ..........201..........
راځئ سیدجماالدین افغان وپېژنو! ..........203..........
سید جمال الدین په اصل کې څوک دی؟ ..........206...
د سیدجمال الدین افغان ستاینه ..........214..........
ماخذونه ..........219..........
د شرق د نابغه ملیت او آندونه! ..........220..........
سید جمال الدین افغاني رحمة الله علیه اصلي ملیت او جنسیت: ......222.
د علامه علمي ځیرکتیا ..........230..........
د علامه شهادت او د ژوند اخیري شیبې ..........232....
امت مسلمه ته د علامه توصیه ..........234..........
یو نړی رغاند افغان ..........237..........
سید جمال الدین افغاني؛ د اسلامي نړیوال نهضت بنسټ ایښودونکی 247.
یو بشپړ کونکی تسلسل: ..........251..........
اول د واحد امت درس: ..........257..........

(c) ketabton.com: The Digital Library



دویم پیغام: ...............................257....................
دریم پیغام: ...............................258....................
څلورم پیغام: ...............................259....................
د مبارزې پیل کونکي ........................259.................
سید جمال الدین افغان یو الګو شخصیت ..260....................
نړۍ وال حیثیت ............................263....................
د ختیځ او ختیځوالو د حال هر اړخیز دراک .265....................
علامه سید جمال الدین افغان ..............265..............
لومړۍ بېلګه: ...............................269....................
دوهمه بېلګه: ...............................270....................
درېیمه بېلګه: ...............................270....................
ختیځ او ختیځوال() .........................271..................
پایله: ......................................279....................
د بیدارګر (سید) په اړه د سترګور (سید) نظم..........................................315

(c) ketabton.com: The Digital Library



# هم (( حسین )) او هم (( میاخېله))!

ړومبی ړومبی چې(( د وینښتابه اذان)) په نوم ټولګه لاس ته راغله او د علامه حضرت سید جمال الدین افغان (رح) په داسې انځور ښکلې شوې وه، چې اسلامي عظمت او افغاني شوکت سره غاړیوتي په څپو وو، نو راته د غنیمت یوه ډالۍ ښکاره شوه، یو خو د کتاب نوم له داسې ویونو رغښتی ؤ، چې زما ډېر خوښ الفاظ او ډېر ځلي رانه په لیکنو کې زمزمه شوي وو، بله دا چې د فرهنګي یرغل په دې بوګنونکو شېبو کې د بې لارۍ سیلاب دومره په ځوښ غورځنګونه وهي، چې زموږ ملي روایات یې د برمتې تر کلابندۍ لاندې دي. لنډه کیسه ولیکه، بس ته ادیب، لیکوال او هر هرڅه یې. له دې ناخبره، چې فن او هنر د خیال او غیب پر مټ له پوهاوي او سترې مطالعې سره سره دومره ریاضت ته اړتیا لري، چې هنرمن (شاعر، لیکوال) تر مودو، مودو له قلبي معبده را وتلی او وزګاربدلی نه شي، ځکه یې شاعرۍ ته ګوښه ګیري نه ریاضت ګرایي وېلې او ښه یې ویلې ده.

په دې پسې مې دا خوښي هغه شېبې لا یو په دوه شوه، چې د کتاب مؤلف مې ولید، د ده په ښکلي متشرع حلیه رنګ او ځلېدلې حیاناکه څیره کې که ټول نه وي، نو څه نا څه خو راته د ((حضرت سیدعقابي (رح))) نظر منعکس شو، چې: په کایناتو کمندونه غورځوي. او ورسره جوخت د شیخ الهند مولانا محمودالحسن دیوبندي رحمة الله علیه پېښنه را په زړه شوه، چې:

مولانا ابوالکلام ازاد د پنځلس یا شپاړلس کلنۍ په عمر د ((البلاغ)) اخبار خپراوه، شیخ الهند (رح) به ډېر مطالعه کاوه، د حضرت شیخ سلګونو شاګردانو چې په کې لوی لوی محدثین ، مفسرین، مجاهدین او علماء شامل و، شیخ صاحب ته به یې ویل ، چې البلاغ مه ګوره ، په دې کې عکسونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي، حضرت شیخ الهند به ویل، چې: دې شاګلمي خو ماته خپل تېر سبقونه را یاد کړل او بیا به یې د اردو دا شعر وایه:

کامل اس کو چۀ زهاہےا ٹها نہ کویے

کچھ ہویے توہہےرندان قدح خوارہہوے

د زاهدانو له ټولي نه کوم کامل را پورته نه شو، څه چې دي، په دې رندانو کې دي، همدا لامل ؤ، چې شیخ الهند (رح) زلمی ابوالکلام د امامت لپاره نامزد کړ، خو د حضرت شیخ شاګردانو ونه منله، مولانا ابو الکلام ازاد د حضرت شیخ تر وفات وروسته پټه خوله کانګرس ته لاړ، د علماو په غونډه کې به یې خاموشه ګډون کاوه، اسلامي مدارس او پوهنتونونه یې لکه : جامعه ملیه، علیګړ او نور ځواکمن کړل، ډیرڅه یې لیکلي پریښودل، خدای جل جلاله دې ټول وبښي.

نو ګرانه میاخېله!

همداسې تېر سبقونه را یادوه، زما یقین دی، چې د اسلامي شرق ناکراره روح به یو ځل بیا په کوم ( سید جمال الدین) کې په وړانګو او تجلا شي او د ځمکې تنابونه به راکش کړي، خو ستا برخه به هم په کې وي.

د همدې ورځې په ځار او انتظار

ناګار

پوهنتون مېنه

۱۳۹٦

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پر ستر (افغان رح) د ورور (میاخېل) هڅه!

پښتون حسن مې نظر کړلو کوز ګوری
د کبرې ملا مزلـــــونه وي په غـره کې

د غره په شان په لوړو شخصيتونو، چې افکار يې هم جمال لري او هم جلال، څه ليکل خو له نومونړيو سره د مينې په تړاو کيږي او يا خو د نافهمۍ په وجه د برترۍ احساس د تبې له مخې، زه د لوی علامه د راټولو شويو مقالو په کتاب (د ويښتابه اذان علامه افغان (رح)) د څه ليکنې په سبب په دواړو صفتونو موصوف يم، مينه هم ورسره لرم او د نوموړي په برخه کې د نافهمۍ ژوره تبه هم، د هجرت په ديار کې مې د علامه په اړه يوازې د ده، د ژوند لنډه غونډې بيوګرافي د تعليمي نصاب په پښتو کتاب کې لوستې، تر لوړو زده کړو مې بيا نه د ده نوم واورېد او نه مې د ده د فکر څرک وليده .

زموږ د ټولنې د نورو کم نصيبيو په لړ کې يوه دا هم ده، چې دی يې ونه پيژانده او تر لوړ شخصيت په اړه يې په پښتو کې د پښتنو لپاره معلومات له سره شته نه او که شته هم د نوموړي د شخصيت تر قامت يې قد سم نه دی، د لوی استاذ الفت (رح) يو نظم چې علامه يې په کې د خپل ژورليد او پراخې مطالعې په کچه کچ کړی، پرې مين کړی يې يم، په هغه نظم کې مې هم د الفت صاحب له نتيجه ګيرۍ خپله تته غونډې نتيجه اخيستې، د ښوونکو له خولې مې ايله ايله د علامه سيد (رح) په حواله دا دوه درې غوره ويناوې اوريدلي، چې : علم له نورو زده کړه، کلتور دې خپل وساته ، په سپينو ږکو پسې نه بلکې په بالغ عقل پسې تګ په کار دی، چې د ښونځي ور خلاصيږي، د زندان ور تړل کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د افسوس ځای خو دا دی، چې زموږ ستر موږ هغسې ونه پیژنده لکه نورو چې څه ډول را وپیژنده، د ځان پیژندنې او خودۍ حس مو دومره کمزوری دی، چې ځان د نورو په خوله پیژنو، زما د قام ، خاورې او ټول اسلامي امت مفکر د افغان سید جمال الدین خاطرات په نوم کتاب کې مخذوني محمد پادشاه را پیژندلی، په دې وروستیو کې زړه ته راتیر نیږدې ملګري محمد حسین میاخېل صاحب د وینبتابه اذان علامه افغان (رح) تر سر لیک لاندې د یبلا بیلو شخصیتونو معلومات د علامه په اړه په یوه کتاب کې راغونډ کړل، پیړۍ وروسته یې د لوستو په منځ کې د سید افغان ورک نوم بیا را څرګند کړ، کتاب مې ولوست له ډیرو نا ویلو او نا لیدلو په کې خبر شوم، بنایي زما په شان د ډیرو همدا حال وي، چې د سید د فکر له پانګې بینوا او تشې لپې پاتې وي، دلته خو هسې هم د اروانباد استاذ الفت (رح) په قول له فکر سره دومره خیانت شوی، چې:

د غریب کاله ماشوم دی
ناز یې هیڅ نه دی لیدلی

درنښت
حیات الله وړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سریزه

درنو لوستونکو! "علامه افغان، د افغان لیکوالو له انده" اثر د سید جمال الدین افغان په هکله د افغان لیکوالو د افکارو او نظریاتو یوه داسې ټولګه ده، چې د بېلابېلو قلموالو په قلمونو د مقالو په بڼه لیکل شوې او د ښاغلي محمد حسین میاخیل په زیار او هڅه راټوله او چاپ ته چمتو شوې ده.

د دغه اثر رامنځته کول، راټولول او تر چاپ پورې رسول ښايي هغه چا ته دومره ستونزمن کار و نه برېښي، چې د اثر له لیکلو یا راټولولو او چاپ کولو سره سروکار نه لري، خو قلموال او هغه څوک چې دغه چاره يې تر سره کړې وي، پوهېږي، چې د یو کوچني اثر لیکل، راټولول، د کتاب په بڼه ترتیب کول او چاپ ته چمتو کول څومره له کړاوه ډک او ستونزمن کار دی؟

زه تر هرڅه دمخه له دغو ټولو ښاغلیو څخه چې د دغه اثر په رامنځته کولو کې يې زیار او زحمت ګاللی مننه کوم، په ځانګړې توګه ښاغلي میاخېل ته کور ودانی وایم، چې دغه ستره چاره يې په داسې وخت کې تر سره کړه، چې خلک یوازې هغه څوک د مدحې او ستاینې حقدار ګڼي، چې مادي بهره ترې پورته کولی شي، نه هغه څوک چې ۱۴۸ کاله وړاندې يې له دې مادي نړۍ سره مخه ښه کړې وي.

ښاغلي میاخېل او ددغه اثر ټولو رامنځته کوونکو له یوې خوا د یو ستر کړاو په ګاللو یو ستر خدمت ترسره کړی او له بلې خوا يې تر دې هم د پام وړ چاره دا ده، چې حضرت عثمان رضی الله تعالی عنه فرمايي: ((کوم انسان چې د مخلوق حقوق ادا کړل، هغه په حقیقت کې د الله جل جلاله حقوق ادا کړل)) په دغه اثر کې د یو داسې انسان د حقوقو د ادا کولو هڅه شوې، چې هغه یقیناً ډېر حقدار او مونږ ټول يې د احسانونو پوروړي یو.

ددغه اثر د ارزښت، اړتیا او فورماسیون یا ښېیز څرنګوالي په هکله زما

(c) ketabton.com: The Digital Library



استنباط دا دی، چې دغه اثر د ارزښت له پلوه دوه عمده لوري یا جهتونه لري.

د ارزښت لومړی لوری یا جهت: ددغه اثر منځپانګه د ماضي یا تېرې زمانې د یو بشر د ژوند دیني، علمي، سیاسي، اقتصادي، فرهنګي او ټولنیز مسایل دي او د ماضي یا تېرې زمانې د بشر یاد شوي مسایل د تاریخ مفردات ګڼل کېږي. تاریخ د ماضي هېنداره ده او بشر اړ دی، چې په دغې هېنداره کې د خپل رول او فعالیت څېرې د زمان په بېلابېلو پړاوونو او د مکان په جلا جلا موقعیتونو کې وګوري. تاریخ د یو ملت معرفت او پېژندګلوي ده او که یو ملت له خپل معرفت او پېژندګلوۍ څخه مخ واړاوي، نو څرګنده خبره ده، چې ملت به ملت پاتې نه شي.

له تاریخ څخه سترګې پټول له واقعیتونو څخه سترګې پټول دي او له واقعیتونو څخه سترګې پټول د وجدان پرخلاف د نفس ژغ (جغ- ځغ) ته غاړه کېښودل دي. ددغه اثر د ارزښت یوه خوا خو همدا شوه، چې د تېرې زمانې په هېنداره کې مونږ ته د خپلې خاورې او خپلې ټولنې د یو استازي، د هر اړخیز رول او فعالیت څېره راښیي، له واقعیتونو مو خبروي او د یو ملت په حیث په کې مونږ خپلې خوبۍ او خامۍ مطالعه کولی شو.

د ارزښت دوهم لوری یا جهت: په دغه اثر کې د ځیرک مبارز (سید جمال الدین افغان) د ځیرکتیا، وړتیا، ایمانداری، فداکاری، هېواد پالنې او انسان دوستۍ هڅوونکې مفکورې څېړل شوې دي او د نوموړي د ژوند او شخصیت په علمي، مذهبي، سیاسي، فرهنګي او اجتماعي خواوو هر اړخیزه رڼا اچول شوې ده. یا په لنډه توګه، دغه اثر د خپلو لوستونکو لپاره هر ډول معلومات لري، چې همدا ددغه اثر د ارزښت بل لوری یا جهت ګڼلی شو.

اړتیا: که څه هم اړتیا د ارزښت له امله پیدا کېږي، یعنې څه چې ارزښت

(c) ketabton.com: The Digital Library



او اهميت لري، هغه ته اړتيا او احتياج ليدل کېږي، خو دا چې د ارزښت په توپير په دنيا کې هېڅ شی بې ارزښته نه دی، نو د اړتيا کچه د ارزښت د کچې له مخې ټاکلی نه شو، د بېلګې په توګه: مرغلره ډېر ارزښت او اهميت لري، خو اړتيا اوبو ته ډېره ده. په همدې اساس ويلی شوو، چې دغه اثر يوازې د يادو شويو ارزښتونو له امله د اړتيا وړ نه دی، بلکې پر هغوی برسېره ورته نوره اړتيا هم ليدل کېږي او هغه دا، چې ددغسي اثارو رامنځته کوونکي، چې کله د خپلو لوستونکو مخ ته د ماضي کوم منظر ږدي، موخه يې دا نه وي، چې لوستونکي يې ددغه منظر يوازې ننداره وکړي، بلکې د هغوی هيله دا وي، چې لوستونکي يې له دغه منظر څخه د خپل نن او سبا د سينګارولو او ښايسته کولو لپاره رنګونه او نقشونه غوره کړي.

د ماضي غوره کړنې، پېښې، اشخاص او د هغوی د کارنامو ستايل، څېړل، څېړل او راتلونکو نسلونو ته رسول او پرېښودل که له يو پلوه د ښېګڼو د څښتنانو د نېکيو او احسانونو حق دی، نو له بل پلوه د حال او ټولنې اړتيا ده او د راتلونکي يا مستقبل د ښېرازۍ لپاره په کې حکمت او تدبير دا دی، چې نور وګړي دغه ستايني او يادونې وګوري، و يې لولي او وا يې وري، څو له هغوی سره هم د ورته مثبت کړنو او کارنامو د ترسره کولو فکر او مينه پيدا شي او له پرېوتو چارو مړه خوا او متنفر شي. دغه اثر د همدې اړتيا په اساس رامنځته شوی بللی شو.

فورماسيون يا بنيز څرنګوالی: په دې اثر کې ځينې مقالې په توصيفي نثر ليکل شوې دي، يعنې ليکوال هڅه کړې، چې خپلې حسي تجربې مقابل لوري ته ولېږدوي او په هغه کې عاطفي غبرګون راوپاروي او په ځينو مقالو کې بيا له استدلالي او تشريحي نثرونو څخه کار اخيستل شوی.

استدلالي نثر د يو تيزس (tezas) د اثبات يا د يو چا د مفکورې او نظر د

(c) ketabton.com: The Digital Library



اړولو، د تخیل د ویښولو، د قانوني او اخلاقي ښوونو لپاره په کارول کېږي او تشریحي نثر ته توضیحي نثر هم وایي. بدیعي ښکلاوې په کې نه وي. د مفکورو، تعریفونو او جریانونو په څرګندولو او په علمي تحلیل، مقایسې، ترکیب او تصنیف کې ترې کار اخیستل کېږي.

لنډه دا چې دغه اثر د اړتیا، ارزښت او څرنګوالي په یادو شویو ځانګړنو برسېره- د سید جمال الدین افغان له ژوند، مبارزې او نظریاتو څخه له زده کړې پرته، د خپلو لوستونکو د معلوماتو په پانګه کې نور د پام وړ ټکي هم لري.

د څېړونکو لپاره د اخذ غوره سرچینه ده. د مطلوبو ټولنیزو اهدافو په خوا د عامو لوستونکو سوق کوونکی دی. د شاعرانو او لیکوالو له پاره له انګېزه تولیدوونکو مفاهمو مالامال دی او ځوان قلموال کولی شي، چې ددغه اثر د لوست له برکته د مقالو د بېلابېلو ډولونو له سبک او میتود سره اشنا شي. د کلمو او جملو د پېیلو او اوډون مختلف ډولونه په کې له نظره تېر کړي او د الفاظو د ترکیب جلاجلا مهارتونه په کې ووېني. خپله معلوماتي پانګه پرې ستره او خپله لغوي زېرمه پرې غني کړي.

نور نو زه خپلې خبرې راټولوم. په پای کې یو ځل بیا د دغه ارزښت مند اثر له رامنځته کوونکو مننه کوم او لوستونکو ته یې د داسې لوستلو بلنه ورکوم، چې د خپلو ځانونو او خپلې ټولنې لپاره د لوري او مسیر ټاکلو په موخه وي.

درنښت

شهزاده شیرین زوی

د ۱۳۹۴ل کال چنګاښ ۱۳ او د روژې مبارکې۱۸ شپه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د وینښتابه اذان؛ علامه (افغان(رح))

هغه کارونه چې د بالغ عقل په رهبرۍ او د ذوق او مینې په قوت تر سره کیږي، د انساني تربیت سبب ترې جوړیږي او د دې لارې لاروي محوري شخصیتونه وي، هغه انسان چې ځان وپیژاند او خپل انفرادیت ته په معنا قایل شو، بویه چې د خپل استازیتوب مقام یې درک کړ او د ځمکې د خلیفه توب تاج یې پر سرکړ.

د اشرف مخلوق د پیژندنې او تعریفونې په لاره کې هر څیړونکی، عارف او پلټونکی حقپال، په طبیعي ډول دې مرحلې ته رسي، چې د ( ولقد کرمنا بنیء ادم....الاسراء) مقام ومني او د خالق کمال ته یې د تعزیت تندی په سجدوکړي.

د اسلامي شرق د علمپالي او عرفانپالي طبعیت رڼې وړانګې د ګردې نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د روښانتيا سبب دي، مګر د غربي سطحي نګريو لاروي په داسې يوې ناچارې هڅې بوخت دي او کوښښ کوي، چې د دې لمر وړانګې په دوو ګوتو پټې کړي.

د دې واقعيت د ښکارندويي له پاره د سردرو او عظمتونو له ټاټوبي څخه د نابغه افغان (رح) د ويښتابې او بيدارۍ هغه ملکوتي اذان چې تقريباً ټوله نړۍ يې په اهتزاز کړه، د ثبوت په توګه بسنه کوي او تر مولانا بلخي او ابو علي سينا ... ورتلوته اړتيا نه پېښيوي.

د نړۍ د تر ټولو لويې قارې (آسيا) دې ناکراره زړه (افغانستان) ته د کايناتوخالق د لورينې او پيروزينې داسې نښې ورکړي، چې هر معقوليت پسند انسان يې د تجلا او راښکون عظمت ته د حيرت ګوتې مجبوره چې په غاښ کړي.

دا د پاڅونونو او قربانيو زمکه ډيرې اوږدې او پنهانې کيسې لري، چې د تاريخ سترګورو ته يې د برملا کولو درونړ رسالت په اوږو بار پر ايښی او د راتلونکو نسلونو حق دی، چې ننني قلموال يې د واقعيت نګرۍ په ګاڼه پسوللې کرښې د هغوی د مستقبل جوړونې په پار تورې کړي.

د ختيځ نابغه زموږ د همدې ورځې له دردده ناکراره وو، چې نن يې موږ د ناکراريو په تسلسل کې د بې خودۍ تر کندې رسولي يو او د ځان پيژندنې احساس مو ورسره نيم ژوانده دی.

د دې برميال شرق حيثيت که د کمونيزم له ړونداندانو خدشه داره شوی نه وای، نن به يې د نړۍ رغاند اسلامي حيثيت د برم منار هومره هسک و، چې د اسيا بام ته به د ننداره له ذوقمنانو له سرونو خولۍ غورځيدې.

د افغاني امپراتورۍ معاصر بنسټګر، چې کله له فتوحاتو يو څه دمه کوي نو، عثماني دارالخلافې ته داسې برادرانه او پندلرونکی ليک وراستوي، چې د دواړو اسلامپالو قوتونو د ادغام په پايله کې پر نړۍ د بل عمري

(c) ketabton.com: The Digital Library



عدالت د لمر وړانګې خپرې کړي، مګر د دارالخلافې د وروستيو بې غورو مسؤلينو له بې پامۍ وياړلی ختيځ له دې اعزازه بې برخې کيږي. ای کاش دغسې نه وای شوي!

د همدې نقيصې د رفعې له پاره د افغان امپراتور له کوره يو بل لمر سر را پورته کوي او د دوامدارو او ناکرارو هڅو په پايله کې د خپلو سفرونو په تسلسل کې تر سلطان عبدالحميد ثاني پورې ورځي او د مسلمان امت په اړه يې د بې غوريو او د رسالت د نه ادايني په پار په ننګونکو کلماتو سترې مشي کوي. او همدلته د پان اسلاميزم پر فکري مکتب رسماً کار پيليږي.

په ترکيه کې د امت د دې لمر ژوند ډير وي او بالاخره هماغلته پای مومي او د ځينو رواياتو پرمبنا چې په زندان کې ورته د مسواکو له لپارې زهر استول کيږي او د غابښونو د سرطان له وجهې د شهادت جام نوش کوي.

د ظاهرشاه په دې معقوليت سترګې نه پټيږي، چې د خپلې واکمنۍ په جريان کې د دې اتل جسد خپلې پلارنۍ ټاټوبي ته انتقالوي او د کابل پوهنتون په مقر کې يې پر مزار دنګ څلی ودروي ، زما د ادبي مرشد او استاذ ښاغلي ناګار صاحب د خولې خبره ده، چې علامه رشاد (رح) به ويل، چې: ماته د استاذ الفت ولايت هله ثابت شو، چې د علامه سيد (رح) د تدفين په مراسمو کې يې د هغه ارواه ته خپل لوی نظم اوراوه او د الفت مخ د هغه په اوښکو لوند و، او تر دې يې دا نظم وغځاوه، چې:

دې تابوت کې د پښتون ډير خاطرات دي
چې يې ګورم بل عالم مې په نظـــر شي

د حقدار سيد (رح) په اړه مې دا نيمګړې هڅه کړې په دې کې د دې کتاب د مقالو د درنو او پتمنو ليکوالو قدرداني پکار ده، چې دې غوښتنې ته يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په سره سینه لبیک ووایه او د خپل اتل د یاد په پار یې خپلې څو شیبې رنګینې او تاریخي کړې، زه له ټولو منندوی یم، په ځانګړې توګه په قاهر کې د افغان سفیر ښاغلي فضل الرحمن فاضل صاحب نه چې دی په خپله ستر سید شناس دی او د اسلامپالي افغان جریان د قافلې همدم هم پاتې شوی، دا دی دا کتاب یې د دوهم ځل له پاره د چاپ په ګاڼه سمبال کړ، کور یې ودان.

ماته د خپل تاریخ د ستر بچي علامه سید جمال الدین افغان رحمة الله علیه په یاد یوازې نه، بلکې د افغان معاصر امپراتور او ورسره د شرق د ټولو اسلامپالو په ناکرارو ارواحو د تمرکز جرس په داسې یو مترنم انداز تر غوږ غږول کیږي، چې تعبیر یې ښایي یوازې په همدې پښتني منظوم پیغام وکولی شم، چې:

چرګ بانګ دی- پاڅېږه لالیه خوب به بیا وکړې مینَه!

درناوی

محمد حسین میاخېل
لغمان پوهنتون
۱۳۹٦ هـ ش

(c) ketabton.com: The Digital Library



# علامه جمال الدين[1] او علامه اقبال[2] او د دوی پان اسلاميزم[3]

احمد بلال خليل[4]

## لنډيز:

په نولسمه پيړۍ کې د پان اسلاميزم خوځښت خپل سر راپورته کړ، او د دې نوې ويښتابې او حرکت بنسټ ايښودونکی سيد جمال الدين افغان و، نه د ترکيې سلطان عبدالحميد ثاني. ددې تحريک بنسټيزه موخه اسلامي نړۍ د اروپايي استعمار له جوغه خلاصون او په اسلامي نړۍ کې هر

---

[1] علامه سيد جمال الدين افغانی <<<وړه بيوګرافی>>>

[2] علامه اقبال د هندي لاهور په يوې کشميرۍ کورنۍ کې پر ۲۲فبروری ۱۸۷۳کال زيږيدلی دی او په ۲۱اپريل ۱۹۳۸کال يې له دې نړۍ څخه سترګې پټې کړې دي. هلته له لومړنۍ څخه تر بکلوريا پورې ده زده کړې کړي دي. وروسته د لوړو زده کړو لپاره د نړۍ مشهور پوهنتون کيمبرج او جرمني ته ولاړ. ده هلته په فلسفه کې دکتورا او په قانون کې سندونه ترلاسه کړل. د زده کړو په پای دی هند ته راستون شو. دلته د استادۍ په دنده بوخت پاتې شو او په سياست کې يې هم خپلې هلې ځلې پيل کړې. مشهور کتابونه يې دا دي: the development of metaphysics in Persia; The reconstruction of religious thought in islam; اسرار خودی؛ رموز بيخودي؛ جاويد نامه؛ زبور عجم؛ پيام مشرق؛ پس چه بايد کرد اقوام مشرق؛ مسافر؛ بانګ درا؛ بال جبرائيل؛ او نور.

[3] د دې مقالې په چمتو کولو کې د پيښور د آرشيف کتابخانې له مسؤلينو، ...او ... څخه مننه کوم، چې بې د دوی د همکارۍ پرته به دا مقاله نيمګړې وه

[4] افغان څېړونکی، چې د اسلاميه کالج پوهنتون، پيښور څخه فارغ دی، اوسمهال په خپلو څېړنو بوخت دی، په دې ايميل له څېړونکي سره اړيکه نيولای شئ: abilalnajeeb@gmail.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اړخيزه رفارمونه ول. همدا دويمه او وروستۍ موخه بيا د افغان سيد جمال الدين او د سلطان عبدالحميد ترمنځ د دوی د پان اسلاميزمونو د توپير کرښه وګڼل شوه او د اختلافاتو موضوع هم!

اقبال که څه هم په لومړي سر کې د هندي نشنليزم له جذبې سرشار و؛ خو د وخت د ستن له تاويدو سره يې ذهن لا پوخ شو، او پای پر دې متيقين شو، چې: «تميز رنگ و بو بر ما حرام است؛ که ما پرورده يک نو بهار يم» او محلي نشنليزم يې په سيند کې د يوې داسې څپې سره تشبيه کړه، چې د سيند نه دباندې هېڅ وي! (موج ہے دريا ميں اور بيرون دريا کچھ نہيں). ده پای د سيد په پان اسلاميزم او د اسلام په فلسفه کې خوندي پناه ولټوله او د «الملک الله» ناره يې پورته کړه!

دا چې اقبال له سيد نه څومره اغيزمن و، په دې اړه اقبال پخپله وايي، چې ما د ده پر څېر د اسلام لپاره ناقراره نه دی ليدلی؛ دی يې د ستر مجدد شاه ولي الله سره پرتله کړ؛ او د اسلامي ويښتابې بنسټ ايښودونکی او د خپل مهال ستر مجدد يې وباله؛ د ده ترڅنګ يې پخپله جاويد نامه کې د اسلام د نظريې د وړاندې کولو لپاره ورڅخه مرسته واخستله، او د ده د نامه تر لاندې يې خپله اسلامپالې نظريه وړاندې کړه.

په دې مقاله کې مونږ هڅه کړې، چې د پان اسلاميزم د فکر غوټې راوڅېړو، د دې خوځښت او اصطلاح شاليد وپلټوو او بيا به زيار وباسو، چې د اقبال د پان اسلاميزم د فکر غوټې هم راخلاصې کړو، او نه يوازې دا چې د سيد جمال الدين له فکر سره يې پرتله کړو بلکې د سيد لپاره د ده عقيدتمندي هم بيان کړو.

کيلي: اقبال، جمال الدين افغاني، سلطان عبدالحميد ثاني، پان اسلامېزم، ويښتابه، ريفورم،

هغه چې مرګ يوځای کړل او لاهور يې په ژړا ولړزاوه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



که چېرې لیکنه پر ژوند لیکونو، یا پر شخصیاتو راڅرخي ډېری یې له پېلـه پېلوي، بیا په دویم پړاو کې د اتـل شخصـیت د ځـوانۍ پېـر پـه اړه کرښـې توروي، او په پای کې لیکوال خپله لیکنه د خپل اتل د ژونـد پـه پـای، پـای ته رسوي. مونږ دلته قلم نېغ وروستي پړاو ته بیولی دی، او لـه هغـه ځـای مو پېل کړې ده.

دا به د ۱۹۴۴کال و او دا مهال زمونږ پر دواړو اتلانو (اقبال او جمال) ډېـری خاورې بار وې، یو اتل مو ډېر لرې او ډېـر پخـوا، چـې ان د اقبـال د شباب ورځـې وې، د استـانبول پـه یـوه بـې وطنـه هـدیره کـې پـرې د لحـد تیـږې کېښودل شوې وې او بل اتل مو، د لومړي اتل لـه مړینـې ۴۱کالـه وروسـته پخپل هند کې له ورته برخلیک سره مخ شـو، او د فـاني ځـای قرعـه یـې د لاهور د بادشاهي جماعت ته څېرمه ووتله...وخت خپـل وخـت واخسـت... ان په دې کې ٦کلونه تېر شول... وخت او زمانې پـای خپـل اتفاقـات د یـو ځل بیا لپاره رابربنډ کړل...دوه شخصیتونه چې په ژوندون یې نه و لیدلي، پای یې د دوی مړي سره یوځای کړل... پیر د خپل مرید د شاباسـۍ لپـاره له ډېره لرې راغلی و... د زمانې دا اتفاق هم عجب و! چېرته د پـیر د وطـن خاوره... او چېرته د ده کفن او لحد! چېرته استانبول... چېرته لاهـور... او چېرته بیا کابل! خو کله کله داسې هم پیښ شي، چې دا فاصلې پـه شـیبه کې رالنډې شي او له امله یې زړونه یوځای ودربیږي[5] همداسې هلـه پـېښ شول، چې کله د ۱۹۴۴کـال د وروسـتۍ میاشـتې پـر یـو مابنـام د اسـلامي نړۍ د ستر رفارمر او مجدد تابوت له استانبول څخه راوړل شو او د علامـه اقبال قبر ته نږدې کېښودل شو!

هو! دا هغه مهال و، چې زرګونه میله فاصلې رالنډې شوې، د مسلمانانو تر ټولو زیات ښـکومی (خواخـوږی)، د ښـکېلاک د سـترګو خـار، او د وخـت د

۵(دکتور غلام حسین ذوالفقار: ۱۹۸۷: مخونه ۱۲۱) هو

(c) ketabton.com: The Digital Library



نانیسا (بې جرئته) مسلمانانو خوله ور دعوتګر او تریدلی خوځنده اتل افغان جمال الدین وروسته له هغو ۴۸کلونو چې په ترکیه کې یې د خاورو لاندې تېر کړل، پای خپل او د افغانانو پېژندونکي--- د ده د پان اسلامېزم د تحریک پرمخ بوتلونکی، او هغه چې د افغاني یو داسې مرید و، چې ان په خپل ژوندون کې یې د شعر له لارې ځان ته له خپل افغاني پیر سره د کتنې فرصت وزیږوه--- اوس هغه پیر د ده ځنګ ته پروت و. واقعاً چې دا نظاره به ډېره ژړغونکې، او هم شعور راویښوونکې وه!!

لوی علامه افغاني چې کله په ترکیه کې وفات شو، نو د ۱۸۹۷کال و. دا مهال علامه اقبال په هند کې نه یوازې دا چې په فلسفه کې ماسترې اخستلې وه، بلکې په دې برخه کې یې د سرو زرو مډال هم ترلاسه کړی و. دا داسې کال و، چې د افغاني پان اسلامیستي نظریه پخپل اوج کې پر پوخوالي وه؛ د اقبال د نشنلیزم انګازه هم

له همالیې[6] لوړه شوې وه[7]، هلته چې ده پکې هندي ترانه ویله[8] . دا مهال دواړه له یو بل سره په ۱۸۰درجو کې پراته وو او سفر یې هم پر متضادو لوریو وو. خو لویدیځ ته د اقبال له سفره وروسته، د ده سوچ «ریورس

---

[6] اے ہمالہ! اے فصیل کشور ہندوستاں چومتا ہے تری پیشانی کو جھک کر آسماں (اقبال، کلیات اقبال، مخ ۲۱)

[7] د اقبال نشنلیزم هلته اوج ته ورسید، کله چې ده، نشنلیزم یو مقدس دین وباله، دی وایي:

پتھر کی مورتوں میں سمجھا ہے تو خدا ہے
خـــــاک وطن کامجھ کو ہر زرہ دیوتا ہے

[8] سارے جہاں سے اچھا ہندوستاں ہمارا
ہم بلبلیں ہیں اس کی یہ گلستان ہمارا
مذہب نہیں سکھاتا آپس میں بیر رکھنا
ہندی میں ہم، وطن ہے ہندوستاں ہمارا

(اقبال، کلیات اقبال، مخ ۸۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګېر» ولګاوه، او د وخت له تېريدلو سره د افغان سيد په لور راشېله شو. ده دا فکري بدلون او حالت پخپل شعر کې هم په ښه توګه بيان کړی دی:

مسلمان کو مسلمان بناديا طوفان مغرب نې[9]

د اقبالياتو يو څېړونکی چې د دې تاريخي پيښې ليدونکی و، ليکي: ... په لاهور کې د افغاني تابوت يوه شواروز پاتې شو. په برکت علي اسلاميه هال کې به تړوله شپه خلک راتلل، د قران مجيد تلاوت به يې کاوه، او د افغاني د روح لپاره به يې دعاګانې کولې. د پنجاب له نورو ښارونو څخه هم زائرين راغلل. د بلې ورځ د ماسپښين له لمانځه وروسته د ستر افغاني تابوت له ښاره د تيريدلو سره بادشاهي جماعت ته ورسيد. هلته فاتحه ولوستل شوه، او له دې وروسته دا تابوت د مسجد نه رابهر شو او د علامه اقبال قبر ته نېژدې کېښودل شو. دا منظر چې د نه هيريدونکيو يادونو په سجل کې ثبت شوې ده، د دې کرښې ليکوال پر خپلو سترګو وکوت، او تر ننه له دې نظارې خوند اخلي... دا انځور(منظر) لاهوريانو او له لاهور څخه دباندې ډېرو خلکو په ښه شوق وليد. پر ډېرو يې رقت راووست. د ځوښ جذباتو له امله د ډېرو سترګې اوبلنې شوې، چې دې چارو تر ډېره وخت واخست او بيا د يوه داسې هستۍ، چې خاورې يې له استانبول څخه راوړل شوې وې، د پيښور له لارې کابل ته ويوړل شوې. بله ستره هستي همداسې پر خپل ځای په خپل برم کې پاتې شو. دا دوه ستر کسان سيد جمال الدين افغاني او علامه شيخ محمد اقبال وو[10].

د اسلامي وينبتابې بنسټ ګر او د اسلامي وينبتابې شاعر!

---

٩

[١٠] دکتور غلام حسين ذوالفقار: ١٩٨٧: مخونه ١٢١)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پان اسلامېزم[11]:

د سیاسي ځواک په توګه د اسلام دین د راژوندي کولو هڅې په نولسمې پیړۍ کې پیل شوې، دغه هاندونه یوازې په یو ټکي کې خلاصه کېږي: پان اسلامیزم. نولسمه پیړۍ د پان خوځښتونو شاهده وه. ویل کېږي چې پان تحریکونه هم په لومړي ځل له غرب څخه سر وکړ، هلته چې پان جرمنیزم، پان سلواکیزم تحریکونه پرمخ بوتلل کېدل، په دوی کې د پان-جرمنیزم تحریک چې د جرمني ځواکمن او د کیسنجر په ژبه د ډیپلوماسۍ نابغه[12] بسمارک پرمخ اچولای و او پر ۱۸۷۰کال اوج ته رسیدلې وه؛ ځکه، ده د جرمن قام، چې یو بې وطنه قام وه، دا هیله، چې دوی باید د جرمنیانو هېواد ولري، د ریښتینوالې له ځلاند لمر سره مخ کړه او په اروپا کې یې ترې یو ځواک ساز کړ.

راګرځو د پان اسلامیزم اصطلاح ته، دا له دوو یونانی لفظونو څخه جوړه شوې اصطلاح ده، چې پان، [۱۳] Pan یو یونانوي مختاړی دی او د ټولو، او د ټولو غړیو مانا ورکوي او له اسلامېزم څخه اسلام او مسلمانان مراد دي.

---

[۱۱] د پان اسلامیزم تحریک لپاره وګورئ:

Azmi Ozcan. Pan Islamism: Indian muslims, the ottomans and Britain (1877-1924), leiden, Brill, 1997; Albert Edwards. The meance of Pan Islamism. The north American Review. Vol. 197, No 690 (May, 1913), pp. 645-657; Valentine Chirol. 1906. Pan Islamism. Central Asian Society: London; Mushir Hosain Kidwai. 1908. Pan Islamism. Lusac & Co: London.

[۱۲] وګورئ د هینري کیسنجر شهکار کتاب، ډیپلوماسي.

Henry Kissinger, Diplomacy, Simon & Schuster Paperbacks, 1994.

[۱۳] د اکسفورډقاموس د پان Pan ټکي اصل یونانی ګڼي، چې د ټولو مانا ورکوي، او د پان- چې په اصطلاح کې وکارول شي او یا له یو بل لفظ څخه مخکې د مختاړي په توګه استعمال شي، نو ټولو ته راجع وي، لکه براعظم، نسل، او مذهب ته (پان اسیاییزم، پان ترکیزم، پان اسلامیزم) وګورئ:

-http://www.oxforddictionaries.com/definition/english/pan

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اکسفورد اسلامي قاموس د پان اسلامیزم په اړه څه داسې خبرې کوي: نظریه چې مسلمانان د ټولنیز-سیاسي هم اهنگۍ ته رابولي. دا یوه دیني پدیده ده، چې د پیغمبر اسلام پر مهال هم موجوده وه، د ۱۸۶۰-۱۸۷۰لسیزو د اروپایي تاړاک او ښکېلاک په دوران کې د یوې مدرنې سیاسي نظریې په توګه راڅرګنده شوه، چې ترکي روڼ اندو پکې غوښتل عثماني خلافت له ولیدنې وژغوري. دا تګلاره د سلطان عبدالحمید تر ټولو خوښه تګلاره وه [14].

یو ځیرونکی[15] زیاتوي، چې د تعریف له مخې پان خوځښتونه استعماري بنه لري؛ خو پان اسلامیزم د نورو پان خوځښتونو برعکس ده، ځکه دا تحریک خو خپله د استعمار پرخلاف راولاړ شوی دی. دی هم پر دې باور لري، چې د لومړي ځل لپاره دا اصطلاح لویدیځو رواج کړه او مخکې زیاتوي، چې د پان اسلامیزم تحریک له نورو پان تحریکونو لکه پان سلواکیزم او پان جرمنیزم سره هېڅ ډول اړیکه نلري، پرته له دې چې په دوی ټولو کې د پان اصطلاح او ټکی راغلی دی[16]

د پان اسلامیزم شالید:

د علامه اقبال په اند د اسلامي نړۍ زوال له ۱۷۹۹کال څخه پیل شوی دی، کله چې د هندي نیموچې ستړی لامبوزن ټیپو سلطان د دوو میرانو د غدارۍ له امله د انګریزي ګولیو ښکار شو[17].

---

[١٤] "Pan-Islamism." In *The Oxford Dictionary of Islam.* , edited by John L. Esposito. *Oxford Islamic Studies Online* :http://www.oxfordislamicstudies.com/article/opr/t125/e1819 (accessed Aug 25, 2014).

[١٥] Alaeddin Yalcinkaya

[١٦] Alaeddin Yalcinkaya, Jamal Ad-Din al-Afghani and Pan-Islamism, Extratto, xxxvii, 3, 1998, Universita di venezia, p.209

[١٧]

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته په ۱۹مې پیړۍ کې مسلمانان د دوو مهمو خطرونو لاندې شول: لومړی په اسلامي نړۍ کې په فکري توګه وروسته والی او دویم د اروپايي ښکيلاک او تاړاک پراخېدل و[18].

په ۱۷۵۷ کال په هند کې د پلاسي په جګړه کې انګليس خپل رقيب فرانسې ته ماته ورکړه او ځانونو ته يې د بنګال سيمې راخپلې کړې، وروسته د درېيو مرهټو جګړو (۱۸۱۸-۱۷۷۵)، د سکانو جګړې (۱۸۴۵-۱۸۴۹) دوی پنجاب راونيوه، او پای يې په ۱۸۵۷ کال د مغلو امپراتورۍ درې وړې کړه او په دې توګه انګليسانو هند د خپل استعمار تر قلمرو لاندې په نيغ ډول راووست[19] ځکه له دې پخوا هند د انګليسي کمپنۍ پر لاربښوونه رهبري کېده، د ۱۸۵۷ کال د بغاوت جګړې وروسته د انګليس استعماري ملکې دا هېواد په رسمي توګه د خپل استعمار تر قلمرو لاندې راووست.

په همدې پيړۍ کې امام شامل له تزاريانو سره په داغستان کې په يوه سخته جګړه کې بوخت و، چې پای پرې شرائط سخت شول، او دی مکې ته ولاړ. داسې قفقاز د روسيې تزاري امپراتورۍ او ترکستان بيا د چين او د روسيې امپراتورۍ لاندې راغی[20].

په بل اړخ کې قاچار ايران د روسانو لخوا دوه ځله د ماتې خوند وڅښه، يو ځل يې په ۱۳-۱۸۰۵ کلونو او بل ځل په ۲۸-۱۸۲۷ کلونو کې، چې له همدې امله دوی ډېرې زمکې روسانو ته وبايللې، په دې جمله کې آرمينيا هم

---

۱۸ Kenny, L.M. (1966). Al-Afghani on Types of Despotic Government. *Journal of the American Oriental Society*, 86 (1) , 19--27. American Oriental Society.

۱۹ Kimura. 1995: 386-390

۲۰ Kenny, L.M. (1966). Al-Afghani on Types of Despotic Government. *Journal of the American Oriental Society*, 86 (1) , 19--27. American Oriental Society.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شامله وه [21].

په بله خوا د منځنۍ آسیا هېوادونه یو تر بله تزاري امپراتورۍ لواړ تېر کړل، او پر ۱۸۷۵ کال یې قدمونه د آمو سیند پر ساحل وهل.

مصر په ۱۷۹۹ کال د ناپلیون اشغال لیدلی و، دی اشغال پر مصر ډېرې اغیزې وکړې، د محمد علي حکومت د فرانسې او د انګلیس په لاسونو کېښودل شو او وروسته مصر هم په ۱۸۸۲ کال د انګلیس لخوا فتح شو.

فرانسویانو پر ۱۸۳۰ کال پر الجزائر ورغلل او له همدې امله یې تونس او مراکش هم د خپل استعمار لاندې راوستل[22]. په دا مهال یوازې دوه هېوادونه داسې ول، چې د استعمار تر جوغ لاندې نه ول: افغانستان او عثماني خلافت.

که څه هم افغانستان د سید جمال الدین تر وخته پورې د انګلیسانو لخوا دوه تاړاکونه لیدلي ول، خو لا د انګلیس له شیمې ډېره لرې وه، او د افغانانو په مټو کې لا افغاني جزائل ټوپک زنګ نه و وهلی، چې انګلیس دې استعمار ته لکه غر ولاړ غریز هېواد خپل سټلائیټ هېواد وګرځوي.

په دغه شالید کې افغان جمال الدین راپاڅېد او د رفارم آواز یې پورته کړ، که څه هم محمود طرزی، چې د افغان جمال الدین شاګرد و، د ده هلې ځلې پر دوو خبرو څرخیدلې بولي: لومړی، د بهرني ښکیلاک پرخلاف د آزادۍ مبارزه او په اسلامي نړۍ کې د استبدادي، میراثي او بادشاهي حکومتونو پرخلاف بغاوت[23]. خو که دغه خبرې مونږ راواخلو نو پر دریېو

---

۲۱ Kenny, L.M. (1966). Al-Afghani on Types of Despotic Government. *Journal of the American Oriental Society*, 86 (1) , 19--27. American Oriental Society.

۲۲ Hirano, Junichi. 2008. Beyond the Sunni-Shiite Dichotomy: Rethinking al-Afghani and his Pan-islamism. Kyoto Working Papers on Area Studies: G-COE Series (2008), 2: 1-30

۲۳ وګورئ د محمود طرزي د مقالې لپاره د استاد روان فرهادي لخوا د محمود طرزي د مقالو مجموعه او د لوی استاد حبیبي کتاب، د مشروطېت غورځنګ په افغانستان کې، مخ ۱۳۴-۱۳۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټکو کې په ښه توګه جوتیږي: رفارم، خپلواکي، پان اسلامیزم[24].

## د پان اسلامیزم د اصطلاح پیل:

د پان اسلامیزم د اصطلاح لپاره ښاغلی ډوائټ لي[25] پخپله یوه څیړنیزه مقاله، چې په ۱۹۴۲کال کې یې د چیکاګو ژورنال لپاره لیکلې وه، دی هلته پر دې اند دی، چې په ۱۸۷۰لسیزه کې دا اصطلاح رواج شوه، ښاغلي جبرائیل چارمس[26] د خپلو لیکنو او کتاب له مخې په ۸۲-۱۸۸۱کال کې دا اصطلاح مشهوره کړه؛ خو تر ټولو وړاندې دا اصطلاح د یوه جرمن نژاده لیکوال، فرانز فون ورنر[27]، لخوا د هغه په کتاب کې په ۱۸۷۷کال کې وکارول شوه، چې غالباً د ۱۸۷٦کال د جولای میاشت څخه به وړاندې لیکل شوی و، ده ولیکل: "die den 'pan islamismus' in ihr programm augenommen hat". څیړونکی لیکي، په انګریزۍ کې دا لفظ که د لومړي ځل لپاره نه وي خو تر ټولو وړاندې هرومرو ده، چې د آرمینیس وامبیرې[28] په یو خط چې په ۳۱م دیسامبر ۱۸۷۷کال لیکل شوې وه او په ټیلیګراف ورځپاڼه کې پر ۱۲جنوری ۱۸۷۸کال خپور شو، راغله، دی پخپل دې لیک کې لیکي: زه تکراروم چې... د هند مسلمانان چې په دوی کې د «پان اسلامیتیک» نظریات ورځ تر بلې خپریږي، دوی به په راتلونکي کې غیر

---

او :Aytek Sever, A Pan Islamist in Istanbul: Jamal ad-din Afghani and Hamidian Islamism (1892-1897, Middle East Technical University, pages 54-58).

[24] Kenny, L.M. (1966). Al-Afghani on Types of Despotic Government. *Journal of the American Oriental Society*, 86 (1) , 19--27. American Oriental Society.

[25] Dwight E Lee

[26] Gabriel Charmes

[27] Franz von Werner

[28] Arminius Vambery

(c) ketabton.com: The Digital Library



فعاله نه وي، او عیسوي غرب به په مدرن صلیبي جګړه کې لتاړ کړي....[29]

جیکاب لاندو[30] پخپل څېړنیز کتاب، پان اسلامیزم، کې لیکي، چې د پان اسلامیزم اصطلاح د لومړي ځل لپاره د لندن ټائمز په یوې مقالې کې پر ۲۹دسامبر ۱۸۸۱کال وکارول شوه: the organ of the pan islamist party [31] .at palace

د ښاغلي ډوائټ لي څېړنه پورته پرځای ده، ځکه د ټلیګراف په ورځپاڼه کې د (پان اسلامیتیک) اصطلاح راغلې، نه د پان اسلامیزم یا پان اسلامیست، او جیکاب لاندو، چې د ټائمز کومه حواله ورکوي، دلته پان اسلامیزم د پان اسلامیست په نوم راغلی... د جیکاب لاندو د څېړنې له مخې وروسته دا اصطلاح په یوه مقاله کې د پان اسلامیزم په نوم پر ۱۹جنوری ۱۸۸۲کال استعمال شوه: pan Islamism and the caliphate.

د پان اسلامیزم خوځښت پیل کوونکي؟؟

دا چې د لومړي ځل لپاره د پان اسلامیزم تحریک سید جمال الدین پیل کړ او که د عثماني خلافت عبدالحمید ثاني، ډېره د بحث وړ ده.

د سلطان عبدالحمید ثاني په اړه ډیری څېړونکي لیکي، چې د سلطان عبدالحمید ثاني د پان اسلامیزم د تګلارې د پیلیدلو کال د ۱۸۷۸کال دی[32]. دی یوازې دوه کال وړاندې پر ۱۸۷٦کال د عثماني خلافت د

---

[۲۹] Dwight E Lee, The origins of pan-islamism, The American Historical Review, Vol. 47, No. 2 (Jan, 1942), pp. 278-287

[۳۰] Jacob M Landu

[۳۱] Jacob M Landu, The politics of Pan-Islam, ideology and Organizations, Oxford, 1990, pp. 2-11

[۳۲] Kologu, Orhan, Abdulhamid Gercegi, Istanbul: Pozitif Yayinlari, 2005, pp 341; Selim Deringil, 'the invention of tradition as public image in the late ottoman empire 1808-1908,' Comparative Studies in Society and history, Vol. 35, No. 1. (1993), p12 cited in Aytek Sever,

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلطانۍ پر ګدۍ د مراد پنځم پر ځای کېښناست، د ده له ناستې سره د هغه مهال چارو داسې سر واخست، چې د ده د ريموټ کنټرول بيترى يې محلي نشنليستي غورځنګونو، له روسيې سره د ۱۸۷۸-۱۸۷۷ کال جګړې، پر تونس او مصرـ د انګليس او فرانسې يرغال، اقتصادي رکود او د حکومت په دننه نور عوامل بيا د دې باعث شول چې د ده د واک ريموټ ناکاره کړي.

پای دې صورتحال دی اړ کړ، چې پان اسلاميزم د خپلې امپراتورۍ د نجات لپاره «دوا» وبولي. ځکه د دې تګلارې پرمټ ده کولای شول چې هغه اروپايي استعمارګر راقابو کړي، چې قلار او په تدريجي ډول يې د [سرطان وهلي] خلافت سيمې لاندې کړې وې[33].

د ترکيې د يو بل څېړونکي په اند د پان اسلاميزم د خپلولو يو بل لامل دا هم و، چې له ۱۸۷۸ کال څخه پخوا په عثماني خلافت کې ډېرى نامسلمانان هم استوګن ول؛ خو د آرمينيا له وتلو سره په عثماني خلافت کې يوازې مسلمانان پاتې شول[34]. اوس سلطان اړ نه و، چې د نامسلمانانو لپاره داسې کومه تګلاره پلي نکړي، چې په سياسي توګه هغوى راوپاروي.

د دې ترڅنګ د ترکيې يو بل تکړه څېړونکى، چې د پان اسلاميزم په اړه يې د اکسفورد له پوهنتون څخه د خپلې څېړنې لپاره دکتورا اخستې ده، هم پر دې باوري دی، چې د سلطان عبدالحميد ثانی د پان اسلاميزم تګلاره يوه دفاعي تګلاره وه[35].

---

a pan-islamist in Istanbul: jamal ad-din Afghani and hamidian Islamism 1892-1897, Middle east technical university, p 17-55

[۳۳] Aytek Sever, a pan islamist in Istanbul…, p 16

[۳۴] Ibid, p 17-55

[۳۵] Azmi Ozcan, pan islamism

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ترکیې دا څېړونکی پروفیسور دکتور اعظمي اوزکان[36] وايي، چې دا افغان سید و، چې د لومړي ځل لپاره يې د پان اسلامیزم تحریک پرمخ واچاوه. په دې اړه دی د عثماني خلافت له آرشیفي کاغذونو څخه د سید د ۱۸۷۶-۷۷ کال یو لیک راوباسي، چې هغه مهال يې سلطان عبدالحمید ته وراستولی و، په ده لیک کې سید لیکي:

غواړم، د خپلو خدماتو او د خپلو سفرونو پر مټ مسلمانان د یوې چترۍ لاندې راټول کړم[37]

سلطان عبدالحمید ثاني په لومړي وار دې ته پر دې نظر وکتل، چې په اسلامي نړۍ کې به دی عثماني پلوۍ جذبات راوپاروي او داسې به په طبیعي توګه د روسانو پرخلاف یو ډال ثابت شي[38].

که څه هم نیکی کیدی[39] او نور پر دې باور دي، چې د سید د پان اسلامیزم تګلاره له ۱۸۸۱ کال څخه پیلېږي، په تېره بیا چې ده د الرد علی الدهرین ولیکله، او له دې لارې يې غوښتل، چې ځان سلطان عبدالحمید ته ورسوي[40] خو د دې برعکس، د دې څېړونکې څېړنه په ۱۹٦٦ کال کې ترسره شوې وه او د ښاغلي دکتور اعظمي اوزګان څېړنه په ۱۹۹۴ کال کې ترسره شوې ده، چې ده په لومړي ځل د ترکیې ډېرې ارشیفي کاغذونه پکې رابربنډ کړي دي، هغه چې وړاندې نیکی کیدی نه و لیدلي، او په دې اړه د سید د پورته لیک دا پورته خبره هم پکې ثبت ده، چې په ۱۸۷٦ کال يې سلطان ته راستولی و، او سید پکې سلطان له خپلې موخې خبر کړی و.

---

[36] <u>Azmi Özcan</u>

[37] Azmi Ozcan, pan Islamism…, p 59

[38] Azmi Ozcan, pan Islamism…, p 59

[39] Nikki R Keddie

[40] Nikki R Keddie, the pan-islamic Appeal: Afghani and Abdul Hamid 2, middle eastern studies, Vol.3, No.1 (oct, 1966), pp: 46-47

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د جمال الدین پان اسلامیزم او د سلطان عبدالحمید ثاني پان اسلامیزم:

د ترکیې د ایتیک سیفر[41] په اند د سلطان عبدالحیمد ثاني پان اسلامیزم دوه رولونه درلودل، لومړی رول یې دا و چې د خپل قلمرو لاندې مسلمانان پرې راټینګ کړي او دویم رول یې بیا دا و، چې د قلمرو څخه دباندې مسلمانان د اروپایي استعمارونو په تېره بیا د انګلیس پرخلاف وکاروي، او د پان اسلامیزم تګلارې پرمټ د انګلیس او اروپایي استعمارونو پرخلاف ترې د یو ډیپلوماتیکي فشار په توګه کار واخلي. ده یوازې غوښتل، چې د خپلې امپراتورۍ مسلمانان پرې راټول کړي، او له نورو مسلمانانو څخه یې د یو ډیپلوماتیکي اثاثې او فشار په توګه ګټه پورته کول غوښتل[42]. د ترکیې یو بل معاصر څېړونکی دکتور عزمي اوزکان هم پر همدې نظر دی، چې د سلطان پان اسلامیزم کومه انقلابي او تعرضي طرحه او تګلاره نه وه، بلکې یوه دفاعي تګلاره وه[43].

د ده برعکس د افغان جمال الدین د پان اسلامیزم تګلاره نه یوازې دا چې مسلمانانو ته یې د یووالي غږ ورکاوه، بلکې په دې اړه یې د استعمار پرخلاف یوې انقلابي مبارزې ته هم رابلل او ترڅنګ یې ترې غوښتل، چې خپله په اسلامي نړۍ کې هم داسې رفارمونه پیاده کړای شي، چې مسلمانان بیا خپل پخواني عظمت او برم ته ورسوي.

په دې اړه محمود طرزی[44] او استاد حبیبي هم باوري دي، چې د سید

---

٤١ Aytek Sever

٤٢ Aytek Sever, a Pan islamist in Istanbul: Jamal addin Afghani and Hamidian Islamism (1892-1897), Middle East Technical University, p. 55-57

٤٣ For details see Azmi Ozcan, pan Islamism, Ottoman Empire, Indian muslim and England 1877-1914, unpublished ph.d thesis, oxford university.

٤٤ د محمود طرزي د مقالې لپاره وګورئ، مقالات محمود طرزی، راټولونکی روان فرهادي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



جمال الدين مبارزه پر دوو مهمو څېړونو تکیه خوړله:
لومړی په اسلامي نړۍ کې د شاهانو او حکمرانانو د کورني استبداد سره مبارزه او دویم د امپریالیزم سره سخته مبارزه، په تېره بیا د انګلیس د استعماري کړو وړو او په ختیځو هېوادونو کې د دوی د زور زیاتۍ پرخلاف[45]

نور څېړونکي هم له دې سره همغږي دي، دوی وايي، افغاني سید د ترکیې سلطان عبدالحمید ثاني ته دا مشوره ورکړه، چې د مسلمانانو یو کنفیدرشين جوړ کړي او د مسلمانانو په هغو سیمو کې لا فعاله شي، چې د استعمار تر جوغ او استبداد لاندې دي. خو په حقیقت کې د سلطان عبدالحمید ثاني تلوسه او پاملرنه یوازې خپل خلافت ته وه او هغه سیمو ته، چې د خلافت تر قلمرو لاندې به راتللې. د ده برعکس افغاني د یوې داسې تګلارې پسې ولاړ، چې د نړۍ بشپړه مسلمانانو ته خپلواکي ورکړي[46]

له پورته بحث څخه جوته شوه، چې سید له پان اسلامیزم څخه موخه دا وه، چې اسلام د تسبو د تار په شان ټول مسلمانان راټول کړي، یانې ده اسلام د وحدانیت رمز ګاڼه. د ده پان اسلامیزم ډېر انقلابي و، او نه یوازې دا چې د ټولو مسلمانانو خپلواکي یې غوښتله، بلکې د سُني-شیعه تنازعه یې هم هسې بلله او غوښتل یې چې د دوی ترمنځ مفاهمت وشي. د ده برعکس سلطان عبدالحمید ثاني له پان اسلامیزم څخه د خپلې امپراتورۍ د ژغورلو په توګه ګټه پورته کوله، او غوښتل یې چې د انګلیسي استعمار پرخلاف ترې د ډیپلوماتیکي اثاثې او فشار په توګه کار

---

[45] پوهاند عبدالحی حبیبي، د مشروطیت غورځنګ په افغانستان کې، د عبدالقیوم حکیمزی ژباړه، د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه-جرمني، ۱۳۸۳، مخونه ۱۳۱

[46] Kenny, L.M. (1966). Al-Afghani on Types of Despotic Government. *Journal of the American Oriental Society*, 86 (1) , 19--27. American Oriental Society.

(c) ketabton.com: The Digital Library



واخلي.

## سید جمال الدین؛ استعمار کښ انقلابي!

دا چې ولې افغان جمال الدین د انګلیس استعمار دومره ډېر مخالف و، د دې په اړه یو څه اشاره پورته د پان اسلامیزم په شالید کې شوې ده، هغه دا چې استعمار د اسلامي نړۍ ډیری زمکې لاندې کړې وې، او انګلیسي استعمار په هر ډګر کې اغیزې کړې وې، ځکه خو ده د دې استعمار پرخلاف مبارزه پیل کړه، او ده د انګلیس استعمار په دا ډول تعریف کړ:

انګلیس استعمار یو اژدها ده، چې شل ملیونه کسان یې تېر کړې دي، او د ګنګا او اندس اوبه یې څښلې دي، خو اوس یې هم ارمان پوره نه دی او د نړۍ حرص ته چمتو ده ترڅو د نیل او د آمو سیند اوبه هم استعمال کړي.[47]

د انګلیس استعمار د ده د دا ډول څرګندونو او پان اسلامیزم څخه ویره درلودله او دی یې د روسیې امپراتورۍ (تزار) ایجنټ باله، نیکي کیدی پخپل تاریخي کتاب کې، چې د سید پر یاسي ژوند یې لیکلی، په دې اړه له یوه سند څخه کار اخلي، مونږ دلته د هغه سند متن راوړو:

حاجي سید رومي [جمال الدین افغان] د ترکستان د روسیې حکومت یو پټ ایجنت دی، او اوسمهال د امیر تر ټولو زیات بانفوذه او مخکښ مشاور دی. د ده په اړه مشهوره ده، چې ده له طفلس څخه د شیروان او تبریز له لارې تر بخارا پورې سفرونه کړې دي او بیا هرات ته راغلی دی. په ۱۸٦٦ کال دی قندهار ته راغی، او هلته یې له امیر محمد اعظم خان

---

[47] Ahmad, Aziz (1960) "Sayyid Aḥmad Khān, Jamāl al-dīn al-Afghānī and Muslim India", *Studia Islamica*, 13:55-78

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره وکتل، او ورته یې یو څه پټ اسناد راوړل. له هغه مهاله دی له امیر سره دی.[48]

په بل اړخ کې کله چې افغان جمال الدین لندن ته ولاړ، هلته یې د ونستن چرچل له پلار سره وکتل، او هغه ته یې کړل: د روسیې د تزاریانو لخوا د خیوې نیول داسې مانا لري، چې په راتلونکیو څلویښتو کلونو کې به نه ایران وي، نه افغانستان او نه برتانوي هند! پکار ده د دوی پرخلاف یو شو!!

د سید جمال الدین د هغه مهال نړیوال سیاست هو بهو د اوسني پېر د سردار محمد داود خان په څېر و، چې د سړې جګړې د رقیبانو څخه یې ګټه پورته کول غوښتل، او هغه مهال سردار محمد داود خان د ټائیمز مجلې ژورنالېست ته ویلي و، زه غواړم چې امریکایي سیګار د شوروی په اورلګیت ولګوم! سید هم د هغه مهال د لویې لوبې له رقابت څخه ګټه پورته کول غوښتل او اړ و، چې یوه خوا د بلې خوا پر ضد استعمال کړي، او پای مسلمانانو ته خپلواکي ترلاسه کړي.

دا چې مونږ استعمار مشخص کړو، چې سید د فلانکي استعمار پرخلاف و او له بل سره جوړ، غلطه خبره ده. دی چې کله فرانسې ته ولاړ او هلته ورته فرانسویانو پناه ورکړه، نو هغوی هیله درلودله، چې هغوی به له ده څخه د انګلیس استعمار پرخلاف ګټه پورته کړي، خو چې کله یې د العروة الوثقی ژبه ولیدله او د ده فلسفه، نو د زړه له تله پوه شول، چې دا خوځنده انقلابي پخپله د استعمار له فلسفې سره کینه او بغض لري، او ژوند یې د دوی نابودۍ ته وقف کړی دی! پای دوی هم له سید څخه وېره محسوس کړه، او دی یې له خپل هېواد څخه بدر کړ.

## اقبال او پان اسلامیزم:

علامه اقبال د پان اسلامیزم په اړه خپل نظر هغه مهال څرګند کړ، کله چې

[48] Cabul Precies, p. 46, mentioned Sayyid Jamal ad-Din by Keddie, pp 41-42

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی د انگلیس او هند ترمنځ د دویم ګردي کانفرانس لپاره لندن تـه روان و او پـه لاره کـې یـې د بمبـی لـه کرانیکـل اخبـار سره مرکـه وکـړه او پـر پـان اسلامیزم اصطلاح یـې خـبرې اتـرې وکـړې او دا اصـطلاح یـې لا روښـانه کړه. د ده په اند د پان اسلامیزم اصطلاح د لومړي ځل لپـاره یـو فرانسـوي ژورنالېسـت وکارولـه، چـې اوس تـرې نـوم هیـر دی، او دا پـه یـو ډول د اروپایي اسـتعمار پـر پلویتوبـه (یـا دوی حـق پـه جانـب ګڼـل و) و ، چـې د لویدیزو هغې ویرې، اسلامي ګواښ، ته راجع وه. هوبهو لکه د اوسنۍ پېر هغې ویرې ته، چې هنتېنګتن د لومړي ځل لپاره پخپلـه مقالـه، د تهـذیبونو ټکرونه؟ او بیا په همدې نامـه پخپـل کتـاب کـې ورتـه اشـاره کـړې، چـې د لویدیځ لپاره دوه خطرونه: اسلامي تهذیب او چین دی.

اقبال مخکې زیاتوی، وروسته دا اصطلاح په اسـتانبول کـې هغـې طـوطیې ته ورکړل شوه، چې پروفیسـور بـراؤن یـې تردیـد کـړی دی. دا اصـطلاح د اقبال له مخې پای د سید جمال الدین د اسلامي نړۍ د یو کولـو خوځښـت ته وکارول شوه، که څه هم اقبال دلتـه متذبـذب دی، او وایـي دا ویـل چـې سید به دا اصطلاح پخپله کارولي وي او کنـه ډېـر سـتونزمن بریښـي. خـو اقبال وایي: په ریښتینواله توګه د افغاني دا مشوره، چې افغانستان، ایـران او ترکیه دې د یـو اروپـایي یرغـال پـه بنـه ائـتلاف او یـا یوځـای شي، دې اتحاد دفاعي بڼه درلودله او افغاني په دې برخه کې پر ځای و[49].

یو مهال د اقبـال پـه ژونـد کـې دا مشـهوره کـړای شـوه، چـې اقبـال د پـان اسلامیزم خپروونکی دی، نو په ځواب کې اقبـال غبرګـون وښـود او د پـان اسلامیزم خپرول یې پر هر مسلمان واجب وګڼل، دی وایي: زمـا د نظمونـو په اړه ځینې خلکو دا مشهوره کړې ده او زه یـې د پـان اسـلامیزم تحریـک خپروونکی ګڼلی یم. زه د پان اسلامیت اقرار کـوم او زمـا عقیـده ده، چـې

---

[49] داکتر غلام حسین ذوالفقار. اقبال اور سید جمال الدین افغانی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمونږ قوم يو برملرلی راتلونکی لري او کوم مشن، چې د اسلام او زمونږ د قوم دی هغه به خامخا بشپړيږي... زه چې کله هم ډهلی ته راځم نو زما دا عادت دی، چې تل د حضرت نظام الدين اوليا پر مزار حاضري لګوم او هلته نورو قبرونو ته هم ورځم. ما په دې ورځو کې د يوه قبر پر شناخته دا ټکی وليد: «الملک الله» له دې سره د اسلام برم رابرسيره کېږي، چې هغه مهال په اسلامي دولت کې يې درلود. د کومو قومونو او د کوم مذهب، چې اصول دا وي، نو ناهيلي نده پکار او همدا هغه پان اسلاميزم دی، چې خپرول يې پر مونږ واجب دي او زه دا ډول خيالات په خپلو نظمونو کې څرګندوم[50].

## افغان جمال الدين، علامه اقبال او پان اسلاميزم:

افغان سيد جمال الدين د خپلو هلو ځلو لپاره اسلامي وينښتابې ته ډېر ارزښت ورکړ، د دې موخې لپاره ده نه يوازې دا چې اسلامي نړی مخاطبه کړه بلکې د ختيځ ټول قامونه يې هم د عام سياسي انحطاط ته متوجه کړل او دوی ته يې د غرب پرخلاف د يو کيدلو ټينګار وکړ[51]. په بل اړخ کې اقبال هم، نه يوازې دا چې د خپلو شعرونو له لارې مسلمانان يوې نوې وينښتابې ته رابلل، بلکې ترځنګ يې «پس چه بايد کرد اقوام مشرق» هم وويله.

د علامه اقبال او د افغاني په فکر کې ډېر ورته والی شتون درلود، په يو لحاظ اقبال د جمال سياسي مريد و؛ ځکه اقبال د جمال د اسلامي اتحاد او د اسلامي نړۍ د وينښتابې نظريه سر ته ورسوله.

---

[50] اقبال. ۱۹۶۳. مقالات اقبال. مرتب عبدالواحد معينی، لاهور. ۱۴۴-۱۴۲مخونه

[51] وګورئ سيد جمال الدين افغان اور اقبال د دکتور معين الدين عقيل ليکنه چې په صحيفه لاهور، اقبال نمبر، جولای ۱۹۷۷ کې خپره شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شهید دوکتـور شریعتـي پـر دې بـاور لـري، چـې د سـید جمال او د اقبـال پیژندل فردي نه دي، بلکې د دوی پیژندل د یو مکتب او د یـوې اډیـالوژۍ په توګه دي، چې باید د هغه مهال شرائط پکې پـه نظـر کـې ونیـول شي[52]، دې نظر سره استاد هادي خسروشاهي، چې د ایران اسلامي انقلاب تکـړه لیکونکی دی، هم همغږی دی، دی وایي، د سید د ژوند په اړه بایـد د هغـه مهال سیاسي، اقتصادي، او نړیوال شرائط په نظر کې ونیسو او بیا د سید په اړه تبصرې وکاږو.

د سید جمال الدین د ادعا له مخې دارالاسلام د مغربي آفریقـا د اتلانتیـک سمندر له لمنو رانیـولې د چـین تـر خوشـاله او زرعـي زمکـو پـورې پـراخ و[53] اقبال هم ورته خبره خو د شعر په ژبه لري، دی وایي:

ایــک ہوں مسلم حرم کی پاسبانی کے لیے
نیل کے ساحل سے لے کر تا بخاک کا شغر[54]

سید چې د ملت خبره ورسره وه، سـید چـې د پـان اسـلامیزم تحریـک یـې برپا کړی و، سـید پـه دې لار کـې تـر ټولـو وړانـدې غوښـتل، چـې لـومړی مسـلمانان یــو شي، نــوره د شــیعه او سُــني خــبره پرېــږدي، ځانونــه هغــو ښکېلاکګرو او تاړاکګرو ته چمتو کړي، چې تقریباً بشپړه اسلامي نړۍ یې د زبیښناک تر پروسې لاندې نیولې وه.

په همدې تکل پسې ده د ۱۸۹۴ کال شاوخوا په اسـتانبول کـې داسـې هلـې ځلې وکړې، چې د یـووالي نعـره بـه یـې زمزمـه کولـه. پـه دې تـرخ کـې ده

---

[52] وګورئ دکتور شریعتي، ما و اقبال، مخ ۴۲

[53] Hairi, Abdul-Hadi (1971) "Afghānī on the Decline of Islam", *Die Welt des Islams, New Series*, 13(1/2):121-125

[54] اقبال، کلیات اقبال. ۲٦۴مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



تقريباً ۶۰۰ليکونه د اسلامي نړۍ ګوټ ګوټ ته ولېږدول لکه ايران، عربي نړۍ، او هندي علماو ته، او په غبرګون کې يې تر ۲۰۰ليکونه ترلاسه کړل. سيد جمال الدين افغاني دې ټولنې ته د يوې وينا په لړ کې داسې څه وويل:

اسلام لکه يوه بيړۍ ده، چې د محمد ص تر لارښوونې لاندې روانه ده او سواره يې مسلمانان دي. نن ورځ دا بيړۍ په طوفانونو کې راايساره ده او له هره خوا ورته خطرونه متوجه دي. آيا د مسافرو لومړۍ دنده اوس دا ده چې بيړۍ له طوفانه وژغوري؟ او که د مخالفتونو لار خپله کړي او پای د کښتۍ ډوبولو ته لاره هواره کړي؟؟

ورته خبره اقبال هم لري، اقبال پخپل دې شعر کې فرقه يی تعصب هغه ميوه ګڼي، چې انسان يې له جنته وکښ، دی د شعر په ژبه وايي:

شجر هی فرقه آرايي، تعصب هی ثمر اس کا

يه وه پهل هی جو جنت سې نکلواتا هی آدم کو[55]

سيد وايي: نه به علي او نه به ابوبکر له دې سره موافق شي، چې د ده تر نومونو لاندې دې جګړې وشي[56] ځکه د ده په اند وېش او بېلېدل مسلمانان کمزوري کوي.

اقبال له دې وړاندې ځي، او وايي، آيا د فرقه يی تعصب پرته مونږ پرمخ تلای شو؟ دی وايي، چېرته فرقه يي وېش دی او چېرته نسلي وېش، آيا د نړۍ د پرمخ تللو همدا تګلاره ده:

فرقه بندي هی کهي اور کهي ذاتی هی

کيا زمين می پنپنې کې يهي باتی هی

---

۵۵

۵۶ Kiddie 1972 396

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مسلمانانو د ویش په اړه اقبال وایي، چې زمونږ له یووالی زمونږ عزت دی، او زمونږ په بېل والی زمونږ اسارت:

آبرو باقی تری ملت کی جمعیت سے تهی
جب یه جمعیت گئي، دنیا میں رسوا تو ہوا[57]

اقبال پخپل یو بل شعر کې وایي:

یو تو سید بهي هو، مرزا بهي هو، افغان بهي هو
تم سبهي کچ هو بتاو کې مسلمان بهي هو؟

دکتور منصور عالم، چې د اقبالیاتو یو څیړونکی دی، د دې پورتني شعر په اړه وایي، اقبال د سید ټکی د ذات د استازیتوب لپاره استعمال کړی دی، ځکه په هندي نیمه وچه sub continent کې مسلمانانو له هندي اغیزو څخه اخستلای و. ده د مرزا ټکی د لوړ پوړو چارواکو لپاره استعمال کړ او افغان یې د قومونو، ژبې او قوم د استازیتوب لپاره استعمال کړ[58]. دی زیاتوي دا ټول توپیرونه نااسلامي دي. او کله چې اقبال دا پوښتنه کوي، بتاو مسلمان بهي هو؟ نو له دې څخه موخه یې هغه خلک دي، چې ځانونه پر نورو هممسلمانو ورونو برتر ګڼي[59]
اقبال په خپل یو بل شعر کې د مسلمانانو د یووالی په خاطر د دوی پام ځلور رېښتینوالو ته راړوي، چې له امله یې آیا اوس هم ستونزمنه ده چې یو نشو؟ دغه څلور رېښتینوالې: یو خدای، یو قرآن، یو پیغبر، یوه کعبه ده. په جواب شکوه کې دی وایي:

---

[57] اقبال، کلیات اقبال، مخ ۱۹۰

[58] Dr. Mansoor Alam. Iqbal, Quran and Muslim Unity. tolueislam

[59] تېر ماخذ

(c) ketabton.com: The Digital Library



منفعت ایک ہے اس قوم کی نقــصان بھی ایک
ایک ہی سب کا نبی دین بھی ایمـــاں بھی ایک
حــــــــرم پاک بھی اللہ بھی قــران بھی ایک
کچھ بڑی بات تھی ہوتے جو مسلمان بھی ایک

په پورته شعر کې، اقبال د مسلمانانو ګټه تاوان یـو بـولي، او وایـي، کعبـه، نبي اخرالزمان، خدای، او قران ټول یو دی، خو مونږ ولې نه؟؟
اقبال په خپل یو بل شعر کې د اسلامي هېواد او د اسلامي امت جوړښـت د وطن پولې نه بولي، بلکـې پـه دې اړه د محمـد عـربي ثنـاخوان دی، چـې د اسلامي ملت د جوړښت عنصر یې وطن نه دی ګرځولی:

نرالا سارے جہاں سے اس کو عرب کے معمار نے بنایا
بنا ہمارے حــــــصار ملت کی اتحاد وطن نہیں ہے[60]

اقبال پخپل یو بل شعر کې د اسلامي امت او غربي قام سره پرتلنـه کـوي، چې د غربي قام جوړښت پر وینې، ژبـې، او نسـل بانـدې جـوړ شـوی دی. ترڅنګ یې مسلمانانو ته مشوره او نصحیت کوي، چـې ځـان او خپـل ملـت له غربیانو سره مه پرتله کوئ، ځکه زمونږ د ملت جوړښت محمد عربي پـه یوه خاص ډول کړی دی، لکه څرنګه چـې اقبـال پورتـه هـم وایـي، زمـونږ د اتحاد حصار وطن نه دی، او دلته په دې لاندې شعر کې وایي، چـې زمـونږ د ملت جوړښت د مذهب پر بنسټ ایښودل شوی دی، او له همدې ځـواک څخه به پیاوړی او ځواکمنه وي، دی وایي:

---

اقبال، کلیات اقبال، مخ ١٣٦) ٦٠

(c) ketabton.com: The Digital Library



اپنـــی ملـــت پـــر قیـــاس اقـــوام مغـــرب ســـے نـــہ کـــر
خـــاص ہـــے ترکیـــب مـــیں قـــوم رســـول ہاشـــمی
ان کـــی جمعیـــت کـــا ہـــے ملـــک و نســـب پـــر انحصـــار
قـــوت مـــذہب ســـے مســـتحکم ہـــے جمعیـــت تـــری[61]

اقبال په خپل یـو بـل شعر کې وایـي، چې د وینې او رنګ پر بنسټ د« نشنلیزم» او «ریسیزم» بوتان مات کړئ، او په یوه داسې ملت کې ځان راجذب کړئ، چې نور نو پکې څوک نه ایرانی پاتې شي، نه تورانی او نه افغانی:

بتـــان رنـــگ و خـــوں کـــو تـــوڑ ملـــت مـــیں گـــم ہوجـــا
نـــہ تـــورانی رہـــے بـــاقی، نـــہ ایرانـــی، نـــہ افغـــانی[62]

افغان سید جمال الدین پخپله یوه مقاله، اسلام ولې کمزوری شو، کې لیکي:

که اوسمهال د مسلمانانو حالاتو ته نظر کړو او له پخواني حالاتو سره یې پرتله کړو او پرمختګ او تنزل یې معلوم کړو.. ، نو نني مسلمانان تقریباً شپږ سوه کروړه دي، یانې دوه زره چنده له هغو مسلمانانو ډېر دي، چې د هېوادونو په فتحو کې یې برخه درلودله او د اسلامي مملکت پولې یې چین ته رسولې وې... له بده مرغه د اوسنیو مسلمانانو اموال مسلوب دي، او داسې ورځ نشته چې پردي یې پر ځمکو یرغال رانه وړي. یا للمصیبة! دا څه حال دی؟ مصر، سوډان او هند انګریزانو قبضه کړی

---

[61] اقبال، کلیات اقبال، مخ ۲۴۸

[62] اقبال، کلیات اقبال، مخ ۲۷۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی، مراکش، تونس، او الجزائر د فرانسي تر تسلط لاندې دی، جاوه او او نورې جزيرې هالند لاندې کړې دي.... آه دا څه ستره فاجعه ده! څه باید اوشي؟ له کومه ځایه يې پېل کړو؟ پرته له دې چې ووایو: ان الله لا يغير ما بقوم حتى يغيروا ما بانفسهم[63].

ورته خبرې علامه اقبال هم پخپل شعر کې کړې دي:

لُرد مغرب آن سراپا مکر و فنّ　اهـــل دیـــن را داد تعلـــیم وطـــن
او به فکر مرکز و تو در نفاق　بگــذر از شــام و فلسـطین و عــراق
تو اگر داری تمیز خوب و زشت　دل نبندی با کلوخ و سنگ و خشت
چیست دین؟ برخاستن از روی خاک　تــا ز خــود آگــاه گــردد جــان پــاک
مـی نـگنجد آنـکه گـفت اللّهٔ هُو　در حـــدود ایـــن نظـــام چارســـو
پَرِّ کَه از خاک و برخیزد ز خاک　حیـف اگـر در خـاک میرد جان پـاک
گر چه آدم بر دمید از آب و گل　رنگ و نم چون گل کشید از آب و گل
حیف اگر در آب و گل غلتد مدام　حیــف اگــر برتــر نپـرّد زیــن مقــام
گفـت تـن: درشـو بـه خـاک رهگـذر　گفت جان: پهنای عــــالم را نگر
جان نگنجد در جهات ای هوشمند!　مرد حُرّ بیگانه از هر قید و بند
حُـر ز خـاک تیـره آیـد در خـروش　زانکـه از بـازان نیایـد کـار مـوش[64]

---

[63] دکتر حکیمه دبیران، جمال سید جمال در آیینه شعر اقبال، مجله دانشکده ادبیات و علوم انسانی دانشگاه تهران-بهار و تابستان ۱۳۷۹، مخونه ۲۷۳- ۳۰۳

[64] اقبال، جاویدنامه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتو ژباړه:

اوګــوره شــاطر تــه د مغــرب چــې لــوی عيــار دی
جـال کښـې د وطـن ئـې راګيـر کـړی هـر ديـندار دی

هغــه دی پــه فکــر د مرکــز، تــا کښــې نفــاق دی
لـرې کـړه دا خيـال چـې «دغـه شـام دغـه عـراق دی»

پـوه کـړه ځـان پـه دې کـه تـه تميـز لـرې سـپيڅلی
تــا پــه خــاورو ګټــو پــورې زړه ولــې تړلــی

ديـن څـه دی؟ خـو دا، چـې ځـان د خـاورو نـه بـالا کـړه
روح دې د دخپــل ځــان د معرفــت سره آشــنا کــړه

څــوک چــې الله هُــو وايــي هرګــز نــه حصــاريږي
غــه پــه دې څلـور ګوټــه دنيــا کښــې نــه ځــائيږي

خــاورو نــه پيــدا وانښــه، لــه خــاورو پــه هــوا شي
حيـف دی کـه سـپيڅلی روح پـه خـاورو کـې فنـا شي

څــو کــه ظــاهر شــوی دی آدم د آب و ګــل نــه
ګـل غونـدې کـه اخـلي رنـګ او نـم د آب و ګـل نـه

حيف دی چې دې تـل پـه آب و ګـل کښـې راحصار شي
ښــايي چــې لــه دې مقامــه پورتــه پــه رفتــار شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



تــن وائــی مــادی ئــې، د مــادې سره يــار اوســه
روح وايــي جهــان دې بــې کنــار، بــې کنــار اوســه

نــه ځــائيږي روح پــه جهــاتونو کښــې هــوش منــده
حُــر خــو بيگانــه وي تــل لــه هــره قيــده بنــده

حُــر پــه تــورو خــاورو کــې ژونــدون کــولی نــه شي
خــاورې د منــږگ غونــدې بــازان لړلــی نــه شي[65]

اقبال لـه افغـان جمال الـدين نـه دومـره اغيـزمن و، چې د اقباليـاتو د يـو څيړونکي دکتور معين الدين عقيل په اند يې په جاويدنامه کې د اسلام د تصوراتي نظريه د سيد جمال الدين افغـان لـه لارې وړانـدې کـړه[66]. پورتـه يې دا شعر هم د سيد جمال الدين په ژبه ويلای دی[67].

دا چې اقبال له سيد نه څومره اغيزمن و، په لاندې برخه کې به يې ولولو.

## ((جمال)) د ((اقبال)) په فکر او شعر کې

## سيد؛ د وړو وړو جمال الدينو جوړونکی:

علامه اقبال د جواهر لعل نهرو د يو ليک په ځواب کې د سيد جمال الدين په اړه وليکل:

د مولانا سيد جمال الدين افغان شخصيت څه بل ډول و، د قـدرت کارونـه

---

[65] د اقبال جاويدنامه (پښتو ژباړه) د امير حمزه شنواري له قلمه. اقبال اکيډمي کراچی، پيښور پبلک آرټس، ۱۹٦۷، مخونه ٦۸-٦۷

[66] دکتور معين الدين عقيل. سيد جمال الدين افغان اور اقبال. اقبال ريويو: جمال الدين نمبر.

[67] وگورئ په جاويدنامه کې د اقبال او د ده پير رومي سره د جمال الدين افغانی او حليم پاشا مرکه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم عجب دي، زمونږ د زماني پر مذهبي فکر او عمل تر ټولو زيات پرمختللي مسلمانان په افغانستان کې زيږيږي. جمال الدين د اسلامي نړۍ په ټولو ژبو پوهيده، په فصاحت او بلاغت کې ماهر و، د ده بې قراره روح به په اسلامي نړۍ کې له يوه سره، بل ته سفر کاوه او ده په ايران، مصر او ترکيه کې د لوړو وړتياوو خاوندان اغيزمن کړل. زمونږ د مهال ځينې ستر علما لکه مفتي عبده او د نوي کهول ځينې کسان، چې وروسته سياسي مشران شول لکه د مصر۔ زاغلول پاشا، د همده د شاګردانو له جملې څخه ول. سيد ډېر کم وليکل خو ويې ويل ډېر! او له دې لارې ده له هغو خلکو څخه چې ده ته نېژدې ول واړه واړه جمال الدين جوړ کړل.[68]

## سيد؛ د اقبال د مهال ستر مجدد، ستر ختيځوال او ستر مسلمان:

اقبال د علامه جمال الدين افغاني په اړه پر خپل هغه خط کې چې د جواهر لعل نهرو د ليک په ځواب کې يې لېږدولی و، ليکي:

بيا هم زمونږ د مهال هيڅ چا هم دومره د اسلام په روح کې دومره ګرمي ونه زيږوله لکه څومره چې ده وزيږوله. د ده روح اوس هم د اسلام لپاره ناقلاره دی او څوک نه پوهيږي، چې انتها به يې پر کوم ځای وي.[69]

په همدې ليک کې اقبال وړاندې د سيد په اړه وايي:

زما په نېزد په اوسمهال کې که څوک د مجدد وړ دی، نو هغه يوازې سيد جمال الدين افغاني دی. د مصر۔، ايران، ترکيې، او د هند د مسلمانانو تاريخ به که څوک ليکي نو تر ټولو وړاندې به د عبدالوهاب نجدي او وروسته به د جمال الدين افغاني يادونه اړينه کوي. وروستی کس په اصل

---

[68] اقبال حرف اقبال مرتبه لطيف احمد شيروانی ثناء الله اينډ سنز لاهور ۱۹۵۵ مخونه ۱۴۶

[69] اقبال حرف اقبال مرتبه لطيف احمد شيروانی ثناء الله اينډ سنز لاهور ۱۹۵۵ مخونه ۱۴۶

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې د مسلمانانو د وینښتابې بنسټ ایښودونکی دی[70]
علامه اقبال د سید جمال الدین پرتلنه لـه شاه ولي الله سره کـوي، او د ده د علم او کمال په اړه لیکي:
مونږ مسلمانانو ته یو ستر کار راپېښ دی، پر مـونږ فـرض ده، چې بـې لـه تېره (ماضي) د تښتیدلو، مونږ پر اسلام د یوه نظام پـه اړه لـه سره فکـر او غـور وکـړو. دا غالباً شـاه ولي الله و، چـې تـر ټولـو وړانـدې یـې د یـو روح وینښتابه محسوسـه کـړه، خـو د دې سـترې فریضـې حقیقـي ارزښـت او د وسعت کچه چې چاته معلومه وه، هغه سید جمال الـدین افغـاني و، چـې د اسلام په حیات ملي او حیات ذهني تاریخ کې تر ټولو ژور لیـدونکی و، او د انسـانانو او د دوی دعـاداتو او خصـائلو پـه اړه یـې ښـه تجربـه لرلـه. د ده «مطمع نظر» ډېر پراخ و او د ده لپاره دا څه ستونزمن کـار نـه و، چـې د ده ذات د تېر او د راتلونکي ترمنځ یوه ژوندۍ اړیکه جوړه شوې وای. که د ده زیارونه یوازې پر دې خبرې متمرکـز شـوي وای، چـې اسـلام پـه څـه ډول انسانانو تـه د عمـل او ایـمان تلقـین کـړی دی؟ د ده نوعیـت څـه دی؟ نـو اوس به مونږ مسلمانان پر خپلو پښو ډېر ټینګ ولاړ و[71]

## ((جمال)) د((اقبال)) په شعر کې:

د میر عبدالصمد خان په اند علامه اقبال د سـید جـمال الـدین افغـانی ثنـا ویونکی و او ده به دی د مولانا رومي ترڅنګ خپل سیاسي لارښود ګاڼـه[72].
اقبال په خپل کتاب جاویدنامه کې د جمال یادونه په څه دا ډول کوي:

عـــالمې در ســـینهء مـــا گـــم هنـــوز
عــــالمې در انتظــــار قــــم هنــــوز

---

۷۰

[۷۱]اقبال، تشکیل جدید الهیات اسلامیه، اردو ترجمه، نذیر نیازی، بزم اقبال، لاهور، ۱۹۸۶، مخ ۱۴۶ د اکرام الله شاهد له کتاب څخه واخستل شو.

[۷۲]میر عبدالصمد خان، اقبال و افغان، یونیورستی بک ایجنسی: خیبر بازار پیښور

(c) ketabton.com: The Digital Library



عــالمې بــې امتیــاز خــون و رنــگ
شـام او روشــن تــر از صـبح فرنـگ

لا یــزال و اردتـــش نـــو بـــه نـــو
بــرگ و بـار محکماتــش نـو بـه نـو

بـــاطن او از تغیـــر بـــې غمـــې
ظـــاهر او انقـــلاب هـــر دمـــې

انـــدرون تســـت آن عـــالم نگـــر
مـــې دهـــم از محکــمات او خـــبر[73]

## د اقبال یو تخیلي سفر او له سید جمال الدین افغاني سره کتنه!

په جاوید نامه کې علامه اقبال د خپل هیرو رومي ترځنګ په یو فکري او روحاني سیاحت وتلی دی، او د تېر (ماضي) د مذهب، فلسفې، سیاسي لاربنودانو، او د ادبي خوځښتونو له داسې اتلانو سره یې په یوه داسې دره کې لیدلي، چې هلته په انساني تاریخ کې د بشر د پښو پل هېڅمهال هم نه دی رسیدلی او نه یې د پښو خپ اوریدل شوی دی[74]. دی هلته له

[73] اقبال، کلیات اقبال (جاویدنامه)، فارسی، خصوصی ایډیشن: اقبال اکیډمی پاکستان، لاهور، ۱۹۹۰. د میر عبدالصمد خان، اقبال و افغان، یونیورستی بک ایجنسی: خیبر بازار پیښور. څخه په مننې واخستل شو.

[74] ماخوذ از "نقوشِ اقبال" دوسرا ایڈیشن- مطبوعہ مجلس تحقیقات و نشریاتِ اسلام،لکھنو- 1972ء

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغان سید سره ګوري، او هلته د هغه په اقتداء کې دوه رکعته لمونځ کوي، چې دی یې ستر طاعت بولي. د دې ملاقات په اړه لاندې د اقبال د شعر پښتو، چې امیر حمزه بابا ژباړلې ده، ولولئ:

**د جمال الدین افغاني او د سعید حلیم پاشا د روحونو زیارت**

دا یــو مــوتې خــاوره وړانــدې لاړه پــه فضــا کښــې
تــګ پــه تــګ د خپلــې تجلــۍ پــه تماشــا کښــې

یــا خــو زه ګیــر شــوی یــم پــه دام د هســت و بــود
یــا زمــا پــه دام کښــې، راګیــر شــوی دی وجــود

ځیــره پــه فلــک کښــې او دا چــاک بــه وي لــه مــا نــه
زه یــم لــه افلاکــو کــه افــلاک بــه وي زمــا نــه

یــا خــو دې فلــک زمــا ضــمیر دی راګیــر کــړی
یــا زمــا بېــدار ضــمیر فلــک دی را زېــر کــړی

پوه نه یم چې څه دي؟ څنګ دي؟ عقل مې حېران دی
زه یم په جهان کښې که په ما کښې دا جهان دی

لاړمــه روان شــومه پــه پــر شــوم بــل آســمان تــه
لاړم ور داخــل شــومه یــو بــل نــوي جهــان تــه

دې جهــان کښــې هــم غرونــه، دشــتونه، بحــر او بــر وو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا زمـــونږ د خـــاورو لـــه دنيـــا ديرينـــه تـــر وو

داسـې يـو جهـان چـې د ابـرک نـه جـوړ پيـدا وو
لاس نـــه د آدم تـــر اوســـه پـــټ پـــاتې تنهـــا وو

نـــه وو پـــه تختـــه ئـــې د وجـــود لا څـــه نقشـــونه
نـه وو څـوک چـې کـړی ئـې پـه فطـرت اعتراضـونه

مـا وئيـل رومـي (رح) تـه چـې دا څنگـه ښـه صـحرا ده
څـه ښـکلی پـه غـره کښـې رواني ئـې د دريـا ده

ورک د دې دنيـا نـه چـې د ژونـد همـه نشـان دی
بيـا راځـي لـه کومـه، دغـه غـږ چـې د آذان دی

وی راتـه رومـي (رح) چـې «دا مقـام د اوليـاء دی
دا جهـــان زمـــونږه د دنيـــا سره اشـــنا دی

کـــوم وخـــت چـــې آدم وو د جنتـــه راوتلـــی
پـاتې وو دوه ورځـې، دې عـالم کښـې غـم ځپلـی

دا بختـــور ځـــای دی، بختـــور ئـــې زائـــران دي
واړه صـــاحبان د مقامـــاتو دي پاکـــان دي

پـاک خلـق راځـي لکـه فضـيل او بـو سـعيد

(c) ketabton.com: The Digital Library



واړه عارفـــــان لکـــــه جنیـــــد او بایزیـــــد

پاځـه چې دا نمـونځ د جماعـت خـو پـه لاس راشي
دا سـوزو گـداز څـه یـو سـاعت خـو پـه لاس راشي»

ورغلـــو، کتـــل مـــو، دوه ســـړی وو پـــه قیـــام
تُـــرک ئـــې مقتـــدي وو، افغـــاني ئـــې وو امـــام

پـیر د روم چـې تـل وي پـه حالـت کښـې د حضـور
مـخ ئـې شـو روښـانه پـه ډېـر ذوق او پـه سرور

وی چـې «مشرـق داسـې دوه نـور نـه دي زیـږولي
نـوک ئـې د تـدبیر چـې زمـونږ غـوټې پرانسـتلي

دا جـــمال الـــدین دی چـــې ســـید دی د ســـاداتو
ژونـــد ئـــې د گفتـــار نـــه حاصـــل کـــړی کائنـــاتو

دا دویـــم د تُرکـــو دی ســـالار حلـــیم دردمنـــد دی
فکـــر د هغـــه د خپـــل مقـــام پـــه څېـــر بلنـــد دی

دوه رکعتـــه دوی سره کـــول عظـــیم طاعـــت دی
اوگنـړی خـو کـار دی چـې بـدل ورلـه جنـت دی»

ښـه ښـکلی قـرأت د دې سـپین ږیـري بـلا نـوش

(c) ketabton.com: The Digital Library



وی ئــې چــې والــنجم او هغــه دشــت ورتــه خــاموش

دا رنگــې قــرأت وي چــې خليــل وربانــدې مســت شي
بيــا ســپيڅلی روح د جبرائيــل وربانــدې مســت شي

زړه پــرې د ســـينو دننـــه مســـت شي نـــاقلار شي
شـــور د الاالله پـــرې لـــه قبرونـــو رابيـــدار شي

تــور لــوگي لــه هــم يــو اضــطراب د شــعلې ورکــړي
زړه لــه خپلــه ســوزه د داؤد پــه شــان خــبر کــړي

هــر هغــه چــې غيــب وي لــه قرأتــه ئــې عيــان شي
واړه راښـــکاره تـــرې حکمتونـــه د قـــرآن شي

پــس لــه نمونځــه زه لــه خپلــه ځايــه پاڅېدمــه
ښــکل مــې کــړل لاســونه د هغــه چــې ورغلمــه

وی ورتــه رومــي چــې «دا بخــری جهــان گــرد دی
پــټ د ده پــه زړه کښــې يــو جهــاد د ســوز او درد دی

ډوب دی پــه خــودي کښــې د خپــل ځــان پــه ننــداره دی
چــا تــه ئــې خپــل زړه ورکــړی نــه دی آزاده دی

کانــدې پــه لټــون د کائنــات کښــې ډېــر مښــود

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکـــه لـــه شـــوخۍ زه ورتـــه وايـــم زنـــده رود»[75]

## پایله:

په دې مقاله کې مونږ ولوستل، چې د پـان اسـلاميزم اصـطلاح پـه لـومړي ځل په اروپايي مطبوعـاتو کـې وکـارول شـوه، د اقبـال او د نـورو مسـلمانانو ليکوالانو په اند دا اصطلاح دوی اسلامي خطر ته راجع وبللـه، چـې غـربي ليکوالان هم ورسره موافق دي.

دا چې د پان اسلاميزم تحريک ولې په نولسمه پيړۍ کې سراعيت وکړ، د دې ترشا د هغه مهـال د اسـلامي نـړۍ جيـو-پـوليتيکي بدلونونـه ول، چـې اسلامي هېوادونه به پکې يو تر بله د اروپايي استعمار د غاړې غړونـدي تـه وليدل، او خپله د مسلمانانو وروسته والی هم و.

دې طوفاني سيلاب ته دوه کسان ودريدل، يو د ترکيې سلطان عبدالحيمد ثاني او بل ستر سيد جمال الدين افغان.

سلطان د سياسي ګټو او د يو ډيپلوماتيک فشار لپاره پان اسلاميزم راخپل کړ او د رفارم برخې ته يې د شک په سترګه وکتل؛ خو په بل اړخ کې سـيد د يـوې انقـلابي طرحـې سره رامختـه شـو، غوښـتل يـې چـې اروپـايي ښکيلاکګر او تاړاکګر له دې سـيمې ځخـه وشـړي. د ده د پـان اسـلاميزم طرحه پراخه وه، يوازې د استعمار تـر شـړلو پـورې محـدوده نـه وه. د ده د پان اسلاميزم فلسفه په دې ټکو کې خلاصه کېدای شي: آزادي، رفارم، او يووالی!

هغه څه چې سيد د خبرو اترو له لارې ويلي دي، هماغه اقبال د خپل شـعر له لارې ويلي دي، که څه هم اقبال په لومړي سر کې د اجتهـاد پـر خـلاف

---

[75] د اقبال جاويدنامه (پښتو ژباړه) د امير حمزه شنواري له قلمه. اقبال اکيډمي کراچی، پيښور پبلک آرټس، ۱۹٦۷، مخونه ٦٦-٦۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



و، خـو وروسـته يـې تـر ټولـو زيـات پلـوی شـو، او دا بيـا پخپـل ځـای دا راښکاروي، چې دی هم د رفارم غوښتونکی و.
ده نشنليزم له يو نوی خدای سره تشبيه کړ، چې مسلمانان يـې پـه شرک کې اخته کړې دي[76] او مسلمانانو تـه يـې وويلـې، چـې د رنـګ او نسـل پـر بنسټ توپير پر مونږ حرام دی، ځکه مونږ ټول يو يـو، د دې تـر څنـګ يـې مسلمانانو ته دا نصحيت هم وکړ، چې له مرکز څخه جدايي مرګ ده[77] او له کله نه چې مونږ جدا شوي يو، له يوه بلـه لـرې شـوي يـو، نـو زمـونږ عـزت تللی دی، زمونږ عزت له جمعيت څخه دی، نه له جلا کېدلو څخـه[78]. پـای اقبال خپله پان اسلاميستي تګلاره او خپل وطن ټولـه اسـلامي نـړۍ بـلـي[79] چې ګڼه او تاوان يې يو دی[80] . افغان جمال الـدين پـر اقبـال لاهـوري ژوره اغيزه ښندلې ده، دی جمال ته ډېـر ارادتمنـد لـری او د رومـي ترڅنـګ يـې خپل سياسي پير ګڼي.

---

[76] ان تازه خداو می سب سې بړا وطن هی

[77] قوموں کے لئے موت ہے مرکز سے جدائی

[78] آبرو باقی تری ملت کی جمعیت سے تھی
جب سے جمعیت گئی دنیا میں رسوا تو ہوا

[79] ایک ہو مسلم حرم کی پاسبانی کے لئے
نیل کے ساحل سے لے کر تا بخاک کاشغر

[80] منفعت ایک ہے اس قوم کی نقصان بھی ایک

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سید جمال الدین افغاني: ستر شخصیت او سپک تورونه

## لیکوال

زاهد جلالي[1]

[1] - zahid.jalaly@gmail.com، زاهد جلالي د نړیوال اسلامي پوهنتون، اسلام آباد، د شرعیاتو او حقوقو له پوهنځي فارغ شوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لړلیک

سید جمال الدين افغاني: ستر شخصیت او سپک تورونه
لنډيز
مقدمه
د افغاني لنډ ژوندلیک
افغاني د ځان په اړه څه وايي؟
د افغاني صراحت او صداقت
پر شیعه مذهب د افغاني ردونه
پر شیعه مذهب د افغاني ردونه
د نظریې پټولو په اړه د افغاني رایه
د افغاني شاګردان څه وايي؟
د میرزا لطف الله کتاب
د ایرانیت دعوه او رد یې
افغاني او ماسونېزم
د الحاد تور
پای
مراجع

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لنډیز

علامه سید جمال الدین افغاني [۱۸۹۷-۱۸۳۸م] د ستر شخصیت او اوچتو افکارو له کبله د ځینو مغرضو تر سپکو تورونو لاندې راغلی. دغه مقاله کې د دغو تورونو د ردولو هڅه شوې. د سید جمال الدین له لنډ ژوند لیکه وروسته د خپل ځان په هکله د ده نظر لیکل شوی، چې دا تر ټولو معتبر سند دی. بیا د هغه تورونو د رد له پاره چې وایي افغاني اصلا ایرانی و او ځان یې افغاني معرفي کاوه، د افغاني د ربښتینولی په هکله د ده د ځینو معاصرینو نظرونه لیکل شوي. د دې له پاره چې پر ده د تشییع تور رد شي، د تشییع په اړه مو د ده نظر لیکلی او بیا د نظر پټولو په اړه د سید نظر لیکل شوی چې ښکاره شي چې آیا ربښتیا هم افغاني خپله نظریه پټاوه او که نظریې یې حقیقت تمثیلاوه؟ له دې وروسته د سید په هکله د ده د مشهورو شاګردانو نظرونه لیکل شوي. بیا د میرزا لطف الله د کتاب او شجرې په تړاو د افغان محققینو او اسلامي مفکرینو نظرونه لیکل شوي. له دې وروسته مو هغه دلایل څېړلي چې افغاني پرې ایراني او شیعه بولي. همدارنګه له ماسونیت سره د افغاني اړیکه، چې پر ده ډېره مهمه نیوکه ده او ډېرو دښمنانو ترې غلطه ګټه پورته کړې، څېړلې او حقیقت یې بیان شوی. ځینې خو سید افغاني آن ملحد ګڼي، که څه هم د دوی نظر عقلا د منلو وړ نه دی، خو بیا هم یو څه پرې لیکل شوي او عموما په ټوله مقاله کې د افغاني پر شخصیت لګېدلي تورونه څېړل شوي او رد شوي.

## مقدمه

سید جمال الدین افغاني په نننۍ نړۍ کې د یوه اختلافي شخصیت په نامه پېژندل شوی. څوک یې ایراني بولي او څوک افغاني.. څوک سني و

(c) ketabton.com: The Digital Library



څوک شیعه.. څوک مسلمان او څوک آن ملحد! د افغاني د شخصیت متضرر کول او بدنامول طبیعي نه، بلکې قصدي دي. دا د معاصرې اسلامي ویښتابه او اسلامپالنې د دښمنانو هیله ده، څو خپلې "نوې استعماري" تمې په حقیقت بدلې کړي او مسلمانان لا هم ویده پاتې شي. عجیبه خو دا ده چې د دوی مغرضه دعوه ځینې متعصب یا ویده مسلمانان هم ترویجوي او غواړي د حقیقت جامه ورواغوندي!
د افغاني له شخصیته د دغو تورونو او وهمونو لرې کول ډېر اړین دي. که څه هم ډېری په دې باور دي چې د افغاني افغانیت یا ایرانیت ثابتول مهم نه دي، ځکه هغه اوس مړ شوی او د هغه د وطن ثابتول څه ګټه نه لري، خو دا پر ځای نه ده. ځکه سید جمال الدین افغاني اوس یو فرد نه، بلکې یو تاریخ دی او د مصري مفکر "محمد جلال کشک" [۱۹۹۳-۱۹۲۹م] خبره، د تاریخ تفسیر کې اختلاف یوازې تاریخي اختلاف نه دی، بلکې دغه اختلاف راتلونکی جوړوي. د افغاني ربښتینې څېره ښکاره کول د هغه د شخصیت په مؤثریت کې ډېر مهم رول لري او په راتلونکي نسل کې یې د افکارو پلي کولو ته لار هواروي، خو که افغاني په نړۍ کې د یوه داسې شخصیت په نامه وپېژندل شي چې خپل حقیقت یې پټاوه او ظاهر و اصل یې سره فرق لاره، د ده
ستر شخصیت پر ځمکه غورځوي.
څوک چې افغاني ته ایراني وایي او په نورو تورونو یې متهموي، دا شخصي موضوع نه ده، بلکې دا خلک نه غواړي چې معاصره اسلامپالنه د افغاني پر لیکه و لاره روانه شي، ځکه چې افغاني له اسلامه هغه کلاسیک فهم نه لاره چې دغه "روڼ اندي" یې غواړي. افغاني لومړی شخصیت و چې د حضاري اسلام.. یعنې سیاسي و جغرافیوي اسلام نظریه یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکړه.[۲] همدا لامل دی چې نن د سياسي اسلام دښمنان د افغاني شخصيت په مخفي شخصيت، جاسوس، ايراني او نورو تورنو بدرنګوي.[۳] دا سمه ده چې علامه افغاني بايد د ستر اسلامي وطن په يوې تنګې سيمې پورې منحصر نه شي. هغه د ټولې اسلامي نړۍ او آن د ټول شرق ستېه ده. له هغه سره د ټولو مسلمانانو غم و.

استعمار تل غوښتي چې مسلمانان په همدې تنګو اختلافاتو کې ګير او خپل اهداف عملي کاندي، همدا ده چې سيد جمال الدين به له مذهبي اختلافاتو کرکه کوله او غوښتل يې امت د اختلاف پر ځای وحدت ته سوق کړي. خو نن نړۍ بدله ده، دغه ستر شخصيت اوس يو تاريخ دی چې د راتلونکي لار جوړوي. د افغاني اصليت ثابتول ډېر اړين دي، ځکه خو ځينو سترو مفکرينو دې اړخ ته ډېره ځيرنه کړې او ډېر څه يې پرې ليکلي.

د جاپاني "جيونيتشي هيرانو" خبره، افغاني آن يوازې د اسلامي نړۍ شخصيت نه و، بلکې د شرق و غرب اختلاف کې يې له ټولو شرقيانو او آن له هغو شرقيانو دفاع کوله چې په غير اسلامي اديانو باوري وو.[4] خو دا هم بايد ښکاره وي، چې هغه افغاني؛ حنفي، سني مسلمان و او څه چې يې ويل، هماغسې و. دا د دغه ستر شخصيت د لوړتيا نښه ده، او که يې ايرانيت ومنو، د استاد محمد عماره [پيدايښت ۱۹۳۱م] خبره، دغه دعوه

---

[۲] - کشک، محمد جلال. ودخلت الخيل الازهر. قاهره، الزهراء للاعلام العربي، ۱۹۹۰، درېيم چاپ، ۴۹۹م مخ.

[۳] - ښه مثال يې عيسايي ليکوال لويس جريس دی. لويس ړوند غربپال شخصيت دی او دا چې افغاني د غربپالنې مخالف و او د سياسي اسلام نظريه يې وړاندې کړې وه، دی يې هم د "الإيراني الغامض في مصر" تر سرليک لاندې مقاله کې چې ۱۹۸۳ ميلادي کال کې خپره شوې، ايرانی او شيعه يې بولي او په دې نظر دی چې افغاني خپل اصل و حقيقت له خلکو پټاوه!

[4] - هيرانو، جيونيتشي. تجديد الفکر الاسلامي في العالم الاسلامي الحديث. مجله الدراسات العالم الاسلامي، ۲۰۱۱ مارچ، ۳۰م مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغاني دروغځنوي او لاره يې مشکوکوي.

افغاني په خپله ويل چې افغان او د کونړ له ساداتو دي.[5] شاګردانو او نورو قريبانو يې هم دا خبره کوله او د افغاني تر غوږو هم رسېدلې وه چې شاګردان يې دی سني و افغان بولي او هغه يې مخالفت نه و کړی بلکې په خپله يې ويل چې افغاني دی او آن قسم يې خوړلی و چې ايرانی نه بلکې افغانی دی، خو له دې سره سره يې ځينې ايرانی شيعه او ځينې يې آن ملحد ګڼي! خو دغه ټولې ادعاوې تر وهمونو ډېر څه نه دي، ځکه د دوی ټولو دلايلو کې يو معقول دليل نه شي موندل کېدای، چې په دې څېړنه کې همدغو ټکو ته ځيرنه شوې او د دواړوو خواوو دلايل څېړل شوي.

## د افغاني لنډ ژوندليک

محمد جمال الدين د صفدر[6] زوی دی، د نسب لړۍ مشهور عالم سيد علي ترمذي ته رسېږي. ترمذي د افغانستان په قندز کې زېږېدلی او بونير کې وفات او خښ شوی،[7] استاد حبيبي او مرحوم محمد امين خوږيانۍ وايي چې په کونړ کې په "پير بابا" مشهور دی او خلکو ته د لمر

---

[5] - د افغاني په خپل لاس ليکل شوي اسناد شته چې ځان يې د افغانستان د کونړ ولايت ته منسوب کړی. همدارنګه مرحوم رشتيا صاحب د سيد جمال الدين په هکله ليکلي کتاب کې ليکي چې افغاني په خپله ويل چې زه اړتيا نه لرم چې ځان کوم قوم ته منسوب کړم، زه افغان يم. وروسته دغه موضوع ښه شاربو.

[6] - امام محمد عبده، رشيد رضا، استاد محمد عماره او عموما مصريان د افغاني پلار سيد صفتر يادوي، خو ټولو افغان محققينو سيد صفدر ليکلی.

[7] - حبيبي، عبد الحي. نسب و زادګاه سيد جمال الدين افغاني. کابل، موسسه انتشارات بيهقي، ۱۳۵۵ش، ۲۷م مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ښېر معلوم دی.[۸] او بیا یې نسب امام حسین بن علي رضي الله عنهما ته رسېږي. سید جمال الدین په ۱۸۳۸م کال کې د افغانستان د کونړ ولایت د اسعد آباد په نامه سیمه کې په یوه بانفوذه سیاسي کورنۍ کې زېږېدلی.[۹]

- دوست محمد خان [۱۸۶۳-۱۷۹۳م] د دوی له کورنۍ د خطر احساس کاوه، نو په اته کلنۍ کې یې له ټولې کورنۍ سره کابل ته انتقال کړل. په لږه موده کې یې تفسیر، حدیث، عقیده، فقه، فلسفه، اصول الفقه، ریاضي، فلکیات، طب او نور مروج علوم ولوستل.[۱۰]
- په لس کلنۍ کې له پلار سره ایران ته لاړ. پلار یې د قزوین مدرسه کې استاد و، دی هم په همدغه مدرسه کې شاگرد شو.[۱۱]
- په ۱۸۴۹م کې د عراق نجف ته لاړ او هلته یې علوم القرآن، حدیث، علم الکلام، فلسفه، منطق، اصول الفقه، ریاضي، فلکیات، طب او نور علوم ولوستل.[۱۲]-
- په ۱۸۵۴م کې د ریاضي او نورو اروپایي زده کړو له پاره هند ته لاړ. څه باندې یو کال د هند په بمبیي او کلکته کې واوسېده.
- بیا په ۱۸۵۷م کې له هنده حج ته لاړ او بیا عراق او ایران ته لاړ. له

---

[۸] - خوگیانی، محمد امین. حیات سید جمال الدین افغاني. کابل، مطبعه عمومي کابل، ۱۳۳۸ هجري، ٦م مخ.

[۹] - مخزومي، محمد باشا. د افغاني سید جمال الدین خاطرات. کوټه، صدیقي خپرندویه ټولنه، ۲۰۱۳م، دویم چاپ. ژباړه: محمدشاه ارشاد، د م- احساس زمند په زیار، ۳۶-۳۵م مخونه.

[۱۰] - تېر مصدر، ۳٦م مخ.

[۱۱] - عماره، الدکتور محمد. شخصیات لها تاریخ، قاهره، دار السلام، ۲۰۰۸م، ۱۷۲-۱۷۱م مخونه او نسب و زادگاه سید جمال الدین افغاني.

[۱۲] - شخصیات لها تاریخ ، ۱۷۲م مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ایرانه وروسته بېرته خپل اصلي وطن افغانستان ته راوګرځېده.[۱۳]

• په افغانستان کې يې سیاسي فعالیتونه پیل کړل. دغه وخت کې انګرېزانو د افغانستان داخلي چارو کې لاسوهنه کوله او امیر دوست محمد خان يې د محمد اعظم خان [مړینه ۱۸٦۷م] په مقابل کې راپاراوه. افغاني د محمد اعظم خان ملاتړی شو[۱۴] او د هغه له لورې په مختلفو حکومتي منصبونو کې په دنده بوخت شو، چې آن د لومړي وزیر تر دندې ورسېده. امیر پر سید جمال الدین ډېر باور لاره او په ډېرو سترو موضوعاتو کې يې ورسره مشوره کوله.[۱۵]

• په ۱۸٦۸م کال کې امیر محمد اعظم خان ماته وخوړه، افغاني له ماتې وروسته هم کابل کې پاتې شو او امیر شېر علي خان [۱۸۲۵-۱۸۷۹م] د ده د کورنۍ له ډاره ورته څه ونه شو ویلای.[۱٦]

• په ۱۸٦۹م کې، د محمد اعظم خان له ماتې درې میاشتې وروسته د هند له لارې له افغانستانه واوته.[81] له دې وروسته د سید جمال الدین په ژوند کې نوې مرحله پیل شوه، دا مرحله د امت د ویښولو مرحله وه. له دې وروسته افغاني له یوه ملي شخصیته په اسلامي شخصیت بدل شو او د ټولې اسلامي نړۍ له پاره يې هڅې پیل کړې.[۱۷]

• په هند کې يې له علماو سره ناسته ولاړه کوله. د هند حکومت ورته د ډېرې پاتې کېدو اجازه ور نه کړه. افغاني هم له یوې میاشتې ډېر پاتې نه شو. بیا له هنده مصر ته لاړ، هلته څلوېښت ورځې پاتې شو او په ازهر کې

---

[۱۳] - شخصیات لها تاریخ، ۱۷۲م مخ.

[۱۴] - تېر مصدر، ۱۷۳م مخ.

[۱۵] - زیدان، جرجي. مشاهیر الشرق. مصر، ۱۹۲۲، درېیم چاپ، دویم جلد، ۵۴م مخ.

[۱٦] - شخصیات لها تاریخ، ۱۷۳م مخ. مشاهیر الشرق، ۵۵م مخ.

[81]- مشاهیر الشرق، ۵۵م مخ.

[۱۷] - شخصیات لها تاریخ، ۱۷۳م مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې له شاګردانو سره ناسته ولاړه کوله، شاګردانو ډېر خوښاوه او ورځخه يې وغوښتل چې ځينې کتابونه ورته تدريس کړي. بيا آستانې ته لاړ. په آستانه کې په خلکو کې ډېر مشهور شو، هر څوک د ده پوهې او علم ته حيران وو، شپږ مياشتې نه وې تېرې چې مجلس معارف کې يې غړی کړ. خو د ځينو د سيسو له امله يې له آستانې وشاړه.[18]

- په ۱۸۷۱م کال کې له آستانې بېرته مصر ته لاړ. هلته په تدريس بوخت شو، په خپل جومات کې يې شاګردانو ته کتابونه ويل. خلک د ده له تدريسه ډېر متاثر شول او دی ډېر مشهور شو. خو دا چې افغاني د سياست علاقه من و، سياست ته ننوت. د پرديو د لاسوهنې مخالفت يې وکړ. په مصر کې له اته کاله پاتې کېدو وروسته له مصره هم وشړل شو.[19] په مصر کې د افغاني دغه مرحله ډېره مهمه ده. هلته يې له سترو شخصيتونو سره ليده کاته وکړل، د دوی له جملې شيخ محمد عبده [۱۸۴۹-۱۹۰۵م] و چې وروسته يې په فکري مبارزې کې شريک او مهم شاګرد شو. همدلته افغاني د فلسفې، کلام او منطق کتابونه شرحه کړل او ځينې اخبارونه يې هم تاسيس کړل.[20]
- په ۱۸۷۹م کې هند ته لاړ، د حيدر آباد په دکن کې مېشت شو او "حقيقت مذهب نيچيري[21]"[22] کتاب يې همالته په فارسي ژبه وليکه.[23] افغاني درې کاله هند کې د بندي په څېر اوسېده.

---

[18] - مشاهير الشرق، ۵۵م مخ.

[19] - تېر مصدر.

[20] - شخصيات لها تاريخ، ۱۷۵م مخ.

[21] - رزاقي، شاهد حسين. سيد جمال الدين افغاني. کابل، مستقل خپرندويه ټولنه، ۱۳۸۸ لمريز، ژباړن، عبد المالک همت، ۹۲م مخ.

[22] - دغه کتاب په "الرد على الدهريين" مشهور دی.

[23] - مشاهير الشرق، ۵۷م مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- په ۱۸۸۲م کې چې انګرېزانو مصر اشغال کړ، افغاني ته یې د وتلو اجازه ورکړه. افغاني په کال ۱۸۸۳م کې پاریس ته لاړ. دغه وخت کې یې مشهور شاګرد محمد عبده بیروت ته تبعید شوی و. نو محمد عبده ته یې لیک واستاوه او ورڅخه یې وغوښتل چې پاریس ته لاړ شي. پاریس کې له محمد عبده سره یو ځای شو او د "عروه الوثقی" مشهوره جریده یې جوړه کړه. په دغه مجله کې افغاني د اسلامي نړۍ د ویښتابه هڅې کولې او انګرېز استعمارګر یې راټه، نو د انګرېزانو له سخت مخالفت سره مخ شو او له اتلسمې ګڼې وروسته بیا چاپ نه شوه. د مجلې لومړۍ ګڼه د ۱۸۸۴م د مارچ پر دیارلسمه نېټه خپره شوه او وروستۍ یې د همدغه کال د اکتوبر پر شپاړسمه نېټه خپره شوه.[۲۴]
- افغاني په اروپا کې تر ۱۸۸٦م کال پورې پاتې شو. دغه موده کې یې د پاریس په مختلفو جریدو کې لیکنې خپرې کړې او له مشهور فیلسوف ارنست رېنان [۱۸۹۲-۱۸۲۳م] سره د علم او ایمان پر موضوع فلسفي بحثونه وکړل. رینان د افغاني په ستاینه کې وویل چې داسې ګومان مې کاوه لکه ابن رشد [۱۱۹۸-۱۱۲٦م] او ابن سینا [۱۰۳۷-۹۸۰م] چې مخامخ وینم![۲۵]
- په ۱۸۸٦م کال کې د ایران پاچا ناصر الدین شاه [۱۸۹٦-۱۸۳۱م] ایران ته وروغوښت. ناصر الدین شاه د افغاني تود هرکلی وکړ او په لوړو منصبونو یې مقرر کړ. د افغاني شخصیت او کړنو خلک متاثر کړل، شاه له دې تاثره وډار شو او له سید جمال الدین سره یې وضعه سپېره کړه،

---

[۲۴] - عماره، الدکتور محمد. جمال الدین الافغاني، موقظ الشرق وفیلسوف الاسلام. قاهره، دار الشروق، ۱۹۸۸م، دریيم چاپ، ٦۹م مخ.

[۲۵] - جمال الدین الافغاني، موقظ الشرق وفیلسوف الاسلام، ۷۱م مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغاني پوه شو، نو اجازه يې ترې واخيسته او د روسيې پر لور روان شو.[۲۶]

• په ۱۸۸۷م کال کې سید جمال الدین روسيې ته لاړ.[۲۷] په روسيه کې يې له سترو شخصيتونو سره وکتل او د اسلامي نړۍ په هکله يې مختلفې مقالې خپرې کړې. د افغاني لوړ شخصيت او قوي جذابيت دلته هم ډېر خلک پرې ورټول کړل. ډېرو خلکو ترې ډېر څه زده کړل. د مثال په توګه مشهور تاتاري مجدد عالم رضا الدين بن فخر الدين [۱۹۳٦-۱۸۵۸م] ځان د افغاني مريد باله او ويل به يې چې افغاني په ډېرو حقايقو وپوهاوه.[۲۸]

• په ۱۸۸۹م کې پاريس ته د نندارتون د پرانستلو له پاره رهي شو. په ميونيخ کې يې له ناصر الدين شاه سره وکتل. هغه ايران ته وباله، ده له ګيلې سره بلنه ومنله.[۲۹] ايران ته له تلو مخکې يې روسيې ته لنډ سفر وکړ او په ۱۸۹۰م کې ايران ته ورسېد.[۳۰]

• ايران کې يې بيا له شاه سره اختلافات رامنځ ته شول. افغاني د تلو له پاره اجازه وغوښته خو شاه اجازه ورنه کړه. بيا هلته اووه مياشتې پاتې شو او د اوسېدو پر مهال يې ځينې مقالې هم وليکلې. په ۱۸۹۱م کې يې افغاني په ډېرې بې احترامۍ او سپکاوي له ايرانه وشاړه. د شړلو پر مهال يې لونګۍ پر ځمکه وغورځوله، په ډېر يخ او د مرض په حالت کې له ايرانه

---

[۲۶] - د افغاني سيد جمال الدين خاطرات، ٦٧-٦٦م مخونه.

[۲۷] - "ضمير بن ادهم اشهابي" روسيې ته د افغاني د سفر کال ۱۸۸۸م ښيي خو استاد محمد عماره په "موقظ الشرق و فيلسوف الاسلام" کې ۱۸۸۷م کال يادوي. دلته د استاد عماره تاريخ ليکل شوی، ځکه هغه د سيد جمال الدين د ژوند و آند متخصص دی او آن مياشت و ورځ هم ورسره ليکي.

[۲۸] - اشهابي، ضمير بن ادهم. الکلام عن اصل السيد جمال الدين الافغاني في بعض المراجع الروسيه.

http://www.iranoworld.ir/alafghani/texts/SJ_1_5_Shahabi.pdf

[۲۹] د افغاني سيد جمال الدين خاطرات، ٦٩م مخ.

[۳۰] - جمال الدين الافغاني، موقظ الشرق و فيلسوف الاسلام، ۷۴م مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وشاړه.[۳۱]

- بیا لندن ته لاړ او هلته یې عموما استبداد او خصوصا د ایران حکومت سخت راټه. د ایران شاه له سلطان عبد الحمید [۱۹۱۸-۱۸۴۲م] څخه وغوښتل چې آستانې ته یې وغواړي، څو دوی یې له مقالو او تبلیغاتو په امان شي. همداسې وشول، سلطان عبد الحمید افغاني استانې ته وروغوښت. افغاني په ۱۸۹۲م کې آستانې ته لاړ او هلته د آزاد بندي په څېر اوسېده.[۳۲]
- د ۱۸۹٦م په وروستیو کې په سرطان مرض اخته شو. بالآخره د ۱۸۹۷م کال د مارچ په نهمه نېټه له دې فاني نړۍ د تل له پاره رهي شو.[۳۳]
- په ۱۹۴۴م کال کې افغان ډپلوماتانو له ترکي حکومت سره مذاکرات وکړل او له ځینو مخالفتونو سره یې ترکي حکومت پر دې قانع کړ چې د افغاني جسد له ترکیې افغانستان ته رانقل کړي. کله چې ترکانو ومنله، افغان حکومت د دغه ستر نابغه جسد په ډېر استقبال د کراچۍ له لارې کابل ته انتقال کړ. جسد چې به یې هر چېرته ورسېده، پر لار به زښت ډېر خلک د درنښت له پاره راوتلي وو او په څو ځایونو کې یې د جنازې لمونځ هم وشو. د افغانستان د وخت لومړی وزیر له خپلې کابینې سره د کابل پر دروازه ولاړ وو. جسد یې د کابل پوهنتون په محوطه کې د لومړي وزیر په لاس په داسې حال کې وسپارل شو د چې افغان حکومت واړه او غټ مسؤولین حاضر وو.[۳۴]

---

[۳۱] - تېر مصدر، ۷٦م مخ.

[۳۲] - تېر مصدر، ۷۸-۷۹م مخونه.

[۳۳] - مشاهیر الشرق، ۵۹م مخ.

[۳۴] - افغاني، سعید. د شرق نابغه. کابل، بیهقي کتاب خپرولو مؤسسه، ۱۳۵۵ش، ۲۲م مخ او نړیوال، رزاقي. علامه سید جمال الدین افغان د پوهې او آزادۍ علمبردار. کابل، بیهقي کتاب

(c) ketabton.com: The Digital Library



## افغاني د ځان په اړه څه وايي؟

سيد جمال الدين افغاني تريخ او صريح سړی و، هېڅ کله يې دروغ نه ويل. هر چېرته يې حقيقت ښکاره کړی او ډېرو ځايونو کې د حقيقت ښکاره کول ورته زښت ډېر مشکلات هم زېږولی، آن زنداني کېدل يې او د ځينو له نظره د همدغه صراحت او حق ويلو له امله وژل شوی. خو ځينې خلک يا د اسلام دښمنۍ له امله يا د ساده ګۍ او يا د تعصب له مخې د افغاني صداقت او صراحت ردوي او سيد جمال الدين ايراني بولي. په داسې حال کې چې افغاني په خپله صراحتا ويلې چې د افغانستان د کونړ ولايت د ساداتو دی. هغه ځان حنفي مذهبه سني باله. آن په خپل لاس ليکل شوي اسناد يې هم شته چې ځان يې د کونړ له ساداتو معرفي کاوه.
افغاني د ځان په هکله وايي: "شرق او شرقيانو ته مې وکتل، افغانستان لومړی ځای و چې زما توجه يې جلبه کړه، او دا لومړی ځای دی چې زما بدن يې پر خاورې لګېدلی، بيا هند و -چې عقل مې په کې مثقف شو-، بيا ايران د ګاونډيتوب او اړيکو له مخې..."[35] په دغه وينا کې افغاني ښکاره وايي چې د افغانستان دی او ايرانيان -چې پر افغاني دعوه کوي- خپل ګاونډيان ګڼي. افغاني بيخي ښکاره خبره کړې او هېڅ د شک و شبهې ځای يې نه دی پرې ايښی، خو له دې سره هم ځينې ځان -يا خلک- غلطوي!
د افغاني بل اعتراف يې شاګرد، محمد باشا مخزومي [۱۹۲۹-۱۸٦۸م] په خپل "د افغاني سيد جمال الدين خاطرات" کتاب کې ليکلی. د مخزومي باشا دغه کتاب د افغاني په هکله يو ډېر مؤثق او معتبر مرجع دی چې د ده

---

خپرولو مؤسسه، ۱۳۸۵ش، ۴۴-۴۲م مخونه.

[35] - عماره، الدکتور محمد. جمال الدين الافغاني المفترى عليه. قاهره، دار الشروق، ۱۹۸۴م، ۱۳۰م مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هکله تقریبا په ټولو کتابونو کې ترې استفاده شوې. مخزومي باشا د کتاب په مقدمه کې لیکي:

"یوه ورځ مې ورته [افغاني ته] وویل چې ستا ځینې دوستان او هوا خواهان غواړي چې ستا سوانح نشر کړي او د اخبار والاوو په اصطلاح د خپل اخبار ستونونه پرې ښکلي کړي؛ نو دی موسکی شو او ویې ویل:

(عیان بیان ته اړه نه لري او هغه څه ورته ووایه چې فلاني سړي زما په باره کې ویلي دي[36])..

بیا ما ورته وویل چې: (ستا په شان حکیم استاذ ته نه ښایي چې په هغه څه د خپل عصر په خلکو بخل وکړې چې نورو ته یې ګټه رسېږي او ده ته مضر نه اوسي.) ده راته وویل: (په دې کې به د هغه چا له پاره څه ګټه وي چې دا یادوي چې زه په ۱۲۵۴ هجري کال کې پیدا شوی یم او له نیمې پېړۍ نه زیات عمر مې تېر کړی او له خپلې خاورې (افغانستان) نه په وتلو مجبور کړای شوی یم او د خلکو اغراض او امیال لوبې راباندې کوي، او په دې هم مجبور کړای شوی یم چې د هند خاوره پرېږدم او له مصر نه وشړل شم او له استانې او د ځمکې له اکثرو پایتختو څخه واېستل شم. دغه احوال ټول هغه خاطرات دي چې ما نه خوشالوي او نه د قوم له پاره کومه فایده په کې شته)..."[37]

د افغاني په دغه ځواب کې مرحوم محمد باشا المخزومي د هغه دا قول چې ځان یې افغانستان ته منسوب کړی، رانقل کړی دی چې دا هم د ده پر افغانیت ډېر ښکاره او قوي دلیل دی.

همدارنګه مرحوم سید قاسم رشتیا [۱۹۹۸-۱۹۱۳م] د افغاني په اړه خپل کتاب کې د هغه وینا نقله کړې چې وایي؛ "زه اړتیا نه وینم چې ځان کوم

---

[36] - هغه چا ته اشاره ده چې له ده سره یې رخه لرله او منفي تبلیغات به یې ورپسې کول.


[37] - د افغاني سید جمال الدین خاطرات، ۳۳-۳۲م مخونه.

ملت ته منسوب کړم، زه افغان يم."[38] دا اعتراف هم د نورو په څېر ډېر سپين او واضح دی.

په "مجموعه اسناد و مدارک چاپ نشده سيد جمال الدين افغاني" کې د سيد جمال الدين په خپل لاس ليکل شوی ليک خپور شوی چې ليکلي يې دي چې د کابل اوسېدونکی افغان، سيد جمال الدين افغاني د کونړ له ساداتو.[39]

همدارنگه بل دليل چې د هر څېړونکي توجه جلبوي، د عروه الوثقی پر مشهورې مجلې د افغاني نوم ليکل دي. افغاني په خپله دغه مجله کې چې له پاريسه يې خپروله، پر لومړي مخ يې ليکلي "سيد جمال الدين الحسيني الافغاني"[40]. علامه افغاني په خپله د دغې مجلې مسؤول و او ښکاره ده چې د افغاني تخلص يې په خپلې لاربښوونې ليکل شوی.

کله چې د علامه سيد جمال الدين افغاني شاگرد برهان الدين بلخي دا آوازه واورېده چې خلک سيد جمال الدين، ايرانی بولي، نو د افغاني هغه خبره چې ده ته يې کړې وه، وويله. بلخي ليکي:




"نسب و زادگاه سيد جمال الدين افغاني" (اووم مخ) او د استاد فضل الرحمن فاضل صاحب په "بيدارگر عصر" (172م مخ) کې هم خپور شوی.

[40] - فاضل، فضل الرحمن. بيدارگر عصر. کابل، وزارت اطلاعات و فرهنگ، ۲۰۰۸م، ۲۴۲م مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



علامه افغاني په خپل لاس ليکلي چې د افغانستان د کونړ دی

" په دې ورځو کې اورم چې ځيني خلک استاد (افغاني)، ايراني بولي، نو د دې له پاره د افغاني هغه مرکه چې له ما سره يې کړې وه، دقيقا يې نقلوم: (زه د کنړ له مشهورو ساداتو يم.. افغانستان کې زېږېدلی يم. شيخ جمال الدين چې بابي رئيس او ايرانی دی، چېرته چې زه تللی يم، هغه هم پټ تللی، همدا لامل دی چې ايرانيان يا خبر دي يا په ناخبری ما شيخ جمال الدين ګڼي، چې دا مطلقا دروغ دي. زه ځان ښه پېژنم، دا دی قسم خورم چې زه اصلا ايرانی نه يم او افغان يم، ټول افغانان ما پېژني او دا خبره تصديقوي.)"[41]

سيد جمال الدين افغاني په ډېرو ليکونو چې خلکو ته يې استولي دي او مجلو کې چې يې ليکنې خپرې شوي، له نامه سره يې افغاني ليکل شوي. استاد فضل الرحمن فاضل [پيدايښت ١٣٣٦ش] ليکي چې په فرانسوي مطبوعاتو کې چې حسيني او افغاني سره نه ګډېدل، علامه جمال الدين به "افغاني" ته پر "حسيني" ترجيح ورکاوه.[42] ځرنګه چې مخکې مو يادونه وکړه، علامه افغاني به په ليکونو کې هم خپل تخلص افغاني ليکه. د مثال په توګه مستر بلنت [١٩٢٢-١٨٤٠م] ته ليکل شوی ليک کې.[43]

کله چې د ايران شاه ناصر الدي ووژل شو او ايران له ترکيې غوښتل چې سيد جمال الدين ورتسليم کړي، ترکيې د دې له پاره ايران ته ور نه کړ

[41] - نسب و زادګاه سيد جمال الدين افغاني، ١٦-١۵م مخونه.

[42] - تېر مصدر، ١٦٩م مخ.

[43] - دغه ليک د استاد فاضل د بيدارګر عصر پر ١٩٣م مخ ليدلای شئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې دی ايرانی نه دی. افغاني په خپله ترکي شاعر عبد الحق حامد [۱۸۵۱-۱۹۳۷م] ته د سلطان عبد الحميد ستاينه کړې وه چې دی يې ايران ته نه و تسليم کړی، ځکه چې دی ايرانی نه دی. افغاني ويلي وو: "ايراني حکومت ځو وارې گومان کړی و چې زه ايرانی يم.. او ته پوهېږې چې زه ايرانی نه يم."[44] په تېرو مثالونو کې ښکاره شوه چې علامه سيد جمال الدين افغاني به په خپله له خپل نامه سره د افغاني وروستاړی گډاوه او علنا يې ويلې چې د ايران نه بلکې د افغانستان دی. افغاني په شيعه مذاهبو نقد کړی او له سنيانو سره يې په اساسي اختلافاتو کې د سنيانو نظر ته ترجېح ورکړې چې دا يې هم د سنيت او افغانيت ښه دليل دی. خو بيا هم ځينې له دغو حقايقو سترگې پټوي او دغو اسنادو ته ماشومانه، شرموونکې او خندوونکي توجيهات جوړوي.

دوی وايي چې علامه سيد جمال الدين افغاني دغه اسنادو کې د منافقت له وجې له خپل نامه سره افغاني ليکل او خلکو ته يې ځان افغاني معرفي کاوه، په داسې حال کې چې دی افغاني نه و. دوی وايي چې دی د ايران د اسد آباد د سيمې و او د دې له پاره چې د اهل سنت په منځ کې محبوبيت پيدا کړي ځان يې افغاني باله!

د دې بې اساسې او وهمي دعوې په رد کې غواړم د سيد خپل نظريات او ځانگړنې وليکم، ځو د دغه وهم و افترا حقيقت خلکو ته ښکاره شي:

## د افغاني صراحت او صداقت

د علامه افغاني شاگردانو او هغه کسانو چې له ده سره يې ليدلي او ناسته ولاړه يې ورسره شوې، د ده په هکله وايي چې رښتينی سړی و او خپله خبره به يې سپينه او ښکاره کوله. مشهور ليکوال جرجي زيدان [-۱۸۶۱

---

[44] - فوزي، مصطفى. دعوه جمال الدين الافغاني. رياض، دار الطيبه، ۱۹۸۳م، ۲۰۳م مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۹۱۴م] ليکي چې افغاني آزاد ضميره شخصيت و، سپينې خبرې به يې کولې او پاک نفسی سړی و.[45] د افغاني کوم صفات چې د هغه د صراحت په اړه جرجي زيدان ليکلي، مخزومي باشا کټ مټ همدغسې ليکلي. د افغاني ټول شاګردان په دې يوه خوله دي چې افغان تېز او صريح سړی و او خبره به يې نه پټوله.

جرجي زيدان د افغاني د هدف په اړه وايي چې که څوک د ده ژوند و کارنامې لنډې هم ولولي، پوهېږي چې د هغه هدف يوازې د يوه خليفه په اداره کې د اسلام يووالی وو او په دې لاره کې يې هېڅ دنيوي تمه نه لرله.[46]

چرچيل [۱۸۴۹-۱۸۹۵م] هم له افغاني سره ليدلي وو. له افغاني سره له ملاقاته وروسته يې د ده د صفاتو په اړه ولفر بلنت ته ويلي وو: "شيخ جمال الدين رښتينی او صريح سړی و، چې خپله عقيده يې پرته له ملاحظې ويله".[47]

دا وو د افغاني د صراحت په اړه د دوو داسې کسانو نظر چې نه د افغاني په دين کې ورسره شريک وو او نه يې له فکر سره موافق وو. خو دوی د هغه په اړه حقيقت بيان کړی او ښکاره کړې يې ده چې افغاني هېڅ منافقت نه لاره، بلکې حقيقت يې سپين ويلې.

## پر شيعه مذهب د افغاني ردونه

د افغاني د نظرياتو د برالا کولو په اړه ډېر مناسب مثال، د جعفري شيعه ګانو او خصوصا د امامت په هکله د ده نظر دی. د جعفري شيعه ګانو په هکله علامه افغاني وايي:

---

[45] - مشاهير الشرق، ٦٠م مخ.

[46] - سيد جمال الدين افغاني وافغانستان، ۹م مخ.

[47] - تېر مصدر، ۴م مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



"[امامي شيعه ګان] يوازې پر دې چې د امام جعفر پيروان دي او د نبي کريم صلی الله عليه وسلم د کورنۍ په مينه کې غلو کوي او امام علي په نورو بهتر ګڼي له مسلمانۍ څخه وځي نه او نه ښايي چې موږ يې د اسلام له دايرې څخه خارج وګڼو".[48]

د جعفري يا امامي شيعه ګانو په اړه د سيد جمال الدين دغه نظر ښکاره کوي چې هغه په خپله د جعفري شيعه ګانو دغه درې ټکو سره نه دی موافق. د دغه متن له سياقه ښکاري چې افغاني په شيعه دغه درې باورونه نه خوښوي، يعنې هغه په جعفري مذهب کې ننوتل، د نبي عليه السلام له کورنۍ سره په مينه کې افراط او د علي کرم الله وجهه د فضيلت موضوعاتو کې نه دی موافق او غلطي يې ګڼي، خو تر دې حده يې نه رسوي چې شيعه ګان پرې له اسلامه وباسي او کافر يې کړي.

د امامت موضوع چې د جعفري شيعه ګانو او د اهل سنت تر منځ يوه اختلافي موضوع ده[49]، سيد جمال الدين يې په هکله وايي چې د خلافت په دغه ترتيب کې چې واقع شو، د امت خير و، ځکه چې د لنډ عمر خاوند مخکې شو او اسلام ته يې خدمت وکړ. که چېرته حضرت علي لومړی وای، نو نورو ته به د اسلام د خدمت زمينه نه وای مساعده شوې، خو چې په دغه ترتيب راغلل، ټولو ته د اسلام د خدمت زمينه مساعده شوه.[50]

د خلافت په اړه چې کوم نظر علامه افغاني ورکړی، دا په هېڅ صورت شيعه ګان نه خوښوي. شيعه ګان نه يوازې دا چې له دغه ترتيب سره موافق نه دي، بلکې د اسلام درې لومړي خليفه ګان ډېر بد ويني او سپک

---

[48] - د افغاني سيد جمال الدين خاطرات، ۱۸۴م مخ.

[49] - اهل سنه وايي راشد خلفا په هماغه ترتيب چې حاکمان شول، افضليت لري او همدا مناسب ترتيب و، خو شيعه وايي چې ابو بکر، عمر، او عثمان رضي الله عنهم د خلافت مستحقين نه وو، بلکې علي رضي الله عنه يې مستحق و او همدی بايد لومړی خليفه وای.

[50] - تېر مصدر، ۱۸۵م مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې يادوي. که افغاني رښتيا هم ايراني شيعه وای، هېڅ کله به يې د خلافت په اړه داسې نظر نه وای ورکړی، ځکه د ده نظر کاملا د اهل سنت عقيده ده.

همدارنګه د معصوم امام نظر چې د شيعه ګانو په مذهب کې له داسې مهمو مسايلو شمېرل کېږي چې آن جعفري مذهب پرې ولاړ دی او له دې باوره پرته سړی شيعه کېدای نه شي، افغاني دغه نظريه هم ردوي او وايي چې د معصوم امام اړتيا نه شته. افغاني وايي "شريعت او ايمان کافي استاد دی، نو ځانګړي استاد ته چې معصوم امام دی، اړتيا نه شته."[51]

جعفري شيعه هېڅ کله نه وايي چې د معصوم امام اړتيا نه شته. دغه شيعه ګان دين له معصوم امامه پرته کامل نه ګڼي! او دا اهل سنت دي چې په دين کې د معصوم امام اړتيا نه ويني.

## د نظريې پټولو په اړه د افغاني رايه

اوس د دې شبهې رد ته راځو چې ادعا کېږي چې افغاني حقايق مخفي کول او خپله اصلي څېره يې له خلکو پټوله. ګورو چې افغاني د پټولو او مخفي کولو په اړه څه نظر لري؟

د سيد جمال الدين افغاني مشهور شاګرد او د خاطراتو د کتاب ليکوال، مرحوم مخزومي د افغاني د نظرياتو د پټولو په اړه ليکي:

"د پردې خبره به يې ډېره پټه ساتله او له چا سره به يې نه برالا کوله او خپل خاص آراء او افکار به يې په جرات سره برالا کول او پټول به يې نه. داسې چې موږ به د ده دغې سجيې [خوی] حيران پاتې کېدو او تاويل به مو نشو ورته موندلای، ځکه چې د جمهورو په مذهب د حکيم او حکمت له

---

51- جمال الدين الافغاني، موقظ الشرق و فيلسوف الاسلام، 40م مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوازمو څخه کتمان دی او چې له ده څخه به پوښتنه وشوه، ده به ویل: (زه په دې جهان کې داسې کار او داسې خبره نه ګورم چې کتمان او پټول به یې لازم وي مګر دا چې ښکاره کولو کې یې عیب او عار وي)..

هغه څوک چې ښه ګڼي چې هر څه چې وایي او یا ورته ویل کېږي پټ اوسي، له نفاق نه پرته د بل څه امید او هیله ورته کېدای نشي، نه باید هغه ته نارینه وویل شي او نه نارینه ته ورته وبلل شي او چا ته چې نارینتوب ښه ښکاري باید هر څه برالا کاندي...

بهترین څیز او ډېره ښه خبره چې ما د مروت په باب اورېدلې دا ده چې: (په پټه هغه کار مه کوه چې په برالا یې شرمېږې) ".[52]

د نظریاتو او حقایقو پټولو په اړه مو د افغاني سپین او ښکاره نظر ولوست. افغاني څومره صریح او ښکاره د حقایقو پټول غندي! ومولوستل چې افغاني د حقایقو پټولو ته له منافقته پرته بل نوم نه ورکوي او پټوونکی یې نارینه نه ګڼي. دا د افغاني د افغانیت او سنیت ډېره ښه نښه ده. ځکه چې جعفري شیعه ګان په تقیې[53] باور لري او افغاني په ښکاره تقیه ردوي او وایي چې په پټه هغه کار مه کوه چې په برالا یې شرمېږې.

## د افغاني شاګردان څه وایي؟

د ځان په هکله د یوه شخص نظر تر بل هر چا موثق او باوري دی. ځکه دی تر نورو ځان ښه پېژني. خو هغسې شاګردان چې شپه و ورځ له استاد سره ګرځي او مریدي یې کوي، د هغوی نظر هم ډېر موثق او باوري وي. د افغاني په هلکه یې شاګردانو خپل نظرونه ورکړي. محمد عبده د ده ډېر صمیمي او ده ته نږدې شاګرد و. ډېر څه یې ترې زده کړي او ډېر کله به

---

[52] - د افغاني سید جمال الدین خاطرات، ۹۳-۹۲م مخونه.

[53] - تقیه یعنې د دیني او دنیایي ضرر د مخنیوي له پاره د خپلو عقایدو پټول. د امامي شیعه ګانو له نظره تقیه جواز لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورسره و. د افغاني د ژوند ډېره مهمه مرحله -د "عروه الوثقی" خپرولو- کې يې شاګرد محمد عبده ورسره مل و. کله چې د افغاني د ژوند په هکله پوښتنې رامنځ ته شوې. امام محمد عبده د علامه افغاني په هکله يوه ليکنه وکړه.

## محمد عبده د افغاني د وطن او ځای په هکله ليکي:

"سيد جمال الدين د کونړ په اسعد آباد نومي کلي کې په ۱۲۴۵ هجري کال کې وزېږېد او له خپل پلار سره کابل ته راوستل شو او په اته کلنۍ کې يې په زده کړو پيل وکړ او پلار يې د ده روزنې ته خاصه پاملرنه درلوده؛ ځکه چې پلار ته يې څرګنده شوې وه چې قوي فطرت، سرشاره ذکا او نوراني قريحه لري.."[54]

همدارنګه د علامه افغاني د فقهي مذهب په اړه محمد عبده ليکي:

"افغان سيد جمال الدين حنفي مذهبي او په صحيحو سنتو يې ټينګ ايمان او قوي عقيده لرله. که څه هم نوموړی په خپله عقيده کې د نورو په څېر مقلد سړی نه و، خو بيا يې هم د صوفيه ساداتو مذهب ته کلک ارادت درلود او تل يې غوښتل چې د خپل مذهب فرضونه په ښه توګه ادا او يوه شېبه هم ورڅخه غافله نه شي.. سيد جمال الدين د خپل مذهب په اصولو او فروعو عمل کاوه او له بلې خوا يې ديني عقيده دومره قوي وه، چې د هغه وخت بل هېڅ مسلمان وکړی د هغه درجې ته نه شي رسېدلی.. "[55]

د افغاني سيد جمال الدين حنفيت او افغانيت يا سنيت او افغانيت سره تړلي دي، ځکه چې د کونړ په دغه سيمه کې ټول حنفي مسلمانان دي او

---

[54] - د افغاني سيد جمال الدين خاطرات، ۳٦م مخ.

[55] - رافعي، عبد الرحمن. افغان سيد جمال الدين. پېښور، دانش خپرندويه ټولنه، ۲۰۰۷م، ژباړن: عبد المحمد مموزی، ٦۴-٦۳م مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ایران په همدان کې شیعه ګان اوسېږي، همدا ده چې ځینې ایرانیان هڅه کوي، افغانی، ایراني ثابت کړي، چې شیعه وبلل شي او یا یې شیعیت ثابت کړي چې ایرانی وبلل شي، خو شاګرد یې محمد عبده د ده د حنفیت په اړه سپینه خبره کړې.[56]

یو وار امام محمد عبده د عروه الوثقی په جمعیت کې د مذهب په هکله وپوښتل شو. محمد عبده یې ځواب کې وویل چې موږ اشعریان او ماتریدیان سنیان یو او په عباداتو کې د څلورو سني مذاهبو مقلدین یو.[57]

---

[56] - امام محمد عبده وایي چې حنفي مذهبی دی او استاد فضل الرحمن فاضل په "بیدارګر عصر" کې داسې اسناد وړاندې کړي چې د امام محمد عبده نظر تصدیقوي. د تفصیل له پاره دې د یاد کتاب ۱۴۱م مخ وکتل شي.

[57] - جمال الدین الافغاني، موقظ الشرق وفیلسوف الاسلام، 38م مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه څنګه چې مو د امام محمد عبده نظر ولوست، په عقيده کې افغاني د

(c) ketabton.com: The Digital Library



اهل سنت په عقایدو باوري و او په عقیده کې ستر سني امامان ابو الحسن اشعري [۹۳٦-۸۷۴م] او ابو منصور ماتریدي [وفات 333 هجري] په درنښت یادوي. استاد فضل الرحمن فاضل په دې باور دی چې علامه افغاني په عقیدوي مذهب کې سني اشعري و. فاضل صاحب اووه دلایل لیکي چې سید جمال الدین اشعري و. خو کوم دلایل چې فاضل صاحب د علامه افغاني د اشعریت له پاره وړاندې کوي، تر ډېره دا دي چې افغاني امام اشعري ته په درناوي قایل و.[58] خو دا چې حنفیان ډېری په ماتریدي مذهب دي، نو کېدای شي د علامه افغاني مذهب هم ماتریدي وي او



ماتریدیان خو امام اشعري ته ډېر درنښت لري. د ماتریدیت د ادعا یو دلیل دا هم کېدای شي چې امام محمد عبده ویلي چې په موږ کې ماتریدیان هم شته.

---

[58] - د تفصیل له پاره دې د "بیدارگر عصر" له ۱۴۵م مخ نه نیولې تر ۱۵۰ پورې وکتل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د علامه افغاني هغه تصوير چې خپل وطندار شاګرد، برهان الدين بلخي ته يې ډالۍ کړی و.

د فاضل صاحب يوازې دوه دليله د ده ادعا ځواکمنوي، يو دا چې افغاني ليکي "وهو راى الاشعري وراى کثير من اصحابنا". په اسلامي مذاهبو کې، خصوصا حنفيان د اصحابنا کلمه د خپل مذهب علماوو ته استعمالوي، خو دلته يوه خبره شته، هغه دا چې افغاني امام اشعري او خپل اصحاب بېل يادوي، کېدای شي د ده له اصحابو موخه ماتريدي امامان وي. همدارنګه د فاضل صاحب اووم دليل کې امام اشعري او ماتريدي، دواړو ته افغاني صاحب د "مشايخنا" لفظ استعمال کړی، چې دلته هم دقيقا نه واضح کېږي چې افغاني ماتريدي دی او که اشعري. په هر حال، دوکتور محمد عماره خو وايي چې افغاني د يوه معين مذهب مقلد نه و. علامه افغاني به يا اشعري وي يا ماتريدي خو په دې ډېر دلايل شته چې ښکاره کوي چې افغاني شيعه مذهب ردوي او عقيده يې له اهل سنته

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرته کوم بل مذهب نه و.[59]

د افغاني په اړه يې بل مشهور شاګرد او د خاطراتو د کتاب ليکوال، محمد باشا المخزومي چې له علامه افغاني سره پنځه کال، له ۱۸۹۲ تر ۱۸۹۲ میلادي کاله پورې ورسره مل و[60]، دی هم وايي چې د افغانستان له اسعد آباد ځخه دی او په مذهب حنفي دی. د سيد جمال الدين مشهور افغان شاګرد، برهان الدين بلخي چې خپل مشهور عکس يې هم ده ته ډالۍ کړی، د افغاني په اړه ښکاره ويلي چې د ايرانيت دعوه يې دروغ ده، سيد جمال الدين ايرانی نه، افغان دی.[61]

استاد عبد الرحمن الرافعي [۱۹٦٦-۱۸۸۹م] د افغاني صاحب د افغانيت په اړه وايي: "او ځينو متشککينو او مغرضو کسانو ګومان کړی و چې افغاني ايرانی دی. په دغه ګومان دوی خلک مشکوکوي".[62]

اديب اسحاق [۱۸۸۵-۱۸۵٦م] او د افغاني نور نږدې شاګردان او معاصرين تقريبا ټول په دې يوه خوله دي چې سيد جمال الدين د افغانستان د کونړ دی او په مذهب حنفي، په عقيده کې هم سني مذاهبو ته منسوب دی.

## د ميرزا لطف الله کتاب

په ۱۹۲٦ ميلادي کال کې په برلين کې د "شرح حال و آثار سيد جمال الدين اسد آبادي مشهور به آفغاني" په نامه کتاب چاپ شو. د کتاب ليکوال ميرزا لطف الله خان دی او دعا کوي چې د سيد جمال الدين افغاني خوريه دی. ليکوال د افغاني د کورنۍ هديره د ده د ايرانيت دليل

---

[59] - جمال الدين الافغاني، موقظ الشرق وفيلسوف الاسلام، 40 مخ.

[61] - نسب و زادګاه سيد جمال الدين الافغاني، ۱۵م مخ.

[62] - دعوه جمال الدين الافغاني، ۲۰۳م مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښيي.
دغه کتاب د افغان محققينو او اسلامي مفکرينو له لورې رد شوی، ځکه ډېر تناقضات لري، چې ښکاره کوي چې د افغاني د نسب کومه شجره چې ميرزا لطف الله وړاندې کوي، جعلي او د ده له لورې جوړه شوې ده.
افغان ليکوال دوکتور سعيد افغاني [۱۹۸۵-۱۹۲۲م] د ميرزا لطف الله دغه دعوه په سختو الفاظو کې رد کړې. سعيد افغاني د ميرزا لطف الله دعوه سسته، بې دليله وينا، دروغ او گمراهي بولي او وايي چې دغه ادعا هېڅ حقيقت نه لري.[63]
مصري مفکر استاد محمود ابو ريه [۱۹۵۷-۱۸۸۹م] د ميرزا لطف الله دعوه چټيات او لېونتوب بللی، ابو ريه وايي چې د لطف الله خان کتاب آن په دې نه ارزي چې د قلم رنگ پرې مصرف شي، خو د دې له پاره پرې رد ليکي چې لېونتوب او چټيات يې رسوا شي.[64]
پوهاند عبد الحي حبيبي [۱۹۸۴-۱۹۱۰م] هم د علامه افغاني د نسب په اړه يو کتاب ليکلی او د ميرزا لطف الله د کتاب تناقضات يې ايستلي او په ډېره سړه سينه يې د ياد کتاب غلطۍ په اثبات رسولي.
د علامه افغاني د نسب هغه شجره چې ميرزا لطف الله وړاندې کړې، پوهاند حبيبي څېړلې او په څو سطرونو کې يې دوه تضاده ليدلي. علامه حبيبي ليکي:
"د ښاغلي ميرزا په شجره کې په څو سطرونو کې دوه تضاده شته دي. لومړی دا چې وايي: هو سيد صفدر، بن علي، بن مير رضي الدين محمد الحسيني شيخ الاسلام، بن مير زين الدين الحسيني القاضي، بن مير ظهير الدين محمد الحسيني شيخ الاسلام، بن مير اصيل الدين محمد

---

[63] - د شرق نابغه، ۱۰م مخ.
[64] - تېر مصدر، ۱۱م مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



الحسيني شيخ الاسلام.
په داسې حال کې چې دوه سطره وروسته ليکي: د سيد مور سکينه بېگم بنت مير شرف الدين الحسيني القاضي دی، چې له مير رضي الدين سره ورور و، او دواړه د مير اصيل الدين زامن دي.
په لومړۍ شجره کې مير رضي الدين د زين الدين زوی دی په داسې حال کې چې مير رضي او مير شرف دواړه وروڼه د مير اصيل الدين زامن دي!
دغه تضاد او دوه رنگي په خپله د شجرې صحت تر سوال لاندې راولي او ناسم والی يې ښکاره کوي"[65].
مرحوم عبد الحی حبيبي د ميرزا لطف الله د کتاب يو بلې غلطۍ ته هم ځير شوی. ميرزا لطف الله په خپل ياد کتاب کې څو وارې وايي چې ايران ته د علامه سيد جمال الدين په دوو سفرونو کې ورسره و، په داسې حال کې چې په خپله يوه ليک کې د علامه سيد جمال الدين د ليدلو هيله ښکاره کوي او تعجب کوي چې تر اوسه يې سيد جمال الدين نه دی ليدلی! حبيبي صاحب وايي چې ميرزا لطف الله د سيد جمال الدين د ايران په وروستي سفر کې ورسره ليدلي او تهران کې يې په تېرو دوو نورو سفرونو کې ورسره نه دي ليدلي.[66]
د ميرزا لطف الله د کتاب او د شجرې يوه بله ستره، نه جبيره کېدونکې او نه توجيه کېدونکې غلطي چې علامه حبيبي ورته ځير شوی، دا ده چې د سيد جمال الدين د پلار (سيد صفدر) او د نيکه (سيد علي) تر منځ ۲۵۰ کاله عمري فاصله ده. يعنې د ميرزا لطف الله په شجره کې د سيد علي له خپل زوی سيد صفدر څخه دوه نيم سوه کاله مخکې اوسېده! چې دا په

---

[65] - نسب و زادگاه سيد جمال الدين الافغاني، ۲۲-۲۱م مخونه.

[66] - تېر مصدر،۲۳-۲۲م مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپله د دغه کتاب او شجرې جعلي توب او فساد ښکاره کوي.[67] استاد فضل الرحمن فاضل هم دغه شجره تفصيلي څېړلې او بلا ډېرې غلطۍ يې په کې موندلي دي چې پر شجرې شته شکونه په يقين بدلوي.[68]

## د ايرانيت دعوه او رد يې

کله چې افغاني د يوه ستر شخصيت په نامه وپېژندل شو او په ټوله نړۍ کې د ده د پوهې او ويښونې غږ خپور شو، ډېرو پرې دعوه وکړه. ايرانيانو چې په ډېرې بې شرمۍ يې له خپل هېواده شړلی و، هم په دې دعوه کې راګډ شول. د دوی دلايل که څه هم په علم و عقل برابر نه دي، خو د شبهې د له منځه وړلو په خاطر يې دلايل او رد يې ليکو:

۱. د افغاني ډېری دښمنان او د دوستۍ ځينې مدعيان وايي چې افغاني اصلا د افغانستان نه، د ايران د همدان د اسد آباد د کلي دی او د ده د کورنۍ غړي او بقايا تر اوسه هلته شته.

دوکتور محمد عماره د دغې ادعا په رد کې وايي چې کېدای شي د ده کورنۍ ايران ته کډه شوي وي، ځکه چې امير دوست محمد خان دغه کورنۍ له کونړه کابل ته انتقال کړه. بيا کېدای شي دوی د علامه افغاني په څېر کابل کې نه وي پاتې شوې او ايران ته نقل شوې وي. همدا لامل دی چې اوس هم دغه کورنۍ ځان په "جمالي" معرفي کوي.[69]

مرحوم استاد عبد الحي حبيبي هم د خپل تحقيق په پايله کې وايي چې اسناد ښکاره کوي چې د کونړ سادات د همدان له ساداتو سره د خپلولۍ

---

[67] - تېر مصدر، ۲۵م مخ.

[68] - د تفصيل له پاره دې د استاد فضل الرحمن فاضل "بيدارګر عصر"، ۱۸۶-۱۸۳ مخونه وکتل شي.

[69] - جمال الدين الافغاني، موقظ الشرق وفيلسوف الاسلام، ، ۲۲-۲۱م مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اړيکه لرله او ځينې خپلوان يې همالته اوسېدلي او همالته مړه شوي دي. استاد حبيبي هم د دوکتور محمد عماره په څېر نظر ورکړی او وايي چې د علامه افغاني کورنۍ له کونړه همدان ته هجرت کړی.[70]

۲. د دوی بل دليل چې علامه افغاني يې پرې پر ايرانيتوب متهم کړی، د سيد جمال الدين د پلار نوم دی. لکه څنګه چې مخکې مو يادونه وکړه، د پلار نوم يې سيد صفدر و. دوی وايي صفدر له دوو کلمو جوړ شوی، "صف" او "در". "صف" يعنې کتار او "در" په فارسي کې څېرې کوونکي ته وايي. صفدر يعنې کتار پرې کوونکی يا کتار څيرې کوونکی او دا صفت ايرانيانو حضرت علي کرم الله وجهه ته ورکړی. نو دا لقب له شيعه ګانو پرته بل څوک نه پېژني، نو د سيد جمال الدين کورنۍ شيعه ګان وو.[71]

استاد سعيد افغاني په خپل کتاب "د شرق نابغه" کې دغې دعوې ته ځواب ورکړی. هغه وايي چې د صفدر نوم يوازې په ايرانيانو منحصر نه دی، بلکې افغانانو کې هم دا نوم مروج دی. سعيد افغاني صاحب وايي چې له ده سره د صفدر په نامه چا کار کاوه او د کونړ په ساداتو کې د صفدر په نامه يو کس شته.[72]

د سعيد افغاني صاحب دغه نظر کې چې د صفدر نوم په افغانستان کې شته، ځينو مغرضينو شک کړی او ويلي چې يوازې سعيد افغاني دغه خبره کړې، خو دا د هغوی خپل مشکل دی چې له افغاني ټولنې نا خبره دي. څوک چې په افغانستان کې اوسېږي، پوهېږي چې د صفدر نوم څومره عام دی. زما اوس هم په ياد دي، د ښوونځي په دوره کې مو د يوه ټولګيوال د پلار نوم صفدر و.

---

[70] - نسب و زادگاه سيد جمال الدين افغاني، ۶۴م مخ.

[71] - جمال الدين الافغاني، موقظ الشرق وفيلسوف الاسلام، ۲۲م مخ.

[72] - دعوه جمال الدين الافغاني، ۲۰۷م مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳. د افغاني د تشييع د مدعيانو بل دليل دا دی چې افغاني فلسفي علوم لوستي وو او په منطق او علم الكلام كې يې ډېره پوهه لرله. دوی داسې ګومان کوي چې دغه علومو کې يوازې شيعه ګان پوهېږي او اهل سنت به فقه، اصول، حديث، تفسير، ژبه او ادبيات لوستل![73] خو حقيقت داسې نه دی. افغاني په اهل سنت کې لومړی فيلسوف نه دی، بلکې په اهل سنت کې ډېر ستر فلسفيان تېر شوي. ابو حامد الغزالي، فخر الدين الرازي، ابن سينا، ابن رشد، فارابي او نور ستر فلسفيان ټول سنيان وو.

دوکتور محمد عماره دې شبهې ته په رد کې وايي چې په اسلامي نړۍ کې معتزله د علم کلام مؤسسين وو، په داسې حال کې چې دوی شيعه ګان نه وو. عماره وايي چې عبد الرحمن الكواكبي [۱۸۵۴م-۱۹۰۲] د سيد جمال الدين معاصر دی، کواکبي په داسې حال کې چې سني و ، په ژوند کې يې وينو چې د زده کړې په پيل کې يې منطق، رياضي او نور ډېر هغه علوم لوستي وو چې سيد جمال الدين هم لوستي وو.[74]

۴. د دوی بل دليل دا دی چې افغاني دوه وارې ايران ته د شاه له لورې بلل شوی و او آن د لومړي وزارت د منلو بلنه هم ورکړل شوې وه.[75] دوی وايي چې سيد جمال الدين حتمي ايراني وو، که نه شاه ولې دومره ارزښت ورکاوه!

د دوی دغه دليل اصلا پر دوی دليل جوړوي. ځکه سيد جمال الدي دغه وخت کې ډېر مشهور و او د اسلامي نړۍ په سطحه شخصيت و، هر چا غوښتل د ده له پوهې او ذکاوته ګټه پورته کړي. سلطان عبد الحميد هم دغسې ارزښت ورکاوه، دا خو د افغاني د ترکيت دليل نه شي جوړېدای.

---

[73] - جمال الدين الافغاني، موقظ الشرق وفيلسوف الاسلام، ۲۴م مخ.

[74] - تېر مصدر، ۲۵م مخ.

[75] - دعوه جمال الدين الافغاني، ۲۱۳م مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو افغاني کلونه پخوا، هغه وخت کې زلمی و او دومره مشهور هم نه و، په افغانستان کې لومړی وزیر شو. له دې ښکاري چې افغاني د افغانستان د کونړ و.

۵. یو بل دلیل چې ځینې مغرضین یې د افغاني د ایرانیت له پاره کاروي دا دی چې افغاني ښه او روانه فصیحه عربي وینا کوله او د جرجي زیدان هغه خبره دلیل نیسي چې ویل یې چې په شرق کې د ده په څېر بل ویناوال نه شته. دوی وایي چې یو څوک چې په افغانستان کې اوسېدلی وي څنګه کولای شي چې په عربي ژبه دغسې برلاسی ولري او په عربي دومره ښه وینا وکړي؟![76]

د دوی دغه دلیل، له افغانانو او ایرانیانو سره د دوی نا آشنایي ښیي، ځکه افغانان عموما په ژبو کې ډېر ښه دي او په ځانګړې توګه عربي خو داسې وینا کولای شي چې عرب پرې نه پوهېږي چې افغان به وي. د دې په مقابل کې ایرانیان په فارسي لهجه عربي وایي چې له ورایه ښکاري چې ایرانیان دي. نو دا هېڅ پر ځای دلیل نه دی.

استاد فضل الرحمن فاضل وایي چې د افغاني له فارسي لیکلو ښکاري چې مورنۍ ژبه یې پښتو ده، ځکه پښتو ځېلې فارسي لیکي.[77]

٦. دوی وایي چې علامه افغاني په ایراني لهجه فارسي غږېده، نو ایراني و![78] د دې دعوې لومړی ځواب خو دا دی چې افغاني د ژبو په زده کړه کم نظیره برلاسی لاره، نو کېدای شي زده کړې یې وي. دویمه خبره دا ده چې افغاني خو په ډېر کوچنیتوب کې ایران ته تللی او هلته یې زده کړې هم کړي، نو ښکاره ده چې ماشومان ژبې او لهجې ژر زده کوي. درېیم رد

---

[76] - تېر مصدر، ۲۱۵م مخ.

[77] - بیدارگر عصر، ۱۵۵م مخ.

[78] - دعوه جمال الدین الافغاني، ۲۲۱م مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د استاد فاضل نظر دی، لکه څنګه چې مخکې مو وویل، استاد فاضل وایي چې د افغاني په خپل فارسي کتاب کې یې پښتو ځېلې فارسي لیکلې چې ښکاري چې د افغاني مورنۍ ژبه پښتو ده، نه فارسي.

۷. د علامه سید جمال الدین د ایرانیت د دعوی پلویان دا دلیل هم یادوي چې د عروه الوثقی په ځینو لیکنو کې ځینې داسې کیسې او مثالونه یاد شوي چې یوازې په ایران او عراق کې استعمالېږي، نو سید جمال الدین، ایرانی دی![79]

دا دلیل معقول نه دی، ځکه افغاني په ایران او عراق کې ژوند کړی. افغاني نابغه و او د هر ځای خبرې او کیسې یې زده کړې دي، نو لیکنو کې به یې لیکلې وي. افغاني خو په فرانسې، روسیې او نورو هېوادونو کې هم وخت تېر کړی، که چېرته کومه روسي کیسه ولیکي، دا د دې دلیل کېدای شي چې افغاني روسی و؟!

بله دا چې د همدغه تور ښښتن بل پرګراف کې لیکي چې محمد عبده هم د شیعه علماوو ځینې خبرې لیکلي.. خو دی په دې قانع دی چې محمد عبده ایرانی نه و. دا په خپله د دې دلیل دی چې ستر شخصیتونه چې چېرته واوسي د خلکو په عادتونو او رواجونو ژر پوهېږي او ځینې کیسې او مثالونه یې حتمي زده کوي. محمد عبده چې آن ایران ته تللی هم نه و، د ایراني پوهانو له کیسو او اقوالو خبر و، نو څوک دعوه کولای شي چې دی هم ایرانی و؟!

۸. د دوی د دعوې بل دلیل ځینې کاغذونه دي چې دوی یې اسناد او وثایق ګڼي او افغاني پرې ایرانی بولي. دوی دوه تذکرې خپرې کړې چې د جمال الدین په نامه وتلي. یوه په قاهره کې د ایران له قونسلګرۍ راوتلې او به په ویانا ښار کې، نو دوی وایي چې دغه تذکرې دی ایراني

---

[79] - تېر مصدر، ۲۱۵م مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ثابتوي![80]

دوکتور محمد عماره دغه دعوه تفصيلي رد کړې. لومړی رد يې دا دی چې د قاهرې له قونسلګرۍ چې کومه تذکره وتلې، د "السيد المحترم جمال الدين" په نامه وتلې، جمال الدين نامي خو ډېر دي، څوک ويلای شي چې دا به سيد جمال الدين افغاني وي. دويمه خبره دا چې تذکره کې ليکل شوي چې اسلامبول ته روان دی او تاريخ يې ۱۲۸۸هجري دی. دوکتور عماره وايي چې په دغه تاريخ کې افغاني په مصر کې و، اسلامبول ته نه و تللی، نو يا خو دا تذکره د کوم بل چا ده او يا جعلي ده. د ويانا ښار په تذکره کې د سيد جمال الدين نوم "شيخ جمال الدين الحسيني" ليکل شوی. دوکتور محمد عماره وايي چې جمال الدين په خپل نامه کې سيد ليکه او شيخ يې نه دی ليکلی.[81]

د همدغې تذکرې په باب محمد عماره په "جمال الدين الافغاني المفترى عليه" کې يو بل ډېر جالب ټکي ته هم اشاره کوي. دوکتور عماره وايي چې ايرانيان او هغه څوک چې سيد ايرانی بولي، وايي چې ده خپل ايرانيت پټاوه، نو پوښتنه دا دی چې سيد جمال الدين د سني اسلام ستر مرکز استامبول ته روان و او خپله تذکره يې له ايرانه اخيسته او ځان يې ايرانی باله، په داسې حال کې چې د سيد او د سني اسلام مرکز تر منځ شديده جګړه هم وه![82] دا ډېره معقوله خبره ده او د سيد د ايرانيت د مدعيانو يو بل تناقض ښکاره کوي.

پورتني دلايل د سيد جمال الدين د ايرانيت د مدعيانو اساسي دلايل دي. نور ډېر کمزوري دلايل يې هم وړاندې کړي، چې د استاد محمود ابو ريه

---

[80] - جمال الدين الافغاني، موقظ الشرق وفيلسوف الاسلام، ۳۱-۳۰م مخونه.

[81] - تېر مصدر، ۳۳-۳۱م مخونه.

[82] - جمال الدين الافغاني المفترى عليه، ۱۳۸م مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خبره آن په دې نه ارزي چې د قلم رنګ پرې مصرف شي او که د ټولو دلایل ځوابوو، کېدای شي د دغې لیکنې د بې ځایه اوږدوالي سبب شي.**

**افغاني او ماسونېزم[83]**

**سید جمال الدین افغاني ماسونیت ته ننوتلی و او آن تر ریاسته په کې رسېدلی و، چې د ده د شخصیت دغه برخه یې دښمنانو ته د تورنولو او بدنامولو ښه موقع په لاس ورکړې. د سید جمال الدین دښمنان چې موخه یې حق ته رسېدل نه، بلکې د ده د شخصیت متضرر کول او تور ښودل دي، د ماسونیت په موضوع کې هم، پرته له څېړنې او حقپالنې، دی بدناموي. که چېرته په ماسونیت کې د ده ننوتلو ته له یوه بل اړخه وګورو، د افغاني د دښمنانو او د ایرانیانو د ایرانیت او شیعیت دعوا په کې په خپله حل کېږي. دوی وایي چې افغاني خپل اصلي او حقیقي شخصیت پټاوه، دلته سوال دا دی چې که چېرته افغاني خپل اصلي حقیقت پټاوه، نو ماسونیت ته یې دننه کېدل ولې نه دي پټ کړي، بلکې ټولو ته معلوم دي او آن شاګردانو یې پرې اعتراف کړی؟!**

**د افغاني دښمنان په دغسې ډېرو تناقضاتو او تضادونو کې ګیر دي، چې ځوابولای یې نه شي، خو زموږ د بحث موضوع دا ده چې افغاني ولې ماسونیت ته دننه شوی و؟**

**د دې پوښتنې له ځوابه مخکې باید ووایو چې د افغاني تقریبا ټول شاګردان په دې اعتراف کوي چې افغاني ماسونیت ته دننه شوی و. محمد عبده، رشید رضا [۱۸۶۵-۱۹۳۵م]، ادیب اسحاق او نورو یې ماسونیت منلی. محمد باشا مخزومي یې په اړه تفصیلي لیکل کړي.**

---

[83] - ماسونېزم مخفي تروریستي یهودي حرکت دی، خلک الحاد او فساد ته بلي او پر نړۍ د یهودو واکمني یې موخه ده، چې خپل پټ اهداف یې د آزادۍ، ورورګلوۍ، مساوات، انسانیت په ښکلی شعار کې پټ کړي. (الموسوعه المیسره في الادیان والمذاهب والاحزاب المعاصره)

(c) ketabton.com: The Digital Library



باشا مخزومي ليکي چې افغاني فطرتا سياست ته ميلان لاره او د سياست په باريکيو پوه و.. دغه وخت کې استعمارګرو لاسوهنې په ډېرېدو وې، نو د مصر حالت ته د تغيير په موخه ماسونېزم ته ورغی.. د افغاني لومړۍ نيوکه پر هغه چا وه چې ويل يې چې ماسونېزم له سياست سره کار نه لري.. دغه ډول خبرو افغاني غوسه کړ او ماسونيانو ته يې ډېرې توندې خبرې وکړې. افغانيوويل چې ما ګومان کاوه چې دغه ډله د آزادۍ، ورورلۍ، مساوات د رامنځ ته کولو او د ظلم د له منځه وړلو له پاره جوړه شوې[84] خو که له دوی سره دا ويره وي چې حکومت د دوی په مقابل کې راپورته نه شي او ويې نه نيسي، نو بيا دا ډله هېڅ کار نه شي کولای.[85]

سيد جمال الدين په دغه غونډه کې د ده او د ماسونيت په اړه سپيناوی کړی. هغه دا پوښتنه ځواب کړې چې ولې ماسونيت ته تللی و او ماسونيت يې څومره پېژانده. افغاني وويل:

"ما دا خبره دردوي چې زه په دې صفت چې د ماسونيانو د ډلې يو غړی يم د ماسونيت تعريف نه پېژنم او نه پوهېږم چې دا څه شی دی؟ او نه د هغه صورت زما په ذهن کې شته او نه يې يو صفت راته معلوم دی چې د هغه په وسيله سړی د دغې ډلې غړی کېدای او په کې داخلېدای شي.

لومړنی څيز چې زه يې واداره کړلم چې د احرار [ماسونېزم] و په ډله کې داخل شم، هغه دغه خطير عنوان و، چې په غټو تورو ليکل شوي و (حريت، مساوات، وروړګلوي) غرض يې: (د انساني ګټو تامين، د ظلم د مانيو ړنګول، او د مطلق عدل د مباديو ټينګول دي) او له دغو عباراتو څخه

---

[84] - له دې جملې ښکاري چې علامه افغاني ماسونېزم ته د دې له پاره ننوتلی و چې آزادي راولي او د ظلم مخه ونيسي، خو چې کله يې وليدل چې دا هسې شعارونه دي او حقيقت بل څه دی، نو ماسونېزم يې پرېښود.

[85] - د افغاني سيد جمال الدين خاطرات، ۵۱-۵۰م مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما ته د ماسونیت تعریف او معنا څرګنده شوه او پوه شوم چې دا مبادي د کار همت، د نفس لوړتیا غواړي او دا ایجابوي چې له ظلم سره د مقاومت په لار کې د مرګ او بند پروا ونه کړي او هر څه آسانه وبولي".[82]

افغاني په دغه وینا کې برسېره کوي چې کله چې ماسونېزم ته ننوته، د ماسونېزم په تعریف هم نه و پوه او نه پوهېده چې څوک یې پر مخ بیایي او څه کوي. یوازینی شعار چې افغاني یې جلب کړی او ماسونېزم ته د ننوتلو لامل یې ګرځېدلی، هغه د آزادۍ، ورورولۍ او مساوات شعار و چې افغاني د دغسې غورځنګ تږی و. افغاني غوښتل چې د ظلم و استعمار مخه ونیسي، خلک آزاد کړي او عدالت رامنځ ته کړي، خو چې ماسونیت کې یې ډار ولید او پوه شو چې دوی د دغو سترو اهدافو له پاره کار نه کوي، ماسونېزم یې پرېښود او ملي غورځنګ کې ګډ شو.

استاد انور جندي [۱۹۱۷-۲۰۰۲م] وایي چې افغاني ځکه ماسونیت ته ننوتلی و چې د خپل دعوت ملګري په دغه حرکت کې سره راټول کړي، خو کله چې یې ولیدل چې هدف یې په کې نه تر سره کېږي، ماسونیت یې پرېښود او شرقي ملي غورځنګ یې پیل کړ.[83]

دوکتور محمد عماره وایي چې هغه مهال ماسونېزم ښه نوم درلود او د فرانسوي انقلاب شعارونه چې (آزادي، ورورګلوي او مساوات) وو، پورته کول او د اصلاح او بدلون په نامه پېژندل شوی و، دغه وخت کې د ماسونېزم خطر نه و درک شوی، کېدای شي همدا دلیل وي چې افغاني د خپلو اهدافو د تر لاسه کولو په موخه ورغی، خو کله چې یې له استعمار او مستبد حاکم نظام سره اړیکې ولیدې، دوی یې د خپل شعار پلي کولو ته وبلل، خو دوی ویل چې موږ په سیاست کې کار نه لرو، افغاني غوسه شو

۸۲- تېر مصدر، ۵۱م مخ.

۸۳- دعوه جمال الدین الافغاني، ۱٦۳م مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ډېرې ترخې خبرې یې ورته وکړې. له دې وروسته افغاني له ماسونیته واوت او شرقي ملي غورځنګ یې پیل کړ، چې په نتیجه کې یې عرابي انقلاب[84] رامنځ ته کړ.[85]

نو د مفکرینو او محققینو نظر دا دی چې علامه سید جمال الدین ماسونېزم ته د دې له پاره ننوتلی و چې خپل ستر هدف ته کار وکړي او دغه وسیله چې شعارونه یې د افغاني له داعیې سره تر ډېره موافق وو، افغاني یې جلب کړ، د خپل فکر د رشد او د خپلو همفکرانو د راغونډولو له پاره یې د استفادې ښه لار وبلله، خو چې ویې لیدل چې ماسونېزم له دغو اهدافو سره هېڅ کار نه لري، بلکې دغه شعارونه د خلکو د غولولو له پاره کاروي، ماسونېزم یې پرېښود.

## د الحاد تور

د څېړنې پر مهال مې د "دعوه جمال الدین الافغاني" په نامه کتاب، چې په وهابي حاکمه ټولنه کې یې لوستلو ته یې ډېر خلک هڅول، هم وموند. دا کتاب په دې ډېر جالب دی چې لیکوال یې علامه افغاني نه خوښوي او غواړي بد یې معرفي کړي، په دغه هڅه کې په ځینو سختو تناقضاتو کې ننوځي. تناقضات یې زښت ډېر دي، خو د الحاد له موضوع سره چې ربط لري، هغه دا دی چې لیکوال لومړی هڅه کوي چې افغاني ایرانی شیعه معرفي کړي. د دې له پاره چې افغاني خلکو ته شیعه ثابت کړي، زښت ډېر داسې دلایل هم وایي چې د توجه وړ هم نه دي. وروسته هڅه کوي چې ماسوني یې معرفي او بیا آن د افغاني د الحاد دلایل هم وړاندې کوي، چې دا اصلا یو ستر تناقض دی.

---

۸۴- عرابي انقلاب د احمد عرابي له خوا د ۱۸۸۲-۱۸۷۹م کالو کې د خدیو توفیق او استعمار پر ضد رامنځ ته شو.

۸۵- جمال الدین الافغاني، موقظ الشرق وفیلسوف الاسلام، 58-59م مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې هر څوک پوهېږي چې تشييع اسلامي مذهب دی، شيعه ګان خدای مني، د رسول الله رسالت مني او د اسلام په سترو عقايدو باور لري، کله چې يو څوک شيعه وي، هغه په همدې وخت کې څنګه ملحد کېدای شي؟! دلته يو ستر تناقض دی، ځکه شيعه خدای مني او ملحد نه خدای او نه دين! يو څوک يا بايد شيعه وي يا ملحد!

خو په دې هر معقول انسان پوهېږي چې دوی افغاني نه خوښوي، نو هر تور چې هر څوک يې پرې متهم کړي، دوی يې له تدقيقه پرته ترويجوي او غواړي خلکو ته يې د حقيقت په نامه وپېژني.

د ياد کتاب ليکوال ځان حقپال راپېژني او د علمي منهج ادعا هم لري. خو متاسفانه چې علمي منهج يې هېڅ نه دی مراعات کړی. يوه بښه بېلګه همدا د الحاد تور دی چې افغاني يې پرې متهم کړی. د ليکوال ستر دليل د حسن افندي تهمت دی!

د دې له پاره چې د دغه تور په حقيقت پوه شو، د حسن افندي او د افغاني د اختلاف کيسې ته سر ورښکاره کوو:

په ۱۸۷۱م کال کې، کله چې سيد جمال الدين په آستانه کې و، د ده پوهې او نبوغ ډېر خلک متاثر کړل، آن د سترو حکومتي کسانو په زړه کې يې ځای وموند. د هغه وخت شيخ الاسلام حسن افندي له افغاني سره سخته کينه په زړه کې رامنځ ته شوه، ځکه هغه وېرېده، چې سبا د ده ځای ونه نيسي، نو د افغاني د بدنامولو له پاره يې پلمه لټوله.

په همدغه وخت کې د "دار الفنون" مدير "تحسين افندي" له علامه افغاني وغوښتل چې صنعت ته د هڅونې په باب يو لکچر ورکړي. سيد معذرت وغوښت، ځکه چې پر ترکي ژبه يې پوره تسلط نه لاره، خو دا چې افندي شله شو، افغاني ومنله. کنفرانس ته ډېر ستر کسان رابلل شوي وو. د افغاني وينا د ټولو اوريدونکو په زړونو چنګ ولګاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شيخ الاسلام حسن فهمي افندي د افغاني له پوهې وېرېده، هغه په دې ډار کې و چې ستره دنده يې افغاني اشغال نه کړي، نو غوښتل يې له افغاني سره د خلکو مينه کمه کړي، په دغه غونډه کې يې پر افغاني داسې نيوکې وکړې چې اصلا له يوه عالم سره نه ښايي او د کينې او غچ آثار په کې ليدل کېږي. افغاني غوښتل قضيه محکمې ته لاړه شي او دواړه خواوې خپل دلايل ووايي، خو داسې ونه شوه او کومه لانجه چې رامنځ ته شوې وه، حاکم غوښتل چې له منځه يې يوسي، نو له افغاني يې وغوښتل چې آستانه پرېږدي.[86]

د حسن افندي دغه تور او انتقام چې د خپلې ځوکۍ د ساتلو له پاره يې پر افغاني لګولی و او هېڅ علمي اساس نه لري، د ياد کتاب ښاغلي ليکوال راخيستې او غواړي د افندي د تور په اساس افغاني ملحد ښکاره کړي! خو پر دې خبره هر عاقل پوهېږي چې افندي ولې دا کار وکړ او ليکوال يې ولې نقلوي او د دليل په صفت يې کاروي!

څومره په زړه پورې تور! او څه عجيبه الحاد! همدغه افغاني چې دوی يې ملحد بولي، د اسلامي عقيدې په هکله علمي کتابونه ليکلي! د دوکتور عماره خبره، چې دغه خلک له دغو کتابونو خبر هم دي او که نه، د افغاني له لوستلو مخکې د دغه ستر شخصيت "متخصصين" شوي!

داسې کسان هم شته چې پوهېږي چې افغاني موحد و او د اسلام سرلوړي يې هيله وه، خو د خپل مصلحت له پاره د هغه د فکر مخه نيسي او په هر تور يې متهموي، دوی ته يې په الحاد متهمول هم کومه غټه خبره او ايماني مشکل نه جوړوي! ښه بېلګه يې مستبد حاکمان دي چې د افغاني د فکر له عامېدو په وېره کې دي، ځکه چې افغاني د ولسواکۍ ستر مدافع دی. د همدغو مستبدينو درباريان پرته حقپالنې او دقته، غواړي پر

---

[86]- د افغاني سيد جمال الدين خاطرات، له ۴۵-۴۲م مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**افغاني هر لګېدلي تور ته د صحت جامه ورواغوندي!**
**د دغه تور په ځواب کې غواړم د افغاني په اړه د مسيحي ليکوال جرجي زيدان نظر راواخلم چې د افغاني اسلاميت او الحاد ورته هېڅ ارزښت نه لري. جرجي زيدان وايي:**
**"هر څوک چې د هغه د ژوند د کارنامو په اړه لږه مطالعه هم وکړي، پوهېږي چې هدف يې، د يوه خليفه تر مشرۍ لاندې د اسلامي نړۍ يو کول وو او په خپله دغه هڅه کې يې هېڅ دنيايي تمه نه لرله".[87]**

**پای**

**له پورتنۍ څېړنې دا پايله اخلو چې افغاني د استعمار خطر درک کړی و، همدا وه چې په مقابل کې يې کلک ولاړ و، پر ځان يې هر ډول مشکل تحمل کړ، خو د امت له پاره له هېڅ اصله تېر نه شو. د اسلامي امت يووالی او د سياسي اسلام خپرول او ورسره د امت اصلاح د افغاني ستره هيله وه، چې آن خپل ژوند يې په همدې لار کې ځار کړ او د جرجي زيدان خبره د همدغې هيلې له پاره يې آن واده هم ونه کړ او ساده ژوند ته يې ترجيح ورکړ! افغاني د امت په ستونزو پوه و او په خپل معقول نظر يې امت د ژغورنې ساحل ته رساوه، ځکه خو يې د سياسي اسلام دښمنان بد ويني او هغه څوک چې په تنګو اختلافاتو کې ګير دي، هغوی هم د افغاني افکار نه شي تحمل کولای، ځکه يې په ظالمانه تورونو متهموي. د مغرضينو تورونه مو هم وڅېړل او وموليدل چې بې اساسه او د مرض و غرض په نتيجه کې رامنځ ته شوي، چې نه علماً او نه عقلاً د منلو وړ دي.**

---

[87]- سيد جمال الدين افغاني وافغانستان، ۹م مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مراجع


- اشهابي، ضمير بن ادهم. *الكلام عن اصل السيد جمال الدين الافغاني في بعض المراجع الروسيه.*

http://www.iranoworld.ir/alafghani/texts/SJ_1_5_Shahabi.pdf

- افغاني، سعيد. د شرق نابغه. كابل، بيهقي كتاب خپرولو مؤسسه، ۱۳۵۵ش.
- جهمي، مانع بن حماد. *الموسوعه الميسره في الاديان والمذاهب والاحزاب المعاصره.* صيد الفوائد. ۱۷، مى، ۲۰۱۴ (د استفادې نېټه).

http://www.saaid.net/feraq/mthahb/

- حبيبي، عبد الحي. *نسب و زادگاه سيد جمال الدين افغاني*. كابل، موسسه انتشارات بيهقي، ۱۳۵۵ش.
- خوگياڼى، محمد امين. *حيات سيد جمال الدين افغاني*. كابل، مطبعه عمومي كابل، ۱۳۳۸ هجري.
- رزاقي، شاهد حسين. *سيد جمال الدين افغاني*. كابل، مستقل خپرندويه ټولنه، ۱۳۸۸ لمريز، ژباړن، عبد المالک همت.
- رشتيا، سيد قاسم. *سيد جمال الدين افغاني وافغانستان*. كابل، موسسه انتشارات بيهقي، ۱۳٦٦ش.
- رافعي، عبد الرحمن. *افغان سيد جمال الدين*. پېښور، دانش خپرندويه ټولنه، ۲۰۰۷م، ژباړن: عبد المحمد مموزى.
- زيدان، جرجي. *مشاهير الشرق*. مصر، ۱۹۲۲، دريم چاپ، دويم جلد.
- عماره، الدكتور محمد. جمال الدين الافغاني المفترى عليه. قاهره، دار الشروق، ۱۹۸۴م.
- عماره، الدكتور محمد. *جمال الدين الافغاني، موقظ الشرق وفيلسوف الاسلام*، قاهره، دار الشروق، ۱۹۸۸م، دريم چاپ.
- عماره، الدكتور محمد. *شخصيات لها تاريخ*، قاهره، دار السلام،

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۰۰۸م.

- فاضل، فضل الرحمن. *بیدارگر عصر*. کابل، وزارت اطلاعات و فرهنگ، ۲۰۰۸م.
- فوزي، مصطفی. *دعوة جمال الدین الأفغاني*، ریاض، دار الطیبه، ۱۹۸۳م.
- کشک، محمد جلال. *ودخلت الخیل الازهر*، قاهره، الزهراء للاعلام العربي، ۱۹۹۰، دریم چاپ.
- مخزومي، محمد باشا. *د افغاني سید جمال الدین خاطرات*، کوټه، صدیقي خپرندویه ټولنه، ۲۰۱۳م، دویم چاپ. ژباړه: محمدشاه ارشاد، د م- احساس زمند په زیار.
- نړیوال، رزاقي. *علامه سید جمال الدین افغان د پوهې او آزادۍ علمبردار*. کابل، بیهقي کتاب خپرولو مؤسسه، ۱۳۸۵ش.

هیرانو، جیونیتشي. *تجدید الفکر الاسلامي في العالم الاسلامي الحدیث*، مجله الدراسات العالم الاسلامي، ۲۰۱۱ مارچ.

# ((نیچریه))

## نخستین رسالهء چاپ شدهء سید جمال الدین افغانی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نگارش : فضل الرحمن فاضل

(c) ketabton.com: The Digital Library



«نیچریه» از مشهورترین آثار باقی مانده از سید جمال الدین افغانی به شمار می رود که بعد از نگارش به زودی اقبال چاپ یافت و نسبت به همه آثار سید از شهرت ویژه ای برخوردار گردید و مورد توجه خاص پژوهشگران قرار گرفت .

این رساله که عنوان اصلی آن « حقیقت مذهب نیچری و بیان حال نیچریان» می باشد، سید آن را در پاسخ نامهء مولانا محمد واصل مدرس ریاضی مدرسهء أعزّه حیدر آباد دکن (هندوستان) نگاشته است.

مولانا محمد واصل طی نامهء مورخ 19 محرم الحرام سال 1298 هجری قمری یعنی 138 سال قبل از امروز از سید می پرسد: « در این روز ها از تمامی هندوستان...صدای نیچر نیچر به گوش می رسد، در هر بلده و قصبه ، معدودی چند ملقب به نیچری یافت می شوند...از اکثری از این گروه پرسیدم که حقیقت نیچر چیست؟... آیا این طریقه منافی دین است یا آنکه به هیچوجه مخالفتی با دین ندارد... لکن هیچ یک از ایشان جواب شافی و کافی از این سوالات من ندادند و لهذا ملتمسم که آن جناب حقیقت نیچر و نیچری را مفصلا از برای بنده بیان فرمایند.»ص 11

سید جمال الدین افغانی در پاسخ نامهء آقای محمد واصل رساله ای می نگارد و آن را چنین آغاز می کند:

« نیچر عبارت است از طبیعت و طریقه نیچریه، همان طریقه دهریه است که در قرن رابع و ثالث قبل از میلاد مسیح در یونانستان ظهور نموده بودند و مقصود اصلی این طایفه نیچریه، رفع ادیان و تاسیس إباحت و اشتراک است در میانهء همه مردم.» ص 12

سید می افزاید:

«بلاریب که دین مطلقا سلسله انتظام هیأت اجتماعیه است و بدون دین

(c) ketabton.com: The Digital Library



هرگز اساس مدنیت محکم نخواهد شد و اولین تعلیم این طایفه ، برانداختن ادیان است.» ص 12

سید جمال الدین افغانی خلاصه هدفش را که همانا خلاصه رسالهء نیچریه نیز است؛ در چند جمله عربی چنین بیان می دارد:

« الدین قوام الأمم و به فلاحها و فیه سعادتها و علیه ندارتها و النیشریة جرثومة الفساد و ارومة الأداد و منها خراب البلاد و بها هلاک العباد.»ص13

دین مایهء استواری امت ها است و وسیله ایست برای خوشبختی ایشان و بر آن است بزرگی و بی همتایی ملت ها ونیچریه مکروب فساد است و ریشه اختلافات و ویرانی شهر ها وسبب مرگ بندگان.

سید جمال الدین از جمله ء نیچریان هندی کسی را نام نمی برد، اگرچه گفته میشود که سید این کتاب را در برابر اندیشه های سید احمد خان موسس کالج اسلامی علیگر (علی گڑھ ) نوشته است. اما در سراسر رساله نامی از او برده نشده است ؛ ولی در جایی از آن رساله ، با استفاده از ترکیب « مهذب الاخلاق» چنین اشارت شده است :

« و ممکن نیست شخصی نیچری بوده باشد با وجود این مهذب الاخلاق و صاحب امانت و صداقت و مروت و جوان مردی باشد !» ص 50

به گمان من - الله أعلم - سید به نحوی بر سید احمد خان می تازد، زیرا ارگان نشراتی یا لسان حال کالج اسلامی علیگر« تهذیب الاخلاق » نام دارد و سر سید احمد خان (1817-1898م) آن را در سال 1870 م تاسیس کرده است و در شش سال نخست نشراتی اش در آن بیش از دو صد مقاله نگاشته است. در همینجا بایست یادآور شوم که شاید میان سید جمال الدین و سر سید احمد خان که از سید 21 سال بزرگتر بود ، بحث و ملاقات صورت نگرفته باشد و سید از اهداف اساسی سید احمد خان که

(c) ketabton.com: The Digital Library



می خواست مسلمانان علوم جدید را بیاموزند ، از تمدن غرب آگاهی یابند با سلاح دانش بر ضد دشمن ، به مبارزه برخیزند ، آگاهی کامل نداشته است و دلیل دیگر می تواند این باشد که ثمرات آن تلاش های سر سید احمد خان در آن دوران، زیاد محسوس نبوده است . به هر ترتیب این بحث گسترده است و نباید حب سید جمال الدین افغانی ما را بر آن دارد که ابتکار ، فعالیت ها ، آثار به جامانده از سر سید احمد خان را دست کم گیریم . برای سر سید احمد همین کفایت می کند که پوهنتون اسلامی علی گڑهـ ، تاسیس شده به وسیله او بیش از یک قرن در خدمت بشریت به ویژه مسلمانان شبه قارهء هند قرار دارد و صد ها هزار تن از ازبرکت آن دانش اندوخته اند.

افغانستان هم باید قدر سر سید احمد خان را داشته باشد با وجودی که شماری از هم میهنان ما در پوهنتون اسلامی علی گڑهـ ، دانش اندوخته اند ، نوهء او سر راس مسعود همراه با علامه اقبال لاهوری و مولانا سید سلیمان ندوی در سال 1312 هجری شمسی به دعوت محمد نادر شاه به کابل سفر کردند تا نصاب تعلیمی نهاد های آموزشی افغانستان را تهیه دارند.

مطالعه رسالهء نیچریه به ما می رساند که سید از مکتب های فکری عصر خویش و تئوری های مکتب های سیاسی ان زمان مطالعه و آگاهی داشته است. در دورانی که سید رساله اش را می نگارد هنوز داروین (1809-1882م) زنده است و تئوری اش مشهور به داروینیزم ؛ مورد توجه دانشمندان آن زمان و از قراین بر می آید که سید کتاب « اصل انواع» داروین را که نخستین بار در سال 1859 از چاپ برامد و چندین بار تجدید چاپ شد ، مطالعه کرده باشد و یا حد اقل از محتویات آن آگاهی داشته است. از همینرو سید از کتاب داروین و نظریه او چنین یاد می کند:

(c) ketabton.com: The Digital Library



« وسید این طایفه داروین می باشد و او کتابی تالیف کرده در آن بیان می کند که اصل انسان میمون بود.» ص 17

سید در رد تئوری او با استهزاء می نگارد:« وبر حسب زعم این شخص ممکن است که بعد از مرور قرون و کرور دهور، پشه فیل گردد و فیل ها تدریجا پشه شود.!» ص 18

سید در این رساله اش از کمونیزم ، سوسیالیزم و نیهلیزم یادآوری می کند ؛ اما یادی از مارکس ( 1818- 1883م) که هنوز زنده است و از آثار و کتاب های باقی مانده از وی نمی کند.

سید جمال الدین علاوه بر اینکه بر مکتب های فکری اروپایی می تازد، باطنیان، اسماعلیان و بابی ها را گمراه شمرده ، اشتباهات شان را بیان می دارد و در آخر رساله اش نتیجه می گیرد که : « برخود واجب دانستم که رساله ای به انفرادها در این امر وضع کنم و در آن بیان کنم که آن مدینه فاضله که حکما به آرزوی آن جان سپردند، هرگز انسان را دستیاب نخواهد شد، مگر به دیانت اسلامیه » ص 63

## زبان نیچریه:

اینجانب چند سال قبل که در مورد آثار سید و گوشه هایی از اندیشه های او کتابی به نام «بیدارگر عصر» تالیف کرده بودم، در آن یادآور شده بودم که نوشته های سید متاثر از زبان مادری اش پشتو و زبان درسی اش عربی است که آن را پشتو ځپلی و عربی ځپلی خوانده بودم که با مطالعه نیچریه، به آن به خوبی پی می بریم که فارسی موصوف هم متاثر از فارسی کابل است که بعد از تبعید از کنر ؛ در کابل اقامت گزیده و فارسی را در آن فراگرفته است البته با تاثیر زبان پشتو در آن .

در « بیدارگر عصر» ضمن مقایسه میان یک نوشته منسوب به سید جمال

(c) ketabton.com: The Digital Library



الدین و متن نیچریه چنین نوشته بودم :
به خاطر مقایسه میان سبک نبشته منسوب به سید (نامه به مراغه ای ) و آنچه سید خود نگاشته است و در انتساب آن به سید جمال الدین شکی نیست ، رساله «نیچریه» را ورق می زنیم .همان رساله ای که در آن واژه های عربی به کثرت استعمال شده و سبک خاص سید را که زبان اصلی اش فارسی نیست بلکه زبان مادری اش پشتو یکی دیگر از زبان های رسمی افغانستان است ، آشکار می سازد و با بهره گیری از اصطلاح وضع شده توسط پوهاند مجاور احمد زیار، می توان گفت که فارسی وی «پشتو ځپلی (زپلی) و عربی ځپلی (زپلی)» است یعنی فارسی ای که از پشتو و یا عربی ،متاثر است .

به رسالهء نیچریه اثر سید رو می آوریم و با هم می خوانیم :

«... از این است که ارباب تاریخ ابتدا انحطاط سلطه مسلمانان را محاربه صلیب میگیرند و چنان لایق بود که آغاز ضعف مسلمانان و تفرق کلمه آنها را از شروع آن تعلیمات فاسده و آراء باطله بگیرند .

مخفی نماند بابیهایی که در این زمان اخیر در ایران یافت شدند و هزار ها خون عبادالله را بنا حق ریختند کوچک ابدال های همان نیچریه های الموت و چیله ها یعنی کچکول بردار های همان طبعیین گرد کوه میباشند و تعلیمات آنها نمونه تعلیمات باطنیه است پس باید منتظر شد که فی ما بعد چه تاثیر های دیگر از اقوال آنها در امت ایرانیه یافت خواهد شد .» [1]

در کتاب گرد آوری شده توسط استاد خسرو شاهی در پاورقی در شرح«چیله ها یعنی کچکول بردارها» چنین امده است :.

« چیله ها یعنی کچکول بردارها : کچکول بردارها شاید همان کشکول بردارها باشند ، و مراد سید، احتمالا بقیه السیف یا بازماندگان باطنیان

---

[1]- رساله نیچریه، اثر سید جمال الدین افغانی، صفحه 45

(c) ketabton.com: The Digital Library



باشند .» پاورقی صفحه 45 رساله نیچریه .

مطلب بالا را من به دو دلیل آوردم یکی بر سبیل تصادف از میان رساله نیچریه که در نگارش آن به قلم سید، جای شکی وجود ندارد ، انتخاب نمودم تا خواننده گان میان دو نبشته سید ، یکی نامه به حاج مستان مراغه ای و دیگر نبشته سید، در پاسخ مولوی محمد واصل هندوستانی، مقایسه نمایند تا ببینند که این دو نبشته از نگاه سبک با هم چقدر تفاوت دارد ! و دلیل انتخاب دیگر از متن نیچریه برای من این بود که سید ، نیچریه را در پاسخ نامه ای نگاشته است که آن بنده خدا، پرسش خود را در 22 دسمبر سال 1880 میلادی مطرح کرده است و پاسخ سید هم بایست در همان روزهای نزدیک باشد و نامه به سید مستان مراغه ای هم طوری که از تاریخ درج شده در پایان آن پیدا است 25 دسامبر سال 1881 میلادی می باشد ، بناء فاصله زمانی آن دو ،در حدود یکسال است و هر کسی که با خواندن و نبشتن سر و کار داشته باشد ، یقینا درک می کند که در اسلوب نگارش یک شخص، در مدت یکسال اینقدر تحول رونما نمی گردد و اینقدر تفاوت مشاهده نمی شود . زیرا نامه به سید مستان مراغه ای به اصطلاح برادران ایرانی، مال اواخر قرن 19 معلوم نمی شود.شاید 60 یا 70 سال قبل نگاشته شده باشد .

در مورد« چیله ها یعنی کچکول بردارها» استاد خسرو شاهی یا کدام برادر ایرانی که پاورقی نگاشته ، شاید از خوشی در جامه نمی گنجیده که مشاهده نموده است ،سید جمال خودش «چیله ها» را با آوردن «کچکول بردارها» توضیح یا شرح داده است بناء نیازی نیست تا آن را بار دیگر شرح دهند، اما دقیق این است که نمی توانند آنرا شرح دهند ، اگر من و یا یک نفر افغان دیگر ،این واژه را شرح ندهد[2] ، برای بیگانگان شرح آن

---

[2]- برای اینکه جمله بالا مبالغه آمیز به نظر نیاید، خواننده گان را به مطالعه بحثی تحت عنوان "

(c) ketabton.com: The Digital Library



دشوار است ، اما چون کچکول بردارها توسط سید شرح داده شده است ، در شرح آن ، پاورقی نویس ، می نگارد که شاید کشکول باشد . برای هیچ افغان واژه« شاید» در این مساله گنجایش ندارد همانقدر که آنان یقین دارند شیر سپید است به همان اندازه به یقین می دانند که کچکول ،کچکول است و کچکول ملنگ را همه کس دیده و برداشت درستی از آن

---

پرزیوان" که در پایان کتاب " تاریخ و زبان در افغاانستان" نوشتۀ استاد نجیب مایل هروی، آمده است دعوت می نمایم، در کتاب یاد شده حدود 20 صفحه ، به شرح این جمله اختصاص یافته است که " مرد پشتو زبانی گفته است که زنی " پارسی وان" دارد" که جمله ای است نهایت واضح و روشن، آن مرد مرد پشتون گفته است که همسرش فارسی زبان است، نه پشتو زبان، دکتور محمود افشار در این ارتباط، نخست گمان برده است " پارسی وان" را ، راوی انگلیس " پرزیوان" شنیده و شاید معنای " برزیگر" یعنی دهقان باشد و باز احتمال داده است که ان مرد " پارسی دان" گفته باشد ( با دال نه واو) آقای اسماعیل نواب صفا، نبشته است " پرزیوان" کسی است که شغل شاغل او کشاورزی و بزرگری است و آقای سید محیط طباطبائی در آغاز گمان برده است که ممکن است " پارسی وان" از دو جزء "پارسا" و " وان" ساخته شده باشد، یعنی زن حافظ عفت، تا اینکه استاد نجیب مایل هروی، به سراغ این بحث رفته و جان گپ و مفهوم اصلی را چنین بیان کرده است که:" پارسی وان" به معنی تاجک است و پارسی زبان نه پارسی دان، زیرا پارسی زبان بودن با پارسی دان بودن فرق دارد و پشتو زبان ها به پشتونی که فارسی میدان " پارسی وان" نمی گویند، آقای حسین داودی در اخرین اجتهاد گفته است : نقاطی که زبان شان فارسی است و دارای دو مذهب شیعه و سنی هستند، اصطلاحاً به مردم شیعه مذهب " پارسی وان" می گویند.

آقای احمد اقتدار هم در این بحث شامل شده و داستان سفرش را شرح داده است که در راه سفر از جوانی پرسید است که : " سرخسی هستی" او گفته است : " مو پرزیوانم" چوپان های دیگر گفتند : " اوغون" است یعنی افغانی است، اما خود او باز لب به سخن کشود و با پرخاشی آرام گفت : " پرزیوانم، عمری نه ام" و با ذکر این داستان به این نتیجه می رسد که " پرزیوان" یعنی شیعه مذهب، آرای وارد شده در این پینوشت ، به استثنای نظر دقیق و منطقی استاد نجیب مایل هروی که از افغانستان است، آرای دیگر مربوط به همزبانان ایرانی ما است، که عدم اگاهی شان را با وجود اهل تحقیق بودن در اصطلاحات فارسی میهن ما، آقتابی میکند.

آنچه در بالا درج گردید، فشرده نظریاتی است پیرامون توضیح واژه " پارسیوان" در کتاب " تاریخ و زبان در افغانستان" ، صفحات 167-189

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دارد ...**

**شرح دیگری که استاد خسرو شاهی یا برادر ایرانی دیگری نگاشته این است «مراد سید احتمالا بقیه السیف یا بازمنده گان باطنیان باشد » به این معنی که چیله ها یا کچکول بردارها ، بقیه السیف باطنیان اند .آنرا هم با واژه« احتمالا» بیان می دارند ، اما من میگویم که واژه «احتمال» هم در اینجا بی مورد است . مفهوم آنرا هر افغان مثل سید جمال الدین افغانی می داند، صد در صد، مثلی که سید جمال الدین از آن اراده کرده است .برای نزدیک ساختن این مفهوم برای برادران ایرانی ،عرض می دارم که در افغانستان یکی ملا است و دیگر چلی که دستیار ملا است و در خدمت ملا و نزد ملا هم درس می خواند ، بناء حرف سید به این معنی است که هر گاه ما اسماعیلیان یا باطنیان دژ « الموت» را ملا فرض کنیم یا ملنگ ،بابی های موجود در ایران مثل چلی های ایشان و یا کچکول برداران ایشان ،به حساب می رود ، در فهم و دانش ، در رتبه و حتی موقف اجتماعی و عمر .[88]**

**طوری که همزبانی قرن ها میان افغانستان و ایران با عث نشده است که واژه های مستعمل در افغانستان را پژوهشگران آثار سید ، حتی آنانی که**

---

[88]- واژه چپله که اصل هندی دارد تا کنون هم در میان پشتون ها، به ویژه در آن سوی خط دیورند، کار برد فراوان دارد. به مثل های زیر توجه فرمایید:

ملا هم ناست و او چیله گان یی هم ، ( ملاهم نشسته بود و چلی هایش نیز)

خپله هم راغلی و، او خبل چیله گان هم راوستلی ؤ ( خودش هم آمده بود و چلی هیاش را هم آورده بود)

واژه چیله، مرادف واژۀ " چمچه" هم کار برد دارد. مثل:

" ته د ده دوره چیله کیژه مه " یا " ته د ده دو مره چمچه کیژه مه" ( تو اینقدر فرمانبردار و قاش او مشو!)

در زبان اردو هم میگویند که:

" جیسی چیله، ویسی گرو" یعنی این شاگرد و همان استاد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم نیم قرن در زمینه پژوهش کرده اند ،سال ها بعد ،مفاهیم آن را بدانند و در تفسرآن از واژه های «شاید» و«احتمالا »کار می گیرند ، چگونه سید که چند سال را به ادعای آن ها، در افغانستان سپری کرده است، آن واژه ها را به صورت درست ودقیق آن ، به کار می برد ، اگر ایرانی می بود حتما کشکول مشهور را به کار می برد و عوض چلی، طلبه .وطالبچه را .

*( برای مطالعهء ادامهء این بحث به مقالهء اینجانب{ «ایرانی» نبودن سید جمال الدین در آیینهء نامه ها و آثار خودش}، که در سایت های انترنیتی و کتاب بیدارگر عصر آمده است، مراجعه شود.)*

کلمات و واژه های دیگری هم وجود دارد که سید در آثار خویش به کار برده است ؛ اما همزبانان ایرانی ما ، متاسفانه آن را نفهمیده اند و مجبور شده اند که آن را مثل « چیله» شرح دهند و به اصطلاح اجتهاد کنند و باور داشته باشند که اگر درست بود دو اجر و اگر اشتباه کردند یک اجر!

سید می نویسد: « اکهوریان بعد از تعلیم و تعلم اگر یکی از اهل ملت خود را ببینند فی الحال باد قولنج کبریاء ایشان را چنان می گیرد که جمیع اعضاء و جوارح حتی جفون هم از حرکت باز می ایستد.»

همزبان ایرانی ما در شرح قولنج می نویسد : مرضی است معدی که بسیار دردناک می باشد.

شکی نیست که همه بیماری ها دردناک اند ؛ اما قولنج را معدی گفتن به این معنی است که هدف سید را نفهمیده اند. معدی یعنی مسری یا سرایت کننده؛ آیا قولنج از یک شخص به دیگری سرایت می کند !؟ و اگر آن را معدی یعنی مربوط به بیماری های معده هم اراده کرده باشند، خطا کرده اند و لاجرم ، صرف یک اجر را دریافت داشتند!!

یا اینکه «شکنبه» را در این گفته سید که : « هنوز قدم از شکنبه خود بیرون ننهاده اند» به « قالب» ترجمه کرده اند که دقیق نمی باشد ، هر

(c) ketabton.com: The Digital Library



**افغان معنای آنرا آن طوری که سید هم وطن شان اراده کرده است ، می دانند و درک می کنند.**

**مثال های دیگری هم از این قبیل فراوان است و ثابت می سازد که فارسی سید، فارسی افغانستان است.**

**یکی از نشانه های دیگر تاثیر زبان پشتو را بر زبان فارسی سید درنوشته هایش ، در ترکیب های عدد و معدود به خوبی می توانیم مشاهده کنیم.**

**در زبان فارسی و کسی که زبان مادری اش فارسی باشد اگر «عدد» بیش از یک باشد، یعنی جمع باشد، «معدود» را مفرد استعمال می کند، اما در زبان پشتو اگر عدد جمع باشد، معدود را نیز جمع استعمال می کنند و در زبان عربی عدد و معدود ، بحث و قاعده خاص خود را دارد. به این شرح کوتاه : در عددهای های یک و دو مطابقت و در اعداد 3- 10 معدود، مفرد و مجرور می باشد. با درنظرداشت تانیث و تذکیر معدود یعنی اگر معدود مذکر باشد عدد مؤنث می آید و اگر معدود مؤنث بود عدد مذکر می آید مثل اربعة رجال و ست قصص. و از 11- 99، معدود مفرد ومنصوب می آید بادرنظر داشت مطابقت وعدم مطابقت جزء اول و جزء دوم ترکیبی از حیث تانیث و تذکیر مثل احد عشر کوکبا. اثنتا عشرة عینا. اربعة عشر کتابا. خمس عشرة کراسة. و در عددهای صد وهزار معدود مفرد و مجرور می باشد. مثل : مائة عام و الف سنة . اما در زبان پشتو مثلا گفته می شود « اوه کتابونه» یعنی هفت کتاب. این تاثیر زبان مادری سید را در نبشتهء او در متن رسالهء «نیچریه» به وضوح مشاهده می کنیم.**

**مثلا سید می نویسد:**

**«... خون هزار ها بیگناهان را به دسیسه ها و حیله ریختند.» ص 36**

**«...وکرسی مجد و شرفش سرنگون گشته و در بادیهء وحشت چون سایر حیوانات با هزار آلام و اسقام در غایت خوف و بیم به سر خواهد**

(c) ketabton.com: The Digital Library



برد.»

ویا می گوید:

« .. و همچنین مخفی نباشد که هزارها مصایب و هزارها بلایا و هزار ها رزایا و هزار ها آفات در هر زاویه ای از زوایای عالم کمین گرفته...»ص31

در جای دیگری در همین رساله نیچریه می نویسد:

..«.. و از آن بود که جماعتی از صعالیک فرنگ در قرن خامس به اراضی شامیه هجوم کرده صدها شهرها و قریه ها را خراب نمودند و خون هزاران را رایگان ریختند و قریب دو صد سال مسلمانان از دفع آن صعالیک عاجز ماندند.»

در اینجا همچنان دیده می شود که سید برخلاف ایرانیان که « دوصد» را « دویست» می نگارند، سید مثل اهالی کابل « دوصد» نبشته می کند.

## چاپ نیچریه و ترجمه های آن :

گفتیم نیچریه را سید در پاسخ مولوی واصل در محرم الحرام 1298 هجری قمری برابر با دسمبر 1880 نگاشته است . این کتاب در همان سال 1298 قمری (1881م) البته چند ماه بعد از نگارش در همان حیدر آباد دکن ، زیر نظر شخص سید، نخستین بار در مطبعه سنگی به چاپ رسیده است . و به خاطر اهمیتی که داشته است و یا شهرتی که کسب کرده است باردیگر درهمان سال 1881 م یا 1298 ق به همت حاج محمد حسن تاجر کازرونی مجددا در بمبئی ، به چاپ رسیده است.

چاپ سوم آن نیز دوسال بعد ، به همت یک تن ایرانی دیگر به نام فخر الحاج و العمار الشیخ عبد الوهاب شیرازی در رجب المرجب سال 1300 هجری قمری در بمبئی ، در مطبعهء حسینی جدید، به نشر رسیده است.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**در آغاز آن به گونهء مقدمه ، آنچه را که مدیر روزنامه فرهنگ چاپ اصفهان در شماره 101 مورخ رجب المرجب سال 1298 ق نشر نموده، درج گردیده است.**

**مدیر روز نامه فرهنگ که چند ماه بعد از نشر رساله «نیچریه» یک نسخه آن را سید جمال الدین برای موصوف می فرستد ، او در روزنامه خویش می نگارد که قصد داشته است وی کتابی در خصوص تعلیمات باطله و آنچه منافی تمدن و مزیل اخلاق حسنه است ؛ بنگارد ، اما به واسطه گرفتاری ها به این هدف نرسیده است و با دریافت رساله سید در روزنامه خویش می نگارد که : « لیکن امروز هزار گونه سجدات شکرمی نمایم که در ایام حیات خود به وجود حکیمی دانشمند و سلیم الذوق آگاهی حاصل کردم که بدون کم و زیاد در اقصی بلاد هندوستان تمام عقاید این خاکسار را بیان کرده و به رشته تحریر دراورده است.....عالم تمدن را به وجود این حکیم دانشمند و وحید خردمند تبریک وتهنیت می گویم و بر خود فرض می دارم که این رساله او را باید فی الحقیقه کتاب مقدس شمرده در ذیل فرهنگ متدرجا به طبع رسانم.....مصنف این رساله فخر الحکماء المعاصرین فاضل یگانه و عالم فرزانه جمال الدین الحسینی است این رساله را در ماه محرم هذه السنه به طبع رسانیده با همین پسته اخیر، از حیدر آباد دکن هندوستان برای این بی مقدار به ارمغان فرستاده است.»**

**اما من تا هنوز نمی دانم که آیا مدیر روزنامه « فرهنگ» به وعده اش وفا کرده و «نیچریه» را به گونه پاورقی در روزنامه اش نشر کرده است و یا خیر؟ این امر به تحقیق بیشتر نیاز دارد.**

**چاپ چهارم متن فارسی نیچریه از روی چاپ بمبئی در سال 1303 خورشیدی یعنی 90 سال قبل در تهران در چاپخانه شرق به نشر رسیده**

(c) ketabton.com: The Digital Library



است و چاپخانه دین و دانش در تبریز آنرا تحت عنوان نیچریه یا ناتورالیزم در سال 1328 هجری شمسی ، مجددا به نشر رسانده است و برخی از نویسندگان ایرانی آنرا بار بار با سایر آثار سید درمجموعه هایی به چاپ رسانده اند ازجمله آقای مرتضی مدرس چهاردهی که از پیروان اندیشه های سید است کتابی دارد به نام « آراء و معتقدات سید جمال الدین افغانی» که بنگاه نشراتی اقبال آن را در سال 1337 هجری شمسی در تهران به چاپ رسانده است ومدرس چهاردهی رساله نیچریه سید را در آن مجموعه از صفحات 23- 63 جای داده است. همچنان یکی از مخالفان اندیشه های سید که در مورد سید ، نظر نیک ندارد ، به نام علی اصغر حلبی رساله نیچریه را در ضمن کتابش « زندگی و سفرهای سید جمال الدین اسد آبادی» در سال 1356 شمسی به چاپ رسانده است . اما بعد از پیروزی انقلاب اسلامی ایران ، در آن سرزمین ، به ویژه از طرف علمای حوزه های فقهی ، توجه به سید بیشتر شده است و بر « اسد آّبادی» بودن وی تبلیغات بیشتر و گسترده ای صورت گرفته است . یکی از کسانی که بیش از نیم قرن به نشر آثار و افکار سید جمال الدین افغانی می پردازد استاد سید هادی خسرو شاهی می باشد که مجموعه آثار سید را در شش مجلد و در بیش از 3000 صفحه، در تهران و قاهره به نشر رسانده است . این مجموعه که به نام « الآثار الکاملة» مشهور است حاوی متن فارسی نیچریه و ترجمه عربی آن « الرد علی الدهریین» نیز می باشد.

سوگمندانه بایست یاد آور شد که در افغانستان عزیز ما آثار سید کمتر اقبال چاپ یافته و حتی در دوران جهاد هم به آثار او توجه صورت نگرفته است . ترجمه نیچریه به زبان پشتو ، برای نخستین بار توسط آقای میر سعید بریمن صورت گرفت و در سال 1344 هجری شمسی یعنی هشتاد و

(c) ketabton.com: The Digital Library



چهار سال سال بعد از چاپ نخست متن فارسی آن در هندوستان، و چهل و یک سال بعد از ایران ، در کابل اقبال نشر یافت و در سال 1355 هجری شمسی به مناسبت بزرگداشت از هشتادمین سالگرد وفات سید جمال الدین افغانی ، برای نخستین بار متن فارسی نیچریه ( 97 سال بعد از چاپ هند) در مجموعه ای به نام «گزیدهء آثار سید جمال الدین افغانی » به اهتمام دکتور سید مخدوم رهین ، به نشررسید . چون نیچریه ، به گونه مستقل به چاپ نرسیده بود ، کمتر کسی متوجه آن شد و حتی در همین سیمینار بزرگداشت ، متن «نیچریه » به زبان پشتو نیز به چاپ نرسید و صرف ترجمه غیر کاملی از « العروة الوثقی » به زبان های پشتو وفارسی نشر شد. شاید سیاست های حاکم آن دوران باعث شده باشد تا کتابی که بر ضد ماتریالزم و مادیگرایی است ، به گونه مستقل و قابل دید ، نشر نگردد.

اهمیت نیچریه در هندوستان آن زمان از این پدیدار می گردد که مولوی سید عبد الغفار شهباز عظیم آبادی البهاری به زودی کتاب سید را به زبان اردو ترجمه می کند و در سال 1883 م دوسال بعد از نشر آن به زبان فارسی ، ترجمه اردوی آن در مطبعه سنگی در شهر کلکته از چاپ می براید .

قابل یادآوری می داند که این مولانا سید عبد الغفار شهباز عظیم آبادی از جمله پیروان و دوستداران اندیشه سید جمال الدین افغانی است که سید را« حبر فهامه و فیلسوف علامه » می خواند و اندیشه های اورا به « ثاقبه» متصف می سازد و مجموعهء مقالات فارسی سید را که در نشرات هندوستان آن زمان قبلا به چاپ رسیده ، همه را در یک مجموعه به نام «مقالات جمالیه» در سال 1884 م در کلکته به نشر می رساند. تصادف نیک روزگار همین است که تاریخ نشر مقالات جمالیه 15 اگست سال

(c) ketabton.com: The Digital Library



1884 م است که بعد ها 63 سال بعد هندوستان در همین 15 اگست ، به نعمت آزادی دست می یابد.

نیچریه را بعد ها در سال 1349 هجری قمری ( 1309 ش) مولوی عبد الحنان نیز به نام « نیچریت» به زبان اردو ترجمه نموده و از طرف کتابخانه « آصفیه» در لا هور به چاپ رسانده است و مطبعه شعر وادب لاهور هم به نام «رد نیچریت» آن را طبع مجدد نموده و آقای مبارزالدین از دوستداران سید که نبشته های سید جمال الدین را به زبان اردو گرد آوری کرده است ، نیچریه را نیز در کتابش « مقالات جمال الدین افغانی» درج کرده است.

اما به نظر من مهمترین ترجمه رساله نیچریه همانا ترجمه عربی آن رساله توسط شاگرد مصری سید ، شیخ محمد عبده است.

سید بعد از ین که رساله نیچریه را در هندوستان به نشر می رساند یک نسخه آن را به شاگردش شیخ محمد عبده که ایام تبعید را در بیروت به سر می برد می فرستد.

در همین دوران عارف ابوتراب خادم سید نیز از جمله تبیعید شده گان به بیروت بود . با رسیدن و دریافت رساله نیچریه در بیروت ، شیخ محمد عبده تصمیم می گیرد تا به کمک ابوتراب عارف آنرا از زبان فارسی به زبان عربی ترجمه کند.

نیچریه تحت عنوان «الرد عالی الدهریین» در سال 1303 قمری1886 م یعنی 11 سال قبل از وفات سید جمال الدین در بیروت با مقدمهء مفصل شیخ محمد عبده که حاوی زندگینامهء سید جمال الدین افغانی نیز است ، به نشر می رسد و همه کسانی که زندگینامهء سید را تحریر کرده اند، از همین مقدمه استفاده کرده اند و این مقدمه مورد پذیرش سید نیز بوده است . شیخ محمد عبده در مقدمهء الرد علی الدهریین ، تحت عنوان «

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیرة صاحب هذه الرسالة الشیخ جمال الدین الافغانی» سید را متولد قریه « اسعد آباد» خطه « کنر» می خواند. مقدمهء شیخ محمد عبده 12 صفحه را با خط ریز و در 280 سطر و در هر سطر حد اوسط 13 کلمه احتوا کرده است.. این رساله که به نام « الرد علی الدهرین» مشهور گردیده است عنوان اصلی آن طوری که شیخ محمد عبده آن را به چاپ رسانده چنین است : « رسالة فی إبطال مذهب الدهریین و بیان مفاسدهم و إثبات أن الدین أساس المدنیة و الکفر فساد العمران»

و درمعرفی آن چنین آمده است :

من تألیف حضرة الامام الشهیر الأستاذ السید جمال الدین الحسینی الأفغانی نفع الله بعلومه، نقلها من اللغة الفارسیة الی اللغة العربیة العلامة الأستاذ الشیخ محمد عبده أفندی المصری بمساعدة عارف افندی ابی تراب الأفغانی»

سپس محل چاپ و تاریخ آن چنین تسجیل شده است:

طبعت فی بیروت سنة 1303

در اینجا قابل یادآوری می داند که رسالهء نیچریه در ایامی به نشر رسیده و به محل تولد و تبار سید اشارت صورت گرفته است که او جدیدا استانبول را ترک گفته و از طریق بوشهر وارد ایران گردیده بود، یا مهمان ظل السلطان (فرزند ناصر الدین شاه قاجار و یکی از مدعیان سلطنت قاجاری در اصفهان) بود و یا در تهران با ناصر الدین شاه دیدار می کرد و یا هم در منزل الحاج حسن امین الضرب به سر می برد و آمادگی سفر مسکو را می گرفت.

متاسفانه این مقدمه مهم را کسانی که بعدا « الرد علی الدهریین» را از روی نسخهء شیخ محمد عبده یا چاپ بیروت تجدید چاپ کرده اند ، حذف نموده اند ، حتی در چاپ هایی که توسط عبد العلیم صالح در سال

(c) ketabton.com: The Digital Library



1312 ق در زمان حیات سید و بعد ها زیر نظر علامه سلجوقی در سال 1960 م و در سال 2002 م زیر نظر استاد خسرو شاهی در قاهره نشر شده، درهر سه چاپ و شاید چند چاپ دیگر این مقدمه ؛ با وجود اهمیت تاریخی آن و مهمتر از آن ؛ اهمیت و شخصیت نویسندهء آن حذف گردیده است . ومن آرزو دارم خداوند برای من توفیق عنایت فرمایاد تا « الرد علی الدهریین » را به اساس چاپ نخستین یا نسخهء شیخ محمد عبده در قاهره ، به چاپ برسانم و اگر ناشری بیابم آن را در بیروت نیز به چاپ خواهم رساند . إن شاء الله!

«الرد علی الدهریین» طوری که در بالا اشارت شد یک بار دیگرهم در حیات سید جمال الدین درسال 1312 ق یعنی دو سال قبل از وفات سید توسط عبد الحلیم صالح در قاهره به طبع رسیده است . در سال های 1902 ، 1925 ، 1935 و 1955 بارها تجدی چاپ شده است و یکی از چاپ های مشهور آن همان چاپی است که با مقدمه و تلاش علامه صلاح الدین سلجوقی در سال 1960 م و به کوشش دوستدار سید، استاد محمود ابوریه از طرف « دار الکرنک» اقبال چاپ یافته است.

نیچریه را محمد منیر یعقوب افندی زاده به ترکی ترجمه نموده و اکنون در پوهنتون استانبول در مجموعه « یولدوز» نسخهء خطی آن به الفبای عربی یا خط عثمانی موجود است و عزیز آق پناره تحت عنوان « طبیعتچی لیغی» آنرا به ترکی ترجمه نموده و در سال 1956 م در انقره به الفبای لاتینی ، نشر شده است.

نیچریه به مثابه اثر مهم علامه سید جمال الدین افغانی مورد توجه اروپایی ها هم بوده است گمان می رود که نخستین ترجمه انگلیسی نیچریه از روی متن ترجمهء عربی آن صورت گرفته باشد از همینرو به نام Refutation of the materialists مشهور شده است ؛ اما ترجمه دقیق آن

(c) ketabton.com: The Digital Library



**از روی متن فارسی نیچریه ، توسط سید جمال الدین شناس مشهور امریکایی بانو نکی کدی *Nikki R. Keddie* تحت عنوان دقیق و اصلی آن یعنی the truth about neicheri sect and an explanation of Neicheris در مجموعه ای به نام نبشته های سیاسی و دینی سید جمال الدین که به نام « پاسخ اسلامی به امپریالیزم» یا An Islamic Response to Imperialism مشهور است، به زبان انگلیسی ترجمه گردیده است . این کتاب در سال 1968 م از طرف پوهنتون کالیفورنیا به چاپ رسیده است.**

**متن فرانسوی نیچریه هم در سال 1942 بیست و چند سال قبل از ترجمه پشتوی آن و سی و پنج سال قبل از اینکه در کابل به فارسی نشر شود ، در پاریس به زبان فرانسوی ترجمه ونشر گردیده است.**

**این مقاله را که می دانم کاستی هایی دارد در پهلوی مصروفیت های دیگر به خواهش برادر محترم آقای محمد حسین میاخیل نگاشتم ، خداکند مورد استفاده قرار گیرد.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



مراجع :

1- نامه ها و اسناد سیاسی تاریخی ( مجموعهء رسائل ومقالات) گرد آورنده : سید هادی خسرو شاهی . ناشر مکتبة الشروق الدولیة - چاپ قاهره 2002 م

2- الرد علی الدهریین چاپ 1303 قمری بیروت ( نخستین چاپ ترجمه عربی)

3- الرد علی الدهریین چاپ 1312 ق در قاهره

4- الرد علی الدهریین چاپ 1960 م قاهره

5- بیدارگر عصر ، چاپ چهارم - جاکارتا 29 سرطان 1390 ش

6- متن فارسی نیچریه چاپ سال 1300 قمری در مطبعه حسینی جدید - بمبئی .

7- ASYYID AL-DIN AL-AFGHANI ( AN ANNOTATED BIBLIOGRAPHY)

(تدوین کننده عبد الله البرت قدسی زاده چاپ پوهنتون لیدن - هالند 1970 م ( بخش هایی از این کتاب را تحت عنوان کتابشناسی توصیفی سید جمال الدین ، اینجانب ترجمه کرده ام ؛ اما تا کنون چاپ نشده است.)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سيد جمال الدين افغاني او د ختيځ او لوېديځ مخامختيا

ليکوال: سيد بهاو الدين مجروح

(c) ketabton.com: The Digital Library



سید جمال الدین افغاني: د معاصرې نړۍ یو اسرار امېزه، په زړه پورې او له معنی څخه ډکه څېره ده؛ اسرار امېزه له دې کبله، چې د هغه د ژوند ځینې مرحلې تر شک و تردید لاندې راځي او د البرت حوراني په وینا: (( هغه خپل ځان ته افغان وایه او دښمنان یې هغه ایرانی بولي.))

سربېره پر دې لا هم د هغه د ژوند او هڅو ځینې مهم اړخونه لکه څنګه، چې حتمي برېښي؛ په پوره توګه روښانه شوي نه دي.

په زړه پورې والی یې په دې کې دی، چې هغه د لرغونو فلاسفه وو لکه ابن سینا او ابن رشد او هم په نوې معنی د یو سیاسي متفکر او هم د یوه مجاهد او مبارز، ورځپاڼه لیکونکې او هنګامه غوښتونکې څېرې په توګه وځلېد.

خو هغه څه، چې په ځانګړي ډول د دغې څېرې اهمیت لا زیات کړ او هغه ته یې ځانګړې معنی وښښله، هغه د نړۍ د تاریخ له سترې پېښې یعنې د اسلامي ختیځ له تمدن سره د لویدیځ د تمدن مخامختیا او د تاریخ په ستر بهیر کې له فعالې ونډې اخستنې څخه عبارت و.

په دې پېښه کې د سید جمال الدین افغاني دریځ د یوه تمدن پر وړاندې د بل تمدن موضعګیري وه. هغه د یوه داسې ستر تاریخي بهیر استازیتوب وکړ، چې لا هم د تاریخ برخه نه دی ګرځېدلی او موږ نن په ډېر جدي او پېچلي ډول ورسره مخامخ یو.

د سید جمال الدین افغاني د شخصیت د معنی او مفهوم په اړه لږ فکر هم خامخا موږ دې ته هڅوي، چې د اوسنی نړۍ غټې فرهنګي او ټولنیزې ستونزې مطرح کړو.

که چېرې څوک هڅه وکړي، د دغه نړیوال شهرت علت او د دغې تاریخي څېرې عظمت او سترتوب د هغه د کم شمېر خورو ورو اثارو له مخې پیدا کړی، له یوې ژورې نهیلی سره به مخ شي او ډېر ژر به وپوهېږي، چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



سید جمال الدین شخصیت د هغه له اثارو غایب دی. دا ټکی لا د هغه څېره په زړه پورې کوي، که څه هم د هغه ډېر مهم او یوازیني اثر، هماغه د هغه ژوند او دوامداره هڅې وې.

د هغه افکار او نظریات د هغه د هڅو او مبارزو په نفس کې نغښتي او و نه توانېد، چې د هغه د ژوند له عملي جنبې څخه بېل او د یوې نظري طرحې په بڼه راڅرګند شي کېدای شي وویل شي، چې پخپله سید، د هغه شخصیت او مبارزې پخپل ذات کې یوه خوځنده ژوندۍ مفکوره وه.

دا، چې سید جمال الدین افغاني په خپل ژوند کې څه وویل او څه یې وکړل، زیاتې خبرې شوي او ډېر اثار لیکل شوي دي، دې ټکو ته به لنډه اشاره بې ځایه وي.

## د سید شخصیت

د سید شخصیت د یوه تاریخي متن نه تجزیه کېدونکی جز دی او زموږ په نظر د دغه شخصیت تاریخي معنی ډېر اهمیت او ارزښت لري، له دې کبله په کلي ډول موږ دغه شخصیت د یوې مفکورې په حیث په نظر کې نیسو او هڅه کوو، د هغه تاریخي اړخونه له دوو زاویو ولټوو.

- د تاریخ په شالید کې، د سید د شخصیت معنی او موقعیت.
- د اوسنۍ نړۍ په تاریخي متن کې، د دغه شخصیت معنی او مفهوم.

په دې لټه کې به زموږه طریقه د تېرو او معاصرو تاریخي پېښنو بیان نه وي، بلکې موږ به په لومړي قدم کې ځینې نظري اساسات مطرح کوو، خو که چېرته هغه د مسلماتو او بدیهیاتو په ډول و نه منو، کېدای شي هغه د کار د فرضیو په بڼه قبول کړو او د هغه په مرسته پخپل بحث پورې د اړوند تاریخ د مهم جریان په اړه ځینو پایلو ته ورسېږو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ د بحث څو مخکینۍ فرضیې د سید جمال الدین افغاني د شخصیت او تاریخي اړخونو په اړه، په لاندې ډول وي:

لومړی: تمدن او کلتور، په زمان کې یو متحول واقعیت دی.

دویم: یو عمده ټکی، چې یو کلتور او تمدن له بل کلتور او تمدن نه بېلوي، د هغو دوو کلتورونو او تمدنونو د نړۍ لیدونو له اختلاف څخه عبارت دی.

دریېم: نړۍ لید یعنې یوه هغه ذهني منظومه، چې له هغو پوښتنو او ځوابونو څخه جوړه ده، چې پر څو فکري او عقیدوي اصلونو او پرنسیپونو ولاړه او د یوې ټولنې یا اجتماع له خوا د اقتدار د سرچینې او د فکري او ټولنیز کردار، طرزپوهېدونه، احساس او ادراک، له نړۍ او ژوند څخه ټاکي.

څلورم: د یوه تمدن بدلونونه اساسا د هماغه تمدن د نړۍ لید بدلونونه وي.

پنځم: بدلون په دوه ډوله دی: تکاملي بدلون یا انقلابي بدلون، تکاملي بدلون په ټولیز ډول تدریجي دی او انقلابي بدلون چټک او ناڅاپي.
تدریجي تکاملي بدلونونه کېدای شي انقلابي بدلونونه رامنځته کړي.

تکاملي بدلون هغه دی، چې د یوه تمدن د نړۍ لید اساسات او اصول نه اغېزمن کوي، بلکې یوازې د نړۍ لید په روشونو، شکلونو او برخو کې بدلونونه رامنځته کوي، چې د هغه له کبله د هماغه نړۍ لید ځینې اړخونه لا پسې بشپړ او غني کېږي او حتی نور اړخونه یې، چې د زمان له شرایطو سره همغاړي توب نه لري، له منځه ځي او د هغه ځای نور شکلونه نیسي.

انقلابي بدلون هغه دی، چې د یوه تمدن د نړۍ لید اصول او اساسات له منځه وړي او بل نړۍ لید یې ځایناستی کوي.

شپږم: تمدن د تاریخ یوه ستره پدیده ده، په تېره د معاصرې نړۍ د

(c) ketabton.com: The Digital Library



تمدن تاریخ غربي تمدن دی. د تکاملي او انقلابي بدلونونو یوازینی عامل د نړۍ په ټولو ټولنو کې یوازې د غربي تمدن شتون او د هغه نړۍ لید دي. هر څه د همدغه نړیوال واقعیت، د تناسب په بنسټ تعیین او تشخیصېږي.

ټولې مبارزې یا د هغه د مقاومت په لاره کې او یا له هغه سره د مقابلې یا د هغه د ځینو مفکورو د عملي کېدلو لپاره دي او یا د مدرنستانو او ریفورمستانو د متناقض پیش امد په بڼه دي، چې د هغه له یوه اړخ سره مقابله کوي او بله جنبه یې مني. نن ورځ به د ټولنیز او کلتوري بدلون هېڅ یو داسې واقعیت و نه مومو، چې له دې چوکاټ او جوړښت نه بهر پاتې شي.

اوس دغه پورته یادې څو مخکېنۍ قضیې په نظر کې نیسو او د هغه په رڼا کې هڅه کوو، د خپل بحث اړوندې ستونزې مطرح کړو:

کېدای شي ووایو، چې د تاریخ ډېره مهمه پدیده، څه زموږه د ختیځیانو له نظره او څه د نړۍ د تاریخ له نظره، هماغه د دوو تمدنونو یعنې د اسلامي ختیځ او عیسوي لویدیځ مخامختیا ده، دغه مخامختیاوې کېدلی شي په دوو سترو مرحلو ووېشو:

لومړۍ مرحله: په اوچت دریځ کې له لویدیځ سره، د اسلامي ختیځ د تمدن مخامختیا.

دویمه مرحله: په ټیټ دریځ کې د لویدیځ له تمدن سره د اسلامي ختیځ مخامختیا.

د سید جمال الدین افغاني څېره د ختیځ او لویدیځ د مخامختیا په دغه دوهمه مرحله کې ځانګړې معنی او ځلا لري.

په لومړۍ مرحله کې اسلامي دین، د هغه وخت په ختیځو ټولنو کې انقلابي بدلونونه رامنځته کړل او یو داسې نوی تمدن یې راووړ، چې له

(c) ketabton.com: The Digital Library



انسان او جهان ته یې نوی پیغام او نوې مفکوره له ځانه سره لرله.

اسلامي نړۍ لید داسې یوه منظومه وه، چې پر نویو اصولو او اساساتو ولاړه وه او د ژوندانه ټول فردي او ټولنیز اړخونه، پوهنیز مسایل، د اخلاقو او سیاست مسایل، اقتصاد او حقوق یې احتوا کول. د ژوندانه معنی او هدف یې وټاکه، د قبیلوي ټولنې پر ضد د فرد اهمیت او مسوولیت او د اسلامي عقیدې په بنسټ، د قبیلې، قوم او نژاد نه لوړ، د امت اهمیت او د دولت جوړښت ثبت او تائید کړ.

له نورو تمدنونو سره د ارتقا په دې مرحله کې، د اسلامي تمدن مخامختیا او له لوېدیځې نړۍ سره د زوال او انحطاط په مرحله کې، د دغه تمدن مخامختیا په ټولیز ډول یو له بل سره اختلاف لري.

په لومړۍ مرحله کې اسلامي تمدن په لوړ دریځ کې و، د خپل پیغام له اهمیت او ارزښت نه په بشپړه توګه خبر او پر خپل فکري، سیاسي او نظامي ځواک ډاډه و.

په هغه وخت کې له تېرو تمدنونو یا د هغه وخت له موجودو تمدنونو سره د اسلامي تمدن مخامختیا داسې وه، چې څه شیان یې له نورو کلتورونو اخیستي وو، چې د اسلامي قدرت او زیاتې پراختیا او د هغه د نړۍ لید د تکامل سبب شي.

په هغه وخت کې اسلامي تمدن داسې یو ځواک درلود، چې و یې کولای شول، د بهرني کلتوري او فرهنګي عواملو د اغېزو په وړاندې له اختیار او انتخاب څخه کار واخلي او د هغه په مرسته، د یوناني عقلي علومو، له هندي او ایراني علومو او هنرونو څخه ګټې پورته کړي. ځان لا پسې بډای او یو ستر تمدن رامنځته کړي.

خو په دوهمه مرحله کې، چې اسلامي نړۍ د لوېدیځ د تمدن په وړاندې ودرېده؛ له سیاسي، ټولنیز او اقتصادي انحطاط سره مخ او په ټیټ

(c) ketabton.com: The Digital Library



موقعیت کې وه او د پردي فرهنګ د پخوانۍ دورې په وړاندې هغه د انتخاب ازادي او د مقاومت او مخامختیا ځواک یې نور نه و پاتې؛ اسلامي نړۍ دفاعي بڼه خپله او د اسلامي هېوادونو غربي کېدنه یوه نه انکارېدونکې پېښه راڅرګنده شوه.

د لوېدیځ د تمدن په وړاندې په دغه شا ته تګ او دفاعي دریځ کې له لوېدیځ سره د مخامختیا مسئله د مخکېنۍ مرحلې د مسئلې په عکس وه او داسې مطرح کېده، چې په پروس ((لوېدیځ کېدلو)) کې به اسلامي هېوادونه څه ډول وکولای شي، چې خپل تېر سنتونه او اسلامي تعلیمات وساتي.

په لومړۍ مرحله کې، پخپله اسلامي نړۍ لید یو انقلابي نړۍ لید و او ټول هغه بهرني تاثیرات یې، چې منلي وو، تکاملي بدلونونه وو او د هغه د لا زیاتې بډاینې او ودې سبب شول.

په دویمه مرحله کې، اسلامي نړۍ لید د ثبات او استقرار حالت ته رسېدلي و او د بهرنیو اغېزو په وړاندې ودرېد، چې په نړۍ کې یې انقلابي بدلونونو ته لار پرانستې او په دې اړه یې د نړۍ لیدنو اصول او پرنسیپونه په شک او تردید کې اچولي دي.

## ناسم پوهاوي

دلته لازمه ده، هغه مهم ناسم پوهاوي ته اشاره وکړو، چې د ځینو مسلمانو لیکوالو له خوا تر سره شوی او نن د مسلمانانو تر منځ دود شوی دی.

ځینو اسلامي متفکرینو د ختیځ او لویدیځ د مخامختیا د دویمې دورې مسئله د مخامختیا د لومړۍ دورې په بڼه مطرح کړه او ګومان یې وکړ (نن هم ډېر شمېر مسلمانان په همدې ګومان دي) لکه څنګه، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسلامي تمدن د خپلې ودې او پراختیا په پیل کې له یوناني عقلي علومو استفاده وکړای شوه، نن هم پرته له دې، چې د اسلامي نړۍ اصول او اساسات له هغه نه متغییر شي، کولای شي د غربي علومو او ټکنالوژۍ په اړه دغه کار تر سره کړي.

دا چې زمونږ خبرې د سید پر افکارو را څرخي او سید د ختیځ او لوېدیځ د مخامختیا د دوهمې دورې مهمه څېره ده نو مجبور یو، چې د دې دورې ځینو عمده تاریخي او فکري ځانګړنو ته، په لنډ ډول تم شو. که څه هم په داسې یو لنډ او کوټلي بحث کې، خامخا ځینې هغه ټکي، چې د ډېرې شرحې او تفصیل غوښتنه کوي، لږ څه مبهم پاتې شي.

د اسلامي ختیځ او لوېدیځې نړۍ د مخامختیا دویمه دوره له عثماني دولت څخه پیل شوې، چې د نوموړي دولت له انحطاط سره سره یې دوام کړی او نن هم په یوه بله بڼه په جریان کې ده.

عثماني سترواکي د اسلام د دین لپاره د یوه سپر په توګه وه، چې د پردیو د یرغلونو په وړاندې یې هغه وساته او د اسلامي تمدن د قدرت او عظمت مهم عامل و، خو په عین حال کې د اسلامي نړۍ دغه سپر یا ډال د بهرني نفوذ په وړاندې د یوه خنډ په توګه کار وکړ او اسلامي نړۍ یې د ډېرې مودې لپاره له سترو اروپایي بدلونونو او پرمختګونو لرې او بې خبره وساتله.

په اسلامي نړۍ کې، د اروپا د نویو پرمختګونو او بدلونونو په لاره کې د دغو خنډونو د رامنځته کېدو یو له لویو عواملو څخه دا و، چې دولتي دستګاه او د عثماني امپراطورۍ واکمنو د اروپا نوي افکار او ټولنیزې فلسفې د خپل بشپړ سیاسي اقتدار او د استبدادي دولت د نظام لپاره یو ستر خطر ګاڼه.

په پایله کې، کله چې عثماني دولت مخ په ځوړ شو، د لوېدیځې نړۍ د

(c) ketabton.com: The Digital Library



نظامي او تخنیکي قدرت د تالندي او برېښنا په څېر د اسلامي هېوادونو پر سر راپرېوت، چې د هغې ناڅاپي صدمې له ګنګسیت نه لا تر اوسه هم اسلامي نړۍ په بشپړ ډول په هوښ نه ده راغلې.

په ۱۷ مه میلادي پېړۍ کې د عثماني دولت انحطاط، په ټولیزه توګه ځرګند و، سلطان د ټول واک مرکز و خو له یوې خوا د دولت ناقصه او مخ په ځوړه اداري دستګاه د چارو د پرمختګ ګټورتوب راکماوه او له بلې خوا د شپاړسمې پېړۍ له پای نه وروسته هغه سلاطینو، چې د چارو واګې یې په لاس کې واخیستل، ډېری بې کفایته او کمزوري کسان وو او عثماني اردو هم ورو ورو خپل نظم او اقتدار له لاسه ورکړ.

همدارنګه په دغه وخت کې سترواکي له یوه ژور اقتصادي کړکېچ سره مخ و. د کړکېچ اساسي علت، چې د امپراطورۍ اداري کمزورتیا، هغه ته لا زیاته چټکتیا ور په برخه کړه، د لوېدیځ او ختیځ په لور د اروپا د نفوذ پراختیا وه. په هندوستان کې د اروپایي تجارتي مرکزونو استقرار، له بهرنۍ نړۍ سره د عثماني امپراطورۍ اړیکې ګډې وډې کړې؟

د امریکا کشفېدل او د مدیترانې هېوادونو ته د سرو زرو سېلابي بهیر، د امپراطورۍ پر اقتصادي وضعیت ډېر ژور اغېز وکړ او دننه دوو نورو پېښو، کورنی کړکېچ لا پسې زیات کړ.

یوه پېښه دا وه، چې محلي قدرتونو د مرکزي دولت له کمزورۍ نه ګټه پورته کړه، تر پخوا یې لا زیاته خپلواکي خپله کړه.

دویمه پېښه د وهابېزم بهیر و، چې د عثماني دولت شتون یې له شک او تردید سره مخامخ کاوه خو هغه ډېر مهم خطر، چې د عثماني امپراطورۍ شتون یې وګواښاوه، د هغه د واک په دننه کې نه، بلکې د هغه له سرحدونو د باندې سر را اوچت کړ. دغه خطر د اروپا علمي او تخنیکي انقلاب او د هغه مخ په زیاتېدونکې نظامي او اقتصادي قدرت و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د منځنيو پېړيو په پای او تر هغه وروسته بنسټيز ټولنيز او اقتصادي بدلونونه په اروپا کې رامنځته شول، چې د اسلامي تمدن په حوزه کې رامنځته نه شول.

د لوېديځې اروپا په ځينو هېوادونو کې په کليسا پورې تړلی د منځنيو پېړيو فيوډالي نظام مخ په ځوړ شو او يوه نوې تجارتي او صنعت پاله طبقه پياوړې شوه دغې بورژوازي طبقې، د سياسي قدرت او ټولنيز واک د تر لاسه کولو لپاره پر کليسا او عيسوي دين تکيه و نه کړه، بلکې د ساينس او تخنيک فلسفې ته يې مخه کړه.

له دين څخه د فلسفې بېلېدل د يوه نوي نړۍ ليد اساسات رامنځته کړل، چې د هغه په چوکاټ کې دولت وکولای شول له دين څخه جلا شي او نوې سياسي فلسفې را منځته شوې علوم د کليسا د اقتدار او واک له ساحې رابهر شول او د هغه د ودې او پراختيا په مخ نامحدودې لارې پرانيستل شوې. لنډه دا چې په اروپا کې له رنسانس څخه وروسته نوی نړۍ ليد ورو ورو د زاړه نړۍ ليد ځای ونيو.

په دې اړه له موږ سره د نا سم پوهاوي يو بل ټکی دا دی، چې د اسلامي نړۍ يو شمېر متفکرين، له رنسانس څخه وروسته اروپا، هماغه د منځنيو پېړيو عيسوي فيوډالي اروپا ګڼي او دا انګېري، چې اوس هم اسلامي نړۍ يوازې له عيسوي دين سره مخامخ ده.

عثماني دولت يعنې هغه قدرت، چې په شپاړسمه پېړۍ او حتی تر هغه څه موده وروسته هم کولای شوای اروپا تر خپلې ولکې لاندې راولي، د ويانا ښار وګوابښي او له اروپايي قدرتونو سره مساويانه وجنګېږي، و نه شوی کړی، چې په نظامي هنر کې نوي اختراعات او اکتشافات وکاروي او په پای کې، د اتلسمې پېړۍ له نيمايي وروسته، عثماني دولت نور نو له اروپايي قدرتونو سره د مقابلې توان نه درلود او د اروپا تخنيکي اوعلمي

(c) ketabton.com: The Digital Library



اختراعاتو او کشفياتو په اسلامي نړۍ کې کوم انعکاس و نه موند. مثلا د دغې دورې په عثماني ادبياتو کې کوپرنيک ته د کومې نغوتې څرک نه مومو، اردو او بحري ځواک له نويو تخنيکي اکتشافاتو هېڅ ګټه پورته نه کړه او په پايله کې د اتلسمې پېړۍ په نيمايي کې د اسلامي امپراطورۍ انحطاط په ټوليز ډول روښانه او څرګند و.

د انحطاط د دورې لومړنيو ليکوالو د هغه وخت سلطان ته بلنه ورکړه، چې تېر عظمت او سترتوب بيا راژوندی کړي، خو دې ته هم ځير وو، چې د تېرې زمانې د جوړښتونو په رغولو سره به مسئله نه حلېږي او سترواکي يو بل ځيز ته اړتيا لري، چې هغه د دفاعي او نظامي قوې پياوړتيا وه له اروپا سره يې د مقابلې لاره يوازې د نويو نظامي تخنيکونو په زده کولو کې ولټوله. هر هغه څه، چې په دغه دوره کې له اروپايي ژبو څخه په رياضياتو، جغرافيه، تاريخ او سيند پېژندنه کې وژباړل شول، يوازې د امپراطورۍ د نظامي حالت او د اردو د وضعې د ښه والي لپاره وو. د عسکري تعليماتو ښوونځي د اروپايي تخنيکونو د زده کړې په خاطر پرانيستل شول.

تر دې نظامي اړيکې وروسته يو ډول سياسي اړيکه د ژباړونکو او بيا د ځينو سفيرانو له خوا تر سره شوه، د ديپلوماتانو دغه نسل هم تر ډېره د مسئلې حل په نظامي فورمونو کې وکوت او فکر يې وکړ، چې سترواکي بايد د نوي متمرکز دولت ښه خپله کړي او د دې کار لپاره يې لاندې څو شرطونه اړين ګڼل.

- د يوې نوې اردو رامنځته کول.
- پر ټولو نيمه خپلواکو ولايتونو، د مرکزي اقتدار د بيا ټينګښت لپاره د دغې اردو کارونه.
- د قوانينو د يوه نوي سيستم تطبيق او د مساواتو پر اصل ولاړه اداره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نولسمې پېړۍ په پیل کې د عثماني امپراطورۍ په اسلامي ټولنه کې د نوي فکر يو بهير رامنځ ته شو، چې په وروسته کې يې اوږدمهاله اغېزې درلودې او نن هغه اغېزې په ډېر شدت سره جريان لري، چې د اجتماع د لوېديځه کېدو په خاطر د اصلاحاتو له مفکورې څخه عبارت و. په دغه دوره کې، چې د تنظيماتو په نامه ياده شوه، د عسکري، طبي او اداري چارو نوې مدرسې جوړې شوې، عرفاني استازي اروپا ته ولېږل شول، يوه رسمي ورځپاڼه رامنځته شوه، اروپايي جامې معمولې شوې او نور...
يوازې د نولسمې پېړۍ له نيمايي وروسته، د ۱۸۸۰ په شاوخوا کې ځينې اسلامي ليکوال او متفکرين د خپلې نړۍ ځينې اساسي مسايل په تېره د سياسي تيورۍ عمومي مسئله طرحه کړه او داسې پوښتنې يې مطرح کړلې.

## ښه ټولنه کومه يوه ده؟

هغه معيار، چې د ريفورمونو او اصلاحاتو لارښود وي، څه به وي؟
آيا دغه معيار د اسلامي قوانينو له اساساتو څخه استخراجېدلی شي او يا دا چې اړ يو د نوې اروپا تعليماتو او نظرياتو ته رجوع وکړو؟
آيا د عمل او نظر له ليده د دغو دواړو تر منځ کوم تناقض وجود نه لري؟
د دغه بهير لومړی نسل په يوه نسبتا ارامه فضا کې ژوند کاوه. له يوې خوا د اسلام او عيسويت تر منځه مجادله ارامه شوې وه او له بل پلوه اروپا د استعماري عصر د يوه سياسي او ټولنيز خطر په توګه لا نوره هم ځلېدلې وه له دې کبله د دې دورې متفکرين تر ډېره د هغه عصر د اروپا د ليبرالي ډيموکراسۍ د اصولو، علومو او فنونو د مثبتو اړخونو لېواله شول او داسې ستونزې يې مطرح کړلې، چې وروسته يې د اسلامي نړۍ فکر بوخت وساته او د مسلمانانو د تفکر يو جز شو، مثلا ويې ويل، چې د محمدي

(c) ketabton.com: The Digital Library



امت په منځ کې ملي جمعيتونه شتون لري، د دولت موخه په دې او هغه نړۍ کې د خلکو هوساينه ده او د خلکو هوساينه د تمدن په رامنځته کولو کې نغښتې، چې د دولت وروستۍ موخه ده. د هغه عصر اروپا په تېره فرانسه يې د تمدن د معيار په توګه ومنله او بالاخره د اروپا د قدرت او عظمت رمز يې د عقلي علومو په پرمختګ کې وليده.

د دغه مسايلو په مطرح کولو سره يوازې يو کم شمېر کولای شول وپوهېږي، چې په دې ټکو کې ستونزې او تناقضات وجود لري، چې زيات غور او دقت غواړي. د بېلګې په توګه د الهي وحې اصل د انساني عقل له هغې ادعا سره، چې ځان يوازنی صحيح اساس ګڼي، څه ډول پخلا کېدلای شي؟ آيا هغه شريعت، چې پر الهي علم ولاړ دی، له نويو حقوقو سره، چې د غير الهي علم په اساساتو ولاړ دی او يا څه ډول کېدلی شي، چې د ديني وحدت وفاداري له ملي اتحاد سره ګډ کړل شي.

دا د مخ په ځوړ اسلامي ختيځ او مخ په ارتقا لوېديځ د مخامختيا دوهمه مرحله هم کېدلای شي په دوو برخو ووېشل شي. يوه برخه يې کېدای شي د غولېدو مرحله او بله برخه يې د مقاومت او مبارزې مرحله و نومول شي.

رښتيا هم د دوهمې مرحلې د پيل په دوره کې د اسلامي نړۍ ليکوال او متفکرين د لوېديځ د عدالت او مساواتو د آيډيال لېواله شول او هغه ځای يې د عقلي علومو او تمدن زېږنده وګاڼه او دا يې وانګېرل، چې لوېديځه دنيا يوازينۍ ښه ښوونکې ده او که چېرې اسلامي ټولنې د هغه شاګردي خپله کړي او د هغه علوم او فنون زده کړي، د هغه ټولنيزې او سياسي فلسفي اصولو ته پخپلو ټولنو کې د عمل جامه ور واغوندي، نو په دې توګه به هم اسلامي نړۍ له پرځېدو او انحطاط څخه وژغورل شي او هم به لوېديځ ليبرال او منور قدرتونه د اسلامي هېوادونو ملاتړ وکړي او پخپله به

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مسلمانانو له سره د منفي قدرتونو شر لرې کړای شي.

خو د ۱۸۸۲-۱۸۷۵ کلونو په ترڅ کې لوېديځ خپله نوې څېره ښکاره کړه. اسلامي نړۍ په دې دوره کې په دې وپوهېده، چې اروپايي ملکونه په هر وخت کې، چې هيله يې ولري او اراده وکړي، کولای شي د ختيځو هېوادونو زړه ته ننوزي او هغه تر خپل فرمان لاندې راولي. په ۱۸۸۱ کې د فرانسې له خوا د تونس او په ۱۸۸۲ کې د انګلستان له خوا د مصر نيول، د اسلامي نړۍ لپاره يو ستر تاريخي درس و. د دغو پېښو له کبله په اسلامي نړۍ کې فکري بهير هم بله بڼه غوره کړه او هغه مهم ټکي، چې له ټولو نه زيات پام ځانته جلب کړ، دا و، چې د اروپا واک او تسلط هغه ستر خطر دی، چې اسلامي امت ګواښوي. د اسلامي تمدن د انحطاط د احساس پخوانۍ مسئله پخپل حال باقي پاتې وه او هغه نوې ستونزې، چې پرې ورزياتې شوې دا وې، چې څه ډول د لوېديځې نړۍ د بې ساري ځواک او قدرت په وړاندې مقاومت وکړل شي؟ څه ډول ژوندي پاتې شي؟ د ختيځ او لوېديځ د مخامتيا مسئله د غولېدنې او فکري او نظري اړيکې له مرحلې څخه تېره او د ژوند او مرګ په حياتي ستونزو بدله او ثابته شوه، چې دغه د مرګ د خطر اساسي عامل له اسلامي تمدن نه بهر ورته متوجه دی، نه له دننې.

په ټوليز ډول د ختيځ او لوېديځ د مخامختيا په مرحلو کې د مسلمانانو فکري دريځ د مولانا جلال الدين بلخي هغه مشهور داستان رايادوي، چې وايي: څو تنه په تياره کې له يوه فيل سره مخامخ شول او د هغه د بدن پر ټولو غړو يې لاس تېر کړ او د خپلې محدودې مشاهدې په اساس يې فيل په بېلابېلو بڼو تعريف کړ. لوېديځه نړۍ هغه ديو پيکره ماموت و، چې مسلمانان د تاريخ په تيارو کې له يوه اړخ سره يې مخ شول او هغه اړخ يې، چې درک کړی و، هغه يې واقعيت وګاڼه. يوه وويل: لويديځه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



يعني عيسوي دين، چې د اروپايي هېوادونو په نظامي ځواک پياوړې شوې ده، بل وويل: لوېديځ يعني د ساينسي او لوېديځو علومو روزنځای، بل وويل: لوېديځ يعنې د ډيموکراسۍ ټاټوبی، بل وويل: لوېديځ يعنې د فرهنګ او ادبياتو لکه ورځپاڼې، رومان، ډرامې او تاريخ ليکنې د نويو بڼو د انکشاف ټاټوبی، بل وويل: لوېديځ يعنې د ډيموکراسۍ، ښې سياسي ټولنې، عدالت، مساوات او بشري حقونو سيمه او د خلکو په وړاندې د مسؤولو دولتونو ځای. بل وويل: لوېديځ يعنې اخلاقي فساد، د عيش او خوشګذرانۍ ځای، د ماديت پرستۍ نړۍ، له بشري حسن نه پردی او بالاخره هغه بل وويل: لوېديځ يعنې ځان غوښتنی او خود پرسته ځواک، د استعمار او استثمار د واکمنۍ او بادارۍ قدرت.

د سيد جمال الدين افغاني څېره د تاريخ په همدې مرحله کې ظهور کوي، چې په هغه کې لوېديځې دنيا د واک استعماري منګولې بهر ايستلې دي او د سترو اروپايي هېوادونو صنعتي انقلاب او اقتصادي انکشاف يې د ختيځو ملکونو د سياسي او نظامي تسلط پر لوري ور سيخ کړی وو. سيد له يوه پلوه د اسلامي ټولنو له مخ پر ځوړ حالت پوره خبر و او له بل پلوه يې پر اسلامي سيمو د تسلط لپاره د اروپايي قدرتونو د خطر فشار احساساوه. هغه ومونده، چې اسلامي نړۍ د مرګ او ژوند د عاجلې مسئلې په وړاندې ولاړه ده او د هغه عاجله حل لاره يې د سياست په ميدان کې په علمي مبارزه کې وليده.

له يوه پلوه د سيد کرکتري خصوصيات، چې اساسا يو بهر ښاری او طبيعتا په باندنۍ نړۍ کې د فعاليت او عمل لېوال و او له بل لوري د هغه وخت عاجله اړتيا سيد جمال الدين افغاني ته د لوېديځ د استعماري ځواکونو په وړاندې عملي کړنو ته د اوږدو فکرونو دا وخت ور نه کړ، چې د مسايلو منظمه نظري طرحه تر لاسه لاندې ونيسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله، چې سید د ((نیچریه)) په مشهوره رساله کې، د هغه عصر د عقلي تجربي علومو د مسایلو په اړه استدلال کوي، یو ذهني جوړښت او استدلالي کلامي سبک منعکسوي، چې د تېرو پېړیو پر اسلامي علماوو پورې یې تړاو درلود. د یوه داسې جدلي نظري ذهني جوړښت په شتون کې، چې کله سید د نولسمې پېړۍ له اروپايي نړۍ سره اشنا کېږي،د هغه نبوغ له کبله، چې درلوده یې، د هغه عمده مسایل په مدرنه بڼه پېژني.

مثلا هغه خپلو مصري شاګردانو ته په نارسمي تعلیماتو کې، له ۱۸۷۱ څخه وروسته، په دې عمده ټکر ټينګار کوي، هغه ستر خطر، چې اسلامي نړۍ ګواښوي د اروپايي قدرتونو لاسوهنه ده او د دې خطر په وړاندې د مقاومت مؤثره لاره په دریو ځیزونو کې ده: ملي وحدت ته اړتیا، په یو ستر چوکاټ کې د اسلامي ملتونو د وحدت اړتیا او بالاخره هغو اساسي قوانینو ته اړتیا، چې د وخت د خپلواکه واکمنو قدرت وګواښوي.

دویمه مفکوره یعنې د اسلامي نړۍ اتحاد یا پان اسلامیزم، د سید جمال الدین افغاني د مبارزو او مجادلو یو له مهمو هدفونو څخه و خو کله، چې د هغه نورو مبارزو په تېره په هندوستان کې د هغه فعالیتونو ته نظر وکړو، ګورو چې هلته یې د هندو او مسلمان تر منځ د ملي وحدت تبلیغ کاوه او ملیت یې د ادیانو او مذاهبو تر اختلافونو پورته ګاڼه. له دې ډول چال چلند څخه داسې معلومېږي، چې پان اسلامېزم د سید جمال الدین افغاني یوازینی ستراتیژیک هدف نه و، بلکې هغه یې یو له موثرو وسایلو څخه انګېره او غوښتل یې د هغه په مرسته اسلامي هېوادونه ویښ او د لوېدیځ د واک په وړاندې د هغوی د مقاومت ځواکونه پیاوړي کړي.

خو هغه د خپل پروګرام له نورو ټکو سره د پان اسلامېزم د مفکورې د پخلاینې او نه جوړښت ستونزې په نظر کې و نه نیولې، که څه هم د اسلامي نړۍ د اتحاد دا مفکوره تېر ته د بیا ستنېدو په لاره کې یوه هڅه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وه. د هغه د پروګرام دوې نورې مفکورې یعنې د ملي هويتونو تثبيت او سياسي تشکيلات د نوي عصر مفکورې وې، چې سيد يو عمر د هغه په لاره کې مبارزه وکړه، پر دې سربېره سيد جمال الدين افغاني د نولسمې پېړۍ د اروپا په تېره د فرانسې د افکارو تر اغېز لاندې، د ګيزو له اثارو سره اشنا شو او د تمدن مفهوم يې د هغه عصر له نويو محتوياتو سره خپل کړ او د لومړي ځل لپاره يې اسلام د يوازيني دين په توګه په نظر کې و نه نيوه، بلکې د اسلامي تمدن په توګه يې مطرح کړ. سيد جمال الدين افغاني د ((تمدن)) د مفهوم نوې محتوا يعنې د ترقۍ مفهوم ځان ته راکاږه. ګيزو ((ترقي)) په دوو اړخونو کې ليده:

۱ – د ټولو خلکو د ورځ تر ورځې د هوساينې په لاره کې ټولنيزه پراختيا.

۲ – د فکري، ذهني او اخلاقي استعدادونو له نظره فردي پراختيا.

د ګيزو په نظر دواړه ډوله پراختيا په انساني قدرت کې قرار لري او ويل يې، چې انسان پخپله کولای شي د خپل فکر، احساس او ذهني او اخلاقي ځواک په مرسته پر نړۍ واک وچلوي او په فردي او اجتماعي چارو کې يې دغه د واک چلولو عامل انساني عقل او اراده ګڼل.

د فرانسې د نولسمې پېړۍ دغې مفکورې، سيد جمال الدين افغاني هغه وخت د اسلامي تمدن ساحې ته راکاږه، چې اسلامي تمدن د همدغو خصوصياتو لرونکی و. که څه هم د دغه تمدن د اعتلا په عصر کې د پراختيا ټول اړين عوامل موجود وو، يعنې پر تعقل باورمنه ټولنه او فردي پراختيا، خو په راتلونکو زمانو کې اسلامي ټولنې دغه خصوصيات له لاسه ورکړل. هغه په دې باور و، چې د اروپا د نويو عقلي علومو زده کړه او د ملي وحدت په بيا ټينګښت سره به اسلامي تمدن وکولای شي، چې خپل پخوانی عظمت او سترتوب بيا تر لاسه کړي، خو سيد جمال الدين افغاني بيا هم لکه د نورو تېرو متفکرينو په څېر د اسلامي نړۍ د انحطاط علتونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په سیاسي او نظامي عواملو کې لټاوه او له دې کبله یې سیاسي مسایلو ته ډېره توجه وکړه.

دا چې د هغه فکر د سیاست نړۍ ته واوښت، د هغه وخت سلاطین او د اسلامي هېوادونو مستبد زمامداران یې د خپلو عقایدو د پلي کولو په لاره کې ستر خنډ ولیدل، د هغوی په وړاندې یې په مبارزې لاس پورې کړ. د بدو واکمنانو په وړاندې مجادله او د ښو زمامدارانو لټه د سید جمال الدین افغاني له اشوبه ډک ژوند برخلیک جوړاوه. هغه د افلاطون په څېر ښه زمامداران لټول، چې د هغه نظریاتو ته د عمل جامه ورواغوندي، خو په دې غټ توپیر، چې افلاطون د خپل جمهوریت منظمه او فکري سیاسي، نظامي طرحه له ځانه سره لرله او سید د خپلو مبارزو کومه منظمه او منسجمه فکري طرحه نه لرله، هغه لکه فاریابي د فیلسوف او زمامدار تر منځ اتحاد په نظر کې درلوده او د خپل ژوند په اوږدو کې د دغه فاضله مدینې په لټه کې له ماتو سره مخ شو. د سید او زمامدار تر منځ ناسم پوهاوی له دې ځایه راولاړېده، چې واکمن غوښتل د خپل سیاسي اقتدار د پیاوړي کېدو لپاره د هغه له روحاني نفوذ نه ګټه پورته کړي، په داسې حال کې چې سید غوښتل د اسلامي ملتونو د وحدت په لاره کې د لوېدیځ د تسلط په وړاندې د مبارزې لپاره واکمن استخدام کړي.

سید د خپلو ورځنیو مبارزو او عاجلو علمي هڅو په اوږدو کې، سره له دې چې د سیاست نړۍ ته ځیر و، دا وخت ونه مونده، چې لاندې دوو یادو اساسي ټکو ته توجه وکړي:

۱ - د اروپا د هغه عصر سیاسي فلسفو ته توجه او د سیاسي قدرت د اساساتو د مسئلې طرحه او د ختیځ د نړۍ لید په ژورو کې د واکمنانو د استبداد او مطلق العنانیت د ریښو لټه.

۲- دې ټکي ته توجه، چې د اسلامي هېوادونو واکمنانو او د هغه وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library



استعماري قدرتونو پر ختيځو ټولنو د خپل واک د ټينګښت لپاره مشترکه وجه درلوده او پر يوه عنصر يې اتکا کوله، چې دغه عنصر د عوامو خلکو له جهل او نادانۍ او د هغوی له مادي او معنوي فقر څخه عبارت و.

د سيد مبارزې او د وطنپالنې هويت موندنه

که څه هم سيد جمال الدين افغاني د سياسي فلسفې اساسات له سره طرحه نه کړل او پخپلو هڅو کې د خلکو له غورځنګونو او د لوېديځې نړۍ له تاريخي پېښو او د هغه له ونډې په تېره د هغه په ټولنيزو او سياسي انقلابونو کې، د اسلامي نړۍ لپاره کوم الهام وا نه خيست، خو سره له دې هم له مستبدو ختيځو واکمنانو سره د هغه د اوږدو مبارزو له کبله د مشروطه غوښتنې او وطنپالنې بهيرونو په غير مستقيم ډول په اسلامي هېوادونو کې هويت وموند او په تېره په لوېديځو ملکونو کې د رفورميسم او مدرنيسم د بهير اساسات رامنځته شول.

په ټوليز ډول ويل کېدای شي، چې: څه پخپله د لوېديځې نړۍ په بې سابقه تحولاتو کې او څه له اسلامي ختيځ سره د هغه تمدن د مخامختيا تر ټولو مهم ټکی د دين او فلسفې له مخامختيا څخه عبارت و.

د سيد جمال الدين افغاني په عصر کې د دين او فلسفې ټکر هغه حادثه ده، چې د ختيځ او لوېديځ د مخامخېدنې په ساحه کې تر ټولو عمده مسئله وه او نن هم په هماغه اهميت پاتې ده: سيد دغه عمده مسئله په هغه ځواب ليک کې، چې د فرانسوي فيلسوف ((رنان)) په رد کې يې، په پاريس کې خپور کړی و، په څرګنده او روښانه توګه طرحه کوي.

د دغې مقالې د فرانسوي متن په يوه برخه کې، سيد داسې وايي: (( دينونه، چې په هر نامه يادېږي، ټول له يو بل سره ورته والی لري. د دغو اديانو او فلسفې تر منځ هېڅ ډول تفاهم او د پخلاينې هېڅ ډول امکانات نشته. دين انسان هڅوي، چې ايمان او عقيده ومني، په داسې حال کې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې فلسفه هغه له دغې عقيدې او ايمان څخه يا په بشپړ ډول او يا تر يوه بريده ازادوي، کله چې هم دين غلبه وکړي، فلسفه له منځه وړي او د قضيې معکوسه بڼه هغه وخت رادبره کېږي، چې فلسفه مطلق واک په لاس کې واخلي. تر هغه وخت پورې، چې انسان موجود وي، په دين او فلسفه کې او د عقيدې او ازاد تفکر تر منځ مجادله به پای ته و نه رسېږي، خو دا اندېښنه شته، چې په دې سخته مجادله کې به بريالیتوب د ازاد تفکر په برخه نه وي، که څه هم عوام تعقل نه خوښوي او د هغه تعليمات هم يوازې يو کم شمېر خواص تر لاسه کوي او همدارنګه له دې کبله، چې که څه هم علم ډېر ښکلی وي، بيا هم په بشپړ ډول انسان نه ارضا کوي، په داسې حال کې، چې انسان د آيډيال تږی دی او خوښوي يې، چې په اسرار امېزو او لرې سيمو کې يې بنسټ کېږدي، چې فلاسفه او علما د هغه له درکه او په هغه کې له تجسس نه عاجز دي.

## د متن شننه

پورته متن ځينې مثبت او منفي ټکي لري، چې له دواړو اړخونو مهم، په زړه پورې او با ارزښته دی، د دغه متن لومړی ټکی، چې د متن د پيل ټکی هم دي، دا دي، چې په هغه عصر کې د ختيځ او لوېديځ د مخامختيا تر ټولو مهمه مسئله او د نننی عصر عمده مسئله په داسې اخلاقي جرئت او وضاحت سره مطرح کوي. ځکه نن هم موږ له همدې مسئلې سره مخامخ يو او د خپلو عمده مسايلو په طرحه کولو کې همداسې وضاحت، څرګندتيا او اخلاقي جرئت ته اړ يو.

دويم مهم ټکی د متن په وروستي نغوته کې، د انسان د ديني او عقيده يي لېوالتيا په موجوديت کې نغښتی. سيد جمال الدين افغاني پخپل دې قضاوت سره د نولسمې پېړۍ د سطحي عقل پالنې او ساينس پالنې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



فکري جریانونو پر ضد درېږي او داسې یوه مسئله مطرح کوي، چې په شلمه پېړۍ کې یې تازه مفهوم خپل کړی، ځکه شلمه پېړۍ د سطحي عقل پالنې او ساینس ګرایۍ ساده روحیه محکومه کړې ده او هغه له علمي ارزښت او ژوروالي څخه خالي ګڼي او نني انساني علوم د داسې یو تمایل شتون د یوې پدیدې په توګه تاییدوي. ارواپوهنه د هغه د عاطفي او تحت الشعوري ریښو په ژورو کې او بشر پېژندنه د هغه د فرهنګي ټولنیزو او انساني مقصدونو په څېړنو بوخته ده.

پورته متن دوه د بحث وړ ټکي هم لري:

لومړی دا چې:

کله، چې سید جمال الدین افغاني په ډېر ډاډ، د ازاد تفکر د شاته تګ خبره کوي، په دې اړه د هغه حکم پر هغه ډول قضاوت ولاړ دی. چې د پخوانیو پېړیو پر ذهني جوړښت پورې اړوند دی، ځکه زموږ د تېرو پېړیو متفکرینو، چې ټولنه په دوو طبقو وېشله: د ثبات پالنې پر اصل ولاړ د خواصو طبقه او د عوامو طبقه؛ دا وېش د نه تفسیرولو وړ ګاڼه.

که د خواصو او عوامو د دوو ثابتو طبقو دغه فرضیه ومنو، بې له شکه د عقیدې په وړاندې د ازاد تفکر د ماتې په اړه به د سید قضاوت صحت ولري او که د دې مقالې د لومړۍ فرضیې د اساساتو له مخې د فرد او ټولنې په اړه د بدلون او انکشاف مفهوم ومنو او د تعلیم او تربیې عصري تعمیم په نظر کې ونیسو، په دې توګه به د خواصو او عوامو ثابت مفاهیم خپل قاطع ارزښت له لاسه ورکړي او د عقیدې او ازاد تفکر د مجادلې مسئله په بل ډول طرحه کېږي.

دویم دا چې:

د انسان د میتافزیکي تمایلاتو د فهم او شرحې په اړه د علماوو او فلاسفه وو نیمګړتیا او نارسایي هم د غور وړ ده، که چېرته علم او فلسفه په

(c) ketabton.com: The Digital Library



افلاطوني او ارسطويي معنی او له هغوی نه په پیروۍ د لرغونو اسلامي حکماوو په معنی په نظر کې ونیسو، په دې صورت کې بیا هم د سید د حکم په اړه کوم شک او تردید په ځای نه پاتې کېږي، خو که چېرته د فلسفې او نویو علومو انقلاب او د هغه انکشاف په نظر کې ونیسو او عملا دا وګورو او مشاهده کړو، چې علوم څه ځېږنې تر سره او څه پایلې تر لاسه کوي، په دې صورت کې به دا را څرګندېږي، چې لا هم د لایتناهي په لور د علم او فلسفې لار پرانستې وه.

په لنډه توګه ویلای شو، چې د حضرت سید جمال الدین افغاني نبوغ د لرغونیانو په سبک، سره له ذهني جوړښته وکولای شول، د خپل پېر ډېرې مدرنې مهمې ستونزې، د ختیځ او لوېدیځ د مخامختیا په ساحه کې منعکس کړي او د حل په لاره کې یې یو عمر هڅه او مبارزه وکړي او د نننیو مبارزو اساسات طرح کړي. هغه دا وموندله، چې د نړۍ د تاریخ ستره پدیده د لوېدیځ تمدن شتون دی او له هغې سره د مخامختیا مخنیوی ناشونی دی، خو په دې مخامختیا کې کومه لاره کېدای شي، غوره شي، چې د هغه په مرسته موږ ختیځیان هم د خپل ژوند فردي او ټولنیز شرایط ښه کړو او هم خپل انساني هویت او د خپل ژوند او ټولنې معنا له لاسه ور نه کړو او دا لاره، چې د سید جمال الدین افغاني د مبارزو له اساسي موخو څخه و او نن هم تر ټولو سمه لاره ځلېږي، هماغه د ملي هویت تثبیت دی او د دې لپاره، چې هم ملي هویت تثبیت شي او هم د لوېدیځ تمدن د انکشاف په لاره پلی شي، د سید په فکر د هغه یو له ابتدایي او اساسي شرایطو څخه په ملي ژبو کې د علومو او فنونو لېږد دی او دا مهمه عصري دنده لا هم زموږ مخې ته پرته ده. ځینې اسلامي هېوادونو تر یوه بریده په دې لاره کې مهم ګامونه اوچت کړي خو پخپل هېواد کې مو لکه څنګه، چې لازمه ده لا هم په منظم ډول په دې مهم ملي کار باندې پیل نه دی کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## تر سید وروسته د هغه د فکري بهیر دوام

تر سید جمال الدین افغاني وروسته، د هغه ستر شخصیت فکري بهیر، محمد عبده او پیروانو یې پر مخ یووړ، خو عبده له سید جمال الدین افغاني سره پر یو مهم ټکي د نظر اختلاف درلود، چې زموږ د بحث لپاره ارزښتمن دی او دې ټکي ته مو یو څه نغوتې هم وکړې، عبده په دې باور و، چې د لوېدیځ له تمدن سره د صحیح او بریالي مخامخېدنې لپاره یوازې ساینسي مبترزې او عملي هڅې کافي نه دي، بلکې تر ټولو مهمه د دې برخورد نظري طرح او د فکري اساساتو تثبیت دی. هغه خپل اصلاحي او رفورمي پروګرام په څلورو لاندې ټکو ودراوه.

۱ له فاسدو تاثیراتو او عادتونو څخه د اسلام د دین تصفیه کول.

۲ د اروپایي نفوذ او د عیسویانو د بریدونو په وړاندې له اسلام څخه دفاع.

۳ د عالي تعلیماتو رفورم.

۴ د نویو افکارو په رڼا کې د اسلام د دوکتورینو بیا طرحه کول.

دغه پروګرام د مصر د رفورمیسم په بهیر کې په تېره د تعلیماتو په ساحه کې مهمې اغېزې را منځته کړې خو د نني عصر او افکارو په رڼا کې د اسلام د ټولنیزو او سیاسي دوکتورینو اساسي طرحه، هغه پروګرام دی، چې د مشهور شخصیت علامه اقبال لاهوري د ادعا او هڅو باوجود لا هم عملي شوی نه دی.

علامه اقبال داسې یو شخصیت و، چې دا ادعا یې درلوده او تمه هم کېده، چې وکولای شي د لومړي ځل لپاره د معاصرې نړۍ د افکارو په رڼا کې، د اسلامي دوکتورینو اصول طرحه کړي، ځکه هغه ترسید په ښه توګه له لوېدیځې نړۍ سره اشنا شوی او هلته یې د فلسفې زده کړې کړې وې او هم له نږدې څخه له اسلامي تمدن سره اشنا و، خو نوموړی د دغو مساعدو شرایطو په موجودیت کې د داسې فکري تناقضاتو په دام کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکېل شو، چې د بشر دوستۍ نازک افکار یې د ((د انسان د قدرت اراده برتینه پایله)) له بې رحمانه نظریې سره ګډ کړل، صوفیانو ته یې بد وویل خو هغه لاره یې، چې ګومان یې کاوه د اسلامي تفکر د تجدید او نوي کولو لپاره موندلې، هماغه د متصوفینو لاره وه، چې د اسلام سترو صوفیانو، تر هغه د مخه له هغه نه ډېره ښه بیان کړې وه.

لکه چې کب وایي: (( هغه د صوفیانو اختلافات خوښ نه کړل خو د صوفیانو نړۍ لید یې د اسلامي نړۍ د ننیو ستونزو د حل لپاره یوه حل لاره وګڼله)) او له بل لوري علامه اقبال له هغه اسلام نه غږېږي، چې د هغه د شاعرانه تخیل او تفکر زېږنده دی او د اسلام له تاریخي او واقعي دین سره تطابق نه لري.

په دې ډول تر سید کلونه وروسته، علامه اقبال له لوېدیځې نړۍ او اسلامي عالم سره له ښې بلدتیا سره سره، کله چې :

- له اسلامي دین نه عندي یا شخصي تعبیر وړاندې کوي.
- د اسلامي نړیوالې فکري مسئلې طرحه د متصوفینو د نړۍ لید په چوکاټ کې ځایوي.
- د ملیت مفکوره او د ملي هویت تثبیت د هغه په واقعي او عصري معنی په نظر کې نه نیسي.

له دې کبله د سید د فکر او دریځ په پرتله درې قدمه شا ته ږدي او روانېږي. د ننۍ نړي د افکارو په رڼا کې د اسلامي دوکتورینونو د اصولو او پرنسیپونو د بیا طرحې دغه مسئله، چې د سید جمال الدین افغاني د مبارزو محورو او محمد عبده هغه مطرح کړله او علامه اقبال نه یوازې دا چې حل نه کړه، بلکې لا پسې مغشوشه کړله، نن هم په هماغه قوت او حتی په حاده بڼه مطرح ده او ژور فکر ته اړتیا لري.

د ختیځ پوهانو له خوا د لوېدیځ پېژندنې د لومړي کانګرس په اړه یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وړانديز**

**زما په ګومان د سيد د شخصيت غوره نمانځنه په دې کې نه ده، چې ووايو په کوم ملک کې زېږېدلی او يا نه دی زېږېدلی، ځکه هره پوښتنه او هر ډول ځواب، چې ورته ورکړل شي، د هغو ستونزو په حل کې به، چې سيد جمال الدين افغاني عملا طرحه کړې دي، هېڅ ډول اغېز رامنځته نه کړي.**

**فکر کوم، چې د هغه شخصيت غوره نمانځنه په دې کې ده، هغه ستونزې، چې سيد تشخيص کړې وې او يو عمر يې د هغه د حل په لاره کې هڅې وکړې، ډېر زحمتونه او مشقتونه يې په کې وګالل او لا هم په پېچلې بڼه پر خپل ځای پاتې دي، بيا طرحه کړو او د حل لپاره يې پر خپل ځان لږ ذهني زحمت ومنو.**

**هغه پوښتنه دا ده، چې دا نن موږ ختيځيان په عمومي ډول او اسلامي نړۍ په خاص ډول، د لوېديځ په اړه څه فکر کوو؟**

**ساده پوښتنه ډېره نه ده شرحه او توضيح غواړي. زموږ مخکېنۍ خبرې پر دې شرحې او توضيح، يوه مقدمه وه. موږ په دې لنډ بحث کې هڅه کوو، چې د دغو مهمو رامنځته شويو ستونزو ځينو جوړوونکو توکو ته، لنډه نغوته وکړم. له ننني لوېديځې نړۍ سره زموږ مخامختيا، د سيد جمال الدين افغاني د دريځ په اوږدو کې قرار لري، ځکه د ننيو ستونزو او ځرګندې طرحې يو له مهمو ټکو څخه دا دی، چې په اسلامي هېوادونو کې د سيد افکار او د هغه د افکارو اغېزې په پوره خبرتيا سره تحليل شي. (مثلاً په مصر کې د شيخ محمد عبده او د هغه د پيروانو افکار، په ايران کې د مشروطه غوښتنې په غورځنګ کې د هغه د افکارو اغېزه، په افغانستان کې د محمود طرزي، ورپسې د محی الدين انيس او ځينو نورو ليکوالو، فکري جريان، چې لا هم ژوندي دي، له نږدې نه مطالعه شي.))**

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو دا باید په نظر کې ولرو، چې دا د ننني ستونزو د رامنځته کېدلو یو ډېر اساسي ټکی دی، چې نه د ننني ختیځې نړۍ او نه هم اسلامي نړۍ د سید د پېر هماغه واقعیت دی او نه لوېدیځه دنیا د نولسمې پېړۍ دنیا ده، نو ځکه زموږه ننني ستونزې په هماغه بڼه او ساده ګۍ نه دي پاتې، بلکې لا پېچلې شوې دي.

## لومړی د لوېدیځ په اړه:

کېدای شي وویل شي، چې په هیروشیمیا کې د اتوم بم له چولو وروسته، هغه ستر صنعتي او تخنیکي انقلاب، چې په جریان کې دی؛ په هغه خاوره کې یوه نوې تاریخي دوره راپیل شوې، چې مخکېنۍ دورې په تېره نولسمه پېړۍ په کې لکه د یوه ماقبل تاریخ دورې په څېر راځرګندېږي.
مخکې اشاره وشوه، چې د نولسمې پېړۍ اصلاح غوښتونکې او ساده دله د مسلمانانو رفورمستانو دا تصور کاوه، چې که چېرته ختیځ هېوادونه پخپل مالي او ټولنیز ژوند کې د لوېدیځ تمدن ارزښتونه ومني، په هغه صورت کې به دغه هېوادونه د لوېدیځې نړۍ د پرمختللو هېوادونو په کتار کې وشمېرل شي او لوېدیځ روڼ اندي لیبرال او عدالت پروره ځواکونه به له دې نه ملاتړ کوي، نن د داسې خوبونو وخت تېر شوی دی.
دوه خونړي نړیوال جنګونه او د ذروي وسلې تلپاتې خطر هغه اعتماد او ډاډ، چې لوېدیځې نړۍ او ځینو بشري ټولنو د لوېدیځ پر تمدن او ارزښتونو درلوده، له منځه وړی، هم لوېدیځه نړۍ د خپلو کلتوري او معنوي ارزښتونو په اړه د شک او تردید ښکار شوې او هم نورو نړیوالو د لوېدیځ تمدن د ارزښتونو په اړه خپل اعتماد له لاسه ورکړی او دا پوښتنه رامنځته شوې، یو تمدن چې له خپلو معنوي او فرهنګي ارزښتونو سره د خپل تمدن له بربادۍ نه د ځان په وړاندې دفاع و نه کړي، په خپله حوزه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې د هغه له پالونکو ملتونو سره به څه مرسته وکولای شي، او بله پوښتنه دا چې: دغه تمدن، چې د بشر د تاريخ د بدلون ستر امکانات په خپل واک کې لري او هم د ويجاړتيا ډېر وحشتناکه وسايل جوړوي، بايد د هغه د ارزښتونو په پرنسيپ او نړۍ ليد کې اساسي عيب موجود وي. بايد د دې خوږې او رنګينې مېوې په منځ کې وژونکي چينجي پټ وي، دا چينجي بايد وپېژندل شي؛ د نولسمې پېړۍ په څېر د لوېديځ او ختيځ واقعيت هم خپله معنی له لاسه ورکړې او اوس پخپله د لوېديځې نړۍ تمدن د ختيځ او لوېديځ په بلاکونو وېشل شوی، چې د اقتصادي او ټولنيزو نظامونو د متضادو ايډيالوژيو او له بېل سبک ژوندانه سره د مخامختيا په حال کې دي او د دغې مخامختيا ډګر نور هغه کوچنۍ اروپا نه ده، بلکې ټوله ځمکه ده، چې د اسلامي ختيځ او عيسوي لوېديځ د مخامختيا مسئله په کې زړه، کوچنۍ او بې معنا ښکاري.

خو سره له دې هم د لوېديځ د واقعيت بله جنبه دا ده، چې د دغو بلاکونو تر منځ د ټولو ايډيالوژيکي اختلافونو او تضادونو سرچينه فکري او شعوري ده. هغه څه، چې دغه دواړه سره رانږدې کوي، د هغوی د ژوندانه بڼه، د فکر بڼه او د فهم بڼه ټاکي، چې دا د هغوی نړيوال ثروت، قدرت او ځواک دی، يوه واحده اقتصادي او ورته زېربنا ده، چې له هغه صنعت نه عبارت دی، چې په ډېر پرمختللي ساينس او ټکنالوژۍ ولاړ دی. د دغه لوېديځ متناقضه واقعيت په وړاندې د خپلې نړۍ واقعيت څرنګه پېژندلی او درک کولای شو، که چېرته هغه ختيځ او هغه لوېديځ ته بې له چون و چرا څخه د ترلتيا دريځ او له هغوی نه ړنده پيروي يوې خوا ته پرېږدو، يوازې دوې لارې پاتې کېږي.

يا دا چې: د ختيځ او لوېديځ زوړ تضاد هېر شي، نننی ختيځ او لوېديځ بلاکونه د يوه واقعيت په توګه ومنل شي او هغه ټولنې، چې نه په هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پورې تړلي دي او نه په دې پورې، د دربیمې نړۍ په نامه ونوموو او دربیمه نړۍ د همدې معیار په بنسټ د خپلو ټولنو په منځ کې، خپل ښې اړخ له کین اړخ نه تمیز او تشخیص کړي، یا دا چې پر ساینس او ټکنالوژۍ د ولاړ صنعتي اقتصاد د زېربنا، چې د سترو لوېدیځو هېوادونو د بډایتوب او ځواکمنتوب اساسي عامل دی، معیار وګرځوو، کېدای شي هغه ختیځ او هغه لوېدیځ یو واحد واقعیت وګڼو، چې په دې صورت کې د ختیځ او لوېدیځ زوړ تضاد یو ځل بیا نوې معنا خپلوي، خو په دواړو صورتونو کې پایله یوه ده، څه د زاړه ختیځ او لوېدیځ د تضاد په صورت کې او یا د دربیمې نړۍ د نني واقعیت په صورت کې موږ مجبوره یو په ټولیزه توګه له لوېدیځ سره او یا د هغه له دووو متضادو اړخونو سره د جلا فکر او نظر له لحاظه مخامخ شو.

له فکري او نظري لحاظه مو له یوه اړخه ویل، چې زموږ اقتصادي او ټولنیز ټکر او مخامختیا له ډېر وخته (له ۱۵۰ کلونو زیات) جریان لري، خو تر اوسه په دې نه یو توانېدلي، چې د هغه فکري او نظري اساسات ځانته څرګند او روښانه کړو.

## دوهم د ختیځ په اړه:

کېدای شي وویل شي، چې د دې سیمې په ټولنو کې له یوې خوا د ټولنیز او اقتصادي واقعیت او له بل لوري د فکري او ذهني واقعیت تر منځ ژوره بې توازني رامنځته شوې ده، په دې مانا چې فکري او ذهني واقعیت د اقتصادي او ټولنیز واقعیت په تناسب ډېر شا ته پاتې دی او د دې دواړو واقعیتونو تر منځ واټن ورځ تر ورځې زیاتېږي او دا له دې کبله و چې لوېدیځ د سېلاب په څېر د ختیځو ټولنو په منځ کې نفوذ وکړ. ټولنیز، اقتصادي، سیاسي او کلتوري جوړښتونه یې بې له کوم مقاومت څخه تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



اغېز لاندې ونيول، خو د نړۍ ليد او هغو متضادو فکري اساساتو د ټکر ستونزې، چې د تصادم په حال کې دي، مطرح نه شوې او ختيځ متفکرينو د خپل نړۍ ليد د پرنسيپ او د هغه د اصولو په اړه د دغو نړۍ ليدونو د مخامختيا په رڼا کې کومې جدي شننې او تفکر ته توجه و نه کړه، له دې کبله فکري نظري ستونزې په خپل حال پاتې دي.

پورته ياده بې توازني، کېداى شي په لاندې دوو مثالونو کې لږ تر لږه روښانه کړو.

زموږ بزگر له نويو کرنيزو ماشين الاتو څخه کار اخلي خو د ماشين حرکت د ده په نظر يوه معجزه ده او د بدو سترگو په وړاندې دم او دعا ته مخه کوي او دې ته نه دي ځير، چې د هغه خپل ذهني جوړښت په هغه نړۍ ليد ولاړ دى، چې علمي اختراع او د ماشين توليد ناممکنه کوي. که نه له ډېر پخوا نه ده بايد پخپله دغه ماشين جوړ کړى واى دغه مخترع او توليدوونکي ته به محتاجه نه واى او د مسئلې پېچلتيا دلته ده، چې له پرمختللو تخنيکي الاتو څخه کار اخيستل، ټولنه تر پخوا لا زياته د ماشين د مخترع او توليدوونکي مريئ گرځوي.

همدارنگه زموږ اداري مامور په اداري چوکاټ کې په نوي سبک په کار بوخت دي، خو نه د سياسي فلسفې له فکري اساساتو او نه يې له عقلي پرنسيپونو خبر دى او نه د لرغوني شرقي ادارې د سبک له طرز سره د هغه توپير په نظر کې نيسي، له دې کبله په يو بې روحه بيروکراته موجود بدلېږي.

لنډه دا چې اقتصادي او ټولنيزو بدلونونو د يوې طبيعي پېښې يا حادثې په څېر جريان موندلى او د دغو بدلونونو په پيل او يا جريان کې کومې ارادې او روښانه شعوري طرحې ونډه نه درلوده. له دې کبله ټولنيزې او اقتصادي پديدې خپل اجتناب ناپذيره طبيعي تگلورى لنډوي، خو دا چې فکري

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخامختیا ته د اړتیا احساس نه دی شوی، دغه واقعیت شا ته پاتې او ورځ تر ورځې شا ته ځي او فکري او نظري مسایلو ته په داسې نه پاملرنې سره، دغسې ټولنې پخپل لاس د لوېديځ د مریيتوب ځنځیر له خپلې غاړې تاووي او لا یې ټینګوي، دې ته ځیر نه دي، چې یوازې فکري انقلاب او ذهني انکشاف انسان ته دا وړتیا وربښي، چې حقیقي ازادۍ ته د رسېدو په لاره کې له تخنیکي او اقتصادي وسایلو څخه کار واخلي.

کوم بل ټکی، چې د ختیځ په اړه کېدای شي وویل شي، دا دی چې د شلمې پېړۍ یو له مهمو پدیدو څخه ملي واقعیت دی. په استعماري مبارزو او د استعماري قدرتونو له شا ته تګ وروسته، ملي هویتونه په دربیمه نړۍ کې تر پخوا لا زیات تثبیت شوي دي، په سیمه ییزه او نړیواله کچه د ټولنو د ټولنیز او سیاسي ژوند په برخلیک کې یې اساسي ونډه په غاړه اخیستې، حتا هغه نظامیان، چې ځان ته انترناسیونالستان وایي او ځان تر ملیت پورته ګڼي، عملا د ملي واقعیت په دام کې ګېر پاتې دي.

سید جمال الدین افغاني د دغې مدرنې مفکورې ارزښت په وضاحت سره وموند، خو تر ننه پورې مو د هغه په اړه عملي بحث نه دی کړی او دهغه فکري او نظري بنسټ ابینبودنه مو نه ده کړې، له همدې ځایه ده، چې احساساتي او عاطفي اړخ یې له فکري او عقلي پلوه ډېر قوي دی او له دې کبله د وخت دغه ستر واقعیت کله د سیمې د توکمي یا دیني عقایدو او یا په لرغوني سبک د ستړواکیو د بیارغون په هڅه کې مغشوش کېږي او د هغه مترقي ماهیت او د ولسي نهضت ځانګړتیا له منځه ځي.

زموږ ننی ټولنیز ژوند په دوه ډوله، بهیرونو کې د خوځښت په حال کې دی، یو یې د ملي هویت د تثبیت په لاره کې هڅه ده او بل یې لوېدیځ کېدو ته لېوالتیا ده، دا دویم یې هم د شلمې پېړۍ یو له بې ساري پدیدو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځخه دی. د لوېدیځ د تمدن له حوزې بهر په ټولو ټولنو کې ټول اقتصادي، ټولنیز، فرهنګي او سیاسي تغییرات او بدلونونه یوازې او یوازې یو لوری لري او بس ټول د لوېدیځ کېدو په لور تګ کوي، خو دغه د لوېدیځ کېدو هدف که خپلو وروستیو پایلو ته راکاږل شي یو ځانته متناقض هدف دی، په پای کې لوېدیځ کېدل له ځانه پردي کېدل دي، خپل فردي او ټولنیز هویت له لاسه ورکول دي، له دې ځایه ختیځه ټولنه او وګړي له ځانه د پردي کېدو دغه حرکت یا د ملي هویت د مفکورې او یا د دیني عقیدې په واسطه جبیره کوي، خو د دغو دواړو جبیره یې عکس العملونو عیب او کمزوري په دې کې ده، چې غیر شعوري او له عقلي اساساتو خالي دي.

د لوېدیځوالو د برترۍ او قدرت ستر رمز په دې کې دی، چې د تفکر او تعقل ځواک دی، چې لوېدیځ یې دځمکې پر سر مطلق بادار او حاکم ګرځولی دی، دا که د نړۍ اسلامي ملتونه په خپل فردي او ټولنیز ژوند کې له لوېدیځ نه پیروي کوي، د هغوی د ساینس او ټکنالوژۍ له نتایجو ځخه کار اخلي خو په ځنګ کې یې د انتقادي عقل او ازاد تفکر ځواک نه روزي، د دې نیمګړتیا پایله مریبتوب او غلامي ده، په دې مانا، د دې پر ځای چې د لوېدیځې نړۍ ټولنیز او فرهنګي او د تخنیکي وسایلو بڼې او یا اشکال زموږ تر واک او ادارې لاندې وي، موږ به د هغه تر فرمان لاندې یو او پخپل دې مریبتوب سره به د نړۍ د دغه بادار برتري لا پسې پیاوړې کوو او تر پخوا لا زیات به له ځانه د پردیتوب په لاره پلي کېږو.

تقریبا په وروستیو پنځوسو کلونو کې د اسلامي ختیځ په هېوادونو کې یوه بله مهمه پدیده، په لوېدیځ سبک د ښوونې او روزنې وده او پراختیا ده نن یو زیات شمېر ختیځوالو یا د خپلو هېوادونو په نویو مدرسو کې او یا په لوېدیځو ملکونو کې په عالي مدرسو کې لوېدیځ علوم او فنون زده کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي او د لوېديځ فرهنګ او تمدن په اړه نسبتا ژور او دقيق معلومات لري، خو د ختيځو ملکونو د نويو مدرسو د تامل وړ خصوصيت دا دی، چې په هېڅ يو هېواد کې دا هڅه نه ده شوې، چې د نوي، او زړو تعليماتو تر منځ پل رامنځته او يا کومه اړيکه ټينګه شي، يا دا چې هغه زړې مدرسې اوس هم ژوندۍ دي او له نويو مدرسو سره له کومې اړيکې پرته، د خپل دور په يوه تړلې او محدوده حلقه کې ژوند کوي او يا هغه مدرسې له منځه تللي دي او نويو مدرسو له زړو تعليماتو سره له کومې تړلتيا پرته بې له کومې سابقې او ريښې په ختيځ کلتور او تمدن کې په کار پيل کړی او څو نسلونه يې روزلي دي، دغه پاشلتيا او جلايي د نويو تعليم تر لاسه کوونکو په روزنه کې دوې منفي پايلې را منځته کړې دي:

۱ : دا چې دغه تعليم تر لاسه کوونکې په بشپړه توګه د لوېديځ سبک د تعليماتو تر اغېز لاندې راغلل، ډېر ځله د لوېديځ په وړاندې انتقادي روحيه نه لري.

۲ : دا چې و يې نه شوای کړای، لکه څنګه، چې اړينه وه پر خپل فرهنګ، تمدن او ژبې تسلط پيدا کړي، د خپل کلتور او ژبې په وده او پرمختګ کې يې خلاق او نوښتيزه برخه نه ده اخيستې.

دغه د لوېديځ سبک په تعليماتو روزل شوي لومړي نسلونه تر ډېره بې ثمره ونو ته ورته دي.

د دغې پديدې تر څنګ، زموږ د لرغوني ختيځ د مدرسو په سبک يو ډول پو او اديب لا هم ژوندی دی، که څه هم ننی فرهنګي او تعليمي چاپېريال به په قوي احتمال داسې ډول پوه او دانشمند په راتلونکې کې و نه روزي، خو حقيقت دا دي، چې همدا ډول دانشمند و، چې تر اوسه يې د خپل فرهنګ او ژبې په وده او بشپړتيا کې خلاقه او فعاله ونډه اخيستې، زموږ ننني ادبيات، ژبه او تاريخ د هغه په لاس جوړ شوي، له هغه استعداد او نبوغ سره يې، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



درلوده تر ډېره بريده له نويو علمي تخنيکونو او طريقو څخه يې ګټه اخيستې، خو دا چې پر لوېديځ فرهنګ، ژبې او علومو يې بشپړ تسلط نه درلود، د هغه علمي او کلتوري ونده په غوښتي او ناغوښتي بڼه محدوده پاتې ده او د هغه متناقض دريځ د همدې محدوديت پايله ده، په دې مانا، چې هغه پخپله علمي انتقادي روحيه کې د (يک بام و دو هوا) له پرنسيپ نه کار اخلي، ياني د لوېديځ په وړاندې انتقادي دريځ لري، خو د ورته انتقادي تفکر معيارونه د ځان په اړه نه کاروي.

دا دوه ډوله روڼ اندي ياني نوي تعليم يافته او زوړ دانشمند يو بل پر ضد دي، نوي تعليم يافته د لوېديځې نړۍ په اړه په يو څه پوهېږي، خو د هغه په وړاندې له انتقادي روحيې کار نه اخلي، له خپل فرهنګ او کلتور نه بشپړ معلومات نه لري خو د هغه په وړاندې انتقادي دريځ غوره کوي، برعکس د زاړه سبک پوه له لوېديځې نړۍ نه بشپړ معلومات نه لري، د هغه په وړاندې له انتقادي روحيې کار اخلي، پر خپلې ژبې او فرهنګ تسلط لري، خو د هغه په وړاندې انتقادي روحيه نه لري.

پورته ذکر شوي خصوصيات ډېر عمومي وو او د کليت هېڅ کومه جنبه نه لري، ځکه له نېکه مرغه نن په ختيځو ملکونو او اسلامي هېوادونو کې يو زيات شمېر د نوي او زاړه سبک پوهان وجود لري، چې هم صاحبدله دي او هم صاحبنظره، هم له خپلو اوسنيو او پخوانيو ستونزو خبر دي او هم ستر نړيوال مسايل د خپلو سترګو په وړاندې وېر مومي او د خپل کلتور او ټولنې او د انسان او نړۍ په اړه اندېښنې او اضطرابونه ورسره مله دي، هم پر ځان او هم پر نورو علمي انتقادونه لري، چې له دې کبله د ختيځې نړۍ او اسلامي نړۍ د داسې يو زيات شمېر صاحبدله او صاحب نظره پوهانو شتون ما ته دا جرئت رابښي، چې د خپلو دغو خبرو اصلي مرام بيان او يو وړانديز وکړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## وړاندیز:

موږ د اوسني ختیځ خلک تر بل هر وخت زیات له لوېدیځ تمدن سره یوې ژورې او پراخې فکري او نظري محاسبې، تصفیې او یو علمي انتقادي چلند ته اړ یو.

داسې صحیح علمي چلند به د ګڼو مهمو علمي پایلو په جمله کې یوه اساسي پایله ولري، موږ به د هغه په لړ کې وکولای شوو خپله ټولنه او تمدن او خپل ټولنیز او فرهنګي هویت په دقیقه او څرګنده توګه درک کړو او دا به یو ډېر ستر خدمت وي، چې موږ یې د خپلې نړۍ د فرهنګ او اجتماع لپاره تر سره کړو. ختیځه نړۍ اوس اوس ډېر شمېر داسې پوهان لري، چې کولای شي په ښه توګه د دغه کار له باره ووځي.

لوېدیځو پوهانو د ختیځې نړۍ په اړه زیاتې مطالعې او څېړنې کړې دي، کابو له اتیا کلونو را پدېخوا یو نړیوال کانګرس، د ختیځ پېژندنې د کانګرس په نامه تر وروستیو کلونو د نړۍ په سترو ښارونو کې جلسې جوړولې او ما، چې د دغه کانګرس په څو جلسو کې ګډون کړی دی، تل مې روحي او ذهني نارامي احساس کړې ده، د دغې نارامۍ د احساسولو علت په دې کې و، چې لیدل مې ډېری ختیځ پېژندونکو ختیځ د لرغونو اثارو د موزیم، د بشر پېژندنې د لابراتوار او د مړو او زړو ژبو د اشکالو د ساتنځای او د فرهنګي او ټولنیزو جوړښتونو په څېر په نظر کې نیول او ختیځ انسانان یې بس هسې د پوهنې د موضوع او یو بېځایه شي په توګه مطالعه کول او د دغه بې روحه شي په اړه یې نظرونه ورکړي او قضاوتونه کړي دي، حکمونه یې صادر کړي او اوس هغه وخت رارسېدلی، چې ختیځوال بس هسې د پوهنې موضوع نه وي، بلکې پخپله د پوهنې فاعل شي او نور نو یوازې د یوه څیز په توګه مطالعه نه شي، بلکې پخپله د یوه شخص په توګه ځان مطرح کړي او د تفکر په ساحه کې د ځان او جهان

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اړه رغنده ونډه تر سره کړي. د هغه څه په اړه، چې لوېديځوالو د نړۍ په اړه ويلي او وايي،د هغه څه په اړه، چې د ختيځ او ختيځوالو په اړه يې ويلي او وايي، بلاخره خپل نظر ووايي، په قضاوت دې لاس پورې کړي او حکم دې صادر کړي. د يوه عقلي او فکري شخصيت په توګه دې د انسانيت او علم په نړۍ کې قدم واخلي، ځکه نو لازمه ده، چې د لومړي ځل لپاره د اسلامي نړۍ او د ختيځ پوهان او متفکرين سره راټول شي او د (لوېديځ پېژندنې کانګرس) لومړنی علمي مجلس دې جوړ کړي او په هغه کې دې دغه موضوعات:

- د ختيځ او لوېديځ د فلسفې مخامختيا او د نړۍ ليدونو د ټکر ستونزې.
- د ختيځو نړۍ ليدونو په وړاندې لوېديځې فلسفې.
- غربي ساينس او ټکنالوژي، د ختيځ او نړۍ لپاره د هغه اساسات، مانا او ارزښت.
- د لوېديځ ټولنيز، سياسي او فرهنګي جوړښتونه او د نړۍ او ختيځ لپاره د هغه ارزښت او مانا.
- انتروپولوژي او ټولنيز علوم، د لوېديځ او زموږ لپاره د هغه مانا او مفهوم.
- ختيځ پېژندنه او په لوېديځ تمدن کې د هغه نقش، د ختيځ د تمدنونو په پېژندنه کې د هغه مانا او ارزښت.
- لوېديځ کلتور او ادبيات، په ختيځو ادبياتو کې د هغه مانا او اغېزې.
- او ګڼ نور موضوعات مطالعه او تحليل کوي.

د داسې يوې غونډې د جوړولو لپاره به هر ختيځ هېواد په تېره اسلامي هېواد به ښه وي، خو زما په نظر د داسې يوې سترې علمي او فرهنګي غونډې د لومړنۍ جلسې لپاره مناسب ځای او محل به افغانستان وي. هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هېواد، چې د اسيا زړه دی، هغه هېواد، چې د سترو تاريخي او کلتوري بهيرونو مرکز، د اتصال کړۍ او د تګ او راتګ څلور لاری و. زردښت له همدغه ځای نه نړۍ ته پيغام ولېږه، بودېزم له خپلو فکري او هنري ارزښتونو سره همدلته وده او پراختيا وموندده او له دې ځای نه يې مرکزي اسيا ته لاره وکړه. يوناني تمدن همدلته له ختيځ او ختيځې روحيې سره خلاق چلند تر سره کړ. کوشاني تمدن په همدې خاوره کې وځلېد او اسلامي تمدن په همدې ځمکه کې د هنر او ادبياتو شاهکارونه رامنځته کړل او بلاخره همدغه هېواد و، چې د لوېديځ د استعماري قدرت په وړاندې مقاومتونه او مبارزې وکړې او نن همدغه هېواد، چې د سيد جمال الدين افغاني ټاټوبی دی، بايد له لوېديځ تمدن سره د ختيځې نړۍ د علمي او فکري مخامختيا زمينه برابره کړي.

زموږ ځوان جمهوري نظام، چې نوی او ستر تاريخي رسالت په غاړه اخيستی او د مرکزي اسيا د تمدنونو په بنسټ ايښودنې او وده کې زموږ د هېواد کلتوري او فرهنګي غوڅ او پرېکنده نقش په نظر کې لري. باور لرم، چې د لوېديځ پېژندنې د لومړي کانګرس ستر وياړ زموږ د هېواد په برخه کړي او له دې نوي علمي او فرهنګي جريان سره به دغه لرغوني هېواد ته نوی فرهنګي ژوند وبښي.

نوټ:

که دغه مفکوره د سيد جمال الدين افغاني د شخصيت د نمانځنې د نړيوال سيمينار د غړو د خوښې وړ وګرځېده، په دې صورت کې وړانديز کوم، چې د افغاني او دوستو مملکتونو د پوهانو له جملې څخه دې د پورته مفکورې د علمي او نظري طرحې په خواوشا کې، د ډېر غور لپاره، يوه کمېټه جوړه شي، چې په دې برخه کې لازم تصويبونه تر سره شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## یاددښت:

په خواشینۍ سره، د مقالې په اصل کې انګلیسي ماخذ او لاتین نومونه له ټایپ نه پاتې شوي او موږ و نه شو کولای، چې دغه نیمګړتیا جبران کړو.

سید جمال الدین افغاني

جمال الدین د سید صفدر زوی و. په ۱۲۵۴ ق ۱۸۳۸ میلادي کال د کونړ په اسعد اباد کې وزېږېد.

د سید جمال الدین افغاني کورنۍ د کونړ په اسعداباد کې اوسېدله خو د امیر دوست محمد خان په وخت کې د ځینو ستونزو له مخې د هغه په امر د سید پلار له کورنۍ سره کابل ته راغی او هلته مېشت شو.

سید جمال الدین افغاني په اووه کلنۍ کې په خپل کور کې د دودیزو علومو په زده کړه پیل وکړ. دی ډېر هوښیار و او په لږ وخت کې یې د نړۍ د وخت دودیز علوم ټول زده کړل، ان چې استادانو یې هم له نبوغ او فکر څخه ګټه اخیستله.

افغان سید په اتلس کلنۍ کې صرف، نحوه، معاني، بیان، نوی او زوړ تاریخ، تفسیر، حدیث، فقه، اصول، عقاید، کلام، منطق، ریاضي، هندسه او طب ختم کړل. ده له ډېرې ځیرکۍ او قوي ذهن سره پراخه مطالعه هم کوله او په هره برخه کې یې د خلکو د ویښتیا او هوسایني له پاره یو نوی نظر او پیغام وړاندې کړی، چې دا د ده د نبوغ ښه بېلګه او د فکري ځواک څرګنده نښه ګڼل کېږي. ده د خپلې بې ساري پوهې په برکت د نړۍ ډېر هېوادونه ویښ او د ژوند په رښتیني مانا پوه کړل.

کابل ته تر تګ مخکې یې په کونړ که له سید فقیر شاه بادشاه څخه دیني او عربي علوم زده کول او په کابل کې یې بیا د ګذري په جومات کې له لویو پوهانو څخه لوست کاوه. د وخت په تېرېدو سره یې پر دې زده کړو قناعت و نه کړ او د پوهې مینې تر هنده ورساوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سید جمال الدین افغاني په ۱۸۸۵ میلادي کال کې د پان اسلامیزم غورځنګ په جوړولو بریالی شو. د علامه نظریه او مبارزه په دوو اصولو (اسلامیت) او (افغانیت) ولاړه وه.

سید لومړی هند ته لاړ، خو انګرېزانو له هغه ځایه وایست. بیا مصر او ورپسې ترکیې ته لاړ. په ترکیه کې یې د هغه هېواد د صدراعظم په غوښتنه د پوهنې او معارف د وزارت د مجلس غړی و ټاکل شو. سید له ترکیې څخه مصر ته لاړ او هلته یې نهه کاله د الازهر په اسلامي مدرسه کې د استاد په توګه دنده تر سره کړه. په ۱۸۷۹ میلادي کال کې له هغه ځایه وتلو ته مجبور شو او بېرته هند ته روان شو. خو انګرېزانو ډېر ژر مجبوره کړ، چې له هنده څخه هم ووځي. له هغه ځایه لندن ته لاړ او هلته یې د (ضیاالخافقین) په نامه یو اخبار پیل کړ او له هغه ځایه فرانسې ته لاړ او هلته یې هم د عروة الوثقی په نامه د یوه اخبار خپرول پیل کړل. اخبار یې د فرانسې حکومت بند کړ او هغه و، چې له هغه ځایه څخه ترکیې ته لاړ.

په ۱۳۱۴ هجري قمري (۱۸۹۷) میلادي کال د مارچ په اتمه نېټه د سرطان د ناروغۍ له امله وفات شو او په ترکیه کې ښخ شو، چې وروسته بیا په ۱۳۲۳ هجري لمریز (۱۹۴۴) میلادي کال کې د ده تابوت، د ترکیې د حکومت په موافقه کابل ته راوړل شو او د کابل پوهنتون په زړه کې په شاندارو مراسمو سره خاورو ته وسپارل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د سید جمال الدین افغاني لنډه پیژندنه

زمونږ ګران هېواد د ستر آریانا ټاټوبی دی چې د ۱۹ پېړۍ په لومړیو او نیمائي کې د ښکېلاکګرو په تېریو سره یې خپل تاریخي او لرغونی لوړوالی له لاسه ورکړی و ښکېلاکګرو په خپل ټول قوت سره د اسیائي او افریقائي هېوادونو د ستوني مرۍ په لاس ټینګه نیولې وه.

لیکوال: عبدالمنان ساپی

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمونږ.ګران هېواد د ستر آریانا ټاټوبی دی، چې د ۱۹ پېړۍ په لومړیو او نیمائي کې د ښکېلاکګرو په تېریو سره یې خپل تاریخي او لرغونی لوړوالی له لاسه ورکړی و ښکېلاکګرو په خپل ټول قوت سره د اسیائي او افریقائي هېوادونو د ستوني مرۍ په لاس ټینګه نیولې وه.

فرانسه په الجزائر کې روسیه په منځنۍ اسیا قفقاز هېوادونو کې او انګرېزانو د هندوستان په لویه وچه او څه نا څه په افغانستان باندې حکومت کاوۀ.

په ځانګړې توګه ختیځ چې د لوړ تمدن او ابدي زیرمو ګودام و د لویدیځي نړۍ لپاره خورا په زړۀ پورې غنیمت بلل کېدۀ د وخت ظالمانو باچاهانو خپل د ژوند برياوې او لرلید د خلکو په ډېره بېوسۍ کې خورا ښه لیده. د تاریخ پدې تورتمي پېر کې چې د نړۍ پدې سیمه کې د آزادۍ لمر بیخي د ښکېلاکګرو هېوادونو له خوا په توره پرده پوښل شوی و، پدې حساس او بد تاریخي پېر کې په ختیځ کې د تورې تیارې زړۀ وچاودېدۀ او د آزادۍ او د انسانیت ستوری وځلید چې د دې ستوري په رڼا کې د دې سیمې خلکو وشوکولای چې د خپل روښانه راتلونکي لپاره لار ومومي او د ا ستوری د افغانستان په ختیځ سیمې دکونړ په چغسرای (اسعدآباد) کې د سید جمال الدین افغان(رح) د زېږدنې نېکمرغه اواز چې په ګاونډ او منطقه کې وځلېد د افغانستان او سیمې لپاره یې د ځان سره خورا ځلېدونکې رڼا راوړه چې پدې وخت کې زمونږ ګران هېواد د نورو ګاونډیو هېوادونو سره په یو ډول ټولنیزو ،ستمونو ، رنځونو، کړاونو، لوږې ،او د ډول ډول ظلمونو او ناخوالو ناتارونوپه توفانونوکې راایسارو.

افغان سید (رح) د دې پېچلې او تورتمي ټولنیز سیاسي چاپېریال ته سعادت او نېکمرغۍ د راتلولپاره پخپله نه ستړې کېدونکې هلو ځلو باندې پېل وکړ او هغه څه ته ډېر ځیر شو چې د نورو له نظره غورځېدلی و ،افغان

(c) ketabton.com: The Digital Library



سید(رح) د خپل پلار نه زدکړه وکړه او ډېر ژر یې په دیني علومو کې برياوی ترلاسه کړی او د ډیری قوي حافظې او استعداد څښتن شو، نو د یو په بل پسې د علومو په پووړیو وروخوت چې په افغانستان کې دننه او بهر یې علوم زده کړل او ډیر ژر د دنیا د عالمانو ترڅنګ ودرېدۀ .

افغانستا ن او سرحدي سیمه (قبائل) د ۱۹ پېړۍ د شروع څخه بیا تر د افغان سید(رح) د وخت پورې د علومو او د فنونو مرکز بلل کېدۀ.

د نړۍ خلکو به د حکمت او فلسفې د علومو د زدکړې لپاره په ځانګړې توګه د اسلامي نړۍ نه به دلته خلک راتلل او په خاص ډول په سیمه او ګاونډ کې نوموړې سیمه د فلسفې او منطق او د کلام د علومو لپاره خاص او عام مرکز ګڼل کېده، چې په نوموړې سیمه کې دا اشخاص اوسېدل:

میر زاهد میروي، ملامحب الله بهاري، قاضي مبارک کندهاری، مولوي حبیب الله، د پشد قاضي کونړی، پېښوری لوی حافظ، او ستر مجاهد مُلا نجم الدین، هډې صېب، د بنست مُلا او فېروز ملا چې دا ټول په همدې سیمه کې رالوی شوي و چې وروستني پنځه یې د سید جمال الدین افغان(رح) د پېر شخصیتونه دي په دغه وخت کې د مسلمانانو اعمال دومره خراب شوی وو، چې اصلاح کول یې څه اسانه کارنه وو، خو د علامه سیدجمال الدین افغان د زیاتو کوښښونو او نه ستړی کیدونکو هلو ځلو په نتیجه کې یو څه اصلاحات رامنځ ته شول. نوموړی په دې عقیده و چې باید یو نوی نظام رامنځ ته شي،او نوی نسل په اسلامي عقایدو وروزل شي تر څو یوه اسلامي او په خپلو پخو ولاړه اداره رامنځ ته شي.

علامه سید جمال الدین افغاني د سید صفدرزوی په ۱۲٥٤ هجري سپوږمیز کال د شعبان په میاشت کې چې د ۱۸۳۹ زېږیز سره برابر دی د کنړ ولایت په اسعدآباد کې په یوه د یندوسته کورنۍ کې زېږېدلی دی، دی د اسلامي نوښت بنسټګر او یو سیاسي فعال غړی وه چې د اسلامي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملتپالنې يو مخور پلوی و. سېد جمال الدين افغاني په ۱۸۸۵ زېږيز کال کې د پان اسلاميزم غورځنگ په جوړولو بريالی شو ، د علامه نظر په او مبارزه په دوه اصولو (اسلاميت) او (افغانيت) بنا شوې وه. د سيد جمال الدين افغاني کورنۍ د کونړ په اسعد آباد کې اوسېدله خو د امير دوست محمد خان په وخت کې د ځينو اړتيا وو له مخې د هغه په امر د سيد پلار له کورنۍ سره کابل ته راغی او هلته مېشت شو ().

د سيدجمال الدين افغان د نسب سلسله سيدعلي ترمذي ته رسيږي، چې په ۹۹۱ ه ق کې وفات شوی او په بونير کې يې زيارت دی، سيد علي ترمذي د خپل وخت مشهور او روحانې شخصيت و چې د هند د گورگاني سلطنت په دربار کې مقرب او معزز سړی وو او په خلکو کې د پوره پيژندگلوي او نفوذ خاوند و. پښتانه يې له ډير اخلاص او محبت نه ((پيربابا)) بولې .

د پير بابا اولاده د هيواد په ختيځو ولاياتو لکه ننگرهار، کنړ، لغمان او همدارنگه په کابل او د هيواد په ځينو نورو سيمو کې ميشت ده، مگر دوی هر چيرې چې اوسي ځانونه ((دکنړ))سيدان بولي او په همدې باندې شهرت لري په دې اړه مې د يوه پاچا سره چې خپل نوم يې گل سيدوو د زړه خواله کړې، دی چې دلته ورته اشاره کوم .

نوموړی سړی وای: چې د پاچايانو اصلي ټاټوبی د کونړ ولايت د پشد علاقه ده چې د مرکزی کونړ نه لږ کوز د ننگرهار په طرف واقع ده. د سيد جمال الدين افغان دپلار نوم سيد صفدر وو،نو ځکه دغه سيمه د «صفدر گټ »په نوم ياده شوېده، چې بيا وروسته د يوڅه وخت نه د لهجې دتغير په اساس ورته « صدر گټ »وويل شو، دغه سړی وای چې پاچايان (سيدان) د وخت په تيريدو سره ددغه سيمې څخه نورو سيمو لکه سرکانړو، سلام پور، باراباط،کنړخاص او پيچ درى ته وکوچېدل او هلته

(c) ketabton.com: The Digital Library



میشت شول .د دغه کورنیو ځینې کسان اوس هم شته چې ما ورسره ولیدل لکه دپیچ درې دوتلی په کلی کې «سیدجمال پاچا »په سرکاڼو کې «وکیل پاچا »په باراباط کې «داود پاچا »دوی ځانونه دامام حسن او حسین (رض) اولاده بولی خلک ددوی ډیرعزت کوي او دعزت په سترګه ورته ګوري.

زده کړې

سید جمال الدین افغان په اووه کلنۍ کې په خپل کور کې د دودیزو پوهنو په زده کړه پیل وکړ .دی ډېر ځیرك او هوښیار و، د فکر پراخي يې دومره وه، چې په لږ وخت کې يې د دود سره سم ټولي زده کړې ترسره کړي آن چې استادانو يې هم له نبوغ او فکر څخه ګټې اخیستلې .افغان سید پر اتلس کلنۍ کې صرف، نحوه، معانی، بیان، نوی او زوړ تاریخ، تفسیر، حدیث، فقه، اصول، عقاید، کلام، منطق، ریاضی، هندسه او طب ختم کړل.

ده له ډېر ځراکت او قوی ذهن سره پراخه مطالعه هم کوله او په هره برخه کې يې د خلګو د ویښتیا او هوسایني له پاره یو نوی نظر او پېغام ډګر ته راایستی چي دا د ده د نبوغ ښه بیلګه او د ذهن د پیاوړتیا څرګنده نښه ګڼل کیږي، چې د خپلې بیسارې پوهې په برکت يې کور، کلی، هیواد او د نړۍ ډېر هیوادونه ویښ او د ژوند په رستینې مانا پوه کړل او د هغوی بیده وجود ته يې د ویښتیا په روح دازادۍاواستقلال مفکوره ورکړه، دکابل تر تګ مخکې يې په کونړ کې د سید فقیر بادشاه څخه دیني او عربي پوهنی زده کړې وکړې او په کابل کې يې بیا د ګدای ګذري په مسجد کې له لویو پوهانو څخه لوست کاوه.

د وخت په تیرېدو سره يې پردې زده کړو قناعت ونکړه او د پوهې مینې تر هنده ورساوه .د پوهې او زده کړې په لار کې يې د هیڅ ډول ستونزو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



خنډونو پروا نه کوله .سید افغان په هند کې یو کال او څو میاشتې تیرې کړې .پر تېره زده کړه یې نوې پوهه د نوو اصولو سره زیاته کړه یعنې سید مخکې په عربي، فارسي او ترکي علوم لوستلي وو او په همدې ژبو غږیده په هند کې یې انګلېسي او اردو هم زده کړه .سید چې پخوا یې فلسفه د عربي پوهنو سره یوځای ویلې وه دا وخت یې په هند کې د نوي فلسفې په کارولو سره چې له اروپا څخه یې څرك رارسېدلی وزده کړه.

په سید جمال الدین کښې د کوچنیوالي څخه د ښه استعداد او نبوغ نښې نښانې څرګندې وې ځکه نو پلاریې دی لومړی د کامې د شیر ګړ د حضرتانو په دیني مدرسه کې شامل کړ بیا پلار د ځان سره کابل ته بوت، هلته یې له مشهورو استادانو څخه دیني علوم ، ریاضي، طب ، منطق او فلسفې کتابونه ولوستل او د دې تر څنګ یې نظامې زده کړه هم و کړه . په لږه موده کې ډېرعالمان ده ته د تدریس کولو څخه عاجز شول .په زلمي توب کې یې هند ته سفر و کړ او هلته یې د دیني او نورو عصري علومو زده کړې بشپړې کړې .بیا حجاز ته ولاړ ، یو کال د عربو په ملکونو کې و ګرځېده.

کله چې سید جمال الدین افغان په دغو سفرونو کې پر زده کړه سربېره د شاو خوا سیمو د سیاسي ، اجتماعي او اقتصادي حالت ډېره ژوره مطالعه و کړه نو دا فکر ور سره پیدا شو چې څرنګه خپل هیواد، ټول اسلامي هیوادونه او نوره نړۍ د انګرېزانو د استعماري بند، اثر او نفوذ څخه خلاصه کړي، نو یې عملي هلې ځلې شروع کړې.

پدې وخت کې امیر محمد اعظم خان د امیر دوست محمد خان زوی د افغانستان پاچا وو ، سید جمال الدین د نوموړي پاچا د نیژدې مشاورینو او د دربار د مخورو څخه وو . د امیر محمد اعظم خان د پاچاهۍ دوره ډېره لنډه وه او بیرته امیر شیرعلي خان د دوهم ځل د پاره پاچا شو امیر

(c) ketabton.com: The Digital Library



شیرعلي خان له خپل ورور ( محمد اعظم خان)سره د نیژدې تعلقاتو ، یا د انگرېزیانو په اشاره او یا د سید جمال الدین څخه خپلي واکمنۍ ته د خطر په نسبت دی د خپل هیواد پرېښودو ته اړ کړ ، سید له هیواد څخه تر وتلو وختي لا خپل ټول پلانونه او پرمخ تللي پلانونه، د وخت امیرته وسپارل او له هیوادڅخه ووت.

لومړی هند ته ولاړ ، خو انگرېزیانو د هغه ځایه څخه و ایست او له هغه ځایه مصر او بیا ترکیې ته ولاړ ، په ترکیه کې د هغه هیواد د صدراعظم په غوښتنه د پوهنې او معارف د وزارت د مجلس غړی و ټاکل شو ، سید د ترکیې څخه مصر ته ولاړ او هلته یې نهه کاله د الازهر په اسلامي مدرسه کې د استاد په توگه دنده تر سره کړه، په ۱۸۷۹ میلادي کال کې له هغه ځایه وتلو ته مجبور شو، هند ته ولاړ .ډېر ژر انگرېزانو مجبوره کړ ، چې له هنده څخه هم ووزي، له هغه ځایه لندن ته ولاړ او هلته یې د (ضیاالخافقین )په نامه یو اخبار پیل کړ او له هغه ځایه فرانسې ته ولاړ او هلته یې هم یو اخبار پیل کړ. اخبار یې د فرانسې حکومت بند کړ ، هغه و، چې له هغه ځایه ترکیې ته ولاړ په ۱۳۱٤ هجري سپوږمیز ( ۱۸۹۷ ) میلادي کال د سرطان د ناروغۍ له امله وفات شو او په ترکیه کې دفن شو، چې وروسته بیا ۱۳۲۳ هجري لمریز ( ۱۹٤٤ ) میلادي کال کې د ده تابوت د ترکیې د حکومت په موافقه کابل ته راوړ شو او د کابل پوهنتون په احاطه کې په شاندارو مراسمو سره خاورو ته وسپارل شو .

سید افغان له هنده مکې شریفي ته ولاړ، حج یې وکړ او د عربو خوی، کړه وړه اودودونه یې ولیدل او ډېره گټه یې ورته وکړه، ترحج وروسته بیرته افغانستان ته راغی، چې دا مهال لوی پوه او نابغه ځنې جوړ شوی و،کله چې بیرته هیواد ته راستون شو نو د وخت حکومت دده د ځراکت او پوهې له امله ورته د حکومت په حاکمه درجه کې اوچت او لوړ مقام ورکړ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



سید افغان دا مهال اووه ویشت کلن و او د وزارت تر چوکۍ رسېدلی و، د محمد اعظم په زړه کې یې خورا ځای نیولی و او تل به یې مشوره ورسره کوله، سید افغان ده ته په هره برخه کې د نوی فلسفې له مخې پوهه ورکړې وه، ده هم د واك پر مهال دده لار ښوونې منلې.

کله چې امیر شیر علي خان، محمد اعظم خان ته ماته ورکړه نو سید افغان ته یې بلنه ورکړه، خو هغه ونه منله، د محمد اعظم په ماته یې اراده له لاسه ورکړه او د امیر شیر علي خان سره یې هم مرسته ونه کړه، دا مهال سید د خپل ځان له پاره وضعه سمه ونه ګڼله ځکه یې بهر ته د تګ هوډ وکړ، د دې له پاره چې خپل هیواد او خلکو ته یې خدمت کړی وي نو امیر شیر علي خان ته ورغی او د رخصتېدو پر مهال یې هغه ته دهیواد د پرمختګ په نیت ځیني مواد وړاندې کړل لکه په کابل کې د یوې جریدې خپرول، د افغانستان د سیاسي خپلواکي اخیستلو اعلان، د کابینې جوړونه، د عسکرو منظمول، د ملي ژبې پښتو پالل او بډایول، د ښوونځیو جوړول، سړکونه جوړول د پستې او مخابرې وسایل برابرول او نور...

دارنګه د سید په باره کې وایي چې: ده محمد افضل خان ته پوره درس ورکړې و، که چیرې افضل خان باچا شوی وای نو به سید افغان د خاورې د آبادۍ، خپلواکۍ د ګټلو په لار کې او د خلکو د هوسا ژوند له پاره نه ستړې کېدونکي خدمتونه کړي وای، تر دې وروسته سید افغان له خپلې خاورې په ژوند ولاړ او تر مړینې وروسته پس له ډېره وخته تش تابوت اوهډوکي ګران هیواد ته په خورا درنښت راوړل شول او د کابل پوهنتون په منځ کې ښخ شو، چې په هیواد د کورنیو ورانوونکو جګړو په ترڅ کې نه یوازې داچې ژوندي انسانان مو بې ګناه په خاورو ومنډل شول بلکې له مړو اومزارونو سره هم دښمنۍ وپالل شوې، چې په دې ترڅ کې د سید افغان قبر هم دا ډول وران او په بې شمېره مرمیو سوری، سوری شو، چې ته به

(c) ketabton.com: The Digital Library



وایې د ډېر منظم پلان له مخې دا کار شوی وي، زموږ د څارویو، انسانانو او د دین غلیمانو یوازې په دې زړه نه سړېده، چې نن او سبا ته مو اور واچوي بلکې د پرون د ویاړونو پر تندې یې هم داغونه راکښېښول...

که څه هم د سید افغان د ژوند اړخونه په څو پاڼو او کتابونو کې نشي ځایدلی او د هغه د ویاړلي ژوند په اړه کتابونه لیکل په کار دي، چې د ده د ژوند او اثارو په برخه کې معلومات بشپړ شي، خو دلته د دغه ستر انسان په اړه یو څو ټکي روښانوو، سید جمال الدین افغان د ختیځې نړۍ ستر عالم، لوی سیاست پوه، مبارز او انقلابي شخصیت و، دی نه یوازې پوه او مفکر و بلکې له پوهې او مفکورې سره عمل هم ملګری کړی و، ځکه نو د عمل او مبارزې د لارې اتل او مخکښ ګڼل کیږي، د ده د عمل له پاره باید دا و وایو چې د ده پیغامونه او نظریې دي، چې هر وخت او هره ورځ یې په بیلا، بیلو هیوادونو او خپلو تألیفاتو کي ځای کړي دي، د ده دا پیغامونه یوازې د یوې ورځې او یوه تن له پاره نه وو بلکې هغه مهال د هغو قومونو او هیوادونو د وینښولو له پاره لوی درس و، چې د استعمار تر تسلط لاندې وو او خورا ښه بېلګه یې د(عروة الوثقی) مجله ده، ده د نړۍ پر مخ مسلمانان چې د اروپا له خوا تر ښکېلاك او تیري لاندې وو د یوه لاس ګوتې ګڼلې او د دغه ښکېلاکي واکمنۍ د ختمولو له پاره یې دوی یو والي او ورورۍ ته رابلل چې ځانونه خپلواك او هیوادونه یې له ښکېلاکه وژغورل شي او پردې ونه توانیږي چې د دوی پر مادي او مانیزو شتمنیو خېټه واچوي.

ستر سید د ښکېلاك د ناوړې پالیسۍ ورکولو له پاره په هر هیواد کې هر قوم ته خپلې سوي، سوي نارې په ډېر ځراکت اوزړورتیا سره وهلې او دایې لویه هیله وه چي د ښکېلاك تور ټغرله دغو هیوادونو څخه ټول کړل شي، ده غوښتل چې دا هیوادونه د مفکورې او عمل له لارې راویښ کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پردي دښمن پر وړاندې کلك او استعماري نقشې يې وراني کړي او په پای کې وکولای شي، چې د استعمار تور ځنځير د تل له پاره له خپلې غاړې وباسي، همدارنګه سيد افغان تبعيض او تفرقه نه منله، هغه ټول انسانان يوشان ګڼل، د تور، سپين اوژيړ ترمنځ يې فرق نه کولو او ټولو ته يې احترام درلوده.

د ده دالوړه مفکوره هر ځای په هر هيواد کې جوته شوې ده، يعنې دی چې به هرځای ته ولاړ ځان يې د هغه ځای او د هغه ځای د خلکو ګاڼه، هند ته چې ولاړ، هندوانو، د هند مسلمانانو او نورو توکمونو ته يې د مبارزې مفکوره ورکړه او ځان يې د دوی يو غړی ګاڼه خو، چې هند ځان د اروپا له ښکېلاکه خپواك کړي مصر او ايران ته چې ولاړ، هلته د هغوی په درد دردمن و او د ښکېلاك د ورکې لارې يې ورښولې، ترکيې ته چې ولاړ، هلته د ترکانو وروڼو په غم کې ځان کډ باله، دی چې به هرځای ته تللو، هلته به يې د هغه ځای له پوهانو اومخورو سره کتل او هغوی به يې خپلواك او سرلوړي ژوند ته هڅول چې خپل ولس د ښکېلاك ختمولو لپاره پوه او ويښ کړي.

د سيد افغان مفکوره تردې هم لوړه وه، ځکه هغه انسان د انسان په نوم پېژندلو، چې بايد د نړۍ پر مخ خپلواك ژوند وکړي، د نړۍ مخ سيد افغان ته د يوه کور حيثيت درلود او نړيوال يې د يوې کورنۍ غړي بلل موږ په پوره باور سره ويلای شو چې دی له يوې بيوزلې کورنۍ څخه راپورته شو او په خپله پوهه يې کور، کلی، هيواد، ختيځ او لويديځ روښانه کړ، د ده شخصيت ډېر اوچت و، د ده په باب پوره او بشپړه ليکنه البته زمونږ د توان خبره نه ده او نه هم مونږ د ده د يادونې حق ادا کولای شو، د ده د ستر تاريخي او نړيوال شخصيت يادونه لکه څنګه چې د ده له شان سره لازمه ده موږ نه شو کولای د ده په اړه چې هرڅه ويل شوي او ليکل شوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي بیا هم لږ دي، ښایې او لازمه ده، چې د وخت چارواکي زموږ دغه ستر افغان ته پام واړوي په اړه یې ملي او نړیوالو سیمنارونو او سرتاسري غونډو ته لار هواره کړي، چې له یوې خوا د ده ستر انسان حق اداء شي ا و له بله پلوه زموږ ځوان نسل د هغه له بیساري ستر شخصیت سره ښه ډېر آشنا شوی وي، چې افغان ځوان نسل وکولای شي د ستر سید افغان د پوهې تفکر او لوړ ارمان په رڼا کې ځانته د ژغورنې یوه روښه لار پیدا کړي او د روانو بدبختیو له شکنجې افغان ځوان نسل وکولای شي د ستر سید افغان د پوهې تفکر او لوړ ارمان په رڼا کې ځان ته د ژغورنې یوه روښه لار پیدا کړي او د روانو بدبختیو له تورو تاریکیو څخه ځان راوباسې.

د ستر سید افغان شخصیت د نورو په نظر کې: ډېرو بهرنیو پوهانو د سید افغان د لوړ پوهنیز شخصیت په اړه ډېرې ژورې او علمي نظریې څرګندې کړي دي، چې په دې لنډه مقاله کې یې بشپړ بیان نشو راوړلای، خو بیا به هم د څو تنو نظر په لنډ ډول راواخلو چارلزایدمز لیکي: د دې نامتو عالم کارنامې او کار روایي د یوه ځانګړي هیواد د سمون له پاره نه وې بلکې د ټولو اسلامي هیوادونو لپاره وې زموږ د دې خبرې ثبوت د هغه څرګند اوجوت نظر دی، چې د ګران هیواد افغانستان، مصر، ترکیې، ایران او هندوستان په اړه یو شان وي، ده په هر هیواد کې د وینا او تبلغ په پایله کې یو غږ پیدا کړی وو او بیده خلګ یې د خپلو حقونو د ترلاسه کولو لپاره راویښول.

د لرغوني او تاریخي افغانستان نامتو پوه او سید هرې خوا ته چې تللی دی، د تلو سره سم یې هلته ذهني انقلاب راوستی او د ده د دغه خوځښت او شور پایله وه، چې د ختیځو هیوادونو خلک د خپلو حقوقو د ترلاسه کولو لپاره راویښ شول...

د امریکا یو پوه وایي: سید جمال الدین افغان د لوړې فلسفې خاوند، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



فصاحت او بلاغت پر ډګر تر هر چا دمخه و، لوی سیاست پوه او د کلکو دلایلو څښتن و، ډېر زړه ور او د همت بیلګه ګڼل کېده، په خبرو کې یې زیاته اغېزه وه، په خپل وخت کې د نړۍ په خلکو کې د دومره عزت خاوند و، چې لږ سیالان یې درلوده، ډېره پخه اوعلمي تجربه یې درلوده.
لنډه دا چې د سید د پورته ذکر شویو مراتبو سره د نړی اته ژبې زده وې او په همدغو ژبو یې په بین المللي سویه د خپل سیاسې اوعلمې فعالیت ارابه چلوله، د هغه ډیرې ژبې زده وې مګر دوه ژبې سرۍ نه وو او د ژبې لاندې یې بله ژبه هم نه وه، د توحید، وحدت او اتحاد په لار کې یې غوښتل چې ټول شرق دې یولاس ، یو موټی ، یوزړه، یوه خوله او یوه ژبه شې، په ډېرو ژبو د هغه ډېر اثار او تالیفات وو او که تالیفات یې ډېر نه وي هم څه فرق نه کوي ځکه چې د نړی د یو مشهور لیکوال په وینا: ((سید د کتاب تالیف ته اوزګارنه وو ځکه چې د اقوامو او ملتونو په تالیف بوخت وو، نو هغه څوک چې د ټول جهان په ترکیب مشغول وي که مونږ د هغه نه د څو جملو ترکیب غواړو ښه نه کو، څوک چې په دنیا کې حق قایموی له هغه نه هیڅکله د زیات قایم د ترکیب پوښتنه مه کوئ.))

## د سیدجمال الدین افغان په ژبو برلاسي:

ژبپوهان وایې: ژبه دپوهولو راپوهولو وسیله ده، په رېښتیا چې ژبه دښه تفاهم ښه وسیله ده او د نړۍ خلک اکثر د همدغه تفاهم دپاره یو د بل ژبه زده کوي د همدې تفاهم لپاره افغان سید هم دنړۍ اته ژبې زده کړې وې، چې د دې نه مخکې یې هم ذکر شو خو د ښه وضاحت په خاطر دلته یې هم ذکر کول وړ ګڼم چې په لاندې ژبو سید لیکل، لوستل او خبرې کولای شوې.

۱ -پښتو: پښتو ژبه د افغان سید جمال الدین خپله مورنې ژبه وه ،سید

(c) ketabton.com: The Digital Library



پخپله په کونړ کې زیږیدلی وو.مور او پلارېې پښتانه وو، چې مور یې د یوسفزو دکورنۍ وه او پلار یې سید وو.په کونړ کې پښتوژبه رواج لری نوپه دې خاطر په پښتو ژبه یې پوره تسلط درلوده، په دې تول پوهیږی چې سید یو پښتون وو او طبعی خبره ده چې پښتون وونو حتما یې پښتو زده وه .

۲ -فارسی :دری ژبه چې پخواورته فارسی ویل کیده دافغانستان یوه داسې ژبه ده چې هم زمونږ یوشمیر خلک پری عربیږی اوهم دپیړیو په ترڅ کې زمونږ دهیواد لیکوالو ،پوهانو ،مولفانو او شاعرانو ورته په پراخه پیمانه خدمت کړیدی او دغه اثار زمونږ دکلتوري غناء مهمه برخه تشکیلوی، د سیدجمال الدین په وخت د دولت او دربار ژبه وه، په ایران او نورو شرقي هیوادونو کې یې عمومیت، علمي او ادبي لوړ مقام درلود، نو ځکه سیدجمال الدین افغان د خپلو اثارو او افکارو د خپرولو او تعمیم لپاره په فارسي ژبه ډیر اثار لیکلي دي.

د ایران مشهور لیکوال تقی زادا په «کاوه »نومې مجله کې لیکلې دی : د سید فارسی ایرانې نه ده . دامطلب د نورو علماو لخواهم تایید شویدی، لکه چې هندي پوه قاضي محمد عبدالغفار هم لیکې : سید دلیکنې او وینا فارسی دایران فارسی نه ده.

د سیدجمال الدین هغه اثار چې په فارسی ژبه لیکل شوي او مونږ ته معلوم دي په دې ډول دي:

۱ -الردعلی الدهریین: دا کتاب په ۱۸۸۰م کال په دکن حیدراباد کې د دکن د علمې مدرسې د یو استاد مولوي محمد واصل دلیکلې پوښتنې په ځواب کې لیکل شوې او د لمړی ځل لپار هملته چاپ شوی دی.دغه اثر وروسته په اوردو ، عربي او پښتو ژبه ترجمه شویدې .په ۱۳۴۴هـ ش کال د میرسعید بریمن لخوا په پښتو ترجمه او د افغانستان د اطلاعاتو اوکلتو

(c) ketabton.com: The Digital Library



وزارت لخواد (نیچریه ) په نامه چاپ شویدی.

۲ -په حیدراباد دکن کې د سید د اوسیدو په کلونو کې بنایې د ده په مشوره او تشویق دوه اخبارونه لمړی (معلیم شفیق)په ۱۸۸۰ م کال کې د مولوی محب حسین په مدیریت او بل (المعلم) په ۱۸۸۱ م کال کې دمولوی محمد سجاد میرزا په مدیریت تأسیس شویدی، په دغه اخبارونو کې د سیدجمال الدین ډیرې مقالې په فارسي او اوردو ژبو خپرې شویدي، چې د ځینو عنوانونه يې په د ډول دي:

۱ -فکر فلسفهء وحدت وجنسیت ۲- تعلیم وتربیت.۳ -اسباب حقیقت سعادت وشقاوت انسان.۴- فواید جریده۵- فواید فلسفه ٦ -شرح حال اگهوریان.

۳ -مقالات جمالیه : دا د یوکتاب په صورت د سیدجمال الدین افغان د فارسي اواوردو مقالو مجموعه ده، چې دمحمد عبدالغفور شهبارزالبهاری لخوا راټولې او په ۱۸۸۴ م کال په کلکته کې چاپ شویدی .

۴ -د سید لیکونه: د سیدجمال الدین زیات شمیر لیکونه په فارسي، عربي اوښايي په نورو ژبوموجود وي، چې یو شمیر یې په (مجموعه اسناد و مدارک چاپ نشده درباره سیدجمال الدین) کې چاپ شویدي.

۳ -عربي: عربي د ټولو اسلامي هیوادونو لپاره دیني ژبه ده.ځکه چې داسلام د دین ټول مقدس نصوص ، د هغو شرحه او تفاسیر دهغو نه راوتلي علوم او د هغو د زده کړې لپاره ژبې او ادبي پوهنې په عربي ژبه کې دي.

سید جمال الدین افغان د خپلې زدکړې لویه برخه په عربي ژبه کې کړې وه، تفسیر، فقه، حدیث، دفقی اوصول، کلام، تصوف، منطق، حکمت، صرف، نحو، ژبنې او ادبي علوم یې په عربي ژبه کې لوستلې دی.سید د عربي ژبې او ادب سمې زدکړې ته ډیره توجه درلوده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سید په عربي هیوادونو کې ډیرګرځیدلې او اوسیدلې دی هلته یې ټولنې او اخبارونه تأسیس کړیدي، لیکنې او ویناګانې یې کړي دي شاګردانو ته یې درسونه ورکړیدي دولتې او ولسې مشرانو سره یې روابط ساتلي او مذاکرې یې ورسره کړیدي، په دې ټولو فغالیتونو کې یې په ژبه اوقلم دعربي ژبې نه کار اخیستی دی، سید په ۱۲۷۳ ه ق کې حجاز (سعودی عربستان ) ته تللی او هلته یو کال اوسیدلی او په ټولو سیمو کې ګرځیدلی دی په مکه مغظمه کې یې دام القری ټولنه او په دغه نامه مجله تاسیس کړیده .

بل ځل یې بیا په ۱۲۸٦ ه ق کال مکې د تللو تکل وکړو او اول قاهری او بیا اسلامبول ته ولاړ اوهلته پاتې شو چې تقریبا څلوښت ورځې هلته پاتې شو، په دې موده کې دالازهر دپوهنتون د استادانو سره اشنا شو، د دغه پوهنتون یو شمیر سریه والو شاګردانو د سید سره علاقه وښودله او ترې ویې غوښتل چې د(شرح اظهار ) دکتاب تدریس ورته وکړي، سید د هغو هیله ومنله او څو ورځې یې ورته په شرح اظهارکې درس وویلو.

د دی نه دا معلومه شوه، چې سید جمال الدین په عربي ژبه پوره حاکمیت درلوده، لیکل، لوستل او وینا یې په پوره ډول زده وو،ځکه په یوه بله ژبه درس ورکول پوره حاکمیت ته ضرورت لري، که یو سړی په یوه ژبه پوره مسلط نه وي په هغه ژبه تدریس نه شي کولای، نو د دې نه د سید په عربي ژبه د مسلطیت پوره اثبات کیږی.

۴ -اوردو: د پیړیو په ترڅ کې د افغانستان او هندوستان ترمنځ ګډ کلتوري روابط موجود و، د سیدجمال الدین په وخت استعمار هندوستان لاندې کړی و او د افغانستان لاندې کولو پسې هلې ځلې کیدلې.د استعمار په مقابل د دواړو هیوادونو ستونځې سره نږدې او ورته وې، د دواړو هیوادونو ترمنځ شریکې پولې موجودې وې، نو ځکه سیدجمال الدین هند ته په ډیر اهمیت کتل او څلور سفرونه یې هند ته کړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ۱۸۵٦ م کال د سید لمړی سفر هند ته و،څو میاشتې یې په بمبیي او کلکته کې تیرې کړې.د نویو پوهنو تحصیل یې وکړ،په ۱۸٦۵ م کال کې د دوهم ځل لپار هند ته ولاړ او څومیاشتې یې تیرې کړې، په ۱۸٦۸ م کال کې د دریم ځل لپاره هند ته ولاړ خلکو یې ښه هرکلی وکړ، په ۱۸۷۹ م کال کې د څلورم ځل لپاره د مصرنه هند ته تللی دی او تر ۱۸۸۳ م کال پورې په حیدراباد دکن کې اوسیدلی دی، د هند په نورو ښارونو لکه کلکته، بمبیي او نورو کې ګرځیدلی دی او د هند د خلکو د ازادی او یووالی لپاره یې سیاسي کار او فعالیت، علمې او ادبې خدمت کړیدی.

سید جمال الدین غوندې ذکي او نابعه څه چې یوعادي افغان شاګرد هم کولای شې چې د دومره مودی د تیریدو په ترڅ کې د هند کومه ژبه زده کړي، سید په دومره موده کې په سیاسې فعالیتونو بوخت وو د خلکو سره یې روابط درلودل ، جریدې په نشررسولي دي ،ویناګانې یې کړیدې د اسلامي ملت د یووالو او وحدت کوښښونه یې کړیدي ،د دې ټولو خبرو نه دامعلومیږي چې سید په اوردو ژبه ښه پوهیده ځکه یې هلته د هماغه ځای د خلکو سره وخت تیرکړیدی او د هغوی د یوالي کوښښ کړیدی او د استعمار په ضد یې راپاڅولي دي .

۵ -ترکي : سید جمال الدین افغان دوه ځله ترکیې ته تللی دی اوهلته اوسیدلی دی په دوهم سفر هم هلته وفات شوی اوخښ شویدی، چې وروسته د محمد ظاهرشاه په وخت کې کابل یې تابوت راوړل شو او دکابل پوهنتون په انګړ کې دفن شو.

سید لمړی پلا په ۱۸۷۰ م کال استامبول ته ولاړ هلته یې ښه هرکلی وشو او د معارف د انجمن غړی وټاکل شو.

د معارف او تحصیل طرز ته یې تغیر ورکړ، د علمي ټولنو او عامو خلکو لپاره یې مؤثرې ویناګانې کولې، په اباصوفیه کې یې هم ویناګانې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوتقریرونه اورول د دغه تقریرونو له امله یې شهرت زیات شو، او د ځای ارتجاعې خلکو حسد یې وپارو تر هغه وخته، چې ترکیه ترک کړي، د ده ویناگانې په ترکي ژبه وې که څه هم ده دیوې وینا دکولو نه په دې وجه معزرت وغوښته چې ترکي ژبه یې ضعیفه ده، مگر همدا ضعیفه ژبه یې دومره قوی وه، چې خلکو به یې ویناگانو ته سحر القلوب ویلو.

په ۱۸۹۲ م کال کې سید ترکي ته د دوهم ځل لپاره د لندن څخه ولاړ ، دا ځل د سلطان عبدالحمید په غوښتنه تللی وو، چې ښه هرکلی یې وشو او په مجلله ماڼۍ کې ځای ورکړل شو، ژوند یې ښه آرامه و د دربار او درباریانو سره یې لیدنې کتنې روانې وې ، او د استعمار په مقابل کې د اسلامې هیوادونو د یووالي او نژدي والي په باره کې خبرې کولې، د ترکیې د لیکوالو او ادیبانو سره د سید ارتباط موجود و، په هغو کې یې شاگردان او اخلاصمندان و، محمد امین د ترکیې یو لوی شاعر وایي: ((ماخپل وطني شعرونه د سید جمال الدین په توصیه ویلي دي)).

په دې توگه مونږ گورو چې د سید فکر او نظر د ترکیې د لیکوالو، شاعرانو او ادیبانو په ایجاداتو اغیزه لري او د دی لیارې نه د ترکیې ژبې د ادب د ملي انقلابي محتوا په پرمختگ کې د سید مقام څرگند دی ، ترکي پوهان وایي: په عثماني ترکي ژبه سید ښه پوهیده(۱)

٦ -فرانسوي: په ۱۸۸۳م کال کې سیدجمال الدین افغان فرانسې ته تللی و، درې کاله او څو میاشتې هلته اوسیدلی دی، هلته یې په عربي ژبه (عروة الوثقی) هم چلولې ده او د فرانسې د لیکوالو، پوهانو او منورینو سره یې تماسونه موجود و او د هغو سره یې مفاهمې، مذاکرې او مناظرې لرلې، د فرانسې جرایدو ته یې هم په انگریزي او فرانسوي ژبو مقالې ورکړې دي، داسې معلومیږي چې فرانسوي ژبه یې د فرانسې د اوسیدو په وخت زده کړې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**موسیو بلنت لیکي:**

**د ۱۸۸۵ م کال د جولای د ۲۱ مې په سهار سید جمال الدین افغان او رودولف چرچل زما په کور کې سره وکتل دواړو په فرانسوي ژبه خبرې کولې...**

**وايي چې: سید فرانسوي ژبه په دریو میاشتو کې زده کړې ده...**

**۷ -انګریزيي: سید جمال الدین مبارزه د ټولو استعماري طاقتونو سره وه، او بیا په خاص ډول د انګریزي استعماري دولت سره هغه لا په وړوکتوب کې په خپل وطن باندې دانګریزانو د استعمارګرو قواو یرغلونه او ناتارونه لیدلي و او کیدای شي چې د یو روحي عکس العمل اوعقیدې په توګه د سیدجمال الدین افغان د ضد استعماري او ضد انګلیسي د ده د وړوکتوب د زمانې له حادثاتو نه را اخیستل شوی وي.**

**په هر صورت د دښمن په ژبه پوهیدل خصوصا دیو مبارز دپاره ضروري خبره ده، په تیره بیا په داسې حالت کې چې انګریزانو د افغانانو په ضد سپکې او غلطې خبرې هم خپرولې او که د هغه وخت ټولو شرایطو ته ځیر شو نو ویلای شو چې:**

**سید (تتمة البیان فی تاریخ الافغان)هم د انګریزانو د ناوړه خپرونو د تاثیراتو د لیرې کولو لپاره لیکلي دي.**

**په انګریزی ژبه د سید د کار په باره کې دومره روایات موجود دي چې په فرانسه او لندن کې یې په انګریزي ژبه مقالې خپرې شویدي، په لندن کې یې (ضیاالحافقین )هم په عربي اوانګریزي ژبه خپریده ،**

**چې په هره ګڼه کې یې لږترلږه د سید یوه مقاله خپریده.**

**۸ -روسي: سید دوه ځله روسیې ته سفر کړی دی، په ۱۸۸۷ م کې د مسکو فسکي ویده موستي (د مسکو خبرونه) د اخبار د مدیر کاتکوف په بلنه مسکو ته ولاړ، سیدجمال الدین افغان په عروة الوثقی کې داسې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



مضامین خپاره کړي و، چې د هغو لمخه داثابتيږي چې د سيد نظر روسيې ته ښه و، غوښتل يې، چې د انګليس په ضد د روسيې همکاري شرقي هيوادونو ته واړوي، همدارنګه په دغه مضامينو کې يې په مکرر ډول د افغانستان او ايران نه غوښتي دي، چې اول دې په خپلو کې سره نژدې او يو موټي و اوسي او بيا دې د انګريز د استعمار په مقابل کې د روسيې سره اړيکې جوړې کړي.

کاتکوف، چې اخبار ليکونکی او د سياسي چارو کارپوه و، په دغه خبرو پوهيده، مګر کاتکوف په هماغه ورځو کې مړشو او سيدجمال الدين افغان بی ريباره پيترزبورګ ته ولاړ هلته يې هرکلی او عزت او د پوهانو او ليکوالو سره پيژندګلوي وشوه او د هغه ښار په جرايدو کې يې د شرق او غرب په سياسي مسايلو مقالې خپرې شوې.

سيد جمال الدين افغان څه د پاسه دوه کاله په روسيه کې اوسيدلی دی او د هغه ځای د مسلمانانو سره يې هم ليدنې کتنې شويدي، چې د هغو څخه مشهور پوه موسی جارالله تاتاري دی دروسيې د ښار سره يوې مذاکرې په ترڅ کې کومه ورځ د کارګرانو او بزګرانو په حق کې د سيد کومه خبره د ښار په دماغ بده ولګيدله اوسيد بې د کومې سياسي اساسې نتيجې نه د روسيې نه په عزت رخصت کړی شو.

داسې روايات موجود دي، چې د سيدجمال الدين افغان په شپږ ورځو کې روسی ژبه زده کړيده دا به مبالغه وی، مګر سيد غوندی فعال او زيارکښ متجسس زيرک اوذکي انسان چاره نه لري، چې د روسيې په دغومره موده اوسيدو کې دې د روسيې ژبه دکفايت په اندازه نه وي زده کړی.

د سن پيترز بورګ (نوی عصر) د اخبار د ۱۸۸۷ م کال داګست د ۱۸ نيټې په ګڼه کې د افغانانو او انګليسانو د مناسباتو په باره کې د سيد سره مصاحبه او د همدغه اخبار د اګست د ۲۰ نيټې د ګڼې په اول مخ کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پخپله د سید یوه مقاله په روسي ژبه (دافغانانو نوی پیښه) تر عنوان لاندې خپره شویده، په دغه اخبارکې د انگلیسانو او روسانو د روابطو په باره کې هم د سید سره مصاحبه خپره شوېده، چې بیا د مسکو فسکایه ویدو موستي د اخبار د ۱۸۸۷ م د اگست د ۱۸ ۲۲٦ مه گڼه کې اقتباس شویده ده ،د همدغه وروستي اخبار د ۱۸۸۷ م د جولای د اولې نیټې په گڼه کې (په مسکو کې افغاني شیخ) تر عنوان لاند ې د سیدجمال الدین افغان په باره کې سرمقاله خپره شویده.

علامه سید جمال الدین افغان ، او د ایراني فرهنگیانو ناسمې څرگندونې که دنړۍ په تاریخ کې د جبراو اختیار د فلسفې په پرتم، څېړنه کیږي، نو په بشپړوالي کې یې د افغان علامه سیدجمال الدین له دریځ سترگې نه شي پټیدای، هغه سړی، چې په نولسمه پېړۍ کې یې په آسیا او نیمه اروپا کې فکري بغاوتونه د اور ترلیکې سره کړل، یواځې د کونړي سید صفدر زوی علامه جمال الدین و، خو که د دې ستر افغاني واقیعت پاس د ایران د کلتوري زبېښاک سرلاري چنگېز پهلوان او خسرو خورشید دا بې پایه هستي خپله گڼي نو د منطقي غبرگون اړه پېښیږي، دالیکنه د ځواب په همداسې یوه مدللهٔ ترټنه راټوله ده.

## ۱- هغه اثار ،چې سید پکې ایراني گڼل شوی دی

دتهران پوهنتون د ختیځ پېژندنې یا خاوره شناسۍ استاد ډاکتر چنگېز پهلوان د دکتورا لپاره د خپل تېزس (جنبش های فکري شرق) کې داسې لیکي : جمال الدین اسعدابادي، که از قبایل بکتاش ایران بود، برای چندین دهه به جایگرداران، تضاد طبقاتي و استبداد امپریالستي وقت مبارزه نمود وبانبوغ وزکاوت که داشت به امیران افغاني از فوقیت خاص برخوردار بود، تا حدې که درکابینه شیرعلي خان به سمت وزیر امور خارجه

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسید و درفیصله های حکومت وقت افغاني تاثیر فراوان داشت، این اولین نمونه تاریخ است که موقف یک روشنفکر ایراني ازمرزهای ایران عبورکرده وبه یک شخصیت فرامرزي مبدل میشه.

او د ایران د ارشاد او فرهنگ وزارت مخکنی مرستیال پروفېسور خسرو خورشید د (مشاهیر آسیا ) په کتاب کې د سید ویاړونه د ایراني فرهنگ د ویړولۍ کم مثاله نمونې بولي (پېشینه فرهنگي ایران از پیشینه غني و وسیع برخورداراست، وقتېکه فیلسوف بزرگ جهان اسلام ، جمال الدین اسعد ابادي در وصیت نامه خود بر نشر و طبع یک اخبار مجلل به نام شمس النهار تاکید مې کند، این خود بازگو کننده این واقعت است که دامنه تاریخي فرهنگ ایران به روشنگري اراسته شده۲) همداراز کریم رادپور په تاریخ آسیا، نوري ستایش په فلاسفه مسلمان او یونس نجفي سخنهای از بزرگان کې افغان علامه سید جمال الدین ایرانی ګڼلی دی، د دوی په اند دا د ایراني کلتور د ویړولۍ نښه ده، چې د سید په څېر ستهې لري، خوله دې ناخبر، تاریخ د هېڅ ډول درواغو د پټولو حوصله نه لري او د دوی دې خبرولپاره هېڅ علمي او منطقي بنسټ نشته.

۲ - هغه اثار چې د ایرانیانو درواغ تش خېژوي

د ایران دکلتوري زبېښاک استازو د ناسمو څرګندونو د درواغ خېژولو لپاره تر ټولو نوموال اثر پخپله د سید (الحادي للمسائل نفایس) دی، د کتاب د خپریدو نېټه، چې کره جوته نه ده، په ټنډه یې د سید په قلم داسې لیکل شوي دي: (من سکنۀ کابل، من اهالي افغان،السید جمال الدین ، من سادات کنر۳).

یعنې په کابل کې او سیدونکی، له افغان توکمه ،د کنړ د ساداتو له ټبره، سیدجمال الدین.

همدارنګه د ادبیاتو ترکي اکاډیمېسن عثمان نجد د Jamal u (din in )

(c) ketabton.com: The Digital Library



turkeyیا سیدجمال الدین په ترکیه کې ، نومي اثر کې د ده د ټبریز تړاو په اړه داسې لیکي(کله ، چې په نړۍ کې د استبداد او مطلقیت په وړاندې د مبارزې خبرې کیږي، نو د سید جمال الدین افغان هڅې پکې تر ټولو لوړ قیمت لري، څوګ، چې د کنړ سادات و٤).

او د امریکې د جورج واشنګټن پوهنتون د منځنۍ او ختیځې آسیا د څېړنو د انسټیټیوټ مشر ډاکټر مایکل روبرټسن په هغه کتاب کې چې: ( Jamal u din and Islamic Nationalism)نومیږي د سید د ټبر او ټاټوبي په هکله داسې لیکي:( د افغانانو په باب ویل کیږي ،چې ژر زده کونکي او ذکي خلک دي، خو جمال الدین تر دې قاعدې هم پورته و، ځکه خو په خورا کمکي عمر کې د نړۍ په لویو ژبو غږیدونکی و، نوموړی د کنړ په یوه روحاني کورنۍ کې پیداو، چې افغانان یې د نوم اخیستو مخکې د سید کلمه راوړي د اوېړ ټبر د افغاستان د نورو سیمو په څېر په کنړ کې هم خوره ده٥ ).موږ دسید دټبر او ټاټوبي په تړاو د بهرنیو لیکوالو خبرې د ثبوت په نیت ځکه راوړي، چې دا قضیه اصلاً په افغانستان کې د پوښتنې وړنه ده او که ایرانیان په درواغجنو ادعاوو کریدهېټ ورکوي تېروتي دي.

## ایرانیان ولې زموږ تاریخي ویاړونه خپل ګڼي؟

که په نړۍ کې عدالت په ځواکمن او کم ځواکي نه وای وېشل شوای، نو نن به د ایران د کلتوري زېښناک استازو زموږ په ټبر او تاریخ د خپلولۍ لپاره سترګې نه سپینولای، کله ، چې په اوس کې خبره د ژبې لپاره د کچ ده، کله چې فرهنګي مخکې تګ په اقتصادي ټیکاو پورې تړلی او کله چې مدنیت د سولې زېږنده دی نو ایران یواځې ځان د مخکني اریانا میراث خور بولي، د دې سیمې د ژبنۍ، ادبي تاریخي او بلاخره سیاسي ولکې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپلولو هڅه کوي، خو دلته هم په خلکو میندې لنګې دي او تاریخ نه مري سیدجمال الدین ، ابوعلي سینا، مولانا او طرزي افغانان وو، دي او وي به... په لیکنه کې له راغلو خبرو ښکاري، چې که سید جمال الدین نابغه و هم افغان و، که روښان اندی و هم افغان و او که سیاستوال او نړۍ پېژندلی و هم په همدې نوم همدې نوم یې پېژندلی و، دا چې ایرانیان یې خپل بولي واقعت نه لري او په دې خو هرڅوګ پوهیږي، چې موږسږی دهرچا خپل وي.

## رسنۍ د څه له پاره

مطبوعات په "مشروطیت "او "ولسواکۍ "کې د څلورمې قوې حیثیت لري چې د "اجرایه" "مقننه "او "قضائیه "قوو کړه وړه څاري او نظارت پرې کوي.

په نړۍ کې مطبوعات او رسنۍ اوږد عمر لري او د همدې هدف په لاره کې ګټور، زړور او ګړندي ګامونه اوچت کړي دي. زموږ په هېواد کې هم مطبوعات د علامه سید جمال الدین افغان د اصلاحاتو د کوټلي او ژور پلان او پروګرام له مخې رامنځ ته شول او ده پټېیلې وه چې اسلامي هیوادونه له کورنۍ زورواکۍ او استبداد او بهرني ښکېلاك او زبېښناك څخه د همدې رسنیو له لارې خپلواك، هوسا او بسیا کړي، چې په اوږده موده کې همداسې وشول او له افغانستان نه تر ایران، مصر، ترکیې اوهندوستان پورې یې په مستقیم او غیر مستقیم ډول د رسنیو له لارې د ازادۍ تخم وکاره.

په افغانستان کې امیر شیرعلي خان د علامه سید جمال الدین افغان دې پلان ته په داسې حساس وخت کې د عمل جامه ور واغوسته چې افغانستان د دوو لویو ښکیلاکي ځواکونو روس او انګرېز د ښکېلاکي

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلانونو له مخې تر دوه اړخيز تهديد لاندې ؤ، شمس النهار همدا وخت نشر شو خو په ۱۸۷۸ميلادي کال پر افغانستان باندې د انگريزانو دوهم تېري د هيواد ازادي هم له منځه يوړه او د اخبار د خپريدو مخه يې هم ونيوله.

د امير عبدالرحمن خان ترمړينې وروسته چې په افغانستان کې د نسبي سياسي تنفس زمينه برابره شوه بيا هم د مبارزې علمبردار سراج الاخبار افغانستان ؤ، چې د مولوي عبدالرووف کندهاري او د ده هوډمنو او مبارزو ملگرو له خوا نشر شو، انگريز نه شو زغملای نو له هماغه لومړنی گڼې څخه يې په خوله لاس ورکېښود د اخبار له بندېدو سره همدې روڼ اندو د مشروطيت د غورځنگ ډېره کېښوده، حکومت د دې ډلې مشران او گڼ غړي په توپ والوزول، او يو شمېر يې په سياڅاوو کې بنديان کړل.

تر دې وروسته هم د هېواد د آزادۍ بيرغ د علامه محمود طرزي "سراج الاخبارافغانيه "راپورته کړ، د حی علی الفلاح "چيغه يې اوچته کړه او له کورني استبداد او بهرني ښکيلاك سره د مبارزې کاروان يې هدف ته ورساوه او په ۱۹۱۹ کال کې د افغانستان د خپلواکۍ له تر لاسه کېدلو وروسته د مشروطيت حکومت هم پيل شو.

د رسنيو دنده د خپلواکۍ په ترلاسه کولو سر ته نه رسېږي ځکه د هېواد د آبادۍ او پرمختگ له پاره د درې گونو قواوو د څارنې دنده هم ورترغاړه ده، په اماني دوره کې رسنيو پراختيا وکړه، له يوې خپرونې نه ۲۳ خپرونو ته ورسېدې او له مرکز نه ولاياتو ته وغځېدې او هم لومړی ځل راډيو د خپلو څپو وزرې د هېواد پر فضا وغوړولې، آزادو خپرونو په ځانگړې توگه " انيس "او نسيم سحر "په جرأ ت او واز کومي د دولت پر چارو او پاليسيو نيوکې وکړې او دولت يې د سالمو اصلاحاتو کونو ته راوباله.

زاړه دښمن انگرېز له شانه د افغانستان پر ځوان حکومت گوزار وکړ، خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



نړۍ او تور کورنی اړدوړ پېښ شو، ورپسې په نادري دوره کې د محمد هاشم خان د صدارت تر پايه د رسنيو د آزادۍ غږ غلی شو، خو روڼ اندو او مبارزو ژورنالستانو د زندانونو تيارې ومنلې او د زولنو او زنځيرونو حلقې يې ښکل کړې.

د شاه محمود خان د دورې امتحاني ډيموکراسۍ ته هم روڼ اندو هر کلی ووايه، د جريدو له لارې يې خپل غږونه راپورته کړل او د ملي شورا په تالار کې يې ملي ځوږ پورته کړ، دا هڅې د ډيموکراسۍ په لسيزه کې هم تکرار شوې او رسنيو تر خپله وسه خپله دنده تر سره کړه.

د کمونيستۍ په يو ګوندي او استبدادي نظام کې چې د هر ډول رسنيو مخه نيول شوې د ورځپاڼو پر ځای شپې ليکونو غږونه راپورته کړل، چې ګڼ ليکونکي يې د خونړي پوليګون خوراك شول. له پردي ښکيلاك او زورواکۍ سره مبارزه له هېواده بهر د ټوپك ترڅنګ په قلم هم روانه پاتې شوه او په سلهاوو رسنۍ راووتې او د قلمي او فکري مبارزې ميدان يې تود کړ او تر ۱۳۸۰ کال پورې د رسنيو د مبارزی کاروان راورسېد. په همدې کال د بن د سياسي طرحې له مخې رسنيو يو ځل بيا په پوره زور او شور د کميت او کيفيت خپل کار پيل کړ او دا دي اوس د درې ګونو قواوو ترڅنګ محسوس او ملموس فعاليت لري.

اوس رسنيو د نوعيت، کيفيت او کميت له اړخه زياته وده کړې او د حروفي خپرونو ترڅنګ، غږيزې، انځوريزې او دوه اړخيزې(نټرنيټ) رسنۍ هم رامنځته شوې او د کارساحه او اغېز يې تر پخوا ډېر پراخ شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ستر سید یو قول

اې لویه خدای! زموږ له سترګو د وهم پردې پورته کړې چې حقایق هغسې ووینو لکه څنګه چې دي او په دې توګه له بد مرغۍ او ګمراهۍ وژغورل شو، لویه خدایه! ته وهم ټپ کړې ځکه کله، کله وهم د بېرو هنداره شي او ډاروونکي څېرې پکښې لیدل کیږي او کله، کله بیا بې حقیقته خوشالي سږي ته ځلوي، وهم په هر حال د حقیقت حجاب دی او پر لیمو باندي یوه پرده غوړوي، وهم د ارادې واکمن دی او پر عزم باندي غالب له ده شرزیږي او خیر کښتي، نو ځکه وهم د شر بابیلونکي او د خبر شړونکی دی، وهم کمواکه غښتلی ښیي، نژدې لیري ایسوي، د امن ځای له خطره ډك ځرګندوي او د پنا ځای د مرګ خوله ښکاره کوي، وهم وهمېدلي له ځانه بې خبره کوي او له صحیح حسه یې لیري بیاي موجود یې په خیال کي معدوم راځي او معدوم یې موجود وهمېدلی په یوه بې حقیقته دنیاګي اوسي او په یوه داسي عالم کي ځان ګڼي چي لیدل یې ناشوني دي، وهمېدلي په دغه خیالي عالم کي د مېرګي نیولي په څیر لوځي یوځي کوي هیڅ نه پوهیږي، چي څه کوم؟ څوك ولاړه؟ څوك راغله؟ څه راکړه شوه څه راځخه یو وړل شوه؟ وهم یو ناولی روح دی، چې د انساني نفس هغه مهال په پېڅه کیږي، چې هغه د ناپوهۍ او ناخبرۍ په ترایو کې ګوډ، ړوند کیږي او له ویرې هیسته هڅه کوي حقایق چې پټ شي نو وهم ټیګیږي او ارادې تر خپل واك لاندي کوي، وهمېدلي د ګمراهۍ چول ته غورځوي، پر نالیدلو او کږو وږو لارو یې سر کوي، څو بیخي د مقصد لوری حتی ورك کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د سید ښخه پاتې اثار

د سید افکار او اثار د دنیا په مختلفو خپرونو کې موجود دی او پرلپسی کار او څیړنې ته اړتیا لري خو هغه چی اوس یې تصور کیږي دا دی، چې افغان سید د سیاسي ستونزو او تبعیدي او بی امانه مبارزو له امله دیر لژوخت وموند چې مستقل اثار دحانه په یاد پریږدي سید د یاد شویو ستونزو سره سره بیا هم لاندیني اثار لیکلي دي:

١ -د "عروةالوثقی "په مهالنۍ کې لیکنې
٢ -د ارنست رنان د خطابې په رد کې لیکنه
٣ -د وخت واکمنو، او روڼ آندیو ته لیکونه
۴ -د "ضیاءالخافقین "په مهالنۍ کې لیکنې
۵ -تتمة البیان فی تاریخ الافغان
٦ -ردالدهرین
٧ -دتعلیم او تربیې په باب خطابه
٨ -چرا اسلام ضعیف شد؟
٩ -فوایدالجریده
١٠ -د وخت اجنسیت فلسفه او دلغاتو د وخت حقیقت
١١ -د فلسفي گټې
١٢ -د حقیقت اشیا رساله
١٣ -درلذایذ نفسیه انسان
١۴ -له فرانسوي فلیسوف ارنست رنان سره دسیه
١۵ -رساله نیچریه
١٦ -د انسان د سعادت او شقاوت اسباب.

د علامه سېد افغاني سفرونه

١- د هند سفر

(c) ketabton.com: The Digital Library



علامه سېد د خپلو افکارو، نظریاتو څېړنې او تبلیغ لپاره په ځوانه ځوانۍ د هند په لور وخوځېد .او پدې لار کې په نه ستړې کېدونکي تلاش لاس پورې کړ، او له هېڅ ډول کوښښ او سعي يې سرفه ونه کړ.

علامه سېد په ۱۸۵٦ز کال د هند په لور وخوځیده، ترڅو د انګریزي ښکېلاکګر ځواك پر وړاندې د خپلواکۍ د غورځنګ فکري مشري په غاړه واخلي. علامه سېد لومړنی بهرنی سفر د هند په لوري و او تر هغه ځای پورې، چې د سېد د ځوانۍ اړیکې وی، نو دې سفر ته یو تجربوي او څېړنیز سفر ویلای شو.ده غوښتل ترڅو د هند له روانې سیاسي او ټولنیزې وضعې څخه ځان خبر کړي، نو په دې اړه يې د هند له پوهانو، مشرانو او سیاسي وتلو څېرو سره لیدنې کتنې پیل کړې.د هغوې له افکارو څخه يې ځان خبر کړ، او د ښوونيز نظام په اړه يې د هغوي کړه وړه له نظره تېر کړه، علامه سېد دا تریخ واقعیت هم درك کړ، چې په هند کې واك او چارې د مسلمانانو له لاسونو څخه په ټولییز ډول وتلې دي، نو له دې امله د هغه مخالفت او کینه د انګرېزانو پر وړاندې له هر چا زیاته وه او د مسلمانانو څخه يې غوښتنه دا وه چې خپلې اړ یکې له پرنګیانو سره وشلوي .علامه سېد په هند کې څه کم یو کال تېر کړ، او بیا د حج مبارکې فریضې اداکولو لپاره د حجاز په لور وخوځېد.

## ۲- حجاز ته سفر

علامه سېد په هند کې له یو کال تېرولو څخه وروسته د حجاز په لوري وخوځېد ترڅو په ځوانه ځوانۍ کې د حج سپېڅلې فریضه ادا کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۳- بېت المقدس ته سفر

علامه سېد د حج د فریضې له ادا کولو څخه وروسته د بېت المقدس په لورې وخوځېد.

د سیدجماالدین سیاسي حرکتونو ته یوه لنډه کتنه د ۱۸۷۶م کال په شاه وخوا کې په سیمه کې یو لړ سیاسي او ټولنیز فعالیتونه د ډموکراټیکو معیارونو په بنسټ را منځته شو، چې په دې لړ کې د ترکیې په هیواد کې دولتي چارې پارلمان ته وسپارل شوې او مدحت پاچاه غو ښتل، چې خپل هیواد د انګلستان د شاهي مشروطه پر سیستم جوړ کړي او په حکومتي معزلو کې خلکو ته هم ونډه ورکړي. او همدغسي په ایران کې هم د مشروطه شاهي غښتلي حرکتونه را پیل شو او په مصر،الجزایر کې هم ملي حرکتونه د استعمار پر ضد را منځته شول، په افغانستان کي هم د هغه اصلاحي پروګرام او نظر له مخې، چې سید جماالدین پرې ایښی و یو لړ ډموکراټیک اصلاحات وشو د بیلګې په توګه: کابینه جوړه شوه، شمس النهار جریده خپره شوه، عسکري نظم او عسکري نومونه کیښودل شو، لومړنی حربي ښونځی پرانیستل شو او داسې نور د قدر وړ کارونه په سیمه او هیواد کې دننه وشو، چې د دې ټولو په رآس کې د سید جماالدین افغان ونډه له ورایه ځرګنده ده.

د سید فعالیتونه د یوې خوانه په سیاسې توګه د سیاسې اشخاصو د لیدلو کتلو، خبرو اترو او لیکلو رالیکلو په توګه و، د بلې خوانه د علمي مرکزونو، پوهنتونونو او مدرسو د شاګردانو او اوستاذانو سره دعلمي تماسونو، مذاکرو، مناظرو او د فکرونو د تبادلې په ډول و په هرځاې کې د شاګردانو او ځوانانو حلقې به ترې چاپیرې وې. د علمي سیاسي معلوماتو او نظریاتو نه به یې استفادې کولې. سید که له یوې خوانه د عامو خلکو او ولسونو د پوهولو او تنویر لپاره په جلسو او محفلونو کې او یاد مسجدونو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ممبرونو له پاسه خطابې،کنفرانسونه او ليکلي اخبارونه يې هم تأسيسول او چلول او د اخبارو نو د چلولو او د ليکوالۍ د فن لپاره يې شاګردان هم روزل.

په اصلاحې پروګرام کې، چې سيدجمال الدين افغان د افغانستان دولت ته وړاندی کړی و، د جريدې تأسيس هم شامل و او د امير شيرعلي خان په وخت کې افغانستان د لمړي ځل لپاره د شمس النهار جريده تاسيس کړه، وايې چې په ۱۸۷۸ م کال د اميرشيرعلي خان په زمانه کې په افغانستان کې يو بل اخبار هم جاری شو، چې نوم يې(کابل ) و، سيد هر چيرې چې به ولاړ هلته يې د ليکوالۍ لپاره کوښښونه کول لکه ترکيه، مصر او هند کې يې د ليکوالۍ کورسونه جوړول او بې شميره شاګردان يې روزلي دي او په هر ځای کې يې يوه جريده په نشر رسولی ده.

سيد داتلس کالو په عمر شرعي او عقلي علوم، رياضي، طب او تشريح پای ته ورسول (د جارج کونتي) په قول د زلمي توب په وخت کې په عسکري مسلک پورې تړلي فنون زده کړه، او بيا د حج لپاره حجاز ته ولاړ او يو کال د عـربو په ښارونو کې وګرځيده په۱۸۷۵م کې مکې شريفي ته ولاړ، خوبيرته افغانستان ته راغی او د اميردوست محمد خان په دربار کې منتظم مقرر شو، او امير به په ځينو مهمو مجلسونو کې هغه د ځانه سره ملګری کاوه، بيا چې امير دوست محمدخان وفات شو، دی د سردار محمد عظم خان مشاور وزير پاتې شو .

داسي هم ويل کيږي، چې د شمس النهار تر مخه يې يوه جريده دکابل په نوم د محمد افضل خان د پاچهۍ په وخت کې تأسيس کړه او د ښوونې او روزنې اصلاحي پروګرام يې هم محمد اعظم خان ته وسپاره، خو نوموړې جريده ممکن د جنګونو او بدو شرايطو په اساس له منځه تللې وي ځکه مونږ په افغانستان کې لومړی په لاس کې جريده شمس النهار لرو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



بس.

سید د خپلو سیا سي هلو ځلو په لړ کې پر تر کیې، ایران او افغانستان بر سیره په مصر، هند کې هم د خپلې استو ګني په لړ کې د استعمار په مقابل کې پوره هلې ځلی کړي دي او هغه یې د استعمار ضد مبارزو ته هڅولی دی، سید په پاریس کې یوه مجله د شیخ محمد عبده په مشرۍ په عربي ژبه خپروله، هغه د دې مجلې د مرام په باب داسې لیکي : (څومره چې د دې جریدې له وسه کیږي، د شرقیانو له پاره به خدمت وکړي او هغه اړتیاوې به څرګندې کړي، چې د نیمګړتیا له کبله یې خلک بیوزلي کیږي او داسې لارې به خلکو ته وښایي، چې د هغه په وسیله به با یللی شیان بیرته په لاس را وړي ترڅو آینده یې سمه شي ). سید هند ته هم د سیاسي سفرونو په موخه تللی ؤ، چې د هند سیاسي او ټولنیزه وضع یې د نژدې ولیده انګریزانو، چې د سید سیاسي او اجتماعي غورځنګ نه شو زغملای نو یې د هند څخه د وتلو ګوابن ورته وکړ، هغه وخت، چې د هند څخه وتی نه و خلکو ته یې د یوې وینا په ترځ کې داسې وویل: ای خلکو سره له دې چې دولت ستاسو خلک او ستاسو زامنو ته کار ورکوي، ستاسو امنیت ساتي، وسله یې په لاس کې ده؛ خو ! ستاسې استقلال او ثروت لوټوي. د انګریزانو ټول شمیر تر لسو زرو ډیر نه دی، خو که تاسې په سلګونه ملیونه غوماشي هم ووسئ او د دولت په غوږ کې وبونیږئ، دغه اواز به د دوی لوی صدراعظم (ګلادستن )غوږ ته ورسیږي د سید دغه وینا خلک وژړول، سید په قهر شو او وې ویل : ژړا د ښځو کار دی. هغه ملت چې د خپل استقلال لپاره پر دښمن یرغل وکړي او مرګ استقبال کړي هغه ملت وینښ او با قي پاتی کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سید جماالدین افغان په مصرکې

سید د مصر د الازهر پوهنتون کې د ابن سینا د فلسفې تدریس کاوه، هغه وخت مرتجعینو دغه فلسفه نه خوښوله او بد یې ورته ویل د بل پلوه په مصر کې سید په دې هم متهم شوی ؤ، چې د اسماعلیه پاچاه پر ضد یې کودتا کوله، همدغسې د ده دغورځنګ ۳۵۰ نورغړي هم په دغه لیست کې شامل و، نوموړی غورځنک چې د سید په مشرۍ جوړ شوی ؤ، د مصر آزادي یې غوښتله په دې وخت کې انګریزانو غوښتل، چې پر سوډان باندې حمله وکړي او محمد احمدسوډاني یې تر فشار لاندې را وستلی ؤ، سید او ملګرو یې، چې د انګریزانو مخالفت او ممانعت کاوه. لیکن انګریزانو سید ته د سوډان د پاچهي وړاندیز وکړ، د انګریزانو صدراعظم لارډسالسبري سید ته وویل: چې موږ داعزم کړی دی، چې تا د سوډان پاچا کړو، سید جماالدین په ځواب کې ورته وویل: دا چې دغه دنده ماته را کوی، ډیر د حیرت او تعجب ځای دی.

محترمه لارډه اجازه راکړه، چې ستاسو څخه وپو ښتم، چې ایا تاسو د سوډان مالک یاست، چې هغه ته یو پاچا واستوئ ؟؟. مصر د مصریانو او سوډان د هغه یوه برخه ده .خلیفه چې اوس حقدار ګڼل کیږي ، په خپل ځان کې دومره قدرت لري، چې د فساد او فتنې اور مړ کړي، محترم لارډ!کوم اصلاحات، چې په سوډان کې غواړي هغه ځله په ایرلینډ کې نه عملي کوې. چې د خپلې آزادۍ له پاره د هیڅ ربړ، زحمت او فداکارۍ څخه مخ نه ګرځوي، مصري مؤرخ محمود قاسم د سید جماالدین د فلسفې نظریو څیړونکی په خپل کتاب (جماالادین افغاني حیاته وفلسفه) کې لیکي: جماالدین افغانی دناشر کانکوف په بلنه په ۱۸۸٦م کې روسیې ته وبلل شو.او په روسیه کې هم ډیري لیکنې پاتې دي، چې نامتو مقالې یې عبارت دي له: د روسیې سره د انګریزانو اړیکې، په افغانستان کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



روانو پېښو علتونه، د افغاني حالاتو په باب څېړنې (ماسکوپاڼې ۱۸۸۷م کال اګست . )

سيد په روسيه کې نژدې درې کاله تير کړه او په يوه کال کې روسي ژبه په ډېر ښه ډول زده کړه، هغه يوکال په ماسکو ، ۱۸مياشتي په پترسبورګ ، کيف ، ققفاز کې تيرې کړې. سيد په روسيه کې د ډېرو مهمو خلکو سره ليدنه کتنه وکړه ، لکه : د باند نيو چارو وزير ګيرس، د آسيا د چارو اداري رئيس زېنيوف، جنرال زيختور، جنرال چيف سره، خو هغه وخت چې دريم الکساندر د روسيې امپراطور د سيد په نظرياتو او د منځني ختيځ په باب د هغه په سياسي تحليل او خطابو وپوهيده او په دې هم وپوهيده، چې سيد د روسيې د مسلمانانو په منځ کې پوره اعتبار لري، نو يې سيد قصر ته وروغوښت او سيد د انګريزانو او ايران د باچا په باب خپل شکايتونه ورته واضيح کړه ، او د انګريزانو په باب يې د هغه استعماري سياست په سيمه کې څرګند کړ، خو د ايران په باب يې په هغه دولت کې د مشروطه غوښتنه وکړه؛ که څه هم د روسيې امپرا طور د انګريزانو په باب ورسره هم نظره ؤ، خو د ايران په باب يې نظر بيل ؤ؛ دا ځکه، چې الکسا ندر ويل چې هيڅ يو پاچاه نه غواړي چې خپل واک دې د خلکو په لاس ورکړي او ځان دې کمزورى کړي، خو په دې باب د سيد نظر داؤ ؛ چې په دې کار د ايران پاچاه نورهم قوي کيږي او ميلينونه ولسونه يې وشاه ته دريږي او يو قوي دولت د خلکو په ملاتړ ترلا سه کوي.

په پاى کې سيد د روسيې د دريم الکساندر څخه وغوښتل چې د روسيې د مسلمانانو د وضعې ښه کولو ته توجه وکړي .او هغو ته په خپله ژبه د درس او تعليم زمينه برابره کړي، خپرونې ورته ازادې کړي،په خپله ملي ژبه اخبارونه او مجلې خپرې کړي. د دې څخه ورسته د روسيې واکمن سيد په دې باندې وپوهاوه، چې د ده پاته کيدل د روسيې په خاوره کې يو

(c) ketabton.com: The Digital Library



نامناسب او نا مطلوب کار دی.نو ځکه سید مجبور شو، چې د روسیې څخه ووځي.

د سیدجماالدین افغان نامتو پلویان په روسیه کې جاراله بیکوف، عبدالرشید ابرهیموف او نور ګڼل کیږي. د الموئید د (۱۹۱۳م) کال لومړۍ ګڼه د موسا بیکوف له قوله دغه وینا د سید را نقلوي: ( زه د لودیځ هنر، تخنیک او پوهې ته ډیر درناوی لرم).

## مړینه

کله چې سید ترکیې ته ولاړ په تر کیه کې د یوې سختې ناروغۍ سره لاس او ګریوان شو، چې په دې باب محمود طرزي د سراج الاخبار د شپږم کال په پنځمه ګڼه د ۱۲۹۵هـ ش د میزان پر ۲۱ نیټه د سید جماالدین افغان د وفات په باب داسې کاږي: چې د ستوني په یوه برخه کې چپ غوږته نژدې تر ژبې لاندې د سرطان خطرناکه او دردناکه مرغړۍ ورپیداشو، چې په لومړي سر کې ډیر خطرناکه نه بریښیده خو په ورسته کې دومره دردونکی شو، چې هر چا د سید په لیدو سره د هغه درد تصور کولای شو.سید د خپل درد په باب ډاکټرانو ته هم څه نه ویل خو په ورسته کې چې دردبیخي ډیر شو او ډاکټرانو وکته هغه یې کشف کړ، چې د سرطان خطرناکه ناروغي ده، پس له هغه چې د علامه سید جماالدین افغان دوستانو، محصلینو اوزده کونکو هغه ته د عملیاتو صلاح او مشوره ورکړه نوسید هم دې ته تیار شو چې عملیات وکړي، عملیات دوه ساعته دوام وکړه او لومړنی عملیات په پیروزۍ سره سرته ورسیدل، ټول دوستان یې خوښ شول او په دې عملیاتو کې ۱۲غاښونه اویوه برخه د خولې ورڅخه لیري کړل شوه. یوه اونۍ وروسته روغ شو او خپل دربار ته راستون شو، خو دبده مرغه پس له یوې اونۍ بیرته هغه ناروغي پرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



راوګرځیده او تکلیفونه او کړاونه یې نور هم ډیر شول، مجبوره شو، چې بل عملیات ته ځان اماده کړي، خو څرنګه چې د سرطان ریښې ډیرې عمیقې وې نو په دغه پلا عملیاتو کې د نیمي ژبې دوهمه برخه ځیني غوڅه کړه او نتیجه دا شوه چې درې څلور ورځې ورسته دا لوړ نړیوال شخصیت د پنځوسو کلو په عمر په حق ورسید او د دې فاني نړۍ څخه یې سترګې د ابد لپاره پټې شوې (خوځینې په دې نظر دي چې سید ته یې زهر ورکړل او شهید یې کړ، روح دې یې ښاد وي پر ۹ د مارچ یې په ۱۸۹۷م کې د مشایخو په هدیره کې خاوروته وسپاره، څرنګه چې پر افغانانو خپل پوهان ګران دي نو یې د هغه مړی ۴۷ کاله وروسته په ۱۳۲۳ش کال خپلې خاورې ته راوړ او د کابل پوهنتون په انګړکې خاوروته وسپارل شو او هغه سیمه یې ټوله د ده په نوم ونوموله (جمال مېنه).

همدغسې د سید جماالدین پر قبر ډیرو نورو پوهانو او عالمانو ویرنې ویلي دي، چې د دې جملې څخه موږ د ګل پاچاه الفت د ویرنې یادونه کو، استاد الفت په خپل کلام او خوږه ژبه د لوی استاد سید جمالدین افغان په باب داسې لیکي:

## ویرنه

پښتون سیده د شرق نامداره
د دین او علم د کور سرداره

رهـــــــــبر د علم او معنا شوې
ړ نــــدو دپاره د لاس امسا شوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



راوړه دنـــیا ته تا پیغامونه
نوي فکرونه ښه ښه خویونه

ستا په ښودنه ویښ انسانان شول
مشهور دنیا کې ستا شاګردان شول

روښان فکرونه ستا په بیان شول
ستا لــه مشـــعله رڼا شو زړونه
ډ ک له حکمت نه ستا تعلیمونه

ته له دنیا کې وګــــــرځیدلې
په شرق او غرب کې ته ځلیدلې
چـــي په منبر به ودریــد لــې

له هر چاه پورته به ښکاریدلې
لـــه تا سره وو ډ یـــرتـــا ثیرونه
ور ته حیران وو ډیر عـا لمونه

دنیا ر ڼا شوه ستا لـــــه تنویره
ستا له تحریره ستا له ضمیره
و ښورول تا غافـل فـکرونه
څومره خواږه وه ستا بیانونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# علامه افغاني د يوه سياسي مفکر په توګه

خودی آموخت سید شرقیان را
خـــود آگه بود و دانا و فرهمند
به مـا بنمود راه خـــود شناسی
بــه هــم آواره‌گان را داد پیوند

علامه حبیبی

## ذاکر جلالي

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیدجمال‌الدین افغان په نولسمه پېړۍ کې په اسلامي نړۍ کې د سیاسي اصلاحاتو او دیني متفاوت تفسیر هڅې کړې دي، چې له ده وروسته په تېره د شلمې پېړۍ پر مهال چې په اسلامي نړۍ کې چا د اسلامي حرکت غږ کړی او د اسلامي نړۍ د سیاسي اصلاحاتو هڅې یې کړې؛ په یو ډول نه یو ډول د علامه افغاني له افکارو او نظریاتو څخه اغېزمن شوي دي. افغاني له همدې امله په شلمې او یووشتمې پېړیو کې د اسلامي حرکتونو او عامو مسلمانانو ترمنځ ځانګړی ځای لري. په ۱۹۲۴م کال کې د خلافت له سقوط وروسته په مصر کې د حسن البنا شهید په مشرۍ د لومړني معاصر اسلامي خوځښت "اخوان المسلمین" بنسټ ډېره کېښودل شوه او له هغه وروسته چې په ترکیه، هند نیمه وچه، شمالي افریقا او نورې اسلامي نړۍ کې کوم خوځښتونه راپورته شوي، لږ تر لږه د مسلمانانو په یووالي یا د علامه له فلسفې سره سم په پان اسلامیزم کې خو هرو مرو اغېزمن دي. حتا نن هم چې ځیني اسلامي خوځښتونه مبارزه کوي او د اسلامي هېوادونو ترمنځ شته سیاسي پولې نه مني هم کېدای شي لږ تر لږه په دې برخه کې یې د علامه افغاني له فکره متاثره وبولو.

پر اسلامي یووالي سربېره، علامه په داسې پیر کې ژوند کړی و چې اروپا پېړۍ وړاندې په اتلسمه پېړۍ کې د کلیسا له ملاتړه په ګټه پورته کولو سره استبدادي شاهي نظامونه نړولي وو او د استبدادي واکمنۍ ځای یې ډیموکراتیک جمهوریت ته پرې ایښی و. داسې جمهوري نظامونه چې د خلکو له لورې ټاکل کېدل او استبدادي فکر یې د تل لپاره تر خاورو لاندې کړی و. اروپایانو نه یوازې دا چې په سیاسي برخه کې بدلونونه راوړل، بلکې د فکر او لید اساس یې د خرافاتو او د پاپانو د بې بنسټه ویناوو پر ځای پر عقل/رېشنلېزم او پوهې/ساینس ودراوه او دین یې له عقل او پوهې سره په ټکر کې وباله. اروپا د منځنیو پېړیو له نادودو وروسته د

(c) ketabton.com: The Digital Library



نړۍ ټولو اديانو ته د اسلام پـه ګډون هماغـه د کليسـايي عيسـويت نظـر خپل کړ. په ټوله کې اروپا د منځنيو پېړيو له تور تمونـو او د پاپـانو لـه يـوغ څخه ځانونو تـه د سـياسي، دينـي، فکـري او فرهنګـي اصلاحاتو لـه لارې نجات ورکړ او د يوې نـوې متمـدنې او پرمختللـې اروپـا د بنسـټ ډېـره يـې کېښوده. کله چې د علامه افغاني افکار مطالعه کـوو، دې ټکـي تـه متـوجې کېږو، چې سيد د اروپا له اصلاحاتو او پرمختګونو څخه متاثره و؛ خو دا يـو وچ تاثر او ړوند تقليد نه و، بلکې سيد له بل هر څه مخکـې اول خپـل ديـن او بيا يې خپله ټولنه پېژندلې وه او له دې وروسته يـې بيـا د خپـل ځـانګړي ديني درک او د ټولنې د اړتياوو په پام کې نيولو سره د حل لارو خبره کولـه. سيد هم غوښتل چې اسلامي نړۍ بايد هم د داخلي استبدادي نظامونو پر ضد او هم د استعمار پر خلاف مبارزه وکړي او د يـوه خپلـواک او لـه خپلـې خوښـې سره د سـم نظـام د بنسـټ ډېـره کېـږدي. سره لـه دې سـيد پـه اسلامي نړۍ کې د فکري ودې او فرهنګـي رشـد ارمـانجن و. نـن چـې پـه اسلامي نړۍ کې مصر تر نـورو اسـلامي هېوادونـو پـه فرهنګـي لحـاظ ډېـر غني دی يو لامل يې په مصر کې د سيد لس کلـن فرهنګـي انقـلاب ګڼلـی شو. لکه څنګه چې په افغانستان کې محمود طـرزي د ژورنـاليزم پـلار بالـه شي، دغسې سيد په مصر کې د نوي ژورناليزم باني ګڼل کېږي.

دلته يوازې د سيد پر سياسي هڅو او افکارو بحث کوو؛ ځکـه يـې د دينـي احيا او افکارو له برخې تېرېږو:

## اسلامي يووالی يا پان اسلامېزم

سيد جمال‌الدين افغاني به چې کله مسلمانان ليدل چې د کورني او بهـرني استبداد تر يوغ لاندې ژوند کوي، ډېر به حساس شـو. د سـيد د ژونـد پـر مهال هم اسلامي نړۍ -لکه د اوس په څېر- په ګڼو هېوادونو وېشـلې وه او د اسلامي خلافت د ټوټې په ګډون په ټوله اسلامي نړۍ کې د يوه اختنـاق

(c) ketabton.com: The Digital Library



او استبداد وضعیت واکمن و. اسلامي نړۍ سره له دې چې په خپلو کې ډېر مشترکات لري؛ خو لا هم نه شي کولای چې د اروپایي ټولنې په څېر د یوې نسبتاً ټینګې اتحادیې څښتنه شي. د سید د ژوند پر مهال په کوردننه د مسلمانانو د سیاسي مشارکت له حق څخه په بشپړ ډول نټه کېده. که به د خپلواکۍ غوښتنې کوم غږ پورته شو، په ابتدایي حالت کې به خاموشه کړای شو. دا د سید افکار او نظریات وو چې د مسلمانانو لپاره یې د سیاسي ویښتیا او شعور هڅې وکړې، لیکل یې وکړل او د یوه نوي سیاسي ویښتابه روح یې ورپو کړ.

سید افغاني ګڼو اسلامي هېوادونو ته سفرونه وکړل او د ټولو حال او ځوروونکی وضعیت یې له نژدې ولید. سید هر چېرته د پوهاوي پر خورېدا او د ویښتیا پر ارزښت ټینګار کاوه. سید په سیاسي، اجتماعي او فرهنګي ډګرونو کې د مسلمانانو د مشارکت پلوی و. ده غوښتل مسلمانان ویښ او له فرهنګي او سیاسي تحولاتو له ارزښته یې باخبره کړي. افغاني د مسلمانانو د نجات لپاره د اسلامي یووالي، پان اسلامیزم یا "اتحاد بین المسلمین" نظریه وړاندې کړه او له هغې راهیسې پان اسلامیز د سید له نامه سره تړل شوې نظریه شوه. سید د خپلواکۍ له ټینګو ملاتړو څخه و تر څو مسلمانان وکولای شي بې له کومې وېرې خپلې موخې او اهداف په ګوته کړي. سید د هند له مسلمانانو څخه غوښتل چې د پان اسلامیزم تر شعار لاندې د استعماري انګرېز پر ضد پاڅون وکړي او خپله ازادي ترلاسه کړي. اصلاً سید پان اسلامیزم یا د مسلمانانو یووالی د مسلمانانو د ټولو ستونزو حل لار ګڼله.

که څه هم اسلام په خپله پر اسلامي یووالي باور لري او د مسلمانانو د عقیدې برخه د امت یووالی دی؛ خو دا چې ولې دا نظریه د سید له نامه سره د پان اسلامیزم په نامه تړل کېږي، لامل یې دا دی چې سید د

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړني مسلمان مفکر په توګه د مسلمانانو د اتحاد هېر شوی اصل یو ځل بیا راژوندی کړ او د ستونزو د حل لار په توګه یې وګاڼه.

## افغاني او په مصر کې نویتوب (ماډرنېزم)

اروپا له پنځلسمې-شپاړسمې پېړۍ وروسته ماډرنېزم ته له دین نه د تېښتې او بشپړ عقل ته د پناه وروړلو په موخه یو خوځښت پیل کړ. کله چې اروپایان په منځنیو پېړیو کې د کلیسا پاپانو د دین په نامه وځپل او له خپلې خوښې سره سم یې پر هغوی خپل واک وچلاوه؛ نو له دین سره یې عقده پیدا شوه او دین ته یې داسې تعریف وکړ چې له عقل او علم سره به په ټکر کې وي. اروپایان د دې پر ځای چې پوه شوي وای چې هغه څه چې پر دوی تپل شوي وو د دین په نامه د کلیسا د پاپانو خپلې خبرې وې، مګر اسلام بیا داسې کومه دوره په خپل تاریخ کې نه لري. په اسلامي نړۍ کې نویتوب یا ماډرنېزم بیا د اروپا له هغه سره تفاوت لري. په اسلامي نړۍ کې ماډرنېزم په دې معنا چې د خلکو د وروسته پاتې والي لاملونه په ګوته کړي او د دین، عقل، علم او روانې زمانې ترمنځ له دین نه د یوه پرمختللي فهم نه په ګټه پورته کولو سره د یوې پرمختللې ټولنې بنسټ کېږدي.

سید افغاني هغه څوک و چې په نولسمه پېړۍ کې یې په مصر- کې د ماډرنېزم زړي وکرل او بیا یې نژدې شاګرد محمد عبده د خپل استاد (سید) کرل شوی نیال وپاله. افغاني په ۱۸۷۱م کال کې مصر ته سفر وکړ او هلته د لسو کلونو لپاره پاتې شو او د عصر-یتوب نظریې لپاره یې په فرهنګي ډګر کې عملي کار پیل کړ. د مصر د ماډرنېزم بحث پر دې ولاړ و چې د اسلام او نوې زمانې او نوو غوښتنو ترمنځ یوه همغږي منځ ته راوړي. عبده د خپل استاد (سید) په څېر په دې باور و چې اسلام -د

(c) ketabton.com: The Digital Library



اروپايانو د باور پر خلاف- له نوې پوهې او نوو پرمختګونو سره په ټکر کې نه دی. دوی پر دې باور وو چې دواړه بنسټيز حقيقتونه سره همغږي دي. اسلام نه يوازې دا چې د علم پر ضد نه دی، بلکې د علم د پرمختګ او ودې مرستندوی دی.

په اتلسمه پېړۍ کې -د نن په څېر- ډېر مسلمانان د غرب د پرمختګ او ترقۍ ړانده مقلدين شول او ګومان يې وکړ چې د لوېديځ هراړخيز تقليد کولای شي موږ هم د هغوی په څېر مترقي کړي؛ مګر ځينو سنتي علماوو بيا د غرب د پرمختګ ترقي په يو مخيز ډول رد کړه؛ خو علامه افغاني بيا په دې دواړو کټګوريو کې رانغی، بلکې منځنۍ لار يې خپله کړه. سيد نه د لوېديځ ړوند پليونی شو او نه يې هم د غرب پرمختګونه رد کړل، بلکې د غرب له نوې ټکنالوژۍ څخه يې دفاع وکړه او پر مسلمانانو يې لازمه وګڼله چې د هغوی ټکنالوژي ترلاسه کړي او د خپلې ترقۍ کاروان پر روان کړي.

## د استعمار پر ضد مبارزه

لکه څنګه چې مخکې يادونه وشوه سيد په يوه وخت کې هم د داخلي استبداد پر ضد او هم د بهرني استعمار پر خلاف مسلمانان پاڅون او ازادۍ ته رابلل. سيد په ختيځ کې د ويښتيا له سرلارو څخه ګڼل کېږي. سيد د غربي استعمار پر ضد د اسلامي يووالي له ټينګو پلويانو څخه و. د علامه په باور د مسلمانانو اتحاد کولای شوای چې د لوېديځ استعمار مخه ونيسي. د استعمار پر ضد د سيد سياسي مبارزه بې له وېرې او ډار څخه وه؛ بلکې استعماري برېتانيې تر بل هر حکومت څخه د سيد افکار د ځان پر زيان ګڼل؛ ځکه بريتانويانو د سيد له افکارو سره سم د مسلمانانو يووالی د ځان په ګټه نه باله. سيد هم پر همدې باور و چې يوازې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسلمانانو یو ټینګ یووالی کولای شي د ټولو استعماري حکومتونو د ظلم او ناتار مخه ونیسي. سید چې د اسلامي یووالي غږ پورته کاوه د استعمار پر ضد یې د یوه قوي دیوال منځ ته راتګ هدف و.

## د سید د افکارو اهمیت

د سید د افکارو اهمیت په دې کې دی چې په اسلامي نړۍ کې لومړنی مفکر دی چې په نولسمه پېړۍ کې یې د اسلام داسې نمایندګي کړې ده او اسلام یې لوېدیځوالو ته داسې وربښودلی چې اسلام له نوي ساینس او ټکنالوژۍ سره او نه هم له عقلانیت/رېشنلېزم سره کوم ټکر نه لري، بلکې د همدغو ارزښتونو د پاللو او پرمخ وړلو پلوی دی. اروپایان چې د کلیسا د محرف دین له واکمنۍ څخه ډېر ځورول شوي وو، ګومان یې کاوه چې اسلام به هم د اروپایي محرف عیسویت په څېر وي. سید ثابته کړه چې اسلام له هغه کلیسایي عیسویت سره په بشپړ ټکر کې دی.

بله خبره چې سید بیا هم په کې مخکښ دی، د اسلام او نوو پرمختګونو ترمنځ د همغږۍ ټینګول وو. دا هغه څه دي چې سید ډېر پخوا درک کړي وو او د دغو بحثونو پر اهمیت ښه پوهېده. داسې بحثونه چې که په ربښتیني ډول اسلامي نړۍ خپل کړي او هضم کړي وای، د سید له وفات څخه پېړۍ وروسته به یې امت د نن په پرتله متفاوت وضعیت درلود.

## ضمیمه

د علامه افغاني د افکارو او مبارزې په باب د افغانستان ستر لیکوال او مورخ اروانباد پوهاند حبیبي یو ډېر جامع او هر اړخیز شعر ویلی چې د سید مبارزه او هڅې په کې په ډېر لوړ انداز خلاصه شوي دي. د دې لپاره چې د سید په باب د علامه حبیبي شعر هم دلته د دې لیکنې پلمه په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولګه کې خوندي شي، دا شعر د لیکنې په پای کې کټ مټ نقلوو:

## مبادی ثلاثهٔ سید

### وحدت اسلامی

نمی‌دانم چگویم مرد حق را نوایش زندگانی ها به ما داد
"امام عصر" خوانم زانکه از نو به وحدت شرقیان‌را خوش صلا داد
دم گرمش چو انفاس مسیحا بدل گرمی و شور افزود جان‌را
به وحدت خواند مسلم را کزان‌رو فزاید ربط و الفت شرقیان‌را
چراغ مهر و وحدت کرد روشن زاستانبول تا هند و سمرقند
فزود از وی همانا رونق شرق نهال نفرت و کین را ز بین کند

### جنگ با استعمار مغرب

خودی آموخت سید شرقیان‌را خود آگه بود و دانا و فرهمند
به ما بنمود راه خود شناسی به هم آواره‌گان را داد پیوند
به جنگ غربیان ما را صلا داد ز ضربش واژگون شد قصر افرنگ
نوایش گرم‌تر از نای رومی به شور آورد شرقی را پی جنگ
همو افزود رونق بزم ما را ز چهره زشت مغرب پرده بگشود
چو تیغ مرد سودانی بتابید باو جاهِد قُم افتلُ به فرمود
گلادستون ز ضرب کاری وی به خاک ذلت آمد اوفتاده
به جان ما فزود آن گرمی را که زاید در دل از دیرینه باده
به بزم ما سرود آن کهنه دستان دمی ما را بخود، باز آشنا کرد
برآمد مردِ حق از خاک کونر به کاخ غرب آشوبی به پا کرد

(c) ketabton.com: The Digital Library



## جنگ با استبداد

ملوکی را گزند جاودانی ازو شد خوارتر آئین بیداد
به شاه و مستبد دایم ستیزید همی گفتی ملوکی واژگون باد!
حمید و ناصر از وی لرزه بر تن هر انکو مستبد بدخوارتر شد
صدایش همچو رعد خانمانسوز به جان ظالمان همچون شرر شد
تو ای باد صبا از ما سلامی ببر بر خاک پاک سید حر
بگو از ما که ای سردار سادات! همی پندت بگوش ماست چون دُر

یادښت: په پورته مقاله کې له لاندې کتابونو استفاده شوې ده:


1- Political Philosophy (Muslims), Prof. Bakhtiar, Sawabi Univeristy,

2- Muslim Political Thought, Muhammad Aslam Chuodry

۳ - پیام عصر، د علامه حبیبي د اشعارو ټولګه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# راځئ سیدجمالدین افغان وپیژنو!

عبدالجمیل ممتاز

۱۳۹۳- ۲ – ۱۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ختيځ ويښوونکی، د ختيځ فيلسوف، اصلاح کوونکی، د استعمار ضد مبارز، په اسلام کې د نوي رسانس پلار او ..... لقبونه دي، چې په نړیواله کچه سید جماالدین افغان ته ورکړل شوي دي.

دا سمه ده چې سید افغان د افغانستان بچی و، خو افکارو او هڅو یې نړیواله بڼه درلودله، د استبداد پر ضد یې ګام پورته کړی او د ټولو مسلمانانو د راویښولو لپاره یې خپل هېواد پریښی، تر څو هغوی ته د بیداری او اصلاح پیغام ورسوي.

ترکیې، عربستان، عراق، روسیې، هند، مصر، ایران، فرانسې او ... هیوادونو ته د سید افغان سفرونه له تر ټولو مهمو هغو څخه حسابیږي.

په هغو هېوادونو کې یې ژور تاثیرات پریښي دي، ګڼ شمېر شاګردان یې روزلي او خپل افکار یې په لویه کچه ترویج کړي دي.

شیخ محمد عبده یو له هغو شخصیتونو څخه دی، چې د سید شاګرد او نږدې ملګری یې پاتې شوی، هغه یې په اړه داسې وایي: پلار مې راته داسې ژوند ډالۍ کړ، چې په هغه کې زه د خپلو دوو ورونو علي او محروس سره شریک یم، خو سید جماالدین بیا داسې ژوند راته بخښلی، چې په هغه کې زه د محمد(ص)، ابراهیم(ع)، موسی(ع)، عیسی(ع) او.... سره شریک یم.

همدارنګه کله چې فرانسوي فیلسوف ارنسټ رنان (۱۸۲۳ - ۱۸۹۲ م) له هغه سره مخ شو، نو وروسته یې بیا په اړه وویل: د هغه د فکر ازادي، لوی طبیعت او اغېزمن اخلاق، زموږ د خبرو اترو پر وخت زه داسې متقاعد کړم، لکه ابن سینا، ابن رشد او یا یو له هغو نامتو پوهانو څخه چې پنځه پېړۍ یې د انساني روح میراث عرضه کړ، بیا را ژوندی شوی دی.

خو افسوس چې دا ویښوونکی ستوری، مستبدانو او بخیلانو ونشوی زغملی، ډېر ژر یې د مرموزې دسیسې ښکار وګرځاوه او د یوې مشکوکې ناروغۍ له امله د ترکیې هیواد په استانبول کې یې له دنیا نه خدای پاماني

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړله، چې ټول عمر يې له (۱۲۱۷ ل – ۱۲۷۵ ل) پورې و. وروسته بيا په ۱۳۲۳ ل کال کې د هغه جسد له استانبول څخه کابل ته را وړل شو او د کابل پوهنتون په انګړ کې خاورو ته وسپارل شو.

سيد جمالدين افغان په هيواد کې دننه زښت زيات بنيادي خدمتونه تر سره کړي دي. لکه: د سياسي استقلال اعلان، په دربار کې د چارو اصلاح، له پردۍ ژبې څخه افغاني ژبې ته د هيواد نظامي او ملکي لقبونو او نومونو را اړول، د شمس النهار په نوم د ورځپاڼې خپرول (په لومړي ځل په افغانستان کې خپره شوه)، د (تتمه البيان فی التاريخ افغان) کتاب تاليف او نشر، د وزيرانو کابينه جوړول، د روغتون تاسيسول، د نظامي او حربي ښوونځيو رامنځته کول، د حيواني کلينيکونو جوړول، د پسته خانې او کاروانسرايونو رامنځته کول، د تګ راتګ پر لويو لارو باندې د مسافر خانو ودانول او ملي ژبې (پښتو) ته د ټولو پام را اړول او ....

خو سره د دغو خدمتونو چې هغه د خپل هېواد افغانستان لپاره تر سره کړي دي، ځينې کسان يې بيا هم افغانی نه بولي، بې اساسه دلايل وړاندې کوي او د تشو ادعاوو له مخې يې خپل ګڼي.

راځئ سيد جمالدين افغان وپېژنو! که څه هم دا موضوع ډېره شاربل شوې او خورا بحثونه ورباندې شوي، خو بې ځايه به نه وي، چې پر همدغو بحثونو باندې لږ نور څه هم ور زيات کړو او په يوه مقاله کې يې راغونډ کړو.

د سيد جمالدين افغان پر هويت باندې ولې ځينې خلک شک کوي؟ يا به يې په بربنډ ډول داسې ووايم: ولې د دغه افغان هويت د ځينو مغرضو کسانو لخوا پر ايران پورې منسوبيږي؟

زه خو وايم، چې د سيد افغان هويت تر نورو روښانه دی، په هېڅ ډول نشي مبهم ګڼل کيدی، خو دا چې ځينې متعصب کسان يا ډلې، د قومي يا

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ژبني وياړونو حرص اخستي او پر بل ملت باندې يې دا نه لوريږي، چې دغسې شخصيتونه ولري او ورباندې وياړ وکړي، د بې بنسټه او کمزورو دلايلو له مخې داسې ادعاوې کوي، چې پرته له دوی نه نور هيچا ته هم د منلو وړ نه دي.**

## سيد جمال الدين په اصل کې څوک دی؟

**که څوک غواړي چې هغه وپيژني، نو هغه د افکارو او نظرياتو له مخې بشپړ نشي پېژندلی. ځکه د هغه هڅې يوازې د افغانستان لپاره محدودې نه وې، بلکې د ټولې اسلامي نړۍ لپاره يې د راتله لمر په شان حيثيت درلود او په دې لټه کې و، چې اسلامي ملت ته په نړۍ کې ستر حيثيت ور په برخه شي او هغه مسلمانان چې لا هم غفلت او ناپوهۍ په خوب ويده ساتلي ول، هغوی را ويښ کړي.**

**راځۍ د هغه هويت د هغه له اثارو، ويناوو او کورنيو نښانو څخه معلوم کړو! چې په ډېره اسانه توګه او له کوم سر خوږي پرته کولی شو د هغه د پېژندنې پايلې ته ورسېږو.**

**په نړۍ کې هيڅ داسې انسان نشته، چې په يوه ځانګړې سيمه کې دنيا ته نه وي راغلی او په يو ځانګړي قام يا کورنۍ پورې تړاو ونلري. هغه هم بيا داسې يو څوک چې د ژوند زياته برخه يې د خپل هېواد او ملت د هوساينې، بيدارۍ او پرمختګ لپاره لګولې وي.**

**لومړی به دې خبرې ته راشو چې: ايرانيان د کومو رواياتو او ادعاوو له مخې سيد جماالدين په ايران پورې منسوبوي؟**

**هغوی وايي: سيد جماالدين په ايران کې د همدان په اسد اباد کې زيږېدلی، همله ځوانۍ ته رسيدلی، په نجف کې يې زده کړې کړي، د شيخ انصاري شاګرد پاتې شوی او د هغه په دستور يې د مسلمانانو د را**

(c) ketabton.com: The Digital Library



وینښولو لپاره هند ته سفر کړی، چې په دغه ترڅ کې افغانستان ته هم تللی دی. همدارنګه هغوی زیاتوي: هغه مصر، عراق، عربستان او نورو اسلامي هیوادونو ته د دې لپاره تللی، چې هلته مسلمانان سره متحد کړي او د خپلو مسوولیتونو پر وړاندې یې وپوهوي. تر څنګ یې یو بل ټکي ته هم اشاره کړې، چې سید ځکه خپل ځان افغان نومولی و، چې د هغه په هڅو او فعالیتونو کې د ایراني هویت له امله خنډونه رامنځته کېدل، نو ځکه یې ځانته د افغاني لقب غوره وباله.

هیڅوک د چا خوله نشي ورپټولی، هر څوک به هر څه وای. خو دا د دې معنا نه لري، چې چا څه وویل، بس همغه حقیقت یا واقعیت دی. هره وینا یا ادعا باید پر منطقي او معقول استناد ولاړه وي او رښتیني شواهد ولري. داسې خو نشي کیدی، چې یو څوک سپین ته تور ووایي او د هغه له دې خبرې سره سم هغه تور شي.

د ایرانیانو پورتنۍ ادعاوې او روایتونه یې په هر صورت، خو د افغاني لقب په اړه یې چې کوم دلیل وړاندې کړی، ډېر د خندا وړ او نهایت کمزوری او بې اساسه دلیل دی.

وګورئ! د سید افغان مبارزه کوم جاسوسي فعالیت نه و، چې ګواکې ده د هغه هېواد (ایران) لپاره جاسوسي کوله او ددې په خاطر چې خپلو پټو اهدافو ته ورسیږي، ځان یې په پردي نوم نړیوالو ته ور وپېژاند. بیخي بې ځایه او ډېره ټیټه ادعا ده چې کوي یې. ولې یې ځان افغان نوماوه؟ کولی یې شوی چې هیڅ دا لقب د ځان لپاره غوره نکړي، آخر دغه لقب ته اړتیا څه وه؟ آیا په هغه وخت کې د افغانستان مناسبات له نورو هیوادونو سره د ایران په پرتله غوره ول؟ ولې یې په هغو نورو هیوادونو پورې ځان نه منسوباوه، چې د دوی په وینا هلته یې عمر ډیر تېر کړی؟ په داسې حال کې چې دوی پخپله وایي چې د سفرونو په لړ کې یې افغانستان ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم یو گذر کړی دی. نو آیا د دوي دا دواړه ادعاوې په ښکاره توگه یوه بله نه ردوي؟
ایرانیان د سید په اړه اسناد ځیني اسناد هم وړاندې کوي، چې له مخې یې سید ایرانی بولي. تر ټولو مهم سند د (شرح حال و اثار سید جماالدین) په کتاب کې د میرزا لطف الله خان یوه لیکنه ده، هغه خپل ځان د سید جماالدین خوریی معرفي کوي او وایي چې هغه د همدان د اسد اباد دی. همدارنگه میرزا د سید ځیني تصویرونه چې ایرانیانو سره یې اخستي، ځیني لیکونه یې چې څو تنو ایرانیانو ته استولي او په همدان کې د هغو ساداتو چې د سید جمال نیکونه یې گڼي، د هغوی د قبرونو لوحې د حجت په توگه وړاندې کوي او له مخې یې ښه په زغرده سیدجماالدین د ځان گڼي.
عجیب دلایل دي! نه به څوک د چا سره عکسونه اخلي او نه به هم څوک چا ته لیکونه استوي، کنه نو هویت به یې داسې وي لکه د سید جماالدین افغان. سمه ده چې هغه به هلته عکسونه اخستي وي، لیکونه به یې استولي وي، خو دا د دې معنا نه ورکوي چې گواکې په اساس یې سید ایرانی شو. نه! سید افغان یوه نړیواله څهره وه، افکار یې یوازې پر افغانستان پورې محدود نه ول، بلکې د نړۍ ډېرو هیوادونو ته تللی او هلته یې زیات وخت تیر کړی دی، کیدی شي چې نورو هېوادونو کې یې هم دغسې نښې نښانې پاتې وي، نو آیا هغوی به هم را ولاړیږي او ادعا به کوي چې گواکې سید د هغوی دی؟
د ساداتو د قبرونو لوحې یا هم ځان د سید جمال الدین خوری بلل او د ناصرالدین شاه قاجار په وخت کې د هغه د ایرانۍ گذرنامې صادریدل، دا ټول داسې دلایل دي، چې نه واقعیت لري او نه هم دومره پوخ اساس لري، چې په مرسته یې ایرانیان دا ثابته کړی شي، چې سید جمال د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ایران دی.

لومړی دا چې د ګذرنامې په هکله زه سم نه یم پوهېدلی، یعني څه؟

همدا چې د هغه د ایرانیتوب حکایت کوي؟ عجیبه ده، له ایرانیانو پرته نور هیڅوک هم دغسې څه نه مني. په داسې حال کې چې د سید افغان زیاتره اثار د هغه د افغانیت حکایت کوي، خو بیا هم دوی دغې یوې ګذرنامې ته ترجیح ورکړې او د نورو ټولو نړیوالو مورخینو شواهد او مدارک ردوي. آیا د یوې ګذرنامې په اساس د یو انسان ټول حقیقي هویت او ژوند دروغ ثابتېدلی شي؟ نه، هیڅکله نه.

بله خبره دا ده چې که له عقیدوي اړخه ورته وګورو او په ټوکه یې هم وانړوو، نو ښاغلی میرزا لطف الله خان پخپله ادعا کې دروغجن نه دی، ځکه د هغه مور د ده پخپل حساب باندې د سید افغان خور کیږي او دا خو طبیعي ده، چې ټول مسلمانان سره خویندې ورونه دي او هغه ده چې میرزا صاحب په نره ځان د سید افغان خوری ګڼلی شي. که داسې یې هم څوک نه مني، نو دا ځواب د پوښتنې په ډول هم وړاندې کیدلی شي. هغه دا چې که افغانان دا ادعا وکړي، چې سید جماالدین د میرزا لطف الله خان ماما دی، نو له کوم دلیل پرته میرزا د افغانستان دی. آیا د هغوی تر ادعا به دغه ادعا پیاوړې او منطقي نه وي؟ په داسې حال کې چې د سید پاتې کورنۍ په افغانستان کې ده او که ځیني غړي یې په بهر کې هم دي، نو ټول یې ځانونه د افغانستان ګڼي.

دغه راز هغوی د ساداتو د قبرونو لوحې یادوي او وایي، چې د سید افغان نیکونه په ایران کې ښخ دي.

عجیب قضاوت دی، دا ښه ده، چې سید په ترکیه کې وفات شو، هلته د لندې مودې لپاره خاورو ته وسپارل شو او بیا وروسته په ۱۲۸۴ ل کال کې د هغه جسد کابل ته را انتقال شو. کنه که په ایران کې دفن شوی وای،

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا نو خدای خبر که افغانانو ته د هغه په اړه د خبرو کولو حق هم چا ورکړی وای.

د حیرانۍ ځای همدا دی، چې نه سادات دومره وړه کورنۍ ده او نه هم په یوې سیمې یا هېواد پورې محدوده پاتې شوې ده. په زیاتو هېوادونو کې سادات استوګن دي، دا نو په دې مفهوم نه ده، چې ګواکې سادات یوازې په ایران کې دي او چې په بل ځای کې وي، نو هغوی ټول د ایرانیو هغو لمسیان دي.

په رښتیا هم د سید افغان د نیکونو قبرونه هلته دي کنه؟ په دې اړه نامتو مورخ عبدالحی حبیبي په ډېر واضح ډول دغه موضوع روښانه کړېده. هغ پخپل کتاب (نسب و زادگاه سید جماالدین الافغاني) کې په دې اړوند خورا پراخ تحقیق کړی او دا یې څرګنده کړې چې د سید جمال پلرونه د همدان له ساداتو سره د خپلوۍ اړیکې درلودې. هغه پخپل دغه اثر کې داسې وایي:

د سید جمال الدین د پلار سید صفدر او د هغه د تربرونو (د سید نظیف زامنو) تر منځ د فیوډالي سیالیو له امله اختلافات پیدا کیږي، چې په پایله کې د سید نظیف زامن وربانديې غالبیږي او سید صفدر دې ته اړ کیږي، چې د کونړ بطن (پشد) پریږدي او د کوز کونړ په جنوبي برخه کې د شېرګر (اسد اباد) په نوم کلي کې د صفدري په نوم یوه کلا ودانوي. شېرګر او صفدري چې له جلال اباد سره ۵۰ کیلو متره واټن لري، تر اوسه پورې هم په همدغو نومونو یادیږي.

د سید صفدر پلار سید علي له دې امله په همداني شهرت درلود، چې هغه زیات وخت په همدان کې تېر کړی و، خو اوس د کونړ په (دونهي پشد) کې دفن دی او خلک یې د شاه همدان زیارت بولي.

سید محمود پاچا د سید صفدر تربور او د وزیر اکبرخان زوم و، چې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه وخت کې د کونړ مطلق واکمن شو، سید صفدر د دې لپاره چې له درباري دسیسو څخه په امن کې پاتې شي، خپلې کورنۍ سره د حج په نیت مشهد ته لاړ او له همغه ځایه یې د همدان په اسداباد کې د قاضي میرشرف الدین حسیني کورنۍ سره ځکه خپلوي وکړه، چې پلار یې له وړاندې نه ورسره اشنایي درلوده.

دا چې د سید ورو مسیح الله، طیبه بیگم، مریم او نور خپلوان یې په همدان کې پاتې شول، نو هلته د قبرونو د لوحو خبره چې کیږي، هغه د همدغو خویندو او ورور اولادونه دي، چې موږ د تېر تاریخ په اوږدو کې دغسې په سلگونو افغانۍ او ایرانۍ مهاجرې کورنۍ ښودلی شو.

حبیبي صاحب په دې اړه زیاتوي: د سید جماالدین نیکه سید علي چې د حرمین زیارت ته روان و او لاره یې پر همدان ورسپره وه، نو یوه موده هلته پاتې کیږي او د همداني اسداباد، ساداتو سره اشنا کیږي. بیا چې کله سید علي بېرته کونړ ته راستنیږي، په همداني یا د همدان شاه په لقبونو شهرت مومي.

استاد حبیبي وایي: شېرگر د سید جماالدین افغان زیږنځای دی، خو دا چې سید خپلو عربي، ترکي، غربي او ایراني شاگردانو ته ویل چې: (زما زیږنځای په افغانستان کې د کونړ اسد اباد دی)، نو مراد یې همدغه شېرگر و، چې دري ژبو هم اسداباد یاد کړی دی او تر اوسه یې هم همغه پښتو نوم لا پاتې دی. ځکه چې په دغو ټولو سیمو (کونړ او کامه) کې خلک په پښتو ژبه خبرې کوي او اسد اباد هم د پښتو شېرگر ژباړه ده.

جناب حبیبي د سید د خوري په اړه هم داسې وایي: د ایران معاصر نامتو محقق علامه محمد قزویني هم دا خبره کوي، چې دغه ادعاگانې له سره د منلو وړ نه دي، چې د اسداباد یو تن چې ځان د سید خورى بولي او څوکاله وړاندې یې په دې اړه یوه رساله هم خپره کړې او د هغه د کورنۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



غړي يې، د ده پر باور چې اوس هم د همدان په اسداباد کې دي، يو- يو ياد کړي دي.

ښه نو، له دې سره - سره افغانان نور کوم شواهد او مدارک لري؟ چې له مخې يې په خپله ادعا کې رښتيني وي؟

هو، تر ټولو مهم مدرک پخپله د سيد له خولې اقرار دی، چې پخپلو اثارو کې يې ځان افغانی بللی دی. لکه، په عروة الوثقی کې يې ليکلي دي: (الافغان و هی اول ارض مس جسمی ترابها). همدارنګه غلام حسين موسوي پخپل کتاب کې د هغه له خولې داسې وايي: ( اني اخطرت لترک بلادی الافغان مظطربة بها الاهواء والاغراض).

يو بل مهم ثبوت يې دا دی، چې له ايران پرته نور ټول هيوادونه هغه د افغاني په نوم پيژني او هويت ته يې د افغاني په حيث قايل دي. په ځانګړې توګه ترکيې، عربي هيوادونو او لوی هند د افغاني په نوم ياد کړی او د افغانستان بچی يې بللی دی. همدا راز د نورو هيوادونو مورخينو او پخپله ځينو ايرانيانو (مدرسي چهاردهی، ابراهيم صفايي، شيخ عباس قمي، سيد محمد علي استانه او ...) هم سيد د سيد صفدر زوی او د افغانستان له يوې غتې کورنۍ څخه بللی دی.

شيخ محمد عبده د سيد افغان په ژوند ليک کې ليکي: (سيد د کونړ په اسد آباد کې (۱۲۵۴ هـ ق) دنيا ته راغلی دی.

همدغه خبره ګڼ نور کسان هم کوي: عبدالقادر مغربي، مصري ليکوال جرجي زيدان، محمد فريد وجدي، د سيد افغان شاګرد اديب اسحاق، د تفسير المنار ليکوال سيد محمد رشيد، محمد پاشا مخزومي، سيد حسين شيرازي، ډاکټر عثمان امين او ...

دغه شان د (مقام جماالدين افغاني) په کتاب کې چې د هندي ليکوالانو مقالې پکې راټولې شوي، سيد جمالدين يې د افغانستان ګڼلی او

(c) ketabton.com: The Digital Library



امریکایي استوارډ لوټروب هم د خپلو دلایلو په ذکر کولو سره هغه افغان بللی او ویلي یې دي چې د کنړ په اسد آباد کې زیږیدلی دی.ذ

نورې ټولې خبرې او دلایل پر خپل ځای! لکه څنګه چې مو د دغه بحث په لومړي سر کې د سید افغان بنیادي خدمتونو ته اشاره وکړه، چې په افغانستان کې یې تر سره کړي دي، نو په روښانه توګه د هغه دا خدمتونه د دې ګواهي ورکوي، چې هغه له افغانستان پرته د بل هیڅ ځای نشي- کیدی. دا په دې معنا چې پردی سړی هیڅ وخت دومره خدمتونه یو پردي هیواد ته نه کوي او نه هم د دې چانس ورکول کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د سيدجمال الدين افغان ستاينه

ليکوال: سيد اصغر هاشمي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ميندې راوړي ډېر زامن ډېر اولادونه
يو يا دوه يې افلاطون يا سکندر شي
د خلقت لـه کارخـانې نـه کلـه کلـه
په جهان پيدا يو بل شانې بشر۔ شي

د منځپانګيز او محتواييز جوړښت له مخې د استاد الفت شعري کليات ډېرې په زړه پورې ستاينې لري، چې د سيدجمالالدين افغان په ستاينې کې يې دوې تهيديه ډوله شعرونه ويلي دي.
د استاد الفت د ستاينو مهمه ځانګړنه دا ده، چې د ممدوح يادونه د تملق په ډول نه کوي او د هغه چا ستاينه کوي، چې په حقيقت کې د ستاينې وړ وي.
که چېرې د يو کس مدح او ستاينه د هغه د علم، پوهې، شاعرۍ، ليکوالي، ښو اخلاقو او خدمتونو په نظر کې نيولو سره وشي او هغه په ښه نوم ياد شي، دې ته ستاينه وايي.
پښتو ادب کې د ستاينې او مدحې تحريري او ليکل شوې لاس ته راغلې بېلګه په لرغونې دوره کې د ښکارندوی غوري ستاينه او مدحه ده.
دغه ستاينه د قصيدې په فورم کې ويل شوې ده او په پښتو ادبياتو کې لومړنۍ ستاينه او دويمه تحريري او ليکل شوې قصيده ده.
ښکارندوی غوري د سلطان غياث الدين غوري او سلطان شهاب الدين غوري په ستاينه کې خپله قصيده ليکلې ده.
د يوې خبرې يادونه ضروري ده، چې د نړۍ په ادبياتو او پښتو ادبياتو کې له تحريري ادبياتونه د شفاهي او ولسي ادبياتو تاريخچه او شاليد پخوانی دی، د محتوا او منځپانګې له مخې که موږ هر ډول تحريري او ليکل

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوي شعرونه لرو، له دې څخه دمخه د ولسي شعرونو ډېرې داسې بېلګې لرو، چې د امکان تر حده به یې تاریخ پخوانی وي.

پښتو ادب کې ډېرې ستاینې او مدحې د ټپو او لنډیو په شفاهي او ولسي ژانر کې شته، چې ډېر امکان لري، تر ښکارندوی غوري پخوا ویل شوي وي، خو د تحقیق او څېړنې د مېتودولوژي د اساساتو پر بنا باید د څېړنې بحث له لاس ته راغلو هغو موادو ځینې پیل شي، چې لیکوال، د لیکلو وخت او لاس ته راغلي منظومه او منثوره بېلګه څرګنده وي.

د استاد الفت ستاینې دومره په زړه پورې دي، چې د هر ممدوح د ژوند ټول انځور په یوې لنډې ستاینې کې ځای کړې او د سړي زړه نه کېږي، چې د هره ستاینې څو انتخابي بیتونه راوړي، ځکه د ټولې ستاینې په راوړلو هغه ممدوح ډېر ښه پېژندل کېږي.

استاد د نابغه سید جمال الدین افغان ډېره په زړه پورې ستاینه کړې ده، چې په کلیاتو کې یې ساری نه لیدل کېږي او زما په پوهه په لرغونې او دویمې دورې کې د کس (شخص) په ستاینه کې یوله بې جوړې ستاینې ځینې دی، چې څو بیتونه یې دا دي:

بې حسابه ځاځکي توی په بحر و بر شي
لــه لکونــو کروړونــو یــو ګــوهر شي

رنګ په رنګ ګلان پیدا شي غرو رغو کې
پـه کـې یـو نـیم د لیلـی پېکـي تـه ورشي

مرغلــرې ډېــرې وځــي لــه دریابــه
ځینــې ځینــې ښـکلو پېغلـو تـه زیـور شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ستاینې په څو وروستیو بیتونو کې داسې وايي:

د خلقــت لــه کارخــانې نــه کلــه کلــه
پــه جهــان پیــدا یــو بــل شــانې بشرــ شي

چــې رڼــا یــې پــه ملکونــو کــې خپرېــږي
ټــول عــالم لــره څرګنــده لکــه لمــر شي

د کــونړ د لــوړو غرونــو پــه لمــن کــې
نابغــه فرزنــد پیــدا د ســید صــفدر شي

پښتنه مور هسې زوی واخلي په غېږ کې
چــې د دهــر او جهــان نــامي پسرــ شي

ډېر پوهان ورته سر ټیټ په شاګردۍ کړي
ډېر شاهان یې په تعظیم مخې ته ورشي

همېشــه یــې قــدر کېــږي پــه عــالم کــې
څوک چې لوی په علم و فضل او هنر شي

هسې نوم هسې نشان یې شي په برخه
چــې لــوی فخــر د ملــت او خپــل ټبر شي

استاد ګل پاچا الفت چې د چا ستاینه کړې ده، د هغه په اړه یې پوره معلومات او مطالعه درلوده، دده پورته راغلې ستاینه په دې دلالت کوي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



**چې دې سيد جمال الدين افغان ډېر ښه پېژنده.**

**استاد ګل پاچا الفت د سيد جمال الدين افغان په باب يوه بله ستاينه هم لري، چې په کلياتو کې د (پښتون سيده) په نامه داسې راغلې ده:**

**پښتون سيده، د شرق نامداره**
**د دين او علم، د کور سرداره**

**تللى وې چېرې، د څه لپاره**
**د چا له غمه وې ناقراره**

**توره تياره وه، مړه اولسونه**
**راپاڅول تا، ويده قومونه**

**دنيا رڼا شوه، ستا له تنويره**
**جهان خبر دى، ستا له تاثيره**

**حق سر اوچت کړ، ستا له تقديره**
**ستا له تحريره، ستا له ضميره**

**وښورول تا، غافل فکرونه**
**څومره خواږه و، ستا بيانونه**

**استاد الفت په علم او ادب مين و او ډېرې ستاينې يې د هغو عالمانو، شاعرانو، ليکوالانو او پېژندل شوو او تلپاتې څېرو او اشخاصو په اړه دي، چې خپل ولس او نړۍ ته يې خدمتونه کړي دي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



د استاد الفت د ستاینو کامیابي په دې کې ده، چې د هر کس د ژوند په نظر کې نیولو سره دده یادونه یې کړې ده او لوستونکی او اورېدونکی دا فکر کوي، چې استاد ددې هر شخص په باب پوره معلومات درلود. رښتیا هم استاد الفت د ډېرې ښې مطالعې څښتن دی.

د استاد الفت ستاینې په پښتو ادب تاریخ کې بې جوړې او بې سارې ستاینې دي، دی د ځینو درباري شاعرانو په ډول ستاینې نه دي کړي، د دې ستاینې پرځای او پښتو ژبې کې د ستایلو وړ دي.

## ماخذونه


1. هاشمي،سیداصغر،پښتوژبې ادبي سرلاري، گودرخپرندویه ټولنه، جلال اباد،۱۳۹۰ ل کال .
2. حبیبي،پوهاندعبدالحی،دپښتوادبیاتوتاریخ،لومړی اودویم ټوک، دانش خپرندویه ټولنه، پېښور۱۳۸۴ ل کال .
3. هاشمي،سیداصغر، د پښتو نظم تاریخ(لومړی او دویمه دوره)، مومند خپرندویه ټولنه، جلال اباد، ۱۳۹۳ ل کال.

شهرت، ننگیال، د الفت مرغلرې، دانش خپرندویه ټولنه، پېښور، ۱۳۸۷ ل کال.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د شرق د نابغه ملیت او آندونه!

شیخ الاسلام شهید الحاج سیدعلامه جمال الدین حسیني افغاني رحمة الله وعلیه،

لیکوال: عبدالغفار جبیر

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر داسې ستر شخصيت باندې ليکل زما په شان د حقير کار نه دی، دا ځکه چې د شرق پردې ځلانده ستوري بايد سترپوهان او سترې هستۍ ليکنې وکړي، خو بيا هم د مخلصو ملګرو د امر د اطاعت له کبله پردې ستر انسان باندې يو څو کرښې اضافه کوم.

سيدعلامه جمال الدين افغاني رحمة الله عليه د اسلامي نړۍ رغښت، نوښت، د اسلامي نړۍ وحدت، د آزادۍ ولولې او د اسلامي امت سمبالښت ستره ارزو وه، دی تکړه سيلاني، مدبر، عالم، فصيح، چارپوه، هوښيار، ځيرک، ذهين، د اسلامي فکر او بصيرت څښتن ؤ، ده تل کوښښ کاوه چې ټول هغه شوم پلانونه، چې د اسلامي نړۍ پر خلاف جوړيدل هغه رنګ کړي، دی تل د هيواد پالنې او اسلامي ولولو څخه برخمن ؤ، هغه تل د عيسايي اروپا، انګريزي ښکيلاک او امپراليزم په خلاف تر مرګه پورې نه ستړي کيدونکي هلې ځلې وکړې، هغه د اسلامي نړۍ د اوسنۍ ويښتيا ستر بنسټ اينښودونکی او امام دی، د لاتهراپ استاډرډ په وينا، جمال الدين افغان لومړی مسلمان ؤ، چې د لوديځ د نيواک راتلونکي خطرونه يې په ښه توګه سره محسوس کړه، او خپل پاتې عمريې پردغې خطرې باندې د اسلامي نړۍ په پوهولو لګيا وه، او انګريزان ځنې ډاريدل،ايډورډجي براؤن، د ده په هلکه وايي: علامه د اسلامي هيوادونو د ويښتيا لپاره ډير ستركارونه وکړه او د لوديځو هيوادونو د ښکيلاک پرضد يې د يو بل د يووالي بلنه ورکړه، هانس کهان د ده په هکله وايي: علامه افغاني ان د هغه مخالفينو د ده سترتوب مانه، هغه يو اغيزمن ويناکوونکی، علمي پانګه، سم اند او مذهبي سپڅلتيا لرله، له همدې کبله هغه د نوي ختيځ تر ټولو لومړی بلبنده وال جوړکی.

حضرت مولاناپيرذوالفقاراحمد نقشبندی صاحب په خپل کتاب (خطبات فقير، ټوک۲ پاڼه ۱۶۱) کې د علامه و جهاد ته اشاره کړې ده او دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیکي: کله چې په افغانستان کې د جهاد خبره راغله نو سیدجمال الدین افغاني رحمة الله علیه تر ټولو لومړی داګام پورته کړ دا ځکه، چې دی شیخ د طریقت ؤ.

## سید جمال الدین افغاني رحمة الله علیه اصلي ملیت:

دروند وروړ زاهد جلالی صاحب هم پردې موضوع ښکلې مقاله (ستر شخصیت اوسپک تورونه) لیکلې، زه غواړم، چې پردې موضوع یو څه نوره رڼا هم واچوم، هغه له دې کبله، چې ایرانیانو ډیرکتابونه، مجلې، مقالې، جریدې او ویب پاڼې په دې هکله مهیا کړي، چې سیدعلامه جمال الدین افغانی رحمة الله علیه ایرانی دی او افغانی نه دی.

د ده پر افغانیت خپله د علامه سیدجمال الدین افغانی رحمة الله علیه خپله ویناوې او لیکنې شته، د ده د تکړه او مخورو شاګردانو تائید شته او نړیوال هم ورسره په یوه خوله دي.

۱: علامه سیدجمال الدین افغاني د خپل ځان په هکله وایي:

د علامه افغاني یوه تکړه شاګرد برهان الدین قلیج خان د خپل نامتو استاذ په هکله لیکی: یو ځل ما وحضرت استادته وویل، چې: ځینې خلک تا ایرانی ګڼي؛ د دې سبب څه دی؟

نو هغه وفرمایل چې: زه د کنړ د سیدانو له مشهوري کورنۍ څخه یم او په ۱۲۵۴ کې په افغانستان کې زیږدلی یم، د شیخ جمال الدین په نامه یو بابي مبلغ د ایران اوسیدونکی ؤ اوکوم ځای ته، چې زه تللی یم هغه هم تللی ؤ له دې امله ځیني وګړي په غلطه ماشیخ جمال الدین ایرانی ګڼي مګر دا ګومان ډیر ناوړه، نه منونکی او سر تر پایه ناسم اوګرسره درواغ دي زه هیڅ کله ایرانی نه یم بلکې افغان یم اوټول افغانان ما ډیر ښه پیژني.

۲: علامه سیدجمال الدین افغاني پخپله په عروة الوثقی جریده کی داسی

(c) ketabton.com: The Digital Library



وايي:
الافغان و هي اول ارض مس جسمي ترابها
ژباړه: دا(افغانستان) لومړۍ هغه ځمکه ده، چې زماوجود، دې خاورې مسحه کړی دی.
۳: غلام حسین موسوي پخپل کتاب کې لیکي، چې : سیدجمال الدین افغاني ویل:
اني اخطرت لترك بلادي الافغان مضطربة بها الاهواء و الاغراض.
ژباړه: زه مجبوره شوم ، چې خپل افغان وطن په داسې حال کې پریږدم چې په دې وطن باندې شخصي اغراضو او تمایلاتو لوبې کولې.
۴: علامه سیدجمال الدین افغاني پخپل کتاب (تتمة البیان فی تاریخ الافغان) کې لیکي، چې زه د افغانستان یم او افغان یم.
د علامه شاګردان، ملګري اونور... د ده په هکله څه وایي؟
۵: خپله ایرانیان دا مني، چې هغه افغان ؤ، په دې کې مدرسي چهاردهي، ابراهیم صفایي، شیخ عباس قمي، سید محمد علي آستانه او نور ایرانیان علامه د سیدصفدر ځوی او افغاني بولي.
٦: مفتي محمدعبده د سیدجمال الدین افغاني ځانګړی ملګری او ډیر پیاوړی شاګرد ؤ هغه د علامه افغاني فارسی رساله (حقیقت مذهب نیچري ونیچریان) وعربي ته ژباړلې او په سریزه کې یې لیکي: سیدجمال الدین افغاني د افغانانو د هیواد په یوه مخوره کورنۍ پورې اړه لري.
۷: د علامه افغاني او محمد عبده نامتو شاګرد سید رشید رضا مصري د(المنار) چلونکی پخپل تالیف (تاریخ الاسلام)کې لیکلي دي: سیدجمال الدین افغاني د اسعدآباد په نامه د کنړ د سیمې په یوه کوچني کلي کې پیداشوی دی.
۸: د علامه یو بل پیاوړی شاګرد امیرشکیب ارسلان په خپل کتاب

(c) ketabton.com: The Digital Library



(الحاضرالعالم الاسلامی) کې پردې موضوع اوږدې خبرې کړې دي اولیکي: سیدجمال الدین افغاني د افغانانوپه هیوادکې دکنړپه سیمه کې پیداشوی دی.

۹: نامتومصري ادیب جرجي زیدان په (مشاهیرالشرق) کې لیکي: سیدجمال الدین افغاني د اسعدآبادپه نامه په یوه کلي کې، چې دکنړ د اړوندو کلیو څخه دی پیداشوی دی.

۱۰: یو بل مصري ادیب عبدالرحمن رافعي په خپل تالیف (تاریخ حرکت قومي) کې لیکي: سیدجمال الدین افغاني د اسعدآباد په نامه په یوه کلي کې پیداشوی دی، د اکلی دکابل دکنړ په سیمه کې پروت دی.

۱۱: همدارنګه ابراهیم مصطفی الوکیلي په خپل کتاب (مفاخرالاجیال) کې لیکي:

سیدجمال الدین د اسعدآباد په قریه کې، چې د کنړ یوه سیمه ده پیداشوی دی.

۱۲: د علامه افغاني د لیکنو د مجموعې (عروة الوثقی) اوډونکی مصطفی عبدالرزاق د کتاب په سریزه کې پردې مسألې ژورې خبرې کړې دي اولیکي: سمه خبره داده، چې سیدجمال الدین افغاني افغان دی اوهمداخبره علامه هم کړې ده.

۱۳: ولفرډبلنټ د سیدجمال الدین افغاني مخلص دوست اوملګری ؤ او د علامه افغاني په هلو ځلو کې یې کارنده برخه اخیستې وه هغه په خپلوکتابونو(History of the British occupation of Egypt) او نورو کتابونو کې لیکلي دي، چې سیدافغاني دی او په افغانستان کې پیداشوی دی.

۱۴: هانس کهان د(History of Nationalism in the East) کې لیکي:

خپله سیدویلي دي، چې زه په ۱۸۳۸ میلادي کال کې په افغانستان کې پیداشوی یم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۵: چارلس ایډمزد(Islam and Modernism in Egypt) کې لیکلي دي:
سیدعلامه افغـاني دافغانسـتان د اسـعدآباد پـه نامـه پـه یـوه کـلي کـې پیداشوی دی.

۱٦: د افغاني د افغـانیتوب لپـاره همـدابس ده، چې دی پـه خپلـه هرځـای افغاني ؤ، هم په ترکیه کې، هم په مصرکې، هـم پـه فرانسـه کـې، هـم پـه روسیه کې، هم په ایران کې اوهم هرځای...

۱۷: سید علامه افغاني یو مهر د مربع په شکل سره درلـودی، چـې پرخپلـو ټولو لیکنو باندې یې واهه د دې مهرپـه هکلـه پـه آریانـا دایـرة المعـارف کـې لیکلي دي:
په ۱۸٦۵ مـیلادي کـال کـې سـیدله مشـهده وځـي او تهـران تـه ځـي اولـه همدې وخت نه یې ادبي علمي رسالې په خپل قلم رانقلوي اوپرې لیکي: ((جمال الدین الحسینی الاستنبولی الافغانی الکـابلی)) اوخپـل مربـع مهـر ورباندې لګوي.
که ودې مهرته وکتل شي نو د ده په هغه وخـت کـې نسـبت د ایـران څخـه استانبول لاورته قدرمن ؤ، دا ځکه چې په هغه وخت کې استانبول د اسـلام مرکزؤ، ده خپل ځان کابلی په دې بالـه چـې کابـل مشـهوره ؤ اوکنـړ داسـی شهرت نه درلودی او بل د اچې کنړو کابل تـه نـژدې ؤ، او افغـاني ځـان پـه دې بولي، چې افغان دی، نوکه چیرې دی ایرانی وای نوپکـار داوه، چـې د افغاني پرځای یی ایرانی لیکلي وای.

۱۸: کله چې دعلامه سیدافغاني په ژونـدکې ده داګنګوسـې واوریـدلې چـې خلک وده ته ایرانی وایي نوله دې مـودې راهیسـې یـې کـابلی اواسـتانبولی لیری کړ اوتل یی دخپل نامه سره افغانی لیکه.

۱۹: د علامه سـیدجمال الـدین افغـاني رحمـة الله علیـه ملیـت او جنسـیت لاهغه وخت ښه په بین المللي دول سره معلـوم شـو، چـې کلـه پـه (۱۹۴۴)

(c) ketabton.com: The Digital Library



میلادي کال کې دده جسد د ترکیې څخه دافغانستان و مرکز کابل ته راوړل شو او هلته د کابل نړیوال پوهنتون ترڅنګ د علي اباد په منطقه کې خښ کړل شو. هلته ولې ایران دعوه نه کوله؟ داځکه، چې ایران پوهیدی،چې هغه افغاني دی.

۲۰: شارل آدمس په خپل کتاب (الاسلام والتجدید) کې لیکي:

سیدجمال الدین د افغانستان کابل ته نژدې په اسعدآبادکې پیداشوی دی.

سید علامه جمال الدین افغاني رحمة الله علیه تل کوښښ کاوه، چې اسلامي امت دغربي عیسایي ښکیلاک په مقابل کې یوموټی کړي اونه ودې ته توجه نه ورکول چې داخوک دی؟ دکوم ځای دی؟ سید چې د هرځای دی دا د هغه په شخصیت اوسترتوب کې کوم تغیر او توپیر نه راولي د هغه خپله وینادە:

((هیچ احتیاج به این ندارم که خودرابه یک ملتي نسبت دهم هرملک ملک ماست که ملک خدای مااست))

هغه داسلام پرنړۍ والو بنسټونو قایل ؤ، هغه د ټولې اسلامي نړۍ لاربښوونه کوله هغه د مسلمانانو دويښتیا، سیاسي ازادۍ اود دین دپیاوړتیالپاره هلې ځلې کولې.

علامه سیدافغاني رحمة الله علیه د ژورنالیزم په ډګر کې د اسلام دفاع کوله.

علامه سیدافغاني داسلام ضد فکري او وسلواله جګړه نشوای زغملای او تل یې کوښښ کاوه، چې کله به سیدهرځای ولاړی نو هلته به یې اخبارونه او جریدې چاپولې، ټولنې به یې جوړولې، ډلې به یې جوړولې، ګوندونه به یې تأسیس کول، په دې هلوځلوکې یې هرځای د جریدو اواخبارونوبنسټ کښیښود، افغاني تل غوښتل، چې تل اسلامي امت په فکري اسلامي روزنې سره سمبال کړي، دوی ویښ کړي،او د ښکیلاک

(c) ketabton.com: The Digital Library



په مقابل کې يې يوموټی کړي، دی داخبارو په هکله وايي:

((اخبار ليکل هغه بې ساری هنر دی چې موضوع يی د خلکو اخلاقي او ملی حال احوال او غايه يی د ولس د اخلاقوسمون، د خپل اوان دټولو ولسونو نيکمرغي، آرامي اوهوساينه ده.))

۱: دارالخلافه تهران، ۱۲۸۲ ق ، په ايران کې يې يوه رساله (آه از سوز دل من که عالم راميسوزند وآتش به جهان درمی زند جمالدين الحسين افغانی)وليکل.

۲: په حيدر آباد کې يې د(معلم شفيق) په نامه يوه مجله خپره کړه، چې وروسته دامجله دانگريزانو له لوري بنده کړل شوه .

۳:علامه شپږ مياشتی وروسته بيا په(سيدالاخبار، مفرح القلوب) په جريدو کې ليکنې خپرولې، او د ده مقالې د((مقالات جماليه)) په نامه خپرې شوې، د نيچريه رساله يی هم دلته وليکله.

۴: سيد چی کله لندن ته ولاړی هلته يی دلندن په (نحله) مجلی کی مقالې خپرې کړې.

۵: له دې ځخه وروسته يی په پاريس کي (ابونظاره مجله او البصير مجله) کې مقالې خپرولې.

٦: د جماد الاولی په ۱۵ نيټه په پاريس کې د(عروة الوثقی) جريده لومړۍ گڼه چاپ کړه، په دغه وخت کې يې (تتمة البيان فی تاريخ الافغان) هم بشپړکړ.

۷: په لندن کې يې په (ميرازاملکم) کې په ورځپاڼه کې خپلې مقالې خپرې کړې.

۸: په ۱۳۰۹ ق کې يې په لندن کې يوه مجله د(ضياء الخالقين) په نامه په عربي او انگليسی ژبو سره خپره کړه.

۹: په ۱۸۷۵ ميلادي کال کې د (الاهرام) اخبار په مصر کې خپورکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۰: د(مصر) پـه نامـه اووه ورځنـی اخبار د ده يـو شـاګرد پيـل کـړ، چـې د سيداو محمدعبده ليکنې ئې پکښې خپرولې.
۱۱: په ۱۸۷۸ ميلادي کال کې يې د(التجاره) په نامه ورځپاڼه راو ويستله.
۱۲: په ۱۸۷۹ مـيلادي کـال کـي ئـې يـوه جريـده د(مصرالفتاة) پـه نامـه د علامه په امر په خپريد و پيل وکړ.
۱۳: په ۱۸۷۵ ميلادي کال کې علامه دوې نورې جريدې (محروسه اومـرأة الشرق) راويستلې.
۱۴: د افغاني يوشاګرد په ۱۸۷۷ ميلادي کال کې (ابونظاره) پـه نامـه اخبـار خپور کړ چې د سيد افکار يې منعکسول.
۱۵: د علامه مقـالې او ليکنـې پـه ټولـه نـړۍ کـې خپرېـدلې د پـاريس يـوه معتـبره جريـده (ديبـا) کـې د علامـه ليکنـې او د فيلسـوف رينـان او علامـه ترمنځ بحث په بشپړ ډول سره خپور شو.
۱٦: کلــه چـــې ماســـکوته ولاړی د علامـــه ليکنـــې د ماســـکو مشـــهور اخبار(ماسکوګزټ) کې خپرېدلې.
۱۷: کله چې علامه په لندن کـي ؤ هلتـه د ده او د ده د شـاګردانو د جريـدو څخه عـلاوه د ده مقـالې او ليکنـې د لنـدن پـه مشـهور اخبـار(قـانون) کـې خپرېدلې.
شـيخ الاسـلام علامـه افغـاني رحمـة الله عليـه دا نړيـوالې اسـلامي ټـولنې تأسيس کړې:
۱: ده په هندکي دعروه ډله تأسيس کړه.
۲: سيدپه ۱۸۷۹ ميلادي کال کې د (حزب القومی) يو ګوند جوړ کړ چـې دا په مصرکې لومړی سياسي ډله ده.
۳: په مصر کې د (حيـات الـوطنی) ټـولنې بنسـټ کښېښـود، چـې د محفـل وطني په نامه سره ئې شهرت وموندی دې ټولنې په لړو خت کې تأسـيس

(c) ketabton.com: The Digital Library



او کړنې:
د دې ټولنې غړو په يوه مياشت کې (۱۰۰۰۰) تومنه پانگه ټوله کړه، (۵۰۰) لوړ پوړو چارواکو خپل سامانونه وپلورل او بيه يې د دې ټولنې و خيريه څانگې ته ورکړه، دې ټولنې د(۵۰۰) اړوکسانو اړتياوې ئې پوره کړې،(۷۵) بې وزلوکسانو ته ئې د سوداگرۍ پانگه ورکړه، (۱۵۰۰) ناروغان يې تداوي کړل، (۲۰٦) فقيرانو سره اړينې مرستې وشوې، (۲۵۰۰) زنا کارانو، شرابخورو او بې پتوکسانو د دې ټولنې په برکت سره توبه ويستله، په (۴۰) غونډو کې د يهود او نصاراؤ سره مناظرې او بحثونه وشول او هغوی يی د اسلام په حقانيت باندې قانع کړل، (۱۲۰) سوالونه يې له دوی وپوښتل خو دوی (يهودواونصاراؤ) ئې ځوابونه نه درلودل، (۱۲۵) تنو يهودو اونصاراو اسلام قبول کړ،(۱۸۰) کسه داسې کسان وو، چې د انگريزانو سره ئې کارکاوه د هغو د دفترونو څخه راووتل.

۴: په ۱۸۵۷ ميلادی کال کې وحجاز ته ولاړی اوهلته ئې د (ام القری) په نامه سره يوه نړيواله اسلامي ټولنه جوړه کړه ترڅو د نړۍ ټوله مسلمانان تريوه منشور لاندې راولي.

۵: سيدعلامه جمال الدين افغاني رحمة الله عليه يوه نړيواله ټولنه (جمعية العروة الوثقی) جوړه کړه، په دې ټولنه کې د ترکيې، شام، مصر، تونس، الجزاير، مراکش، ايران، هندوستان او ځينې نورو هيوادونو وگړو برخه درلوده، د دې ټولنې مالي مرسته د حيدرآباد، مصر او تونس څخه وه،له دې څخه وروسته يی دعروة الوثقی په نامه جريده هم پيل کړه.

علامه افغاني رحمة الله عليه د اصلاحاتو بنسټ ايښودنکی

سيد علامه جمال الدين افغاني رحمة الله عليه هغه مهال چې په گران هيواد افغانستان کې وزير او مشاورؤ او په دولت کې يې واک درلودی، د دې اصلاحاتو بنسټ يې کښيښود:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱: سـيدعلامه جـمال الـدين افغـانی رحمـة الله عليـه پـه گـران هيـواد افغانستان کې د ژورنـالېزم بنسـټ ايښـودونکی دی، سـيد د اميرشـيرعلی خـان څخـه د اخبـار رايسـتلو اجـازه واخيسـتله او دا لـومړی ځـل ؤ، چـې د (شمس النهار) مجله يې راويستله او هغه ئې په ټوله هيواد کې خپروله.

۲: سيدعلامه جمال الدين افغـاني رحمـة الله عليـه پـه گـران هيـواد کـې د مفـت تعلـيم بنسـټ کښيښـود، د زده کـړې د پرمختيـا لپـاره ئـې دولتـي ښـوونځي پرانسـتل، چـې مخکـې نـه وې او د تعلـيم پـه خپرولـو کـې ئـې ځانگړې پاملرنه وکړه.

۳: د امير دربار او ټول د فترونه يی سم اومنظم کړل.

۴: د افغانستان فوځ ئې پر نوو بنسټونو باندې منظم کړ.

٦: د پوځي (حربي) ښوونځيو بنسټ اوخښته ئې کښيښوده.

۷: د مشرانو او وزيرانو مجلس يې جوړ او تأسيس کړ.

۹: و بهرنيو هيوادونو ته ئې خپل سفيران او استاذي وليږل.

۱۰: د بهرنيو هيوادنو سره ئې د سوداگرۍ بنسټ کښيښود.

۱۱: د نوو اصولو سره سـم ئـې د پوسـت او مواصـلاتي لارې چـارې سـمې کړې.

۱۲: د عامو خلکو لپاره ئې روغتونونه پرانستل.

۱۳: د شيرپور په نامه ئې نوی ښار ودان کړ.

۱۴: د وزيرانو کابينه يې جوړه کړه.

۱۵: منظم فوځ ئې جوړکړ.

۱٦: ملي ژبه ئې پښتو وټاکله .

۱۷: ملکي او عسکري نومونه ئې په پښتوکړل.

۱۸: پر لويولارو ئې مسافرخانې جوړې کړې.

## د علامه علمي ځيرکتيا

(c) ketabton.com: The Digital Library



د علامه د پوهې، زکاوت، حافظې، ذهانت په هکله زښته ډېرو کسانو لیکنې کړي دي، او د هر یوه لیکنه پرخپل ځای ده، دا ځکه علامه د اسلامي امت یوځلانده ستوری ؤ.

۱: کله چې د ازهر و پوهنتون ته ورغی نو د ازهر شاګردانو ورڅخه وغوښتل چې (شرح اظهار) ورته درس کړي.

۲: د مصر نامتو عیسایی د سیدعلامه جمال الدین افغاني سره په بحث کې دومری اغیزمن شو، چې اسلام یې قبول کړ.

۳: په ترکیه کې ترکان د علامه تر داسی اغیزو لاندې راغلل چې ترکانو ورته (سحرالقلوب) وایه.

۴: سید د ترکیې په پوهنتون (دارالفنون) کې استاذ وټاکل شو.

۵ : علامه د ازهر د پوهنتون په نصاب کې د ابوعلی ابن سیناکتابونه ورګډکړل اوپه خپله ئې د دې کتابونوتدریس په غاړه واخیستل.

٦: علامه په ۱۸ کلنی کې ادب، بلاغت، تاریخ، فقه، تفسیر، حدیث، تصوف،منطق، کلام،الهیات،فلسفه، ریاضی، طبعیات، هیئت، طبابت او نورو علومو کې بشپړ معلومات درلودل. د دې علوموڅخه وروسته یې وساینس ته مخه کړه پرهغه باندې هم برلاسی شو.علامه چې به کله په هرفن کې خبرې کولې چا دا ګمان نشوای کولای چې دا فن ده لوستی دی اوکه د دې فن واضع علامه دی.

۷: علامه افغاني وکولای شوای چې د ټولې نړۍ مسلمانان یې سره منظم کړل، او ټول امت اسلامي یې د غربي ښکیلاک او غربي امپرالیزم په خلاف سره متحدکوله، اغیزې ئې د اسلامي هیوادونو څخه نیولې ترټولې نړۍ پورې ورسیدلې، علامه په کفري نړۍ کې داسې خلک اغیزمن کړل، چې د ده د عزت ساتلو په موخه یې ځانونه قرباني کوله. همدا د ده اغیزې دي، چې مصریان ورته په سلام، ترکان ورته احترام، ایرانیان ورته په

(c) ketabton.com: The Digital Library



درنه سترګه ګوري اوایرانی یې بولي حال دا چې علامه افغاني رحمة الله علیه افغان دی.

۸: علامه سیدجمال الدین افغاني رحمة الله علیه په، پښتو، دری، فارسي، عربي، ترکي، اردو، فرانسوي، انګلیسي، روسي اوالماني ژبو سره داسې خبرې کولې، چې چا نه پیژانده چې دا د ده مورنۍ ژبه ده اوکه یې زده کړېده.

۹: د ده د خاطراتو لیکوال محمدباشاه المخزومی د ده په هکله وایی:

که زه ووایم چې خدای جل جلاله له انبیاؤ څخه پرته بل هیچاته دومره قوي ذهن، وسیع عقل، نافذبصیرت ورکړی نه ؤ لکه چې ده ته یې ورکړی ؤ مبالغه به نه وي.

۱۰: فرانسوي ژبه یې په درې میاشتو کې زده کړه.

۱۱: ترکي ژبه ئې په څواونیو کې زده کړه.

## د علامه شهادت او د ژوند اخیري شیبې

د علامه وروستی لیک چې د ناظم الاسلام کرماني په کتاب (تاریخ بیداری ایران) کې یې راوړی دی:

زه دا مهال دا لیک خپل یوه ګران دوست ته په داسې حال کې لیکم چې په بندکې یم او د خپلو دوستانو له لیدو څخه بې برخې یم، نه د ژغورنې په انتظار یم ، نه د ژوند په هیله، نه له نیولو څخه خفه یم او نه له مړینې څخه بیره لرم، زما له نیولو او وژلو څخه مې خوانه ده بده، زما ځان زما د همنوع لپاره بندي دی او زه د ملت د ژوندلپاره وژل کیږم.

علامه په دې لیک کې وایې: چې زه بندي یم، او نظربند نه یم، او بل دا چې وده ته د ده په ژوندکې مرګوني ګواښونه شوې و، علامه رحمة الله علیه په دې پوهیدې چې زه به وژل کیږم، پرده داسې سخت بندیزونه ولیګدل چې هیڅوک هم نشوای ورتللای او د ده ملاقات بندکړل شو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې کسان ورتللای شوای چې نړیوال شهرت به یې درلودی او هغه به هم چارواکو په دې پرېښودل چې وښیي چې علامه صرف څه نظر بند دی او په بندکی نه دی.

د ناصرالدین قاجار د وژلو څخه وروسته سلطان عبدالحمید حواس بایللی وه، پرعلامه یې بندیزونه سخت کړل او علامه د جاسوسانو تر سختې څارنې لاندې ونیول شو، په همدغه بندیخانه کې وعلامه ته په زهرو لړل شوي مسواکان راوړل شول د تحفې په بڼه سره، دا چې علامه د ادنی سنت عملی کوونکی هم ؤ نو ځکه ډیرخوښ شو، علامه د دې مسواکانو د استعمال څخه وروسته د خولې په سرطان اخته شو، د ده معالج ډاکتر جمیل پاشا د هغه شپږ غاښونه وکښل، درې ځلي ئې عملیات وشول، خو ناروغې ئې نوره هم زیاته شوه،علامه د سلطان څخه وغوښتل چې د درملو لپاره و ویانا ته ولاړشم خو سلطان اجازه ورنکړه، او علامه له دې وروسته ډیر تکلیفونه وګالل او اخرلاعلاجه شو او په ۱۸۹۷ میلادی کال کې د مارچ په نهمه علامه افغاني له دې فاني نړۍ سترګې پټې کړې او شهید شو.انالله و انا اله راجعون. د مړینې پر مهال د ده عمر(۵۸) کاله ؤ.

مصطفی عبدالرزاق د علامه د شهادت په هکله وایې:

حسب جمال الدن من عظمة و مجدانه فی تاریخ الشرق الحدیث اول داع الی الحریة واول شهید فی سبیل الحریة

ژباړه: د سیدجمال الدین عظمت، مجد او لویي دپاره داکفایت کوي چې دی د شرق په نوري تاریخ کې د ازادۍ او خپلواکۍ له امله اول بلونکی او دازادۍ په لاره کې اول شهید دی.

ولفرډبلنټ دعلامه سره د ده د بند په وخت کې کتلي وه او د هغه حالت یې لیدلی ؤ هغه په سپینو ټکو کې لیکلي دي، زما زړه ته لویدلی دی چې شیخ جمال الدین افغاني مرګونی ناروغي په زهرو وه، داځکه چې په دربار کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه دښمنان بیخي ډیر وه،او سلطان عبدالحمید ته د هغه شتون کړاو گرځیدلی ؤ، د ولفربلنټ د دې څرگندونو سره ابوسعید العربی او نور د علامه شاگردان او دوستان هم غبړي دي. ترکان بیا د دې څخه ځان ایسته کوي او پړه یې د ایران پرحکومت اچوي.

بسم الله آفندي چې اوس مهال د ترکیې په یوه پوهنتون کې د تاریخ استاذ دی، ما د علامه د شهادت په هکله ورڅخه وپوښتل، ده راته وویل چې د ترکیې رسمي وینا هم هغه ده چې خپره شوې ده،یعنې علامه د خولې د سرطان له کبله مړ شو، ما ورڅخه وپوښتل چې دا سرطان د زهرو له کبله ؤ اویوه توطئیه نه وه؟ راته یې وویل چې زما د څیړنو پایلې همداسې دي، خو که هر دولت د ترکیې د رسمي دریځ پرته بل څه ولیکي کیدای شي ترکیه ورڅخه خفه شي، نو همدا وجه ده چې کوم کتابونه چې په مصر، ایران، افغانستان او نورو هیوادونو کې چاپ شوي دي په هغو کې د شهادت خبره نشته.

## امت مسلمه ته د علامه توصیه

د علامه هره خبره د ژوند د سمون یوه مرغلره وه، تل یې په داسې دینداری ، خواخوږی او د زړه له کوگله خبرې کولې چې تل به د ده خبرو په اوریدونکو باندې به په مستقیم ډول سره اغیزه کوله، مخاطب به یې وځانته متوجه کړ، د هغه په باطني حجرو کې به یې انقلاب راوستی، هغه به ئې د اسلام په حقانیت باندې خبرکړ،که به هغه کومې اندیښنې درلودې نوهغه به یې ورڅخه لیرې کړې، د ده مقالې، لیکنې، توصیې، ویناوې اوخطبات په ټوله نړی کې پاشلي دي، چې ما د ده د وصیتونو څخه یوڅوکرښې رااخیستې دي:

د مځکې د مخ ټول عالمان، خطیبان او د جوماتونو ټول امامان او واعظان دې یوله بله اړیکې پیداکړي او د امت لاس دې په داسې توگه ونیسي لکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې قـران اوحـدیثو دربښـتنولې او د حـق پـرلاره د کلـک درېـدلو لاربښـوونه کړېده.

ای خدای بخښلی امته ! خپل ژوند وژغورئ، خپلې وینې مـه بهـوئ، خپلـه اروامه بې وزلې کوئ،خپله نیکمرغي په هیڅ بیه مه پلورئ، په وسوسو مـه تیروځـئ، پـه ا ندیښـنومه غـولیږئ، د بـاطلو د ښـکلا تـر اغیرولانـدې مـه راځئ، د عقـل سـترګې پرانیـزئ، د وهمونـو پیټـی لیـری کـړئ، او د دینـي اړیکو لمن کلکه ونیسئ دا ترټولو پیاوړی مزی دی چې په هغه کې تـرک لـه عرب سره، ایرانی لـه هندوسـتاني سره او مصری لـه مغـربي سره یوځـای کیږي د اغښتلی مزی دی چې الله تاسـې پـه تـړلي یاسـت ستاسـوعزت، ستاسـې بـرم، ستاسـو واک او ستاسـو سـیاسي سرخنـدوی ده دا مـزی کمزوری ته مه پریږدئ.

هغه سرچینې چې پـه دې لیکنـه کـې پـه مسـتقیم اوغیرمسـتقیم ډول سره ورڅخه کاراخیستل شوی دی:

۱: د افغاني سیدجمال الدین خاطرات، د محمدپاشاالمخزومی تـالیف، ژبـاړه محمدشـاه ارشـاد/ خپرونکـی صـدیقي خپرندویـه ټولنـه ۱۳۹۱ کانسـی روډ کوئټه

۲: آریانا دایرة المعارف، د افغانستان د علومو او اکـاډمی ریاسـت/خپرونکـی: نبراسکا مطبعه کابل- افغانستان۱۳۸٦

۳: سیدجمال الـدین افغـان انـد و ژونـد، تـالیف شاهدحسـین رزاقـی، ژبـاړه عبـدالمالک همـت، ۱۳۸۱ ش کـال/ خپرونکـی: صـحاف نشرـاتي مؤسسـه کانسی روډ کوئټه

۴: تتمـة البیـان فـی تـاریخ الافغـان، د علامـه سـیدجمال الـدین تـالیف، د قاهرې چاپ ۱۹۰۱

۵: مقـالات جمالیـه، ټولـوونکی عبدالغفورشـهباز/ خپرونکـی: رپـن پـریس

(c) ketabton.com: The Digital Library



کلکته ۱۸۸۲
٦: مقالات جمال الدین افغانی، فارسي په اردو ژباړه: مبارزالدین رفعت/ خپرونکی: دارالاشاعة ساسية، حیدرآباددکن ۱۹۳۸
۷: اثارجمال الدین افغانی، قاضی عبدالغفار/خپرونکی: انجمن ترقي أُردو ډهلی ۱۹۴۰
۸: جمال الدین افغانی، سعیدپاراس د استانبول چاپ ۱۹٦۳
۹: الماثروالاثار، محمدحسن خان اعتمادالسلطنت د ایران چاپ
۱۰: گفتارخوش یارقلی، محمد محلاتی/خپرونکی: نجف علویه، ۱۳۴۰
۱۱ : سیدجمال الدین افغانی، مرتضی مدرسی چهاردیهی د تبریزچاپ ۱۳۲۸
۱۲: تاریخ بیداری، ناظم الاسلام کرمانی د تهران چاپ
۱۳: کتاب الدرر، ادیب اسحاق د قاهرې چاپ
۱۴: اشهرمشاهیرالشرق، امیرشکیب ارسلان، د قاهرې چاپ
۱۵: عروة الوثقی جریده، پاریس
۱٦: مشاهیرالشرق، جرجی زیدان
۱۷: ردعلی الدهیریین سریزه، محمدعبده، د قاهرې چاپ ۱۹۲۵
۱۸: مفاخرالاجیال، ابراهیم مصطفی الوکیلی.
۱۹: تاریخ حرکت قومی، عبدالرحمن رافعی.
۲۰: د شرق نابغه سیدجمال الدین افغاني، دکتورسعیدافغانی، ۱۳۵۵ شمسی کال/ خپرونکی: بیهقی کتاب خپرولو مؤسسه. کابل- افغانستان
۲۱: خطبات فقیر، پیرذوالفقاراحمدنقشبندی /خپرونکی: مکتبة الفقیرفیصل آباد

په پاکه اسلامي مینه

په درنښت

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبدالغفارجُبیر

یکشنبه، ۱۷ اگست، ۲۰۱۴

# یو نړۍ رغاند افغان

## لیکوال: هجرت الله اختیار

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نړۍ هر ننني پرمختګ پرونی فکر دی، نړیوال چې نن کوم فکر وزېږوي، سبا یې ځان عمل ته رسوي. اوسنۍ نړۍ او نړیوال چې د ګلوبلاېزېشن یا نړیوالتوب پر لور چټک ګامونه اخلي، د خپلو پرونیو مفکرینو پر پلونو روان دي. فکرونه له ستونزو او ټکرونو رازېږي، له نن څخه څو پېړۍ دمخه د نړۍ اوسېدونکي نه یوازې دا چې په خپلو کې سره څۀ نه کېدل، بلکې په خپلو وطنونو کې پر سیمو او ځېلونو وېشل شوي او پردي وو. د اروپا او د ځینو اسیایي هېوادونو په تاریخونو کې لولو چې اوسېدونکي یې د شاهانو رعیت وو او شاهان یې په مقابل کې (غیر مسوول واجب الاحترام) وو.

د تاریخ له لوستنې جوتېږي چې نړیوال په اوولسمه پېړۍ کې د لومړي ځل لپاره د (ملت) له مفهوم سره اشنا شول، هغه مهال چې اروپایي شاهان او رعیت یې په خپلو منځونو کې له دېرش کلنې مذهبي جګړې څخه ستړي شول، نو د جرمني په مونستېر او اوزنابروګ ښارونو کې یې پر ١٦٤٨ز کال د (ویستفالیا) تړونونه په خپلو کې لاسلیک کړل. دا تړونونه د سیمه ییزو شاهانو د واکمنۍ د پای ته رسېدنې پیلامه وه او په واسطه یې اروپایي قومونه د (ملت کېدنې) په لور روان شول.

اوولسمه پېړۍ لړه او اتلسمه، نولسمه او شلمه پېړۍ ډېره د نشنلېزم یا ملتپالنې شاهدې وې. نړیوال په دې پېړیو کې په خپلو کې د ملي ګټو او ملت په نومونو یو له بل سره په ټکرونو کې ول او یو له بله یې نفرت درلود، د ملي ګټو پاللو او غوښتنو اروپایي استعماري ځواکونه لکه هسپانیه، انګلستان او فرانسه تر اسیایي، افریقایي او امریکایي هېوادونو پورې ورسول. شلمه پېړۍ د دوو خونړیو نړیوالو جګړو شاهده وه او همدارنګه د هټلر او موسیولیني له تعصب او کرکې ډکې واکمنۍ یې ولیدې. د شلمې پېړۍ تر نږدې نیمایي پورې نړۍ او نړیوالو د بشر حقوق او نړیوال وحدت

(c) ketabton.com: The Digital Library



په نوم ډېر څه نه پېژندل؛ تر شلمې پېړۍ دمخه ټولو لویدیځو پوهانو د خپلو ملتونو (د هېواد په داخل کې) په اړه فکر کړی دی او د څرګندونو اصلي محور یې خپل خپل ملتونه وو. ډېر کم داسې پوهان او مفکرین به پیدا کړو چې له خپلو ملي قلمرونو څخه بېرون انسانان یې هم خپل ګڼلي وي او انسانان یې د انساني وحدت په لور رهنمایي کړي وي.

افغان نړۍ رغاند مفکر سید جمال الدین هم په نړۍ کې د نشنلېزم د اوج او څپو پر مهال (۱۸۳۹زکال) نړۍ ته سترګې پرانیستې، په کونړ کې رالوی شو، په کابل کې یې زده کړې وکړې؛ خو فکر یې د نړیوالې آزادۍ او فلاح لپاره الوت کاوه. هغه د کونړ په اسعدا اباد او د افغانستان په کابل کې تم نه شو، هغه لوی افغان هېواد د ځان لپاره کوچنۍ ګاڼه، له پولو او سرحدونو واوښت او د نړۍ پر ماښام لکه د افق سور ټال راخپور شو. د سید نړیوال او څو بعدي شخصیت له امله هغه په نننۍ نړۍ کې د یوه اختلافي شخصیت په نامه پېژندل شوی، څوک یې ایرانی بولي او څوک افغانی، ځینې خو یې ترکی هم بولي. څوک ورته سني وایي او څوک شیعه، ځینې یې پر الحاد هم شکمن دي. د افغان سید د شخصیت او هویت په اړه د دومره ډېرو نظریاتو شتون او اختلافات د دې دعوې تر ټولو غوره دلیل کېدای شي چې هغه په یو قوم، یوې سیمې، یو هېواد او حتا یو مذهب پورې منحصر شخصیت نه و، د هغه فکر په داسې مهال کې نړیوال و چې د نورې دونیا مفکرینو نړۍ نه پېژنده او فکرونه یې تر خپلو خلکو او قلمرونو محدود وو. د هغه فکر هغه مهال د انسانیت و چې د نورې نړۍ مفکرینو یوازې خپل ځان او خپل خلک پېژندل او د نړۍ د نورو انسانانو په اړه فکر کولو ته یې وخت نه درلود. افغان سید هغه مهال د اسلامي هېوادونو تر منځ د پولو د ړنګولو فکر درلود چې اروپا د جهالت او مخالفت په تیارو کې مازې ساه اخیسته او د اروپایي وحدت او د پولو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



رنګېدو فکر خيال خوب و محال معلومېده.

علامه سيد جمال الدين افغان پر داسې مهال ژوند او مبارزه درلودله چې ختيځ هېوادونه د لويديزو هېوادونو تر استعمار لاندې ول، هغه باندې چې په خپل هېواد کې ځمکه سره تنور شوه، نو له هېواده بېرون د نورو اسلامي هېوادونو پر سفر ووت، په هر هېواد کې به يې د ختيځو هېوادونو د اوسېدونکو د آزادۍ لپاره خپله مبارزه جاري ساتله. هغه ويلي دي: ((له لويديز ښکېلاک څخه د ختيزو هېوادونو خپلواکي ګټل په ټولنه کې د ظلم، استبداد او فساد پر له منځه وړلو او د ټولنې د هوساينې او پرمختګ لپاره پر ښوونې او روزنې ټينګار کولو شونې کېږي))، خو له بده مرغه چې له هغه مهاله تر دې دمه، چې نږدې دوه پېړۍ تېرېږي، د افغان سيد د خاورې اوسېدونکي په مسلسله توګه د خپلې خپلواکۍ لټون پر نورو لارو کوي، دوی د دې پر ځای چې د لويديځوالو (په ځانګړې توګه استعماري هېوادونو) جغ له خپلو اوږو څخه پورته کړي، د خپلو ورونو، کليوالو او وطنوالو په وژنې، د خپلمنځي دښمنۍ، د خپل وطن د ورانۍ او په خپل وطن کې د علم او معارف د ډېوو د خاموشه کولو له لارې د نورو معاصر او نوي استعمار ته زمينه سازي کوي.

اتلسمه او نولسمه پېړۍ پر ختيځ د انګرېزي استعمار راج چلېده، انګرېز د ختيځ پر ولسونو د خپلو لاسپوڅو د واکمنۍ ملاتړ کاوه او په دې ډول يې په ولسونو کې د نوښت، پاڅون او پرمختګ حس واژه، په ختيځ کې افغان سيد لومړنی عالم او مفکر و چې د دغسې فردي حکومتونو سرسخت مخالف و.هغه د اوسنۍ ولسواکۍ له بنسټ ايښودنې څخه ډېر پخوا د خلکو پر ارادې د رامنځته شوي حکومت نظريه وړاندې کړې ده او په اسلامي هېوادونو کې يې د ولس پر ارادې رامنځته کېدونکی حکومت پر دې مشروطوه چې خپلې چارې بايد له اسلامي شريعت سره سمې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترسره کړي. هغه حکومتونه پر دوو ډولونو وېشل: ( ۱) ديني حکومتونه او ( ۲) ناديني حکومتونه
ديني حکومتونه هماغه دي چې د خلکو له خوا د اسلامي شريعت په چوکاټ کې د يوه قانون او شورا په لرلو سره خپلې چارې تنظيموي او د خلکو ګډون او مرسته په کې حتمي وي، قانون په کې حاکميت ولري او خلک په کې د بيان او وينا آزادي ولري. د افغان سيد دغه عالي فکر او هڅې وې چې د محمد اعظم خان د واکمنۍ پر مهال (له ۱۸٦۷څخه تر ۱۸٦۸کاله پورې) يوه شورا جوړه کړه، چې غړي به يې د هېواد له عالمانو څخه ټاکل کېدل. دې شورا به حکومت ته په داخلي او بهرنيو چارو کې مشورې ورکولې او د خلکو سترې ګټې به يې په پام کې نيولې.
ناديني حکومتونه هغه دي چې د خلکو له ګډون څخه پرته رامنځته شوي وي او يو کس يا يوه کورنۍ د خلکو د خوښې پر خلاف پر خلکو واکمني کوي. هغه د دې ډول مونارشي واکمنيو سرسخت مخالف و، هغه مهال (۱۸۸۹زکال) چې په ايران کې و؛ نو ايرانيانو ته به يې ويل: ((د خپلو پاچايانو په مقابل کې قيام وکړئ او هغوی له واکه وغورځوئ، چې په ايران کې يو قانوني حکومت رامنځته شي.)) يو لويديځوال مفکر ايډورډ جي براون د افغان سيد د شخصيت په اړه ويلي دي: ((دا خبره مبالغه نه ده او بېخي درسته ده چې هغه ټولواکان وېرول او له تخت و تاجه يې بې برخې کول او د لويديځ د سياسي چارواکو په ډېر غور او فکر جوړو شويو پلانونو د شنډېدو لپاره هغه ځواکونه وينښول چې دی له هغو څخه د کار اخيستنې پر لارو چارو ښه پوهېده؛ خو د هغوی پر وړاندې د ختيځ و لويديځ چارواکي پېره ول.افغان سيد هغو ملتونو ته په ښه سترګه نه کتل چې د استعمار جغ ته يې غاړه اېښې وي او د پاځون و آزادۍ متره په کې نه وي، هغه به ويل: ((زه له هغه چا څخه ډېره کرکه لرم چې هغه استعمار

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته غاړه ږدي او استعمار پر ځان مني ځکه چې دوی د استعمار منې قوي کوي او استعمار ته ځای ورکوي.))

علامه سيد هغه مهال په سياسي حاکميت کې د خلکو د ارادې د دخالت لپاره خپل غږ پورته کړی دی چې پر ختيځ د استعمار تر جغ لاندې ظالم پادشاهيت حاکم و، پادشاهانو خلک خپل رعيت ګڼل او د خلکو هيڅ ډول حقوقو ته قايل نه ول. علامه سيد پر خپلې دې نظريې د اصلي ولسواکۍ (نه د اوسنۍ هغې په څېر تش په نوم ولسواکۍ) باني او بنسټګر ګڼل کېدای شي. هغه د اسلام د دې ارشاد مطابق چې ((د ظالم واکمن په مخ کې د حق خبره کول، افضل جهاد دی)) د بيان د آزادۍ سرسخت غوښتونکی و، ځکه چې د بيان او اظهار له آزادۍ پرته د حق خبره نه شي کېدای. که اوسنۍ پرمختللې نړۍ د بيان آزادي په ۱۹٤۸ز کال کې د بشري حقونو په اعلاميه کې درج او پيدا کړه؛ نو افغان سيد ترې نږدې سل کاله دمخه دا مفکوره درلوده.

په نړۍ کې د سېکولريزم يا له دين جدا سياست نظريه د لومړي ځل لپاره د جرمني په سپېڅلې امپراتورۍ کې له دېرش کلنو جګړو وروسته رامنځته شوه، لامل يې دا و چې پر اروپايي ټولنې هغه مهال حاکم عيسويت دين له خپل اصلي مسير څخه کوږ روان و، د دين مبلغينو او د کليسا پاسدارانو د خلکو په شخصي ژوند کې د دين په نوم مداخلې کولې، پر خلکو يې د پيسو په مقابل کې د جنت او بښلو تصديقپاڼې پلورلې، له خپلو پليونو يې د کليسا د لګښتونو او خدايي حق په نوم درانده ماليات اخيستل او ... د دې تر څنګ دين يا کليسا د خلکو د سياسي برخليک ټاکنې حق هم ځان ته ورکړی و، واکمن (شاه) به چې د کليسا تاييد تر لاسه کړ، که هر څومره ظالم به هم و، مشروعيت يې تر سوال لاندې نه شو راتلای. هماغه و چې خلکو له خپلو دونيوي چارو څخه د دين د ايستلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوښتنه پیل کړه. د لویدیځوالو دغه نظریه د لویدیځ له استعمار سره سم شرقي اسلامي هېوادونو ته هم راورسېده چې دین باید د انسانانو په دونیوي چارو کې مداخله ونه کړي؛ خو افغان سید دا روښانه کړه چې زموږ دین په عین حال کې سیاست هم دی او دین هم؛ ځکه اسلام هماغه څه غواړي د څه شي لپاره چې سیاست تعریفېږي. افغان سید له دې لارې غوښتل خپل دیني مبلغین او دیني پاسداران هم پوه کړي چې د دین اصلي مخ باید له خلکو پټ نه کړئ، د دین موخه د انسانانو وژل نه دي، د دین موخه وروسته پاتېوالی نه دی، د دین موخه له نورو انسانانو سره د علایقو او اړیکو قطع نه ده او که څوک د اسلام مبارک دین داسې تفسیروي چې باید پلیوني یې په یو ګوښه کې خوار، وروسته پاتې او بې علمه ژوند ولري؛ نو دا د دین اصلي مخ نه دی.علامه سید د دین او سیاست د اړیکې په اړه ویلي دي: ((که د سیاست موخه د انسانانو د ژوندانه ښه والی، سمون، پرمختګ او د خلکو ترمنځ د ښو اړیکو رامنځته کول وي؛ نو دا او دې ته ورته د نورو ټولو مسایلو حل، لارښوونه او پرې د عمل ټینګار د اسلام په مبارک دین کې شته دي؛ نو په دې لحاظ اسلام او سیاست له یو بل څخه جدا نه دي. دین او سیاست په حقیقت کې د یوې ونې دوه ښاخونه دي، لکه څرنګه چې انساني ټولنه دین ته اړتیا لري، سیاست ته هم اړتیا لري))89.

کله چې علامه سید پر کال ۱۸۵۷ز د حج فریضې ادا کولو په پار مکې مکرمې ته لاړ او هلته یې د حج په مراسمو کې د نړۍ د مسلمانانو عملي وحدت ولید؛ نو د پان اسلامېزم مفکوره ورسره پیدا شوه. سید د همدې ارمان په پار لیکل وکړل، ویناوې یې وکړې، خلک یې راټول کړل، د وخت د چارواکیو دربارونو ته ورغی او خپل غږ یې تر هر چا او هر ځایه ورسوه.

---

[۸۹]: د سیاسي افکارو او نظریاتو تاریخ، ل: شبر علم امله وال له ۱۳٤ نه تر ۱٤۲ مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سید په هندوستان، مصر، ایران، ترکیې، روسیې، لندن او پاریس کې خپل ارمان ته ژمن پاتې شو. سید د اسلامي وحدت یا پان اسلامېزم مفکوره داسې مهال رامنځته کړه او د عملي کولو لپاره یې مبارزه او هلې ځلې کولې چې لویدیځ د وحدت په نوم څه نه پېژندل؛ بلکې په خپلو منځونو کې یې د استعماري سیمو شدید رقابت درلود. سید چې کله په لویدیځ کې علمي او پرمختیایي خوځښتونه لیدل؛ نو د اسلامي نړۍ راتلونکی ورته خراب ښکارېده او په خپل ژور نظر یې د خلاصون یوازینۍ لاره اسلامي خلافت یا اسلامي وحدت کې ومونده. هغه پوهېده چې د مونارشۍ په مقابل کې د خلکو پاڅون د استعمار د ملا ماتول دي او د بېلابېلو مسلمانو ولسونو وحدت د لویدیځ په مقابل کې د یو تلپاتې قوي عقیدوي، سیاسي او اقتصادي بلاک د جوړولو په مانا دي؛ خو له بده مرغه چې د هغه مهال واکمنو د خپلو ځاني او درباري غوښتنو له امله د دغه ستر مفکر غږ ته لبیک ونه وایه او اسلامي هېوادونه کال په کال د انحطاط او زوال پر لور روان و.

سید په خپل ټول له مبارزې ډکه ژوند کې د مسلمانانو نه یووالي ته ځورېده او په دې اړه یې لیکنې او څرګندونې کړي دي، د هغه په اند له هغې ورځې چې مسلمانانو د نورو په مرسته د خپلو مملکتونو چارې پر مخ بیایي او په خپلو کې د رقابت له امله د یو بل پر کمزورۍ او زوال خوښېږي. هغه به ویل چې مسلمانانو په دې رویې خپلولو سره خپل دین ته شا کړې ده او د دین صریحه احکام او نصوص نه عملي کوي. هغه به ویل: ((بلوچستانیان په افغانستان کې د انګرېزانو ناخوالې او نادودې ګوري؛ خو ځان پرې نه خبروي او نه یې مقابلې ته ور ولاړېږي. همدارنګه افغانان ګوري چې انګرېزان په ایران ورننوځي او غږ ورته نه کوي. دا دواړه بیا ګوري چې انګرېزان په هند کې څه ظلمونه او تعدی کوي، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلکو مالونه لوټي، تېرى پرې کوي او دوى ځانونه نه ښوروي. انګرېزان د مصر په خاوره کې ځي راځي، خلک وژني او لوټوي يې، وينو سېلابونه بهوي او د دغو وينو د مجاريو پر غاړه پراته ورونه يې خيال پرې نه راوړي. هو! د مسلمانانو چارې په همدې توګه روانې دي او عاقبت يې هم ډېر وران دى.))

که د دغه ستر عالم او مفکر انسان د افکارو او نظرياتو په هکله هر څومره ډېرې خبرې وکړو، امکان لري. دغه د نړيوال فکر درلودونکى افغان په نړۍ کې ستر ستر شخصيتونه د خپلو شاګردانو په توګه پرېښي دي، د هغه شاګردانو پرې پنډ پنډ کتابونه ليکلي دي؛ نو په دوو يا درېوو مخونو کې به د داسې يو لوى شخصيت او د هغه د نظرياتو په هکله معلومات راټولول له سيند؛ بلکې بحر څخه د يو څاڅکي د رااخيستلو سره هم معادل نه وي.

اروښاد استاد ګل پاچا الفت دغه متبحر عالم ډېر ښه پېژندلى دى، غواړم په پاى کې د هغه يو څو بيتونه درته مخې ته کېږدم، هغه وايي:

ډېر پوهان ورته سر ټيټ په شاګردۍ کړي
ډېر شاهان يې په تعظيم مخې ته ورشي
سرګردان وي په جهان هغه مړونه
چې د ټول عالم غمونه يې په سر شي
سر يې مه بوله بل نوم ورلره بويه
چې پيدا په کې لوى فکر لکه غر شي.

پاى

د ۱۳۹۳ل کال د دلوې نهمه
لغمان، الفت کلى، خپل کور

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې ليکنه کې د لاندې کتابونو له لوستنې ګټه شوې ده.

۱) تاريخ ديپلوماسی و روابط بين الملل. ل: دکتر احمد نقيب زاده. اتم چاپ ۱۳۸۸ل.
۲) سيد جمال الدين افغاني، ستر شخصيت او سپک تورونه. ل: زاهد جلالي، ۱۳۹۳ل.
۳) د افغاني سيد جمال الدين خاطرات. ل: محمد باشا المخزومي. ژ: محمد شاه ارشاد، ۱۳۹۱ل.
٤) د سيد جمال الدين افغان ژوند او سياسي هڅې. ل: محمد ابوريه. ژ: عمران فضل، ۱۳۹۱ل.
٥) حق (مجله) خلورمه ګڼه، د پوهنيار سيد اکرم هاشمي مقاله. ۱۳۹۲ل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سيد جمال الدين افغاني؛ د اسلامي نړيوال نهضت بنسټ ایښودونکی

لیکوال: محمد زمان مزمل

(c) ketabton.com: The Digital Library



که څه هم اسلامي نهضت په مصر کې د اخوان المسلمون او په هند کې د استاد مودودی د منظم او تربيوی فعاليتونو په مثبته تجربه کې وزيږيد ولی بيا هم دغه منظمې هڅې پخپل ځای د هغو وياړلو هڅو امتداد دی، چې سيد په نړۍ کې، محمود الحسن او اقبال په هند کې، سنوسي په سوډان کې د ملتونو د آزادۍ او استعمار د شړلو په اړه په يو زهره چاودی تاريخ کې سر ته رسولی وو.

په همدې حساب داسې چې استعمار او استکبار خپله نړيواله سلسله لري داسې مذهبي بيداري او د ملتونو نه د دفاع فکر او عمل هم نړيواله سلسله لري چې هاغه نړيواله سلسله هم پارونکي وه او بيدارونکي او هم د يوې رينبتونې آزادۍ تامينونکی.

هغه مهال چې د پرنګي استعمار بنياد په آسياء په تېره په هند کې د تجارتي سياليو نه استعماري سياليو ته پورته شو او پرنګي استعمار په سيمه کې خپل اروپايي حريفان(پرتګاليان، هالنډيان، فرانسويان)يو د بل پسې اول په تجارتي ميدان کې او بيا په استعماري هلو ځلو کې شنډې ته کړل او ناکام کړل ايله د سيمې ملتونو د يوه استعماري حضور ترخه لمس کړل.

که څه هم په هندوستان کې ځايي اميرانو او بيا په افغانستان کې يو لړ اميرانو سره د دغسو راغليو متجاوزينو څيره او عواقب لوڅ شول ولی سيمه په مجموع کې هومره بی وسی او بې پلانه وه چې په هره کيدونکي جګړه کې دا شرقي بې رهبره ملتونه و چې د يو قدم په ځای څو قدمه شاته تلل.

پرنګی استعمار په هند کې د تسلط او مغولي حکومت د نسکورولو وروسته د افغانستان په پولو ودريدلی ولی هغه مهال چې د افغانستان پولو ته پرنګيان ورسيدل هغه مهال په افغانستان کې د احمد شاه ابدالي قوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



امپراتورۍ د هغه د لمسيانو په داخل اخ و ډب کې لتاړه وه او پسې جوخت پکې بل اخ و ډب رامنځته شو چې د پوپلزو د مسلط قوم نه اقتدار پکې د محمدزو قوم ته انتقال شو.

هغه مهال چې زمان شاه خپلې وروستې هلې ځلې د نيکه مخ په تجزيه روانې امپراتورۍ د وحدت په اړه په اخلاص روانې کړې وی هغه مهال د يوې خوا د هغه سره د سلطنت په سيالۍ کې کيوتې وروڼه د ور ظرفيت له سويې ډير ټيټ و او د بلې خوا هغوی د همدې کم ظرفۍ او بيا د ايران د مداخلو ښکار شول چې پای شازمان پکې اسير او ړوند شو ولی د هغه سکه ورور شاشجاع د خپل ورور په غچ کې په هند کې د هغه پرنگي د نخشې او پروگرام وسيله شو چې دې غرني هيواد ته يې د ننوتلو هيله ډيره پخوانی وه.

د شاشجاع ستراتيژيک تړون او د پرنگيانو حمايو ته لار جوړونې، د دې هيواد د ټولو هغو سياسي ښويدنو عامل شو چې پای د گندمک او د ديورند په تړونونو کې يې دا هيواد نيم په نيم پرنگې ښکيلاکگرو ته وروسپاره.

کله چې ملت د سردارانو سياسي مانورو پر ذلت ودراوه نور ملت پخپله طريقه وغوښتل چې افغانستان خپل سيمه ايز رول ته راوگرځوي.

د پرنگيانو په وړاندې ملي مقاومت شاشجاع او پرنگې لښکرې پر ماته ودرولی ولی د امير دوست محمد خان د محمدزيو شاشجاع په داسې يو نازک فرصت کې پرنگيانو ته دمه ورکړه چې د افغانستان په تعقيب په ټول هند کې د هغوی پر ضد د غضب څپه پاريدلې وه.

په دغسې شرائطو کې امير شير علي خان دا د محمدزيو شازمان په يوه نوې جذبه د ملت د استقلال توغ ته لاس اوږد کړ ولې د دې بيچاره امير په پښو کې هومره متره نه وه چې يو ځل پخپل ژوند د غوڅ دريځ ترځنگ د يو غوڅ اقدام نه توان پيدا کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دغه نيمه خواخوږي امير په دروان کې دوه ډېر مهم او ملي شخصيتونه خدای افغانستان ته ورکړل چې يو سيد جمال الدين افغان او بل يې سيد نور محمد شاه خان و.

دواړه د امير د باور وړ و ولی شرائط هومره تنګ او تياره و چې پای سيد جمال الدين پکې د هغې پراخې سياسي مبارزې توغ پورته کړ چې په ټوله اسلامي نړۍ کې د هغه غږ او حماسي ويناوې په حقيقت کې د استعمار پر ضد د امت لومړی غږ و.

دا چې دا غږ د يوه افغاني له خوا او په يوه پراخه سلسله کې پيل شو دا د هغه راغليو سياسي، او نظامي مبارزو سر و چې په يو پړاو کې پکې انګليس ماته وخوړله او په بل پړاو کې پکې شوروي اتحاد دړې وړې شو.

دلته مونږ د يوه ژور تفصيل نه په دې خاطر تير شو چې د سيد د مبارزو او شخصيت په هکله هومره ليکل شوی چې هغه د دې امت د تاريخ يوه برخه ده ولی دلته مونږ دومره وايو چې افغانستان يو دغسې هيواد دی چې تر لوی هندوستان يې خپله آزادي مخته اخستې ده او افغانستان هغه هيواد دی چې د شوروي په کام کې لويدلو رياستونه تاجکستان، ازبکستان او بلا نور استانونه يې د شهيدانو د وينو له طفيله مستقل جمهوريتونه خوري او په دې اړه د دې مبارزو او سرښندنو موسس پلار هغه سيد جمال الدين دی چې تر وروستی سلګۍ پورې يې نارامه اروا ارام ونه موند.

د سيد په دې سياسي ډګره کې د هغه شاګردان د هغه په ميراث کښناستل لکه رشيد رضاء، محمد عبده، عبدالقادر د الجزائر، او بلا نور ولی کوم موج چې د اسلامي نړۍ د ټوټه کيدو په اړه استعمار پارولی و هغه تر پايه قدم په قدم دامت د ماتو په ويرجن مسير کې روان و ترڅو پای په ۱۹۲۰ کال عثماني خلافت سقوط وکړ او په ميراثه غربي

(c) ketabton.com: The Digital Library



استعماري دولتونو قبضه وکړه.

د سید جمال الدین دوران اصلاً د نظامي استعمار دوران و او په دې اړه د هغه وارث نهضت په هند او افریقا دواړو کې د سید نیمګړی پروسه تعقیبه کړه چې په سودان، الجزائر، لیبیا، او هند کې قدم په قدم تعقیب شوه ولې د خلافت په سقوط په اسلامي نړۍ کې پرنګي اروپا د فرهنګي یا فکري استعمار دوران پیل کړ چې دا تر هغه ړومبی ډیر خطرناک او د ډیری هوښیارۍ غوښتونکی و.

فکري استعمار پر هغو ډلو، کورنیو، او رجالو باندی روان او ولاړ و چې استعمار د ظاهري قدرت په ورکولو دغه تول د مسلمانانو د بې لارۍ او تجزیو په جهت کې استخدام کړل.

## یو بشپړ کونکی تسلسل:

شلمې پیړۍ د سر کلونه د اسلامي نړۍ په هکله ډیر خطرناک او مسیر بدلونکی و.

د یوې خوا د آزادۍ په خوا روان هند پکې هماغسې غلام پاتې وو او انګلستان پکې هومره حضور درلود چې له نژدې یې د عربي سیمې تحولات د خپل ځان په ګټه څارل او د بلې خوا او په ډیر نژدې تاریخ کې عثماني خلافت پر سقوط ودرید او عربي سیمه او ملکونه ټول د اروپایي فاتحینو ترمنځ تقسیم شول.

پاتې ایران، افغانستان او محدوده ترکیه د داسې حکمرانانو په قدرت کې پاتې وه چې هغوی خپله په دې سیمو کې هومره چې د غرب د تهذیب لپاره مصروف و د هغه په نیمه هم د غربي علومو او علمي پرمختګ لپاره مصروف نه و.

له دې مخې اسلامي نړۍ یا مخامخ د استعماري دولتونو د نظامي تسلط

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاندې وه یا هم د داسې حکمرانانو د تسلط لاندې وه چې عملاً د اسلام پر ضد د خپلو اروپایي بادارانو په خوښه پروګرامونه عملي کول لکه اتاتورک، رضاشاه او تر یوه حده امیر امان الله خان.

په دغسې یو نازک او حساس پړاو کې د امت مخکښ رجال یو د بل په تعقیب په دې لویه سمسوره کې راپورته شول او د امت د بیدارۍ اتحاد او مبارزې لپاره یې هلې ځلې وکړې او د سید جمال الدین د ټیم ځای یې ډک کړ.

په دې رابطه حسن البناء لومړی مصري مسلمان و، چې د خلافت د تشې او د یوه نړیوال اسلامي بلاک لپاره یې په مصر کې په مسلمانانو غږ وکړ.

که څه هم هغه مهال د مصر د الازهر او د هند دیوبند ژوندي مراجع درلودل لکه مولانا محمودالحسن او امام ابو زهره په مصر کې چې دې ټولو د امت په بیدارۍ کې خپل مثبت کردار اداء کړ ولی هغه کردار چې په مصر کې حسن البناء، او په هند کې مولانا ابو الاعلی مودودی او علامه اقبال اداء کړ هغه پخپل وخت وکولای شول چې د امت د یو طرفه سقوط نه مخنیوی وکړي، وروسته او د یوه دمه شوي پړاو په منځکې له دې کاروان سره درې تازه نفسه ټیمونه د اربکان، خمیني او افغاني مشرانو په شمول ورګډ شول چې د سیمې اوضاع کې هر چا خپله ونډه واخستله او امت یې له هغه وژغوره چې ورته پټیل شوې وه.

اسلامي نړۍ د شلمې پیړۍ په اوله نیمایي کې د دعوت او اسلام ته د بللو په اړه هغه لوی او له ځوره ډک پړاو تیر کړ چې په نتیجه کې یې هند آزاد او د عربي سیمې ډیر هیوادونه مستقل شول ولې په دویمه نیمایي کې د تحریک یا اسلامي نهضت د پیل او دعوت کار په هغه ټکرونو ودرید چې په مصر، هندونیزیا، ایران، افغانستان کې هغه تحولات رامنځته کړل چې یو د بل په تعقیب کله د برې او کله هم د سقوط زمینې برابرې کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دويم نړيوال جنګ وروسته چې اروپا پـه دوو بلاکونـو غـربي سرمايـه دار بلاک او شرقي کمونست بلاک وويشل شوه اسلامي نـړۍ لـه دې تقسـيم او له دې اخ و ډبه ډيره اغيزمنه شوه.

عـربي سـيمه عمـلاً پـه دوو جهتونـو تقسـيم شـوه، د نـاصر پـه مشرۍ د شوروي پلـوی ګـروپ د سـعودي عربسـتان پـه مشرۍ د غـرب او امريکـا پلوی ګروپ چـې د دې اخ و ډب لـه مخـې د يـوې خـوا د فلسطين قضـيه پخپل وخت حل پيدا نکړه او د بلې خوا په تقسيم شـوي يمـن کـې د دواړو لوريو حدود وټاکل شول.

همداسـې زمـونږ پـه سـيمه کـې ايـران، ترکيـه، پاکسـتان، عمـلاً د زاړه انګلستان پروګرام د امريکا د پلويو حکومتونو ځای ډک کړ، کابل، ډهـلي د نژدې ملګرو په توګه پـه سـيمه کـې د مسکو د ملګـري پـه خـط کـې روان دولتونه و.

که څه هم په دې سيمه کې د هنـد او پاکسـتان تـرمنځ دوه جګـړې پيښـې شوې ولې هغه مهال کابل ونـه غوښـتل چـې پـه دې جګـړو کـې د هنـد پـه پلوۍ داسې قدم واخلي چې د افغانستان په تاريخ کې مثال نلري ولـې بيـا هم کابل د مسکو د نفوذ د حوزې پورې مربوط هيواد ګڼل کيده.

اسلامي نړۍ چې د دوو بلاکونو د اخ و ډب تر ټولو تود ميدان و پـه دې اخ و ډب کې هم د يوې خوا اسلامی نهضتونه راوټوکيدل او د بلې خـوا هغـه د همدې دوو بلاکونو له خوا په پوره بې رحمۍ وځپل شول.

افغانستان چې د يوې خوا د مسکو د نفـوذ د سـيمې هيـواد او د بلـې خـوا د شوروی د ګاونډ نژدی هيواد و، هلته حکومت او قوی سياسي ډلـې ټـولې د مسکو تر فرمان لاندې وې.

هغه مهال چـې اسـلامي نهضـت پکـې د اسـلام خـبره راپورتـه کـړه هغـه د شوروي او د هغو د پلويانو د زغم نه پورته شوې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا چې په افغانستان کې یو کلیوال تهذیب مسلط و، اسلامي تحریک له هماغه پیله د پرګنو د تود استقبال سره مخامخ شو ولې شوروي او غلامو کړیو په تیره د سردار داود خان په جمهوریت کې د دې تحریک د ځپلو هوډ وکړ او د دې تحریک دوه برخې مشران یې زندانونو ته وغورځول ولې زندان ته د تحریک د مشرانو غورځولو په دې هیواد کې د خپل افغاني تهذیب له مخې دواړه لوري په یو عملي ټکر ودرول چې پای د ۱۳۵۴ کال د سرطان په میاشت کې اسلامي نهضت پر لسو ځایونو برید وکړ او په دې برید کې د یوې خوا سردار وپوهید چې د جمهوریت مؤسس سردار هومره چې دی فکر کوی په ملت کې د غوښ محبوبیت نه برخمن نه دی او د بلې خوا یې د خپلو کمونستو شریکانو سره په سؤ تفاهم کې ولوید.

که څه هم اسلامي تحریک په افغانستان کې د خپل فکري پړاو په اړه مناسب فرصت پیدا نکړ ولې په عمومي توګه دغه تحریک د سید قطب له شخصیت او خپله د اقبال د فیلسوفانه درک او تصویر نه ډیر اغیزمن تحریک و.

ډیری فکر کوي چې سید جمال الدین افغان یو وچ او له عقیدې شکیدلی مبارز و، په داسې حال کې چې هغه ستره هستي د یوه داسې تیاره دوران په تل کې راپورته شو چې پاتې پرګنې پکې نه د پورته کیدو په هنر پوهیدلې او نه هم د یوه راپورته شوي انسان په څنګ کې د دریدو په هنر.

څومره چې انسان د سید په خبرو، خطابو، منډو او لالهانده ژوند کې دقیق شي هومره به د دې شاته د هغو ښویدلو بیچاره او بې پناه ولسونو بیچاره اوضاع ښه درک کړي چې هغه مهال پکې د جمال پرته بل نه و.

د هغه خبرې او لیکنې هومره جامع او پارونکي وې چې انسان پوهیده چې سید خبره د څومره بیچاره او د کرختو ضمیرونو د خاوندانو سره روانه وه.

له دې ځایه چې هغه په اسلامي نړۍ کې د جناب مودودی صاحب د وینا

(c) ketabton.com: The Digital Library



مطابق لګيدلی اور ليده نو د هغه مونډی، خبرې، او هر څه فوق العاده وی او د نورو ناستو کسانو د وضعيت نه جلا او تدبير نه نا اشنا وی.

د همدې ځايه چې پرګنو د هغه د جذباتو سره سم تعامل نه شو کولای او يا يې شرائط برابر نه و.

هغه کله چې د استعمار د نوکرانو له خوا او کله د همدغه اسيرو پرګنو د سوړ دريغ له مخې زړه تنګی کيده او د يوه هيواد نه بل او د بل نه بل ته روان و ان چې پای پر هغه بی شيمې ازهر کې ميلمه شو چې د دين نه بيګانه استادانو پکې په ازهر ملنډې وهلې.

د هغه حضور په مصر کې د علماو په منځ کې هغه اخ و ډب رامنځته کړ چې پای پکې مصر د هغه اخوان المسلمون د تحريک کوربه هيواد شو چې يو مهال يې شوروی او امريکا دواړه نيم په نيم د هغه اسلام او اسلامي امت ژوندی مقابلی ته ودرول چې تر نن پورې د مقابلې پر کرښه ولاړ دی.

سيد جمال الدين افغاني د استعمار د اصلي موخو په اړه هغه تر ټولو لومړی درس و چې امت ته يې په وخت او په مطلوبه هوښيارتيا او مطلوبه جذبه ور په برخه کړه

په دې اړه سيد هميشه د يوه مهذب انسانيت په نمائنده ګی خبره کوله ولې هغه پکې د هغه اسلام نه نمائنده ګي کوله چې د انسانيت لپاره ژغورنده تهذيب لري.

سيد د خپلو شرائطو محصول و او د بلې مرحلې په اوضاع او شرائطو کې نن‌وتي کسان ډير کم کولای شي د هغه په هکله د هغه د حق او امتياز وړ مناسب قضاوت وکړي.

ډيری او بيا په عربي سيمه کې د سيد د مبارزو او د هغه د شخصيت په اړه داسې ملاحظې لري چې کيدای شي بې مطالعې او بی معلوماته کسان د سيد په اړه په يو متفاوته انګيرنه ودروي ولې ستر جمال الدين د يوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې تیاره دوران په تل کې هغه څه پیل کړل چې د پیل ټول افتخار یې د هغه او د هغه د متدین ملت په سجل کې محفوظ دی.

هغه مهال چې سید جمال الدین په افغانستان کې د استعمار پر ضد د مبارزې غږ پورته کړ او بیا یې دغه غږ د دې امت په تقسیم شوي کور کې د هر چا تر کوره ورساوه هغه مهال او تر هغه مخکې بل دغسې مسلمان شخصیت امت نه پیژني او نه هم په بل ملت کې د هغه معادل څوک پیژني.

هغه چې د پرنګیانو سره یې د مقابلې فکر انتخاب کړی، هغه چې په هر هیواد کې دی بیا هم د سید د افکارو نه مخامخ یا هم بالواسطه متاثر دی، څه هغوی د سید په عصر کې و یا هم د هغه پسې په جوخت عصر کې یا هم په وروستیو مرحلو کې دغه ټول په یو ډول د هغه د افکارو او مبارزو په تسلسل واقع دی.

سره له دې چې پاتو سترو رجالو هر چا پخپل وخت ډیر څه وکړل ولې په دې تسلسل کې ټول یو د بل د کار او کردار سره داسې تړلی دی چې هر وروستی قدم پکې د مخکنې قدم بشپړونکی دی او هر ړومبی قدم پکې د وروستی تمهید دی او په دې لړ کې د سید ژوند او مبارزه هغه بنسټیزه پیل دی چې د هر چا یې ډیر څه د همدې پیل پورې تړلي دي.

مونږ چې نن پخپله نړۍ کې ورسره مخامخ یو او د خپلې بقا پاتې جګړه راپاتې ده، دغه جګړه او پکې بریاوی او ماتې ټول د دغه راغلي لړۍ غوټه شوی مقدر دی چې ټول پکې هم شریک دی او هم الګو.

دلته زمونږ د دغو رجالو په منځکې یو قوی مشترک ارزښت دی چې هغوی پکې که څه هم د یوه خاص هیواد پورې مربوط دی ولی د فکر او عمل په میدان کې د هغوی کردار او لارښونې د ټول امت لباره دی؛ ځکه چې هغوی د یوه امت د بیدارۍ، آزادی، وحدت او دفاع خبره په مخکې درلودله

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ټول په دې کې سره شریک و.

د دغو رجالو په لیکنو، او کتابونو کې به ځوک لکه مولوی فضل الرحمان په شان داسې څه پیدا نکړي چې جهاد په افغانستان کې فرض او په پاکستان کې حرام دی او نه به د بل مشر په شان داسې څه پیدا کړي چې مونږ د دې او هغه نهضت سره توپیر لرو او یا دغه او هغه زمونږ نه کوچني او یا وروسته دی!

د همدې ځایه مونږ غواړو هغه تفاوتونه هم پکې رالوځ کړو چې د وخت او ماحول مسائلو رامنځته کړی او دغو رجالو ته یې خپلې خپلې ځانګړتیاوې ورکړې دي.

د سید امت شموله ویناوې، لیکنې، او تر پولو پورې لالهانده سفرونه ښیي چې سید جمال الدین په دې لړۍ کې پاتو نسلونو ته څو مهم درسونه ورکړي دي.

## اول د واحد امت درس:

د سید خبرې، نصیحتونه، ویناوې، دا ټول ښیي چې د هغه سره د وحدانیت خبره اساسي وه او په هر هیواد کې یې ځان د هغه هیواد د اوسیدونکیو له جملې نه ګاڼه او هیچرې هغه د یوه میلمه یا مسافر په شان خبره نده کړې څه هغه پکې په قاهره کې و یا استانبول یا هم دمشق او بغداد کې.

## دویم پیغام:

سید جمال الدین افغاني په داسې شرائطو کې افغانستان پریښود چې د وخت امیر د هغه طرحو او افکارو ته محتاج و ولی کیدای شي هغه غوښتي وی چې د هغه پیغام د امت په سطحه خپور شي او هغه تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



**افغانستان بهر هغه پاتې هیوادونه چې لا یې سقوط نه دی کړی لکه ایران، عثماني خلافت هغه له سقوط نه وژغوري.**

**د وخت حکمرانانو سید ته موقع ورنکړه چې هغه پکې د هغو راغلیو سقوطونو د مخنیوي لپاره خپل تدبیر او افکار په مسالمت امیزه فضاء کې وړاندې کړی.**

**بلکې خپله پرنګیان به دې غلط فهمیو کې دخیل و او پرنګي استعمار غلام حکمرانان د هغه پر ضد راپارول په داسې حال کې چې د سید سره د دغو پاتو دولتونو د بقاء او استحکام خبره وه.**

**وروستیو تحولاتو وښودله چې د سید د اټکل مطابق د وخت ټولی نظامونه یو د بل پسې چپه شول ولی د هغه پر وخت مشوری داسې کسانو ونه منلی چې اصلاً د هغوی سره د امت د راتلونکی په اړه یوه ابتدایي اندیښنه هم نه وه.**

## دریم پیغام:

**سید د امت مشترک او تر ټولو خطرناک دښمن تشخیص کړی و او په دې اړه هغه هومره لیوال و چې که په امت کې یو قابل ملاحظه اکثریت د دغه دښمن مقابلې ته تیار کړی.**

**هغه خپله د خپل امت خطرناک دښمن پیژندلی و او هڅه یې کوله چې نور هم د هغه سره په دې کې شریک شي.**

**دا چې نن مونږ په لنډو نه شو کولای له دغه راغلي دښمن نه ځان او هیواد داسې په آسانۍ وژغورو، لوی علت یې همدا دی چې امت د سید په ژوند کې نه پر هغه تدبیر عمل وکړ او نه پر هغه وحدت راټول شول چې سید یې د هر چا په کور تکرار ودرید.**

**امت داسې د دښمنانو په منځکې تقسیم شو چې بیا یې په یوه خبره راټول**

(c) ketabton.com: The Digital Library



نکړی داسې به دښمنان هغوی پخپلو کې جنګوی بلکې نن خو هغه یو ملت هم پخپلو کې تقسیم شوی نیم د نیم نور سره په جګړه کې واقع دی، لکه افغانستان.

## ځلورم پیغام:

## د مبارزې پیل کونکي

سید جمال الدین د استعمار سره توده مبارزه پیل کړه او خپله مبارزه د قدرت د مراجعو او درباروونو نه پیل کړه؛ ځکه هغه مهال لا د امت ظاهري اسکیلیت پر ځای و، تړوله اسلامي نړۍ په دغه ډول سقوط نه و کړی.
که څه هم ځنې په دې اړه پر سید نیوکه کوی چې هغه محمد عبده په شان ولی د یوه اوږد منزله او تربیتي مبازې نه پیل ونکړ؟ ولی هغه مهال امت د یوه ستر خطر او سقوط سره مخامخ کیدونکی و او سید پوهیده، د همدې ځایه د هغه سره دا نامراده هیله وه چې که د خلافت دولت د یوه سیاسي قدرت مند دولت په توګه ژوندی پاتې شي او هغه به په یوه نوښتګر حضور د پرنګیانو د راتلونکی تجاوزونو مخنیوی وکړي.
هغه مهال هند او مصر داسې څوک او داسې ستې درلودی چې د سید په اندیښنو له زړه پوهیدل. د همدې ځایه مصر قدم په قدم پر هغه ولاړ چې پای یوه قوی مصر د پرنګي مثلث ته ماتې ورکړه او که د شوروي غدر نه وای کیدای شول چې مصر عربي نړۍ په یوه محور راټوله کړی وه.
همداسې هند هم د سید جمال الدین د خبرو او لارښونو نه ډیر متاثر و او که د یعقوب خان بې همتي او د امیر عبدالرحمان معامله ګریو د هند مقاومت کړی نامراده کړی نه وای کیدای شول چې هند د خلافت دولت د سقوط نه مخکې خپله آزادي اخستی وای او په هند کې د پرنګي ماتې خلافت له سقوط نه ژغورلی وای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه مهال چې سید یو خورا جذبه دلته هلته، مونډی، هلې ځلې کولی په دې نیت چې امت په تهذیبي لحاظ یو امت و، په ملت کې نشنلستي احزاب او مفکورې نه وی مطرح، هر مسلمان د نړۍ په هر اسلامي دولت کې هومره بیگانه او پردي نه و لکه نن چې مونږ ته خپل نژدی گاونډیان تر پرنگیانو زیات بیگانه ښکاري.

# سید جمال الدین افغان یو الگو شخصیت

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نواب خوښ

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوموړي خپل ژوند د ګران هېواد په کونړ ولایت کې پیل کړ، د پلار تر څارنې لاندې یې خپلې سنتي لومړنۍ زده کړې ترسره کړې. کابل ته په راتګ سره یې د ژوند نوی پړاو پیل شو، پوهه یې مخ په زیاتېدو شوه او د خورا زیات نبوغ له امله د خپل خودي علم له ګاڼې څخه برخمن شو. په خپلې شاوخوا کې له نورو څخه ډېر تکړه او په پوهه ډېر بسیا و. له همدې مخې یې د مشرانو او لویانو د مجلس وړتیا ترلاسه کړه. د ژوند په اوږدو کې د وخت د شاه ترڅنګه ورسېد، له هغه سره یې په ګڼو مواردو کې د مشاور په توګه مرسته وکړه. نوموړی ورو ورو د خپلې پوهې او ځیرکۍ له مخې د نومیالیتوب اوج ته ورسېد. هره کره خبره د هغه له خولې راوتله، هر چېرته د مسئلې حل هغه وړاندیز کوه. د ټولنې د سمون او رغون تانده فکره یې ډېره نوې وه، هېڅکله یې د سنتي او عرفي ژوند په لمن کې د نویتابه سوچ نه دی پایمال شوی، تل یې د نوې حل لارې او نوې کړنلارې نبوغ درلود، په پوهه کې د حکمت او بلاغت نامتو و. د خلکو د ژوند هر اړخ یې تر سترګو لاندې و، هر وخت یې په سمښت کې رغنده نظر وړاندې کوه. دا چې د هغه مهال ټولنیز ژوند د شاهي درنښت یرغمل و، نو هغه هم د شاهانو له ناستې او ملګرتیا څخه بې برخې پاتې نه شو. شاه ته یې په خپلو کوټلو او جامع نظریاتو سره بلا لارښوونې او سمونې په ګوته کړې. خپل دریځ یې په هر حالت کې جوت څرګنداوه، له هېچا سره یې د دوښمنۍ لار نه خپلوله، هر چاته یې د دوستۍ لارښوونه په خوله وه .

که څه هم د هغه ټول فکر د سمون او رغون په لور و، خو سره له دې د ډېرو د سترګو ازغی و او د ځینو د خواشینی سبب و. په همدې ترڅ کې د ځینو د لمسون له مخې د شاه له ګاونډ څخه ګوښه شو او د دې پرځای چې د هغه له افکارو او نظریاتو څخه د هېواد او ټولنې د پرمختیا په برخه کې ګټه واخیستل شي، د هغه د دغو کوششونو او سمون غوښتنو مخه ونیول

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوه. پایله کې هغه له هېواد څخه وتلو ته اړ شو .

نوموړی د خپل نبوغ او پوهې له مخې هر چېرته د درناوي وړ و. د نړۍ د نورو هېوادونو لوري ته یې مخه کړه. په ګڼو هېوادونو وګرځېد، هر هېواد کې یې خپل درنښت او مقام وموند، په زیاترو هېوادونو او ټولنو کې یې د خپلو افکارو او نظریو زړي وکرل، هر چېرته د حاسدانو تر یرغل لاندې و. له همدې مخې په ټوله نړۍ کې د ارام ژوند خاوند نه شو. هر چېرته یې د ژوند ستونزو لمن نیولې وه. مصر کې یې د خپل فکر زده کوونکي وروزل، ایران یې په خپل فکر روڼ اندی کړ، ترکیه یې د اسلامي امت په ضعف اګاه کړه او د اروپا ګڼ هېوادونه یې د خپل بصیرت په رڼا روښانه کړه. اسلامي امت یې له هېښېدو څخه د وېښېدو په لور وهڅول، مسلمانان یې د ارادې او هوډ په نشتون تنبیه کړل، ټوله نړۍ یې له خپلو افکارو څخه ګټندویه کړه. هر چېرته یې خپل کار او زیار ترسره کړ. هېچېرې له خپل مسؤلیت څخه بې پروا نه شو. څو یې د ژوند برخه تمامه شوه.

## نړۍ وال حیثیت

سیدجمال الدین افغان د خپل نوي او ژوندي فکر له مخې د نړۍ د هر هېواد وګړی و. هر هېواد د خپلو پرمختګونو لپاره د داسې یوچا اړتیا محسوسوله، چې ورته کره او پرځای لارښوونې وکړي. هېڅ هېواد داسې شخص پردی نه ګاڼه، هر هېواد ورته ځای ورکاوه. د هغه فکر د ټولې نړۍ د وېښتابه شیپلۍ وه. د هغه د نویتابه سوچونه د وخت د ټولنې لپاره ډېر نوي وو. هغه د پوهې زېور له هر زېوره غوره ګاڼه. د هغه فکر د هر ولس او هرې ټولنې لپاره مسیحا و. د هغه مهال له کړاو او ربړ څخه د خلاصون ناره یوازې د هغه له خولې راوته. هر چېرته یې د ټولنې په نویتابه لاس پورې کړی و. یوازې د خپل کور ایډیال او نومیال شخصیت نه و، د هر هېواد په داخل کې د هماغه هېواد لپاره ایډیال ګرځېده .

(c) ketabton.com: The Digital Library



افکار يې نه يوازې د هماغه وخت درمان؛ بلکې د ابد لپاره درمان وو. د هر ملت اړتياوې يې درک او د لاسته راوړلو لارې چارې او نسخې يې په مغز کې وې. هېوادونه د هغه په درښښت په دې پوهېدل، چې هغه له هېڅا څخه خپله غوره فکره نه سپموله، له ټولو سره مخلص او ټولې نړۍ ته صادق و.

د هر هېواد لپاره يې افکار د رنسانس زېږنده وو. هره ټولنه د هغه د افکارو له مخې د ويښتابه معراج ته ورسېده. د خپلو افکارو په مرسته يې هر چېرته مفکرين وروزل. محمد عبده او نور داسې د فکر خاوندان يې نړۍ ته وپېژندل. سيد جمال الدين افغان سره له دې چې په هغه وخت کې د هر چا لپاره نمونه وه، خو د اوس لپاره د دغې وروسته پاتې ټولنې او د کمزورې اسلامي امت د احيا لپاره هغه غوره الگو ده، چې د هغه د ژوند له محتوا څخه د هر چا لپاره خورا ډېر درسونه تاريخ ثبت کړي دي .

د دې لپاره چې ټولنه په خپله د خپل جوړښت او سمښت رغانده شي، نو لازمه ده، چې ځوانان او په کسان يوازې او يوازې همدا خپل الگو شخصيت وګڼي. څو له دې لارې د خپلې ټولنې د وروسته پاتې والي او د نالوستۍ له منځه وړونکي وګرځي او خپله ټولنه د پرمختگ عروج ته ورسوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ختيځ او ختيځوالو د حال هر اړخيز دراک علامه سيد جمال الدين افغان

## شهزاده شيرين زوی

زموږ د عقلونو د ويده توب، د اندونو او خيالونو د کمزورتيا او په سترګو د پرتو پردو کوم درک او تشخيص چې علامه سيد جمال الدين افغان (۱۳۲) کاله وړاندې کړی، اوس هم موږ په هماغو ناروغيو اخته يو... زموږ سترګې اوس هم هغه ذلت نهويني، چې موږ يې خوار کړي يو... که زمونږ د ځوانانو دغه حال وي، نو دا هيواد خدايزده، که هيواد شي... علامه سيد جمال الدين افغان زموږ د وچې فتح خانۍ په هکله څه ويلي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



د علامه سيد جمال الدين افغان د افكارو، اقوالو، ژوند او شخصيت پـه اړه هر اړخيزه څېړنه له خپل تـوان څخـه پورتـه چـاره بـولم او دغـه كـار پـه يـو كتاب يا يوه مقاله كې شونى هم نه دى، خو دا چې د يوسف په پېرېـدونكو كې حساب شم، نو لومړى د نومـوړي د ځينـو اوصـافو يادونـه اړينـه بـولم، ځكه موږ بـه چـې كلـه د پېښـور پـه (افغـان ادبي بهـير)، (افغـان فرهنگـي ټولنه) او (افغان ادبي ټولنه) كې د كـوم ادبي او فرهنگـي شخصـيت تلـين غونډه يا ياد غونډه جوړوله، نو ځينې ملگري به پـه دې نظـر ول، چـې مـړو ته بايد دعا وشي او ژوندي بايد وستايل شي.

زه هم له هغوى سره تر يو څه وختـه همنظـره وم، ځكـه چـې مـوږ د ټـولنې خير د ژونديو په تشويق او هغوى ته په ډاډ وركولو كې ليده، فكر مـو كـاوه كه ژوندي تشويق او وستايل شي، نـو ښـايي هغـوى نـور هـم خپلـو مثبتـو كړنو ته پاملرنه زياته كړي او مړو ته خو تر ستاينې دعا ځكه غوره ده، چـې ښايي هغوى ورته اړتيـا ولـري، پـه هـر حـال د څـو غونـډو تـر تـرسره كولـو وروسته پوه شوم، چې دغه هدف (ښېگڼو ته د خلكو د پام راړولـو هـدف) په همدې توگه هم تر لاسه كېداى شي. بيا به چې ملگرو كله هم مـړو تـه د دعا او ژونديو ته د ناز وركولو خبره كوله، نو ما به ورته ويـل:((ديـدن مـې ستا بهانې مې نورې))

په پاى كې ملگـري وپوهېـدل، چـې د سـتاينې لـومړى موخـه دا وي چـې د ښېگڼو د څښتنانو ښېگڼې بيان شي، ځكه چـې دا د هغـوى د ښـېگڼو حـق دى او بله دا چې نور دغه ستاينې وگوري، وا يې وري او و يې لولي، چې له هغوى سره هم د ښـېگڼو او ښـو كـارونو د تـرسره كولـو فكـر او مينـه پيـدا شي.

اوس موږ په همدې موخه لومړى د سـيد جـمال الـدين افغـان د اوصـافو او ښېگڼو يادونه كوو، وروسته د هغه د يوې مقالې، چـې (١٣٢) كالـه وړانـدې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیکل شوې، ځینې برخې راڅېړو او له خپل حال (اوس یا نن) سره یې پرتله کوو. موږ د سید په مذهبي او ملتي اړخ بحث نه کوو، په دې هکله د هغه یوازې دغه درې ویناوې رانقلوو او په همدو بسنه کوو.

۱- د مذهب او طریقې په هکله سید د یو عالم د دې پوښتنې په ځواب کې، چې:((ته د کومې طریقې پیروي کوې؟)) ویلي: ((تر ما بل غټ د طریقت خاوند څوک دی، چې زه یې پیروي وکړم.))[۱]

۲- د دې پوښتنې په ځواب کې چې: ((ته د چا په مذهب یې)) علامه سید ویلي: ((په ځینو چارو کې د یو امام پیروي کوم او په ځینو کې د بل، او په څلور واړو کې چې د هر یوه رایه راته ډېره ښه ښکاره شوه په هغې عمل کوم))[۲]

۳- د سید په افغانیتوب کې که څه هم د شک ځای نشته، خو بیا هم د هغه د ایرانیتوب او افغانیتوب په هکله د هغه دغه وینا بسنه کوي، چې ویلي یې دي((هیچ احتیاج به این ندارم که خود رابه یک ملتې نسبت دهم))[3]

د سید جمال الدین پُرجماله اوصاف او ښېګڼې:

د علامه سید جمال الدین په هکله، چې ما کوم معلومات تر لاسه کړي هغه دا دي، چې نوموړی د یو داسې شخصیت څښتن و، چې د خپلو خلکو خو څه چې ان د نورو ولسونو د اخلاقو سمون، د هغوی نېکمرغي او هوساینه یې ستره موخه او ارمان و.

---

[۱] لېوال: رزاقي شاهد حسین / ژباړن: همت عبدالمالک / آثر: د سیدجمال الدین افغاني اند او ژوند، ۲٦ مخ، د چاپ کال ۱۳۸۸ل، مستقبل خپرندویه ټولنه، کابل، افغانستان.

[۲] لېوال: رزاقي شاهد حسین / ژباړن: همت عبدالمالک / آثر: د سیدجمال الدین افغاني اند او ژوند، ۲٦ مخ، د چاپ کال ۱۳۸۸ل، مستقبل خپرندویه ټولنه، کابل، افغانستان.

[۳] لېوال: رزاقي شاهد حسین / ژباړن: همت عبدالمالک / آثر: د سیدجمال الدین افغاني اند او ژوند، ۳٦ مخ، د چاپ کال ۱۳۸۸ل، مستقبل خپرندویه ټولنه، کابل، افغانستان.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه هڅه کوله چې بدې چارې او کړنې په داسې توګه په ګوته کړي، چې عام وګړي يې له زيانونـه خونـدي شي او تـر سره کـوونکي يـې لـه تـرسره کولو متنفر او لاس په سر شي.

هغه د ښو اخلاقو د ګټو څرګندونه په داسې ژبه کوله، چې عـام خلـک هـم ترې ګټه واخيسـتلای شي او خـاص هـم ورڅـنې بـې برخـې نـه شي او بـد خويونه او د هغو تاوانونه يې په داسې توګه څرګنـدول، چـې عـام او خـاص وګړي ترې په پوره پيمانه خوابدي او زړه توري کړي.

هغه وګړو ته د علـم او پـوهې ګټـې او د بـې علمـۍ او نـاپوهۍ تاوانونـه پـه داسې توګه بيانول، چې د هر چا زړه ته دا خبره ولوېږي، چې نېکمرغـي لـه علم او پوهې څخه پرته هېڅکله هـم تـر لاسـه کېـدلای نـه شي او تـر بـې علمۍ او ناپوهۍ بله پورته بده بلا نه شته او انسان تـه، چـې هـره سـتونزه پېښېږي يا هر تاوان چې ور رسېږي، د خپلې بې علمۍ او ناپوهۍ لـه املـه يې ور رسېږي.

هغـه د انسـاني ښـېګڼو سـتاينه کولـه او د بـدايانو او شـتمنو پـام يـې د ښوونځيو، مدرسو، روغتونونو او نورو جوړولو ته ور اړاوه. وګړي يې د علـم او پوهې زده کړې او د هنرونو کسبولو ته هڅول.

هغه واکمنو ته د عدالت بلنه ورکوله او د عـدل ښـېګڼې يـې ورتـه پـه ګوتـه کولې. د پرګنو استازيتوب يې کاوه او د هغـوی ګيلـې او شـکايتونه يـې تـر چاروکو رسول. د پېښو څېړنه يې کوله او د اړوندو مسـوولينو پـام يـې ورتـه وراړاوه، څو د هغو مخه ونيسي او خلک يې له ضررونو خوندي کړي.

هغه د اسلام او مسلمانانو په هکله د پرديو د ناوړو نظريو ځـواب پـه داسـې دلايلو ورکاوه، چې تر تېرې تـورې بـه يـې اغيـز کـم نـه و، او هغـه د ولـس پاشلي غړي يووالي او وحدت تـه هڅـول او د هغـوی دوسـتان او دښـمنان يې ورته په ګوته کول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه د شر او فساد له ځایونو څنې د دې لپاره پرده پورته کوله چې خلک ترې خپل ځانونه په څنګ کړي او هغه به چې په هر څه او هر ځای کې ګټه لیدله نو د خلکو پام به یې وراړاوه.

لنډه دا چې علامه سید جمال الدین افغان د ښېګڼو او نېکیو یو ستر جهان و، زړه سواند او متواضع ښوونکی و، رښتینی ناصح او خواخوږی و، ښه ادیب او روڼ اندی و، د نظر د خاوندانو د سترګو رڼا، د سیاستوالو غوره لارښود او د ټولو وګړو یو بشپړ درمل ګر و.

زه د خپلو پورتنیو دعواوو د پخلي لپاره دوه درې بېلګې راوړم، هیله ده په غور یې ولولئ.

## لومړۍ بېلګه:

د علامه سید یو ډېر نږدې ملګری، شاګرد او د هغه یو باوري ژوند پېښې لیکونکی مفتي محمد عبده لیکي: ((سید جمال الدین افغاني د ده په افکارو، عقیدو او نظریو کې یو اوښتون (انقلاب) راوست او د هغه د زړه او لید نړۍ یې روښانه کړه. دی د سید جمال الدین تر لیدو د مخه داسې و لکه سترګې یې چې ړندې، غوږونه کاڼه او ژبه ګونګۍ وي))[4]

له پورتنۍ بېلګې څرګنده شوه، چې سید افغان د افکارو، عقیدو او نظریو د اوښتون لپاره د لارې روښانه مشال و، د ړندو سترګو بینایي، د کڼو غوږونه د اورېدو حس او د ګونګې ژبې ګویایې و.

---

[4] لېوال: رزاقي شاهد حسین / ژباړن: همت عبدالمالک / آثر: د سیدجمال الدین افغاني اند او ژوند، ۷۱ مخ، د چاپ کال ۱۳۸۸ل، مستقبل خپرندویه ټولنه، کابل، افغانستان.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دوهمه بېلګه:

د علامه سید یو بل ورځپاڼه لیکونکی ملګری او شاګرد ادیب اسحاق لیکي: ((زه چې په څه پوهېږم هغه ټول مې له سید جمال الدین افغاني څخه زده کړي دي))[5]

یعنې چې علامه سید جمال الدین یو ښه ښوونکی، ربښتینی ناصح، ښه ادیب او روڼ اندی و.

## درېیمه بېلګه:

اوس د علامه سید جمال الدین د هغې وینا یوه برخه لولو، چې په اسکندریه کې یې اورولې وه:

((ای بې وزلو او خوارو بزګرانو! تاسې د ځمکې ټټرونه څیرئ او غلې دانې ځنې راباسئ، خو د ظالمانو ټټرونه څله نه څیرئ او آزادي ولې ځنې نه اخلئ او د هغو وګړو لاسونه ولې نه ورماتوئ، چې ستاسې د زیار میوې ستاسې څخه اخلي.... ای مصریانو تاسې یو ستر ولس یاست، تاسې د پرتمین تاریخ څښتنان یاست، خو اوس له پېړیو، پېړیو راهیسې د خپل سرۍ په ژرنده کې اوړه کېږئ او ټول ظلمونه په پټه خوله زغمئ. له خپلو حقوقو به تر څو بې خبره یاست. د غفلت له خوبه راویښ شئ. د ظلم او زور په وړاندې راپاڅېږئ، یا د انسانانو په څېر ژوند وکړئ یا د شهیدانو غوندې تر ځانونو تېر شئ))[6]

---

[5] لېوال: رزاقي شاهد حسین / ژباړن: همت عبدالمالک / آثر: د سیدجمال الدین افغاني اند او ژوند، ۷۲ مخ، د چاپ کال ۱۳۸۸ل، مستقبل خپرندویه ټولنه، کابل، افغانستان.

[6] لېوال: رزاقي شاهد حسین / ژباړن: همت عبدالمالک / آثر: د سیدجمال الدین افغاني اند او ژوند، ۸٦ مخ، د چاپ کال ۱۳۸۸ل، مستقبل خپرندویه ټولنه، کابل، افغانستان. په حواله د (نیکي آرکیډي "السیدجمال الدین افغاني"۱۰۱ او ۱۰۲ مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پورتنۍ وینا د علامه سید د ښې رهبرۍ، د ظلم و زور په وړاندې د خلکو راپاڅونې د هڅونې، خلکو ته له خپلو حقوقو د دفاع کولو د جرئت ورکولو او مظلومانو سره د ژورې خواخوږۍ ښه رڼه بېلگه ده او د هغه د ښه نیت او ښې ارادې کچه ترې ښه څرگندېدای شي.

اوس راځوو د سید افغان د هغې مقالې ځینو برخو ته چې له نن څخه (۱۳۲) کاله وړاندې لیکلې شوې، خو زموږ له اوسني حال سره دومره ورته او برابره ده لکه زموږ نن ته چې په کتلو لیکل شوې وي.

## ختیځ او ختیځوال[7]

د علامه سید جمال الدین افغان دغه مقاله چې سرلیک یې دی "الشرق و الشرقین" (ختیځ او ختیځوال) په "ابو نظاره" جریده کې د ۱۸۸۳ م کال د فبرورۍ، په ۲۹ مه گڼه کې خپره شوې. "ابو نظاره" په پاریس کې د علامه سید جمال الدین افغان د یو نږدې ملگري له خوا خپرېده. له دغې مقالې څخه دا څرگندېږي، چې علامه سید د ختیځو ولسونو له حالاتو څخه ژور معلومات درلودل، که څه هم دغه مقاله د ختیځوالو په (۱۳۲) کاله وړاندې حالاتو لیکل شوې، خو زموږ له اوسنیو حالاتو سره دومره برابره ده، چې په لوستو یې سړی فکر کوي، چې یا دغه مقاله زموږ د نن په اړه لیکل شوې او یا موږ اوس هم هماغه د (۱۳۲) کالو وړاندې زمانه کې ژوند کوو. سید د خپلې مقالې په یوه برخه کې لیکي:

---

[7] لېوال: رزاقي شاهد حسین/ ژباړن: همت عبدالمالک / آثر: د سیدجمال الدین افغاني اند او ژوند، ۱۱۱ تر ۱۱۸ مخونو، د چاپ کال ۱۳۸۸ل، مستقبل خپرندویه ټولنه، کابل، افغانستان.په حواله د (آثارجمال الدین افغاني،۹٤ تر ۱۰۵مخونو پورې).

(c) ketabton.com: The Digital Library



(( ... د ختیځ لـه برمـه څخـه د ټیټتیـا پـه کنـدو کـې د لوېـدلو، د هغـه پـر اوسېدونکو باندې د لوږې او بې وزلـۍ د واکمنـۍ، پـه ټیټتیـا او خـوارۍ د اختـه کېـدو او د پردیـو ولسـونو تـر لاس لانـدې د راتلـو سـبب دا دی چـې ختیځیانو د خپلو عقلونو لـه رڼـا څخـه مخ اړولی. لـه هغـه څخـه یـې ګټـه اخیستل پرې ایښې او خپل اخلاق یې خراب کړې دي...))

اوس د یوې شېبې لپاره سر په ګرېوان کوو او ګورو، چې زمـوږ لـه برمـه د لوېدلو، پر موږ د لوږې او بې وزلۍ د واکمنۍ او د نورو تر لاس لاندې زموږ د راتلو سبب رښتیا هم زموږ د اخلاقو خرابېدل او لـه خپلـو عقلونـو څخـه د مخ اړول دي او که کوم بل لامل هم لري؟

حضرت عبدالرحمن بابا فرمایلي:

څه اثر به یې د عقل وي په سرکې
د هغو په سر چې کښېني ښاپېرۍ

یا:

خدای د عقل جواهر ورته بخښلي
له نادانو به څه شان کا دانا طمع

د بابا د پورتنیو بیتونو په استدلال ویلی شو، چې د چا په سر کې عقـل وي یا څوک چې له عقل څنې کار اخلي د هغه پـه سر د بخـت ښـاپېرۍ کېنـي، شان او شوکت یې په برخه کېږي، له لـوږې او بـې وزلـۍ ژغـورل کېـږي او نېکمرغۍ یې په نصیب کېږي او هغه ته چې الله جل جلاله د عقـل جـواهر وربښلي وي، هغه دانـا وي، نـه لـه چـا طمـع کـوي او نـه د پردیـو تـر لاس لاندې راځي، خو موږ چې داسـې نـه یـو، نـو څرګنـده خـبره ده، چـې سـید رښتیا ویلي، اخلاق مو خراب شوي او عقل خو یا بېخي نـه لـرو او یـا تـرې کار نه اخلو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سید د خپلې مقالې په یوه بله برخه کې لیکي:((...(ختیځوال) د ګټې په تر لاسه کولو کې له تاوان رسولو څخه لاس نه نیسي...))

فکر وکړئ! ختیځوال همدا اوس هم همدغه کار نه کوي؟

لومړی د خپلو ځانونو په هکله فکر کوو. ایا موږ خپلې ملي شتمنۍ له خپلو شخصي ګټو نه قربانوو؟

ایا موږ د خپلو ورونو په تاوان کې خپلې ګټې نه لټوو؟

ایا موږ خپلو بنسټونو ته د څو پیسو لپاره تاوان نه اړوو؟

ایا زموږ په ادارو کې فساد زموږ د شخصي ګټو لپاره نه دی؟

ایا موږ د خپلو شخصي ګټو لپاره خپل خلک په وینو کې نه لمبوو او پردی جګړه پر مخ نه بیایوو؟

بې شکه څنګه چې موږ (۱۳۲) کاله وړاندې خپل خیر د نورو په شر کې لټوه اوس یې هم لټوو. دغه متل زموږ د ذهنیت ښه استازیتوب کوي، چې وایي: ((خدایه داسې شر راپېښ کړې، چې زما په کې خیر وي))

علامه رحمة الله علیه لیکي: ((... د دوی پر عقلونو باندې خوب زور کړی. اندونه او خیالونه یې د خپل حال احوال له سمون څخه بې وسه شوي دي. سترګې یې هغه ټیټتیاوې نهویني، چې دوی یې خوار کړي دي. دوی په خپلو پښو ځانونه له منځه تللو ته نژدې کوي او د ټیټتیاوو په کندو کې لوېږي...))

ګورئ زموږ د عقلونو د ویده توب، د اندونو او خیالونو د کمزورتیا او په سترګو د پرتو پردو کوم درک او تشخیص چې علامه سید جمال الدین افغان هغه وخت کړی و، اوس هم موږ په هماغو ناروغیو اخته یوو، بلکې تر هغو هم زموږ رنځونه ډېر شوي دي، خو کم شوي نه دي. که لږ فکر وکړو، نو دغه هر څه په ښه توګه لیدلی شو. زموږ په عقلونو د خوب زور خو همدا دی چې موږ پرې کوم ابتکار خو څه، چې ان د یو داسې مثبت

(c) ketabton.com: The Digital Library



تقلید ګټه مو هم ترې پورته نه شوه کړای، چې حساب پرې وشي او زموږ اندونه او خیالونه خو د خپل حال احوال له سمون څخه ځکه بې وسه دي، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: ژباړه((هغه څوک هلاک شو چې د کړنې له پلوه یې دوه ورځې سره یو شان وي))[8] یعنې نېکمرغه او بریالی انسان هغه دی چې نن یې له پرون او سبا یې له نن څخه له هر پلوه ښه وي، خو زموږ حال چې پرون څنګه و، نن یې هم په سمون توانېدلي نه یوو او که همداسې یوو، نو سبا ته مو دې هم خیر وي، ځکه چې زموږ سترګې اوس هم هغه ذلت نهویني، چې موږ یې خوار کړي یوو، موږ اوس هم په خپلو پښو خپل ځانونه له منځه تللو ته ورنژدې کوو او د بدمرغیو په کندو کې ورلوېږو. د بېلګې په توګه:
زما یو ژورنالست ملګري کیسه کوله، چې د افغانستان یو ولایت ته یې په یو ډاټسن موټر کې سفر درلود او له یوې پراخې دښتې تېرېده، په لاره کې یو زلمي موټر ته لاس ورکړی و، خو موټر چلوونکي ورته موټر درولی نه و، ژورنالست موټر چلوونکي ته ویلي و: ((وبال لري، راپورته کړی به دې و)) هغه (موټر چلوونکي) ورته خندلي و، خو نور یې ورته څه ویلي نه ول. لږ وړاندې ورته یو بل زلمي لاس نیولی و، دا ځل موټر چلوونکي ورته موټر درولی و او زلمی یې موټر ته راپورته کړی و، خو له څو کیلو متره مزله وروسته ورته زلمي ښیښه ټکولې وه او له موټره ښکته شوی و. موټر چلوونکی یو ځل بیا موسکی شوی و. ژورنالست ویل:((ماته دا پوښتنه پیدا شوه، چې دغه زلمی ولې له ابادۍ ځنې موټر ته راپورته شو او اوس بېرته په داسې ځای کې ښکته شو، چې په شا و خوا کې هېڅ ابادي نه تر

---

[8] لیکوال: جمعه محمد بشیر / آثر: مؤثر اور کامیاب شخصیت/ ۴۲ مخ/ څلورم چاپ ۲۰۱۰م کال/ خپرندوی: ټائم مینجمنټ کلب، پوسټ بکس نمبر۱۲۳۵۶کراچی- ۷۵۵۰۰/ اردو بنه:((وه شخص تباه هو گیا جس کی دو دن کارکردگی کے لحاظ سے ایک جیسے هوئے))

(c) ketabton.com: The Digital Library



سترګو کېږي، هلک مې راوغوښت او همدا پوښتنه مې ترې وکړه، هغه ځواب راکړ، چې:((سورلۍ مې خوړله "چکر مې وهه")) ژورنالست ویل:((که زمونږ د ځوانانو دغه حال وي، نو دا هېواد خدایزده، که ښه ورځ ووینې))

ښه نو ځوانان چې د یوې ټولنې شمزۍ (د ملا تیر) ګڼل کېږي او هغوی خپل وخت او خپله انرجي یوازې د سورلۍ خوړلو لپاره ضائع کوي، نو څه فکر کوئ! زمونږ سترګې هغه ټیټتیاوې ویني، چې مونږ یې خوار کړي یوو او یا مونږ په خپلو پښو خپل ځانونه له منځه تللو ته نه نژدې کوو او د ټیټتیاوو په کندو کې یې نه ورغوځوو؟؟؟

زما په اند د درېواړو پوښتنو ځواب به (هو!) وي، ځکه چې د ځوانانو د دغې بې بندوبارۍ پړه یوازې د دوی پر غاړه نه ده، بلکې په دې کې د دوی مور او پلار، د دوی ښوونکي او روزونکي او د ټولنې ټول مسوول اشخاص شریک دي. وایي چې ((خربوزه از خربوزه رنګ میګیرد)) یا ((یو ویني او بل لمسېږي)) په هر حال، علامه سید د خپلې مقالې په یو بل ځای کې لیکي:

((...کوم څه چې له لاسه ورکړي د هغه د بېرته تر لاسه کولو هڅه نه کوي. چې آفتونه او بدې پېښې د دوی پر خواوشا راچاپېرې شوې وي له هغو څخه د ځان ساتلو کوښښ نه کوي. نه په هغو ستونزو او سختیو پوهېږي، چې وخت دوی ته ور په برخه کړي دي. له دې امله دوی په خوارۍ او رسوایۍ اخته شوي دي، خو د دوی په فکر کې لا نه ورګرځي چې مونږ خوار او ذلیل یو....))

باور وکړئ، چې زه داسې نه ګڼم، چې دغه مقاله دې (۱۳۲) کاله وړاندې لیکل شوې وي، زه فکر کوم چې دا به همدا اوس زمونږ حال ته په کتلو لیکل شوې وي. وګورئ مونږ چې کوم څه د دغې مقالې له نېټې وروسته له

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاسه ورکړي، لکه د هېواد ځنې برخې، دښمنانو ته د ماتې ورکولو ویاړونه، د واک او ځواک نښه وختونه او... دا مو د سید جمال الدین د مقالې له لیکلو وروسته له لاسه ورکړي، خو د بېرته تر لاسه کولو په اړه مو کله خوب هم لیدلی نه دی. همدا رنګه د آفتونو او بدو پېښو تر پېښېدو وړاندې د تدبیر پر ځای مو ر تل تر پېښېدو وروسته یوازې دومره غبرګون ښودلی، چې: ((وروستیه عقله که ته لومړی وای))

موږ د پېښېدونکو ستونزو په اړه هېڅکله هم چمتووالی نیولی نه دی، نه مو کله په خپلې خوارۍ او رسوایۍ فکر کړی او نه مو خپل ځانونه کله خوار او ذلیل ګڼلي، ((له خوارۍ ژرنده ساتو خو له خیاله مزد نه اخلو))

علامه سید جمال الدین زموږ د همدغې وچې فتح خانۍ په هکله لیکي:

((... سره له دې چې ذلت د دوی په زړونو کې جرړې نیولې دي، خو بیا هم دوی د کبر او لویۍ څرګندونه کوي، د بېلوالي او نفاق اور ته لمن وهي. ټګي او خیانت خپله دنده بولي او حسد او چوغلي خپل شعار ګڼي. حرص او تمه د دوی کالي او خباثت او بې حیایي د دوی د څرنګوالي نښه ده...))

د علامه سید د مقالې په دغه برخه کې(چې همدا اوس مو ولوستله) ژبه (الفاظ) څکه ترخه معلومېږي، چې حقیقت تریخ او پېغور تر هغه هم پسې تریخ لګېږي او په دې برخه کې دغه(حقیقت او پېغور) دواړه شتون لري، خو دا باید ومنو، چې د تور او تهمت تریخوالی په کې نه شته، وینا یې حقه او ریښتینې ده او اراده هم په کې نېکه او سپېڅلې ده، نو له همدې امله په بیا بیا اورېدلو او رانقلولو ارزي، څکه حضرت علي کرم الله وجهه فرمایلي:((حق ارزښتمنه او درنه کلمه ده، که هر څومره ترخه هم وي په خپله خوږه او منلې پایله ارزي))[9]

---

[9] راټولوونکی: صادق صادق الله / آثر: ځلور یاران (غوره ویناوې)/ خپرندوی: ګودر خپرندویه ټولنه، بزازۍ چوک، اسحاق زی مارکېټ، جلال اباد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ښېله خبره ده چې موږ ((آسمان ته تيگې واروو او تري لاندې سر نيسوو)) خپل ذلت نه منوو او د کبر او لويۍ څرگندونه کوو، خو رښتيا دا ده، چې د نړۍ پر مخ تر موږ بل خوار او ذليل ملت نشته او وجه دا ده، چې موږ د ځانځانۍ اور ته لمن وهوو. ټگي او خيانت خپله دنده بولو، حسد او چوغلي خپل شعار گڼو، حرص او تمې د گدايانو په څېر کچکول راترغاړې کړی او د مادياتو لپاره هم خپل ځانونه او هم خپل ايمانونه پلورو. سيد جمال الدين افغان ليکي:

((...دوی له خپلو هېوادونو سره خيانت او پر گاونډيانو ظلم کوي. د بې واکو وگړو شته لاندې کوي او ژمنې او وعدې ماتوي. د خپلو هېوادونو د پوپنا کېدو لپاره هڅې کوي او د پرديو متې مزي او پياوړي کوي...))

زموږ له خپلو هېوادونو سره خيانت، خو د لمر په څېر ښکاره او څرگند دی، په دې څو لسيزو کې به مو ليدلي وي، چې هر يو مو هڅه کوي، چې خپل هېواد د يو پردي په ځولۍ کې ورواچوي او د همدغو بې ضميرو هېواد پلورونکو او حريصو او تېری کوونکو پېرېدونکو د کشمکشونو له امله مو هېواد د شاعر په وينا د ملامت سړي د گرېوان په څېر شو. شاعر وايي:

بس د هر چا لاس په کې پروت دی او شلوي يې ترېنه
زما وطن د ملامت سړي گرېوان غوندې دی(10)

همدا رنگه پر گاونډيانو ظلم کول، د بې واکو وگړو شته لاندې کول او د ژمنو او وعدو ماتول، دا مو هم په نږدې ماضي کې وليدل او هم يې همدا اوس وينو، چې هندوستان د پاکستان او پاکستان او ايران د افغانستان په حق کې هر ډول ظلم ته ملاوې تړلې دي، د يو بل د شتو لاندې کولو ته

---

(۱۰) وړ حيات الله/ ښکالو،۱۲۰مخ/ د چاپ کال ۱۳۸۸ل

(c) ketabton.com: The Digital Library



لنګ وهلي ولاړ دي او په لسګونو وارو یې له یو او بل سره خپلې ژمنې او وعدې ماتې کړې دي.

د خپلو هېوادونو د پوپنا کېدو لپاره هڅې او د پردیو متو د مزي کولو او پیاوړي کولو له خاینانه عمله سید جمال الدین (۱۳۲) کاله وړاندې په خپله مقاله کې سر ټکولی، خو له بدمرغه چې دغه ناوړه ښکارنده اوس هم په ختیځوالو کې شتون لري. چا ربښتیا ویلي، چې:((علت میرود، عادت نمیرود))

وګورئ! د منځنۍ اسیا هېوادونه د ځانځانۍ او نیت بدۍ د بد عادت له امله د روس په منګولو کې ورپرېوتل، بیا په (۱۳۵۸ ل) کال د جدي په شپږمه د همدوۍ په مرسته روسیان تر افغانستان پورې راورسېدل.

همدارنګه په (۱۹۹۰ز) کال د عراق واکمن صدام حسین د کویټ د شتمنیو د پوپنا کېدو هڅه وکړه، چې بیا په (۲۰۰۳ز) کال د مارچ په (۳۰) نېټه پخپله صدام حسین او د هغه هېواد عراق د امریکا د بمباریو تر برید لاندې راغی او د عراقانو تر دوه میاشتې مقاومت وروسته صدام پخپله په خپل کیندلي کوهي کې ورولوېد او هېواد یې هم د امریکا په لاس کې پرېوت او په خلاف یې ترکیې هم د امریکا او ناټو متې غښتلې کړې، خو په عراق دومره خاورې واړوي، چې بیا سر راپورته نه کړي. ایران هم په دغه هېواد (عراق) کې د سنیانو د نظام په ړنګېدو په لاسونو نکریزې پورې کړې او اختر یې وکړو.

د (۲۰۰۱ز) کال د اکتوبر د میاشتې په (۷ یا ۸) نېټه پاکستان، امریکا او د هغې متحدینو ته اوږه ورکړه او د افغانستان په سر یې ورسپاره کړل. د (۲۰۱۳ز) کال د جولایي په درېیمه نېټه د مصر په منتخب ولسمشر (مرسي) باندې د امریکا په اشاره د خپل هېواد پوځ ګودتا وکړه او په دغې توطیه کې سعودیانو له امریکا سره لاس یو کړی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لنډه دا چې ختیځوالو (۱۳۲) کاله وړاندې هم د خپلو هېوادونو د پوپنا کېدو لپاره هڅې کړې دي او پردی متې یې مزي او پیاوړې کړې دي او اوس یې هم کوي. علامه افغان لیکي:

(( ... د هغو هغه ځوک چې ځان ته عالم وايي په حقیقت کې ناپوه وي. د هغو امیر ظالم او د عدالت قاضي خاین وي. دوی کوم لارښود نه لري، چې د ژغورنې لار وروښيي. نه کوم پوښتونکی او سزا ورکوونکی لري، چې دوی د ورکې لارې په کنده کې له لوېدو راوګرځوي. لنډه دا چې دوی ټول د خپلو اخلاقو د ورانۍ او عقلونو د ویجاړۍ له امله د بې وزلۍ او له منځه تللو ښکار کېږي...))

د عالمانو د ناپوهۍ، د امیرانو د ظلم، د قاضیانو د خیانت او د لارښود، ژغورونکي، پوښتونکي او سزا ورکوونکي نشتوالی، رښتیا هم هغه الهي عذاب دی، چې پر موږ هغه وخت هم او اوس هم د خپلو اخلاقو د ورانۍ او عقلونو د ویجاړۍ له امله رانازل شوی او موږ هره ورځ د بې وزلۍ او له منځه تلو پر خوا ورنږدې کوي.

## پایله:

په پایله کې یو ځل بیا یادونه کوم، چې علامه سید جمال الدین افغان د ختیځوالو په ځانګړې توګه د مسلمانانو د آرامۍ او هوساینې موخه او ارمان درلود. هغه دغه ولسونه له بدو چارو لاس په سر کول او د ښو چارو ترسره کولو ته یې هڅول. هغه له وګړو د ښو اخلاقو د خپلولو او د بد خویونه د پرېښودلو هیله درلوده. هغه له بې علمۍ ځنې د خلکو په پوره پیمانه خوابدي او زړه توري کولو او د علم او پوهې په ګاڼه پسوللو ته ملا تړلې وه. هغه مسلمانان یووالي او وحدت، عدل او ښېګڼو ته بلل. هغه د پرګنو استازیتوب کاوه او له شر و فساد ځنې یې پرده پورته کوله. هغه غوښتل،

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ختيځوال د وحدت په مزي د جاړو په څېر يوه ګېډۍ کړی، چې نور يې په ځانځانۍ کې د جاړو د کمزورو ډکو په شان يو يو مات او جاړو نه کړي. هغه غوښتل، چې د ختيځوالو ذهنيت داسې جوړ کړي، چې دده د سپېڅلی مرام ضامن شي او د استعماري نظريو د سېلاب په وړاندې ټيګ ودرېږي او په هېڅ صورت يې فکرونه د نورو غلامۍ ته غاړه کښېنږدي. هغه غوښتل، چې ختيځوال هسې پورته، پورته الوتل پرېږدي او د ښکاريانو له منګولو ځنې د ځان د خلاصون لپاره د علم او هنر وزرونه پيدا کړي او د هغوی د هر غشي لپاره بايد ډال او د دام او جال لپاره يې بايد تدبير ولري. هغه هيله درلوده، چې ختيځوال د نورو تر سيوري لاندې ژوند و نه کړي، بلکې د پوهې او کمال په وزرونو تر سپوږمۍ او ستورو هم پورته وخېژئ او د آسمان په ډول ددې نړۍ بام شي، خو له بده مرغه چې د هغه دغه هيلې د هغه په ژوند کې خو څه، اوس چې نږدې دوه پېړۍ تېرې شوې دي هم د هسې خوب و خيال په څېر برېښي، بلکې تر پخوا ډېرې نه پوره کېدونکې ښکاري.

د سيد د لارې د يو لاروي وينا ده، چې:((هر وخت سر د وخت دی)) راځئ! سر له همدې اوس نه د سيد د ارمانونو د پوره کولو لپاره متې راونغاړو. د برې او پرمختګ لارې چارې ولټوو، د پېښو مقابلې ته ځانونه چمتو کړو، د خپل حال د بدلون لپاره ټينګ هوډ وکړو او پرله پسې هڅو ته ملا وتړو. هيله ده چې حالت به مو بدل شي، خو که خدای مه کړه ډېر ژر په دې کار (د حالت په بدلون) برلاسي نه شوو، نو بيا به هم د نهيلۍ له ګناه ځنې ځانونه ساتو او د هڅې او کوښښ وسله به پر ځمکه نه ږدو.

پای

۱۳۹۳/۱۲/۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بیدارګر (سید (رح)) په اړه د سترګور (سید (رح))

# نظم

**سید جمال الدین افغان ته**

**بې حسابه څاڅکي توی په بحر و بر شي**
**له لـــکونو کــــــروړونو یو ګوهر شي**

**رنګ په رنګ ګلان پیدا شي غرو رغو کي**
**پـــــه کې یو نیم د لیلی پېکي ته ورشي**

**مرغـــــــلرې دېرې وځي له دریابه**
**ځینې ځینې ښکلیو پېغلو ته زېور شي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



په عـــــــمرو اورونه بل په یوه ځای وي
ځو پیـــــــدا په سرو لمبو کې سمندر شي

عـــــــــالمونه پیدا کېږي بې حسابه
په دنیا کې د ځو تنو تاج په سر شي

مـــېندې راوړي ډېر زامن، ډېر اولادونه
یو یا دوه یې افـــــلاطون او سکندر شي

جو دانــــې قدر یو لعل پکې پیدا شي
نور همــه واړه د تورو کاڼو غر شي

په هر ســـره رنګ سر خروبي نه شي حاصله
هسې نه چې په رنګ سرو شي نو سره زر شي

یوه کور کې پیــــــدا کېـــږي او لويېږي
یو یې ګوره «ابراهیم» بل بې «آذر» شي

فرعــــــــــونان د خدایی دعوې آغاز کړي
یو ماشـــــــوم د خدای له لورې مقرر شي

چې طلـــــــسم کاندي مات د سر کشانو
ډېر بتان، بُت پرســـتان، زېر و زبر شي

کاهنـــــــــــــان یې د راتګ خوبونه ویني
ظالمـــــــــــــانو ته پیدا د سر خطر شي

لا پیدا په جــــهان نو وي نه یې نوم وي
زلزله ګډه په کور د ستـــــــــمګر شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوی جهاد له معـــــصيت سره شروع کړي
په دنيا کې غرق فرعون هم يې لښکر شي

څوک چې حــــق او حقيقت پالي دنيـــا کې
يوه وخت کې وي موسی بل وخت عمر شي

د اســــــلام د طوفـــاني بېړۍ د پاره
لکه نوح لوی کشــــتيبان قوي لنګر شي

د خــــــلقت له کارخاني نه کله کله
په جـــهان پيدا يو بل شاني بشر شي

چې رڼا يې په ملــــکونو کې خپرېږي
تول عــــالم لره څرګنده لکه لمر شي

د کونړ د لـــوړو غرونو په لمن کې
نابغـــه فرزند پيدا د سيد صفدر شي

پښتـنه مور هسې زوی واخلي په غېږ کې
چــــې د دهر او جـــهان نامــي پسر شي

ډېر پوهـان ورته سر ټيټ په شاګردۍ کړي
ډېر شاهــــان يې په تعظيم مخې ته ورشي

همېــــشه يې قدر کــــېږي په عالم کې
څوک چې لوی په علم و فضل او هنر شي

هسې نوم، هسې نشان يې شي په برخه
چې لــــوی فخر د ملت او خپل ټبر شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



په شاهـــــــي لویو قصرو کې نه ځایېږي
لوی کور غوارې چې اوار د ده بستر شي

ټول جهان ورباندې تنګ شي له ناکامه
اواره لـــــــکه نسیم په بحر و بر شي

ترکـیه، مصر و لندن، فارس و پاریس کې
ارام نه مومـــــــي هر لور ته یې سفر شي

سر ګردان وي په جـــــــهان هغه مړونه
چې د ټول عالم غـــمونه یې په سر شي

سر یــــــې مه بوله بل نوم ورلره بویه
چې پیـــــدا پکې لوی فکر لکه غر شي

نه دی مړ لوی پهـــــلوان د دې جهان دی
هغه څوک چې ځمـــکې تل نه رابهر شي

قیامت نه وي سر راپورته کړي له خاورو
راروان په لور د خـــــــپل اصلي مقر شي

په رښتیا چې حق پخپل ځای قرار مومي
د پښتون سیــــــــد ارام پخپل بستر شي

دې تابوت کې د پښتون ډېر خاطــرات دي
چې یې ګـــــورم بل عالم مې په نظر شي

څوک چې ور یې شي مزار ته که بینا وي
ورته بېرته به د پوهـــــــې لوی دفتر شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې خـــــــاورو دور نما ته نظر بويه
که دې کلـــه په دې لار باندې ګوزر شي

ښکاره کېـــږي کارنامې ډېرې نامدارې
سترګور ته آئيـــــــنه د سکـــندر شي

لوی عظمت، شان و شوکت راځي خاطر ته
لوړ فکرونه، لوړ خيـــــــالونه مصور شي

په يوه موټې سپـــېرو خاورو کې ګوره
د تمام جـــهان راز پټ او مضـمر شي

هســـــــې شانې هنـګامې شي پکې غلې
چې غوغا ورځـــــنې جوړه په محشر شي

لوی داستان، لويـــه قصه لري په زړه کې
که د دې خـــــاورې له حاله څوک خبر شي

پښتـــــــانه به ورنه اخـــلي الهامونه
تېر دورونه به يې مخــکې لر و بر شي

دې زيارت کـــې وينم بل راز تاثيرونه
دلـــــته مه کوئ واړه واړه سوالونه

اروابناد استاذ ګل پاچا الفت

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library